
Khyber.ORG

# Presents




له غوښي
جوړ سړی لا څه چي
دَ هوا څپه هم
کله چي
ځان هڅوي مخته
نو شي يخه ځکه
چي دَ ښکلا
دَ لمر دَ کلي په لور
هره لاره
دَ زيږو غرونو
په واوْرينو څوکو داسي درومي
لکه تور مار چي کړی وي

# مزل په واوْرو باندي


## افضل شوق



له اړخه دَ
سکام پښتو اکېډمي کوئټه



ه غوښې
جوړ سړی لا څه چې
دَ هوا څپه هم
کله چې
خان هڅوي مخته
نو شي ږخه خکه
چې دَ ښکلا
دَ لمر دَ کلي په لوړ
هره لاره
دَ ږیړو غرونو
په واوړینو څوکو داسي دړومي
لکه تور مار چې کړی وي

# هز په واوړو باندې

افضل شوق

له اړخه د

م پښتو اکېډمي کوټه

# حقوق محفوظ

دا دَ يُون ليک کتاب ، چي " مزل په واؤرو باندي " تر عنوان دلاندي په کال **2004** کي چاپ او دَ **افضل** شوق په نامه مارکيټ کي **خپور** کړلی شو .. همه حق يې دَ زامنو عزيزيارخان، اولس يارخان، **حکمتيار** خان، قام يار خان او لُور هد**يل** بر**ښنا** افضل خان په نامه محفوظ ساتل کېږي -

# دَ کتاب په باب

| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | مزل په واؤرو باندي |
| ليکونکی | افضل شوق |
| دَ چاپ کال | 2004ع |
| سرپاڼه | الپ بولنگ، الپ الائس اېن ماهافې - جارجيا امريکا |
| دَ چاپولو اهتمام | ډاکټر وهيبه سکاني افضل |
| کمپوزنگ | عزيزيار خان او اولس يار خان |
| له اړخه | سکام پښتو اکېډمي کوئټه |
| بيهه | 300 کالداري /250 افغانۍ/ 25امريکائي ډالر |
| دَ چاپ ځای | حجره پبليکېشنز، ۱۴ جاپان مېنشن پريډي سټريټ صدر کراچۍ |


# دَ کتاب ترلاسه کولو درک

- يونيورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور
- صحاف نشرياتي موسئسه کاسي روډ کوئټه
- عظيم پبليشرز سوئيکارنو چوک پېښور
- دانش کتابتون ډهکي قيصه خوانۍ پېښور
- پښتو اکېډمي بُک سټال ، پېښور يونيورسټۍ
- ګوشه ادب جناح روډ کوئټه

# انتساب دَ کتاب

دَ مخلص مشر

مینه ناک انسان

مثالي پښتون

او

دَ پښتو ژبي دَ بې ساري ناول نګار

محترم سعدالدین شپون

په نوم

چي زما په زړه کي اوسي

# منته

- دَ اُستاد سعدالدین شپون، چي زما ملاتړ کولو سره سره یې زه په سُوچه پښتو رسم الخط لیکلو هم وَ پارَولم

- دَ درانه سعید ګوهر، چي راهنمائي یې زه دَ ډېرو تاریخي حوالو په َصحیح کولو کي وَ لوستونکو ته رښتین کړم

- دَ عمرګل عسکر، چي دَ ځینو تاریخي وضاحتونو پرته یې هم زه په خپل سوچه او کره کار کولو روږدَولم

- دَ رینګ ګولډ جارجیا - امریکا ملګري آرټسټ " الې بولنګ " الې الائس ابن ماهافې، چي زما دَ دې کتاب سرپاڼه یې جوړه کړه

- دَ ملګري اکبر سیال ، چي وَس او کومک یې دَ ستړیا تر هانده راسره مل وْ

- دَ ګران ملګري رحمان بونېري ، چي دَ دې کتاب دَ چاپَولو په ستړو مرحلو کي راسره سم ملګری وْ

- دَ خپل ژوند دَ پتمني ملګري ډاکټر وهیبه سکاني افضل ، چي دا کتاب یې پښتو او پښتنو ته پیرزوْ کړو

- دَ خواږه ملګري سهېل جعفر، ګران محمود ایاز، ډاکټرباقي دُراني، ملګري حسینه ګل، ملګري رفعت اعوان ، ملګري نوالاسلام سنګر او ملګري سونیا خان چي په بېلابېلو حوالو یې له ما سره په دې کتاب چاپَولو کي کومک وکړو

# فهرست


افضل شوق... هزارداستاني شخصيت.......................................1
څو خبري.......................................3
شاپېرۍ.......................................7
دَ بادار دَ کور په لوري.......................................8
چرته چي دَ لمر لا هم يخ کېږي.......................................30
دَ تودو ماښامونو سوڼ ښار.......................................48
دَ هټلر دَ پلونو خاوري مي رانجه کړو.......................................74
دَ خوب په رېښتونو ناؤ کي.......................................96
دَ ژوند په خوندونو کي موړ هېواد.......................................119
دَ موزارټ په ميوزيک کي مسروره ګلدرې.......................................138
شپه. چي سهار کېدله نه.......................................160
هر قدم په نوي ټاپو باندي.......................................185
خوب وْ ، خو دَ خوب په رنګه نه.......................................205
دَ ګنډ کپانو په مقدسه ښار کي.......................................225
پيسا ټاور هم زياته په نړېدو دی.......................................251
ډي ګلوبلائزېشن.......................................268
دَ مصنف چاپ ناچاپه کتابونه.......................................269
دَ شاعر درک.......................................270

# افضل شوق ... هزار دا ستاني شخصيت

## (دَ فلېپ ليکنځه)

ما دَ خپلي ځوانئ درې يادګاري کالونه دَ کوئټې په سيمه دَ ۱۹۵۶ – ۵۸ په مياڼځ و ميان کې تېر کړي دي - دغه دريو کالونو ما له دَ انسان دوستئ ، ثقافت او ادب په ډګر ډېر څه ډېرڅه راکړي دي او ما هم ورکړي دي - زما په ژوند کې چې دَ کوئټې پښتنو څومره مينه ، محبت او اخلاص را پيرزو کړی دی ، نو دا حقيقت دی چې دغه هومره خواږه دَ خپل ژوند په دوه اتيا کاله کې زما نه دي نصيب شوي - ځکه نو دَ دغه ټول اولس او هر وګړی زما دومره خوښ دی چې دَ بيان دَ وس نه ماورا دی -

افضل شوق هم دَ دغه بختوري خاوري يو ځلنده لعل دی ، زما ډېر خوښ دی ځکه چې دَ کوئټې دَ اړخ هر يو کس زه دَ خپلو "کسو " نه کم نه ګڼم - خو افضل شوق فنکار هم دی او زه يې په فن مئين يم ځکه يې نو زه خپل ځان ، خپل ځيګر ګڼم - دا جذباتيت نه دی ، حقيقت دی - افضل شوق .. افضل هم دی او شوق هم - افضل ورته په دې نه وايم چې ګني ډېر قضيلت لري - افضل ورته په دې وايم چې خدای پاک ورباندي ډېر ډېر فضل کړی دی - دَ هغه شخصيت له خواږه هم ورکوي او برکت هم - هغه دَ نثري شاعرئ يو معروف فنکار دی - دَ ډېرو هېوادونو سېل يې کړی ، ډېر څه يې ليدلي دي، ډېر څه يې په خپل نړيوال شخصيت کې ځای کړي دي -

افضل شوق .. شوق ځکه دی چې بنده ورسره يو ځل اووينې نو دَ هغه په زړه دَ اشتياق کډې واچَوي چې بيا بيا مې اوليدی - هغه ځکه هم شوق دی چې دَ پښتو ليک لوست سره ډېر شوق لري او دَ پښتو ژبې او ادب دَ خېرازئ او دَ دې سره بې انتها شوق لري - دغه شوق دَ هغه دَ نثري شاعرئ او سفرنامه نګارئ تر شا يو محرک قوت دی او دغه قوت داسې برقيت لري چې دَ هغه شخصيت ته يې مقناطيسيت بخښلی دی - دغه شوق دَ هغه شخصيت " هزار داستاني "کړی دی -

هغه اوس دَ خدای پاک په فضل و کرم دَ " اووه ګامه مزل " نه پس دَ څوارلس اروپائي ملکونو څوارلس ګامه مزل ته سېلمه کېږي - ډېر زر به دَ دغه سفرحال دَ دوه عنواناتو دلاندې په دوه کتابونو کي چاپ شي ، ما دَ دغه داستاني رویداد څه سېل کړی دی او دې نتیجې ته رسېدلی یم چي سفرنامه یې " الف لیلائي " زړه راکښونو لري - په دې متن کي دَ یورپي معاشرې دَ " ښه او بد " نه علاوه نور هم ډېر څه وئیلي شوي دي - دَ لیک اُسلوب یې سېلابي دی چي بنده په مخه واخلي نو تر هغې نه ایسارېږي ، تر څو چې بلي غاړې ته نه وي رسېدلی - ماته دَ " فلېپ لیک " وئیلي شوي دي چي میدان یې لنډ تنګ دی - تفصیلي تجزیه یې شاهد ګران سعید ګوهر دَ خپل علم او فکر دَ جادو په ژبه اولیکي -

زه چي دَ افضل شوق فن او فکر ته په فکر شم نو ماته سترګه ور ، دانشور او سخنور ښکاره شي - زما یقین دی چي که دَ هغه تصنیفات داسي په "شوق " چا اولوستل څنګه چي ما لوستلي دي نو هم دغه څه به واي ، څه چي ما اووئیل - ماته دَ ګران اجمل ختټک یو دُعائیه شعر دَ نیمي صدۍ راسې یاد دی - نو زه به دَ هغه په ګل ورینه ژبه افضل شوق ته دُعا اوکړم چي..

زما درته دُعا ده چي حاصل مي دَ دُعا شي
دَ وخت تورو تیرو ته لکه ستوری دَصبا شي

ایاز داؤدزئی
E–116 سیټلائټ ټاون
راولپنډۍ
۲۰۰۴_۸_۵

# څو خبري

زه حريان يم ، چي دا ځيني خلګ څنګه دومره زيات کتابونه په لنډ وخت کي وَليکي؟ او لا نور هم دَ حېرت ګوته په خله هغه وخت شم، چي نه يوازي دَ داسي کتابونو وَ لوستلو ته بلا بلا ذهنونه کاني کېږي .. بلکې وَ ستائيلو ته يې هم درنې خلې په ښو غټو غګتو تورو باندي ژغېږي لګيا دي - کوم چي داسي څرګندَوي ، لکه وَ دې خواري پښتو ته چي دَ مقدار ښېخي زيات ضرورت وي .. دَ معياري ادب ګرسره نه - هم ځکه خو پښتانه لوستونکي دَ تودو پښتني جذبو تاوْ په زړونو کي درلودلو پرته هم دَ پښتو کتاب لوستلو ته نه تيارېږي - او که يو نيم ورته چمتو هم شي ، نو هغه تر داسي بازاري ادب لوستلو دا خبره ښه وَ ګڼي ، چي خپله په ليکلو قلم راواخلي او له تېروتنو سره سم دَ پښتو په ليکوالانو کي ورګډ شي - ولي چي هغه لوستونکی ادب نور هيڅ نه ، بلکې ټوکي ټکالي وګڼي او بيا خپله هم په اوتو بوتو نوښته کولو داسي په نره بوخت شي ، چي ډېر ژر بيا په سُوچه او کره ادبي پلارانو باندي خاوري هم واړَوي - حقه خبره ده ، چي دَ غازيانو په کتارکي دغه ولاړ شهيدان به پښتو قامي ادب ته دَ غزا نوم ورکوي او دَ خپل خپل شخصي مفاد له لاري به پښتون په سپينه ورځ دَ تورتمونو په لور وړلو په نيت ځکه په سندرو للې للو کوي ، چي چرته دَ هغوئ سترګي

په رڼاګانو باندي نابېره خلاسي نه شي - ګوا لنډه دا ، چي دغه رنګه ننني پښتو شعري او نثري ادب که يوې خواته امباري ښې زېږوي لګيا دی، نو بلې خواته دَ پسخوند تر هانده بې سواده پښتون قام هم ډېر په چل ول غولوي - هو ، دغه خو وجه ده ، چي دَ پرون ټُوريالی پښتون نن په لاس کي دَ سپک قلم نيولو توان لا هم نه لري - که يَه .. زه په پورته ذکر شوْ خبروکي غلط يم ، نو بيا ما او زما په رنګه هغوليکوالانو ته دَ ګېلي کولو په ځای خپله نا اهلي منل په کار ده، چي په يوه کتاب ليکلوکي هم کالونه په کارَوي - له دوبې په چپه ، دَ اروپا دَ څوارلس هېوادونو په اړه دا يُون ليک ، چي زه تاسو ته په دوْ کتابونو کي دَ طوالت دَ مجبورۍ له سوبه وړاندي کوم ..که وَ وايم ، چي دا زما دَ اوو کالونو دَ پرله پسې زيار مېوه ده ، نو غلط به نه يم - ولي چي په دې يُونليک کي ما نه يوازي دَ سفر ليکلی حال او دَ کړو مزلونو په سمون زياتره تصويرونه په ترتيب باندي دَ "عکسي يُون " په توګه خوندي کړي دي ، بلکې دَ مشاهدو په رڼا کي مي خورا نوي او نابلده خبري هم خوندي کولو سره سره "دَ



ليک: افضل شوق

انګلسی ژبه په اروپا کي "او "دَ اروپائي ژوند ښه او بد " په باب دوې ورې عمراني سروې په کي ځای کولو پرته " پښتو دَ پښتنو په نظر کي " يوه جائوه دَ يو تپوس په توګه هم وړاندي کړي ده -

په اروپا کي دَ سېل کولو په وخت ما دَ خپلي پورتنۍ مطالعې په سمون دَ مواد دَ راغونډولو دَ پاره په آډيو کېسټانو باندي دَ **24** ساعتونو دَ کم او زيات ريکارډنګ سره سره په خلګو باندي دَ **407** سوالنامې ډکولو پرته دَ بېلابېلو طبقو سره اړه لرونکي**1534** اروپايان هم انټرويو کړلو- نه يوازي دا ، بلکې دَ خپلو سېلاني مشاهدو په رڼا کي مي له**251** مخونو ليکلي ډائرۍ او قريبًا **500** اخيستل شوي عکسونو پرته هم په هر ورپېښه کونکي هېواد کي دَ هغوئ دَ تورزم له ګائيډونو څخه کار اخيستی دی - دلته به دا وَ وايم ، چي زما په مزغو کي دَ اروپا په اړه دَ هر را پورته شوي سوال دَ ځواب دَ لټولو دپاره که يوې خواته ما شاعرانه سېل کولو ، نو بلي خواته مي مطالعاتي مقاصد هم تر نظر لاندي نيولي وْ -ګوا دَ اروپا دَ بېرون کتلو سره سره که مي دَ اروپائي ژوند تلنه دَ يو معاشرتي محقق په څير کړي ده ، نو دَ اروپايانو وَ اندرون ته مي لاري جوړَولو دَ پاره دَ مهم جو په شان دَ ستړياوْ په پرته ډېري ستونځي هم ګاللي څه دي .. چي يو نيم ځای مي لا دَ خپل سر دَ ساتلو په سودا کي جېبونه هم څنډلي دي -

منم، چي دَ نن دَ لاسي او لباسي ادبي تقاضو په سمه وچه پښتو کول سړی بې پښتو کوي - خو ما بيا هم دَ خارمړي "رښتيا " ناروغۍ درلودلو له سوبه په دې يُون ليک کي دَ خپلي ورستۍ هڅي تر هانده پړي شلولي دي -ګوا ، څه چي مي هم په اروپا کي دَ سېل کولو په وخت ليدلي کتلي او يا سنجَولي دي - هغه ټول څه مي هغسي ليکلي دي ټکي په ټکي - لاکن زياتره په علامتي اشارو او افسانوي پېرائيه کي - ولي، چي زه خو له کره پښتنون سره سره يو شاعرهم يم - نو حقه خبره ده، چي يو نيم ځای به مي له خبري څخه کيسه او له کيسې نکل هم جوړ کړی وي - لاکن دا خبره په ډاډه کوم ، چي دَ خوند زياتَولو په نيت دَ لږې ډېري لفظي مالګي مصالحې کمَولو او زياتَولو په چپه دَ دې يُون ليک دَ هري پېښي اصل روح په خپل ځای په هغسي رنګ او بڼه کي دَ ساتلو هڅڅه مي حتمًا کړي ده - نور نو زه هم مانده انسان يم .. هو، لکه دغه انسان ، چي فرښته کېدو ته يې زړه کېږي ، خو فرښته جوړېدلی ځکه نه شي .. چي په ځناوري تېروتنو کي يې شېطان هم شاته پرېښی دی -

هسي خو ما په کال 1996 کي دَ دوبۍ پرته څوارلس اروپائي هېوادونه ، چي په کي انګلېنډ، سکاټ لېنډ، وېلز، فرانس ، بلجئيم ، هالېنډ ، جرمني ، سوئټزرلېنډ ، لېچټنسټائن ، آسټريا ، سان مرينو ، مناکو ، اټلي او سپېن ګډ دي ، له نږېوالو سېلانيانو سره په ګډه دَ روډ له لاري وَکتلو- خو په دې کتاب کي دَ انګلېنډ ، بلجئيم، هالېنډ، جرمني، آسټريا، سوئټزرلېنډ، لېچټنسټائن، سان مرينو، اټلي، او دَ فرانس دَ ځينو ښارونو او علاقو يُون په دولس بابونو کي رقم شوى دى - او نور پاته اروپائي کتلي هېوادونو ( په ګډه دَ انګلېنډ او دَ فرانس دَ تفصيلي سېل ) او دَ دوبۍ حال به که خداى کول په دې بل راتلونکي کتاب ، چي د "دَ لمر دَ کلي په لور" تر نامه دلاندي چاپ ته تيار پروت دى کي دِ ېر ژر وَلولئ-

زه له خپلي خوا دا نه شم وئيلى، چي ګني په دې يُون ليک ليکلو کي ترکومه هانده بريالى شوى يم - خو دومره ضرور وايم ، چي دَ سفر دَ سترياوْ په چپه چي ما په دې اوو کالونو کي څومره وَس په دې يُون ليک رقم کولو کي کړى دى.. هغه ما په دې خبره پارَوي ، چي وَ وايم..

" اې زما شېريني پښتو.. ! ما که دي حق نه دى ادا کړى، خو په حق کي دي نيول شوى هم نه يم.. ولي چي ما درڅخه خپل وس نه دى سپَمَولى "

که يَه .. نو دَ بې ساري پښتون شاعر ستر سعيد ګوهر دَ لاندېني شعر په مصداق به لا دَ دعوې په توګه داسي هم وَ وايم، چي

که ژوند باقي وْ، زه به هم يم په کتاب کي باقي
دَ پښتو پور، نور په ما نه دى په حساب کي باقي

نور هرڅه وَ لوستونکو ته پرېږدم، چي هغوئ زما وَ دې مانده زيار ته په کوم نظر ګوري ؟

دا حقيقت دى، چي کله سړى له خپله کوره دباندي وځي ، نو دا احساس يې په مزغو کي غزوني پئيل کوي ، چي دَ هغه او دَ هغه دَ کور په چپه نور سړي اوکورونه هم شته - نو ځکه

هغه هڅه کوي ، چي ځان په هغوئ کي ورګډ کړي - نو چرته بيا دَ غښتلي پښتني قام دَ يو غړي وتل دَ هغو قامونو په لور ، چي تر پرونه يې سيالان وْ او نن باداران - نو رښتيا خبره ده ، چي په دې يُون ليک کي چي ما دَ پښتون قام په باب ځنګه ځنګه ترخې خبري په چيچلي اندازکي کړي دي - هغه ما له کسته نه، بلکې دَ يو خواخُوږي پښتانه په څيردَ زړه له سوي څخه په دې نيت کړي دي ، چي کېدلی شي .. دا زما قام هم په هېره دَ قامي ارمانونو او وختي تقاضو يا زما دَ خوبونو په سمون له خپل شپه وزمه پرون څخه دَ نن دَ تتو ، خو دَ سبا دَ روښانه رڼاګانو په لور تګ ته چمتو کېدلو دپاره په کلکه هوډه باندي اوړې وَ ځنډي او مخته دَ پښتو په نوم روان شي - هو ، په دې نيت چي هغوئ هم له چا کم نه دي ، سيالان دي .. نه چي داسي دَ مرئيانو مرئيان ، لکه دا دي چي - ګوا ماته چي په دې سېل کي کله نا کله هم دَ خپل سپېره او بې سواده قام مانده ورځ را په زړه شوي ده، نو دَ اوښکو په ځای مي په تورو کي ژړَولي ده او بس - لنډه دا ، چي دَ خپل سېلاني فطرت په سمون که نور هيڅ هم نه وايم ، نو دا شاعر زړه مي داسي خبره ضرور کوي ، چي...

دا خو لا ښه يم
چي وزر نه لرم
ګني سپوږمۍ ته دَ ختو هيلو به
لا ډېر پخوا
په لمر سېځلی ومه

هو .. په نړۍ کي دَ امن غاښوَرو هيلو خوړلی، دَ انسانانو تر منځ دَ ورورولۍ ځناوري تمو داړلی او پښتني غمو خوړَلی دا "شوق" دغه يو ارمان په زړه کي لري ، چي انسان دَ مثالي انسان او په تېره پښتون دَ مخه ور پښتون په رښتوني بڼه کي وَ ويني -

خاوري

افضل شوق
اسلام آباد

# شاپېرۍ

دَ عمرونو دَ سترِيا ورسته چې بيرته
زه په مات زړه
دَ خپل کور په لور راغبرګ شوم
نو
يوه داسې سندره مې تر غوږ شوه
چې هم بيرته
هغه زه وم.. هغه خوږ ژغ
چې
سرور کې يې رهي شوم
هغې خواته
چې زما دَ تصور په سمه هر څه
دَ خيالونو وَ نړۍ ته مُونېدلو
او هغه هم
په هغه ښه خيالي وه
خو
لاسو په ځاى يې دوه وزر درلودو ،
ځکه
ما چې دَ نيولو هڅه وکړه
هغه والوته دَ خوب وَ جذيرو ته
او ما هم
ورپسې بيا کړې پائڅې ټولې


ليک: افضل شوق

# دَ بادار دَ کور په لوري

## "چرته غلط جهاز ته خو نه را وَختم؟ "

چي ښنګه دَ خپل نمبر په چوکۍ باندي کښېښستم، نو مي دا خبره زړه ته راولوېدله _ او شاوخوا ته مي خپله سودا حتمي یا رد کولو په نیت سترګي وَځغلولې _ که څه هم دَ چوکیانو په استرونو باندي ځای په ځای لیکل شوي "الامارات" زما شک له زړه ښخه څه څه ایستلی وْ، خو غولېدلي سترګي مي دَ حقیقت په منلو ځکه نه کاني کېدلې _ ولي چي جهاز دَ خپل ځانګرتیا درلودلو په چپه سرواو سپینو ائیرهوستېسانو، چي هالف سره سکرټونه یې اغوستي وْاو وړې ټوپیاني یې په سرو باندي پرتې وي دَ جهاز دننه ماحول تر ډېره هانده مغرب وزمه کړی ځکه وْ، چي دا پېغلي عربیاني نه بلکې دَ مغرب له دُنیا ښخه چوڼ کړل شوي حُوري وې - داسي حُوري ، چي په موسېدونکو سترګو او غوړېدلو شونډو یې دَ مسافرانو ایمان خطاکولو.. لګیا وې-

په 22م مارچ 1996ع غرمه دولس نیمي بجي چي ښنګه دَ الامارات الوتکه EK 601 دَ قائداعظم ائیرپورت کراچۍ ښخه پورته شوه - نو لا سمه تر اوریځو اوېښتي نه وه، چي دَ مغرب حُورو دَ خپل روایت په سمون دَ اسلام په نامه دَ مسلمانانو دَ اوړو پوزه، ګوا دَ محترمو عربیانو دَ دې الوتکي دننه نقشه په ترخو او حرامو اوبو ورکولو کي دومره ژربدله کړه.. چي هیڅوک دَ ځان په واک کي نشو پاته - په جهاز کي ناست دَ نورو نسلونو او مذهبونو خلګ په خپل ځای.. وایم چي دَ دې اسلامي هېواد مسافران هم که له هغو زیات نه ، نو کم هم نه وْ - یاني هر تن دا هڅه کوله ، چي ژر تر ژره دَ هوش ورستني پولي وَ ولانګي او تر دوبۍ رسېدو له مخه مخه دَ عمرونو تنده ماته کړي - ځکه خو هر لور دَ جامونو ګړنجی او دَ دوزخي حُورو طوفاني دورې وې، چي له یوې چوکۍ یې تر بلي پوري کولي - هم دغه خو وجه وه، چي په لومړي ځل ما دَ انسانانو ، چي ورته په ویاړ باندي اشرف الخلوقات وئیل شوي دي په باب داسي ډائرۍ ته وَسپارلوَ

" دا مخلوق كه هر څو په ښكاره ښه په درنه جامه كي نغښتی ښكاري ، خو هم په دغه جامه كي پټ لا هغسي دَ فريب په وېښتانو سپسن لېوه وجود لري - كوم چي دَ انساني خُوی او بُود په سمه دَ ظالم شيطان په ښه وَ هرچاته ورڅرمه دی - ګوا مذهبونه، رواجونه او انساني قدرونه كه څه هم دَ يو ځناور وزمه انسان څخه ټولنيز انسان جوړَوي .. خو له اصله دا انسان تر اوسه پوري لا تش په شعوري توګه له ځناورانو څخه بېل شوی دی - ګوا دَ حاجتونو په وار كه ځناور نه هم دی، خو ځناور وزمه حتمًا دی "

كېدلی شو ، چي ما نور څه هم ليكلي وای.كه دَ دوبۍ په ائيرپورټ باندي جهاز زما دَ ګهړۍ دَ وخت په سمه په پاوْكم دوې او دَ هغه ځای په پاوْكم يوه بجه ما ځپښين نه وی كښته شوی -

دَ لندن په لور تلونكي فلائټ ته ورختلو دپاره له ما سره فقط درې پاوْه وخت پاته وْ- نو ځكه مي په منډه منډه تر مطلوبه ډيپارچر لاونجه پوري ځان رسولو هڅه كوله - په داسي حال كي څه ليدلي، څه كتلي يا اورېدلي.. خو دَ بيانَولو وَړ يې نه ګڼم -

---

" بخښنه غواړم .. ته به دې كهړكۍ خواته چوكۍ باندي نه كښېنې؟ ولي چي زه به بيا په آسانۍ باندي دَ سګرېټ څكولو دپاره شاته تللی راتللی شم "

دَ الامارات الوتكه EK 003 چي په كي زياتره انګرېزان يا اروپايان ناست وْ دَ دوبۍ له ائيرپورټ څخه دَ ځاي وخت په سمون په يوه نيمه بجه چي څنګه پورته شوه، نو ما وَ خپل څنګ ته ناستي پېغلي ته خواست څه وكړو.. چي هغې په تريو تندي باندي په زيژو داسي راته وكتلو لكه ما چي خواست نه شكنځا ورته كړي وي- خو ورته وَموسېدم ځكه ، چي ما نه غوښتلو چي هغه دَ وړو ستركو په خوړو نظرونو داړل شوي ټپي زمرۍ راباندي حمله وكړي-

خبر، بيا يې هم كور ودان چي لاره يې دَ تېرېدو راكړه او شاته خپل ځيګر سېځلو ورسته چي دَ چوكۍ په لور بيرته راغلم، نو هغه سرې سپۍ زما دَ توقعاتو په چپه په ځای دَ بُونېدو وَ

موسبډله او لاره يې وَ چوکۍ ته دَ تلو راکړه - او زه هم له منني وئيلو سره لا سم کښېنستی نه وم ، چي هغې دَ لاس په اشاره چهلتار جوړَولو سره خله پرې کړه -

" عرب...عرب ؟ "

يو ځل مي لا په زړه کي راغلو چي راشه ورته هو کړه ، خو بيا ضمير اجازه نه کړه را او ورته ګويان شوم...

" يَه عرب نه يم .. پښتون يم پښتون او ته ؟ "

هغې ماته وَکتلو او وَ موسېده - او په تندي باندي پرتې زُلفي يې په دواړو لاسو شاته اړَولو ورسته ګوره چي څه وَوئيلو .. پوهـ ځکه نشوم ، چي ژبه يې ښېخي نابلده وه -

" انګلش انګلش..؟ "

زما دَ دې پوښتني په ځواب کي هغې وَوئيلو

" سلواک سلواک "

او بيا دَ دې دومره مجلس کولو ورسته زه په خپلو چُرتونو کي ورک او دا دَ البم په پاڼو اړَولو راړَولواو هغه اوږد کميسي عربي ځوان ، چي په هر عکس کي ښکاره کېدلو په کتوکي غرکه شوه -

ما به لا دَ اروپا دَ سېل په اړه نور نور سوچونه وَهلو ، چي راسره په څنګ کي ناستي هغې سلواکۍ انجلۍ دَ اشنا تصوير داسي مچه کول شروع کړئ لکه جوړه چي يې دَ زړه مينه ورسره وي - لاکن بيا چي به مي دَ هغه عربي وَ شکل ته سترګي ورکړې کړې ، نو دا به دَ هغه په مقابله کي بادرجماله راته وَ برېښېده - هم ځکه به مي په دې باندي دَ عياشۍ دَ هغه يوازيني سامان شک وَشو ، چي عربي نسل دَ نرانانو دَ زړه او روح پرې تنده ماتېږي - او په

دې اړه داسې په سوچونو کې ورډوب هم شوم ، چې آخير پاى مې دَ زړه تاوْ په ډائرى کې په داسې ليکلو وَايستلو-

" په دې خبره کې شک نشته، چې پيسه دَ سړي ايمان خطا کوي - لاکن دا خبره هم په خپل ځاى تول دروند لري ، چې که يو ايمانداره کس ايمان ساتلو ته جوګه شي- نو په دې مادي ژوند کې به په خالي جېب ملا په ګرانه تړي... هم ځکه خوعربيان تر ايمان زيات په پيسه پوري نه يوازي نښتي دي ، بلکې دَ سرلوړى پلمه يې هم فقط دولت ګرځېدلى دى - که څه هم دا هغه قام دى ، چې په زرګونو لارښودان دَ پېغمبرانو په شکل کې ورته راغلي دي "

دا پورتنى خبري چې مې کله نوشته کولې، نوسلواکى پېغلي داسې زما وَ دې خط ته په خوند خوند کتلو لکه زه چې ورته په عربى کې دَ فارن کرنسى چېکونه سائن کوم - نو ځکه خو به يې زما په لور هم په ډېر حسرت راوکتلو ، خو مايوسه به په دې شوله - چې نه زه عرب وم او نه په ژوند کې بس فقط دغه کار وْ راپاته-

---

څنګه څنګه چې دَ الامارات الوتکه دَ اوريځو څخه ښېخي پورته قريبًا په **35000** فټه بالائي باندي دَ مخامخ لګېدلي مانيټر سکرين په سمه دَ يونان، چېک، سلواک ، نيدرلېنډ ، جرمني، سوئټزرلېنډ ، بلجئيم او فرانس په سر يا اړخونو ته الوتله، نو هومره هومره يکړي په ما غمېدله لګيا وه - آسمان دَ اوريځو څخه ډک وْ، خو چې يو نيم ځاى به اوريځ نه وه، نو دلاندي به دَ غرونو په سرو باندي سپينه واوْره پرته ښکاره کېده - يا بيا سمندر وزمه دَ شنو اوبو لوي وړې ډنډي وې ، چې مځکه يې ښائسته کوله-

چې به کله ديغيت راباندي زور وَ کړو ، نو دَ خپل مخامخ چوکى تر شا لګېدلي دَ وړې ټي وي چېنلان به مې بدلولو رابلولو ، خو بيا چې به مې دَ ګهړى ستنو ته پام شو... نو له ډېره ديغيته به ولاړ شوم او شاته به تېر شوم - لاکن زما او زما په رنګه وخت کړَولي خلګ فقط يو څو نور وْ، ګني دَ درست جهاز مسافران دَ ښائيستو حُورو دَ کرم له سوبه دَ ځان او جهان په حال کې نه وْ پاته - يو نيم يار خو به له ډېري مستى عجيبه حرکتونه هم لا جلا کولو-

هو.. زه ملامت نه وم - نن چې څومره مخته تلم نو دا ورځ به هغوني غځېدله - خو دَ دې دومره اوږده سفر پرته هم دَ اروپا دَ پلان شوي سېل په خيال به مې زړه لږ غوندې وَغولېدلو - او ځان سره به مې وئيلو ، چې که خداى کول نو نه يوازې به انګلېنډ ، سکاټ لېنډ او وېلز ته ځم - بلکې دَ ښاغلي انور اجاني په مرسته راته غوره شوي دَ کاسموس په دې ټوْر کې به فرانس، بلجئيم، هالېنډ ، آسټريا ، سوئټزرلېنډ ، اټلي، سپېن، سان مرينو ، مناکو ، جرمني او ليچټنستائن هم ډېر ژر تر پښو دلاندې کړم -

آخير پاى مازيګر دَ ځاي وخت په سمون شپږنيمې بجې جهاز وَلندن ته ورسېدو- هېتهرو ائيرپورټ ځه وْ.. يوه وړوکې غوندې دَنيا وه، چې دَ نړۍ په رقم رقم انسانانو او ځورو باندې ښائيسته ځکه وه ، چې دَ جهازونو دَ تلو راتلو درباندې دا حال وْ، چې دَ يوې اندازې په سمه په هر 80 سېکنډه کې دننه دننه يو کښېني او بل الوځي - غلط به نه يم که وَوايم، چې دا يو دَنياوي جنت وْ، چې ورته دَ خداى مخلوک راتلو په ډېره خوشالۍ باندې او ورڅخه تلو په ډېر مات زړه -

---

دَ ښخي رش پرته که څه هم زه دَ هېتهرو هوائي ډګر غټوالي او په ښخي جديدو طريقو جوړ حېثيت ښه ډېر حريان کړى او سامولى وم - خو زما دَ کراچۍ دَ يوې ټيچري ثمينه برهوئي دَ راښول شوي لاري ليکي له کبله دَ انفارمېشن بُوتهـ څخه دَ انډرګراوْنډ ټرېن، چې ورته ټيوب رېل او مېټرو هم وئيل کېږي شېډول تر لاسه کولو ورسته نيږدې زېرزميني رېلوې سټېشن ته په پوړيانو ورګوز شوم - يوځل وَدرېدم، دَ ماحول جائزه مې واخيستله.. خو چې بيا مې هم دَ خپل وَس په سمه سر نشو خلاس، نو دلته جوړ دفتر څخه مې دَ ټکټ کولو په وخت چې څنګه پوښتني ته خله جوړَوله، نو هغوئ دَ ټکټ سره دَ لندن دَ مېټرو مکمله نقشه ، چې په يو وړوکې کارډ باندې جوړه وه هم راکړه-

ټکټ په لاس کې دَ هېتهرو ائيرپورټ لندن ټرمينل نمبر3 څخه دَ پيکادلي لائن(بليو لائن) ټرېن ته وَختم او دا ټرېن دَ خپل معمول په سمه فقط دَ لس سېکنډه سټاپ کولو ورسته مخ په وړاندې وَغزېدو - هو.. رک لکه يو مار ، چې په خپله ځُوخته کې ورننوځي - که مې څه هم سترګې دَ سرو او سپينو يا بيا څه څه تکو تورو پېرنګيانو ته په کتلو بوخت وې، خو دَ دې

خلګو په وړاندي سوچونو دَ خپل قام په پخوانئيواو تېرو شوْ ورځو شپو باندي زه وَ تندي ټکولو ته پدې پارَولم - چي هغوئ دَ پېرنګي بادارانو چوپړ درسته پېړۍ وهلو پرته هم ، نه خو خپله زما دَ خوب په سمه سرځيو ته وَ مونېدلواو نه يې سرې دَ سيال قامونو په وړاندي وَزېږولو - داسي چپه او راسته خبري مي زړه ته پدې وجه راغلې. چي دَ دې خلګودَ ناستي پاستي، درنو او ښائيستو روئيو او په ګډه دَ مزل کولو شعور زه ډېر متاثره کړی وم -

که څه هم هيچا په چا کار نه درلودلو ، خو بيا هم هر چاته دَ محتاط اوسېدلو خبرداری چي مخامخ لګول شوي دَ يو غټ فوټو په بڼه کي رقم شوی وْه .. خدای شته زه خپله هم پدې خبره مجبوره کړم چي نه يوازي دَ خپل بېګ (چي په وړې غوندي ټرالۍ باندي مي تړلی وْ) خيال وَ ساتم - بلکې خپلو جېبونو ته مي هم بيا بيا پام اړَولو او په وار وار مي لاسونه په دې وجه وربانديوَهلو.. ګوا داسي نه چي دَ هغه اشتهار په سمه زه هم دَ هغو ګنډکپانو ښکار شم ، چي په باب له يې ورباندي داسي کښلي وْ... چي

" په مېټرو کي ګڼ شمېرشوکماران ګرځي ، خيال ورڅخه ساتل په کار دی "

اوس دا خبره رښتيا وه که يَه .. خو چي به څوک راسره په څنګ وَدرېدو او يا به راسره وَ نښتو ، نو به يو اړخ ته کرار وَڅکېدم - منم ، چي مغربي جامې زه هم دې وخت دَ خپلو تاريخي بادارانو وَ زامنو لُوڼو او لمسيانو ته موڼَولم - لاکن غنم رنګي څرمني زه تر خپلي نابلديا ځکه زيات پرېشانه کړی وم ، چي خپلي مشرقي او روائتي څېرې زه په دې حاضرو خلګو کي له ورايه بېل او بدله ښکاره کولم - که څه هم بېخي زياتو سترګو زما تعاقب نه کولو.. خو زه په ځان کي غل وم - که به چا يو وار سترګي راواړَولې، نو مابه په بيا بيا ورته کتلو له سوبه ځان ته متوجه کړو-

دَ هيلټن کراس ، هانسلو وېسټ ، هانسلو سېنټرل ، هانسلو ايسټ ، اوسټرلي ، بوسټن مېنور، نارتهـ فيلډز، ساوْتهـ ايلنګ ، ايکټون ټاوْن (چي انټرچارج سټېشن وْ ) ، هېمرسمتهـ ، او وېسټ کېنسينګټن W. Kensington نامي انډرګراوْنډ سټېشنانو باندي دَ لس لس سېکنډه تم کېدلو ورسته په درې پاوْه کي دننه دننه دَ ايرلز کورټ Earl’s Court په سټېشن باندي دَ رېل ګاډۍ څخه کُوز شوم -

دَ حرکتي پوړيانو (مونګ سټېيرز) په کومک چي ځنګه بالا راوَختم، نو زه په بازار کي وم او نرۍ نرۍ باران هم ورېدلو- نو ځکه ژر ژر په يو څو هوټلانو باندي دَ ګرځېدو ورسته لوند خيښت په ريجنسي هوټل نامي (بېډ اينډ برېک فاسټ) کي په 25 پونډه خونه نيولو کي برې شوم- خونه نه يوازي ډېره وړه وه ، بلکې باتهـ روم يې هم نه درلودلو- لاکن کولی مي هم څه شو ،اوس خو ورننوتی وم- او بل دومره ستړی وم، چي ځنګه په پلنګ باندي وَغزېدم ، نو بيا ويده شوی وم-

---

دَ لندن دَ وخت په سمه پاوکم نهـه بجې ماځُستن چي مي سترګي خلاسي شوې ، نو دَ تيارو په زد رڼاګاني خورې شوي وې او زما ستړيا هم څه څه وسا شوي وه- نو ځکه مي دَ خېټي تر لوږي زيات دَ دې ځای دَ شپې ژوند دَ کتلو په پښتني جذبه دَ هوټل څخه دَ يو نامعلومه سمت په خوا ګامونه اوچَتول پيـل کړو- او ځنګه ځنګه چي مخته تلم، نو هغومره زړه ماتی کېدم لګيا وم- ولي چي هرڅه بند وُ او دَ خدای مخلوق هم خال خال ښکاره کېدو-

" چرته زما نابلد يا خو زما دَ شوق په لاره کي نه ده خنډ شوي؟ "

اوس به لا ما په مات زړه بيرته په دې سوچ دَ شا په لور ګامونه اخيستلو ، چي يو بار مي تر سترګو شو- او ما هم سترګي پټي کړې او وَرننوتم- بس بيا نو څه وينم ، چي دَ سړيانو په ګڼه ښځو هم په ښه ډېر شمېر باندي دَځيښلو سره سره په ټي وي باندي دَ فُټ بال مېچ کتلو او دَ هر شاټ سره يې په چيغو وهلو کي پورا پورا برخه اخيستله- او بلکې کله کله به يې ټوپونه هم وهلو لګيا وې-

" دا خو لا دَ يو معمولي بار مستي ده.. ګوره چي په کلبونو او دَ شپې دَ نورو زړخوښيانو به يې څه حال وي؟ "

دا هغه سوال وُ، چي زه يې دَ ځواب دَ لټولو په نيت له دې بار څخه دباندي را وَايستم او بيا چي چرته مي هم څه زياتي رڼاګاني تر سترګو کيدلي ، هغې خواته مي ګامونه اوچتَولو- يو

نیم ځای خو به دَ ټېلي فون په بوتهـ کي هم پدې وجه ننوتم، چي وګورم .. دا په اشتهاري ستېیکرانو باندي څه لیکل شوي دي ؟ لاکن ما خو بې دَ بېلابېلو نوعیتونو دَ سېکس کالونو دَ اشتهار په چپه بل هیڅ داسي دَ مردانه او زنانه کمزورۍ یا بل شي اشتهار نشو تر سترګو ، چي په خپلي دې لاند ېنئیو خبرو کي دروغجن شوی وی - ګوا

" دا به وَ منم ، چي دَ لندن غوندي ښار کي هم چي ټولي مغربي تقاضې دَ مستۍ او دَ هرقسمه خوشاله ژوند په باب په آزادۍ باندي پوره کېدلو مواقعي ځای په ځای شته - لاکن دا خبره به څنګه منم ، چي خلک بې دَ خوائیشاتو په حقله تر مشرق هم زیات ترې دي "

دَ ښه ډېر ګرځېدلو ورسته چي دَ نیمي شپې خواته په غټو غټو قدمونو دَ هوټل په خوا روان وم ، نو یو نیم ځای به له تورکارنره داسي ژغ راباندي داسي هم وَشو - لکه

"های مېن" او "هې ګای"

لاکن زه وم ، چي ځان مي ګوڼ اچَولی وْاو خپله لاره مي وهله -

خو بیا چي څنګه زه دَ هوټل په خوني کي ابکړ شوم ، نو دَ نن دَ شپې دَ مشاهدې په رڼاکي مي داسي په ډائرۍ کي واړَولو -

" انګرېزان که څه هم په ښکاره ښه ، اخلاق او روئیو له لاري خپل تاریخي او باداري کردار زما دَ سترګو په وړاندي رښتیاکولو ته هڅوال بربښي ، خو په خپل مترقي حېثیت باندي غره دغه قام دَ اجتماعي ژوند او فکر په مقابله کي دَ انفرادي مفاداتو تول درَنولو په خاطر هلي ځلي څه زیاتي کوي - مطلب مي دَ وئیلو دا دی ، چي نشه ، سېکس او مستي که څه هم په اجتماعي ژوند کي تر سره کېږي ، خو خوند او پند بې انفرادي دی - هم دا هغه شیان دي ، چي ټولنیز انسان په فطرت غرضي کوي لکه ځناور "

---

" لندن ، دَ سلطنت متحده برطانيې دارالحکومت او تر ټولو غټ ښاردی - دَ نن دا کمرشل او دَ ښېخي ښېلو زړخوښيانو ښار، چي په کي دَ پارکونو، باغونو او جديدو ماڼيانو او ودانيانو په چپه غټ غټ مارکېټونه او ښېخي زيات زاړه تاريخي آثار که دَ کتلو وړ دي - "

نو هم دَ دوئ له قوله..

"دَ دې ځای دَ خلګو ښه روئيه او دَ مېلمستيا رجحان دَ هېرَولو نه دی- "

"دي پاکټ ګائډ ټو لندن " نامي ګائيډ هرڅه په خپل ځای - لاکن دلته دَ مېلمستيا توری به په دې اړه هم مناسب نه وي.. ولي چي که دا خبره چرته افريقايانو يا هغو ته وکړل شي ، چي انګرېزان نه پېژني ، نو کېدلی شي چي وَ يې مني - لاکن زه به بې دَ مشاهده کولو او دَ راپاته تاريخ په رڼا کي څنګه منم ؟ چي دوئ زموږ دَ مېلمستيا په صله کي لا چپ له کرکي او منافقته که بل څه راباندي پيرزو ْ کړی وي ، نو هغه دی غرض فقط غرض-

لندن ، چي دَ تهېمز درياب په دواړو څنډو باندي مېښته دی په ايسکس، کانټ، هرټ فرډ شائر، سرائی او مډل سکس نامي سيمو اړه لري - او په **693** مربعه ميله مځکي باندي خپور وور لوی لندن په لومړي ځل په کال **43**عيسوي کي رومنو دَ مارکېټ په نيت آباد کړو - بيا چي کله په **10**مه عيسوي کي رومن وتلو ، نو دا ښار دَ يوي غټي منډۍ په توګه ښه نوم درلودلو- لاکن بيا چي اېنګلو سېکسنو په دې ښار قبضه وَکړه، نو يې دَ دې ښار دَ اهميت دَ کمولو ارادي هڅه وَ کړه - او تر **390**ع کاله پوري هيڅ پاملرنه نه ورکړل شوه - لاکن په **800**ع کي دغه ښار بيرته دَ عالمي منډۍ په څير نوم وګټلو –

که څه هم دا ښار بيا بيا په حملو او خانه جنګۍ کي وران شوی دی - خو بيرته جوړ شوی هم دی - ولي چي دا دَ ژوندي قام مرکزي ښار او په تېره تاريخي اثاثه وه - او دا خلګ دَ تاريخي اثاثو ژغورنه دَ قامي ننګ او نوم ژغورنه ګڼي - نه چي لکه کابل او کندهار، ګوا چي وران شول نو ورک هم شولو - مخته يې خپل قسمت ، چي بيا به آباد هم شي که يَه -

دَ لندن په باب دا هم وئيل کېږي ، چي دا ښار که يوې خواته نور نور خورېږي ، نو بلي خواته دغه ښار دَ ځينو عالمګير ښارونو په مقابله کي ښېخي ژر ژر دَ جديدو تقاضو په سمه ځان

کي بدلون هم راولي - ګوا پهٔ آسانه ټکو کي داسي وئيلی شو ، چي لندن هم دَ زمانې دَ فېشن پهٔ رنګه بڼې بدلوي او پهٔ هر دور کي دَ هغه دور ښار ښکاري -

---

پهٔ 23م مارچ 1996 دَ سهار ناری کولو ورسته نهه نيمو بجو خواته دَ دې علاقې Earl's Court دَ مېټرو سټېشن څخه مي بيا دَ پيکادلي لائن روټ پهٔ مخه نيولی وْ او ريل ګاډی دَ ګلوسټېر ، ساوټهـ کېنسينټن ، نائټس بريج ، هائيډ پارک کارنر ، ګرين پارک ، پيکادلي سرکس ، کوېنټ ګارډن ، هولبورن او روسېل سکوائر نامي سټېشنانو څخه تېرېدو ورسته چي کنګزکراس ته وَرسېده ، نو ورڅخه کُوز شوم -

ما غوښتلو ، چي تر ټولو دَ مخه دَ کاسموس وَ هېډکوارټر ته دَ رسېدلو اطلاع ورکرم - نو ځکه دَ سيټي مېپ پهٔ لاس کي کله يو روډ کله بل روډ ګرځېدم او آخير پای چي څنګه دَ کاسموس تر دفتره مي ځان وَرسولو ، نو څه ګورم چي هغه خو دَ Weekend پهٔ وجه بند دی -

" ياره شوقه ! واقعي چي پښتون يې "

پهٔ ځان دَ خندلو سره ځوکه غوندي وَ بُوښېدم او پهٔ يو خوا داسي روان شوم لکه زهٔ چي پهٔ دې علاقې کي بلد وم - کهٔ څه هم حقه دا وه ، چي پهٔ هيڅ نهٔ وم خبر -

پهٔ ټرېفلګر سکوائر ، چرته چي لندن ته راغلی هر سړی نهٔ يوازي علاقه ، بلکې هلته دَ سلاوْ کوترو سره دَ خلګو.. پهٔ تېره دَ ماشومانو ورسره لوبې خوند کوي کي خوندونه لُوټلو ورسته زهٔ نن پهٔ خپل ناغوره شوي سېل کي رک تر ماښامه پوري دَ مېټرو لهٔ لاري څه نيم درځن يا تر دې هم زياتو علاقو کي دَ يو بې منزله سېلاني پهٔ شان ځکه وګرځېدم ، چي دَ دې ښار دَ خلګو او دَ کاروباري ژوند دَ کړو وړو پهٔ حقله مي يوه مُصدقه رائې غوره کول غوښتله- دَ عکسونو اخيستلو او دَ آډيو ريکارډنګ کولو سره سره مي دَ اروپا دَ خدوحال پهٔ باب دَ مطالعې دپاره مواد هم پهٔ طريقه طريقه راغونډَول پئيل کړي وْ -

" دَ نن دَ درستي ورځي دَ مشاهدو په رڼا کي ما دا خبره ومنله ، چي ښځه ، که څه هغه پښتنه وي او که چالاکه انګرېزه ، دَ خپل ماتحتي فطرت او زړه سوي له سوبه يو رقم ده - ټګي يې په خپل ځای او دَحُسن دپاره دَ ستائيني کمزوري هم - خو چرته چي له دې څخه دَ کومک يا مرستي خواست يو څوک بلکې سړی کوي ، نو دا ښځه بې دَ قامي او نسلي توپيره دومره مددګاره ثابتېږي - چي دَ سړي ګمان ورباندي دَ نيږدې رشته داري وَشي "

هو ، نن چي ما دَ څومره خلګو سره خبري کړي وي ، په هغو کي دَ نرانو په مقابله کي ماته دَ ښځو له خوا دَ مطالعې دپاره ښه ريسپانس راغلو - او بل نن دغو ښځو په موسکني انداز ګائيډ کړی يا په سمو لارو لګولی هم وم -

---

زه نن په پښو باندي دومره ګرځېدلی وم ، چي ما وئيلو .. څنګه دَ هوټل تر خوني وَ رسېږم ، نو به ويد ېږم - لاکن چي وَ خوني ته دننه شوم .. نو ګورم ، چي يو بل ځوان هم راسره په خوني کي دَ دې ځای دَ بيډ اينډ برېک فاسټ هوټلانو دَ دستور په سمون مېلمه کړل شوی وْ -

دَ سوال ځواب او تعارف کولو ورسته دَ هغه انجنئير چي سلوانيا څخه راغلی وْ، په خوښه ورسره نيږدې ډين نامي پب ته څه ولاړم ، چي په اول مانښام بيا ما او هغه دَ يوې چټي او مستي امريکنۍ وينا نامي انجلۍ سره داسي تودې خبري وَکړي ، چي کله ما هغه ځوان بيرته دَ هوټل په خوا روان وْ - نو هغه راته وئيلو

"ښه ښځه وه لاکن.. "

" لاکن څه؟ "

ما چي پوښتنه وَکړه ، نو هغه وَ موسېدو شو او وئيل يې

" زه دلته په کار پسې راغلی يم ، نه چي عشق کولو ته "

هغه لا خبره سرته نه وه رسَولي ، چي زمورِ دَ هوټل سره په خواکي له هغو دوْو ، تکو تورو ولاړو پېغلو ځخه يوې چي سګرېټ يې په لاس کي نيولي وْ ژغ راباندي وَکړو-

" مېچ پلیز "

زه لا وَ درېدم ، خو دَ سلوانيې ځوان چي مېک نومېدلو له لاسه کښ کړم او واي

" دا شوکماري دي.. خيال کوه "

بيا که څه هم يو څو ګامه هغوئ راپسې په پټه خله رواني وې ، خو مورِ قدمونه تېز کړي وْ- او داسي په مخه په تادۍ روان وْ ، لکه هغوئ چي ښځې نه ، بلکې بلاګاني وي- او بيا چي به يې کله سينې او ادومان هم راته دَ بدماشانو يا پنجابي پالوانانو غوندي وَ ټکولو ، نو لا نور به مو ګامونه غټ او تېز شولو - په زړه کي مي وئيلو ..

" که داسي حال وْ ، نو ما خو به ډېر ژر يوه نا يوه بلا چرته وَ خوري.. ولي چي داسي دَ ملګري مېک په شان ځوانان خو به هر ځای نه وي راسره "

زه به لا ځان سره نور نور بُوږنېدمه ، چي مېک زما په لور داسي را وَکتلو ، لکه زه چي هغه ته څه وئيل غواړم - لاکن چي زما له خوا يې هيڅ نه واورېدلو ، نو وَ موسېدلو ... هو ، کېدلی شي چي زما په داسي مړانه او يا په دې سادګۍ باندي - چي دې وخت يې زه له يو داسي وام او ويري سره مخاخ کړی وم ، چي په اسمانو او خلاګانو کي ګرځېدونکي دغه مختنه وتي انسانان راته دَ يو څو لمحو دپاره دَ شکرَورو دېبانو غوندي سترګو سترګو ته کېدلو ... هو ، که څه هم قصور زما خپل وْ او دا هر څه دې وخت ما بې تحقيقه په زړه باندي اخيستلو لګيا وم - په دې خو مي په ځان پوري پټ پټ خندلو هم -

چي څنګه دَ هوټل ګېټ ته ورسېدو ، نو مېک آخيري ځل شاته وکتل او يو څه يې وَوئيلو ، لاکن په خپله ژبه کي - نو ما هم ورڅخه پوښتنه وَکړه -

" داسي.. ستاسي په خوا كي هم كېږي؟ "

" هو.. تر دې هم لا ډېر زيات "

او دومره وئيلو ورسته دواړه په هوټل ننوتو-

" وايه.. ستا په هېواد كي په دې اړه څنګه رجحان دى "

دَ خوني دروازه خلاسَولو ورسته مېک چي له ما هم پوښتنه وکړه - نو ما وَخندلو -

"ولي دي وَخندل ؟ "

ماته په موسېدلي انداز کتلو ورسته چي يې بيرته پوښتنه وكړه ، نو ما دومره ورته وَوئيلو -

" وروره ! ته مسلمانان پېژنې ؟ "

ما چي څنګه دَ هغه دَ سوال په ځواب كي دا سوال ورته ځواب كړو ، نو هغه واي

" هو هو مسلمانان خو په دې باب ډېر سخت دي "

او بيا يې په نرۍ خندا كي دا خبره داسي وَنغاړله ، لكه هغه چي اوس له ما وېرېږي .. زه دَ هغه له هغو خبرو نه ، چي اوس اوس يې دباندي راته دَ دې ځاى دَ هغو دوْ چټو پېغلو په باب كولې -

" يَه يَه وروره ... مسلمانان ډېر انسان دوسته دي ، ولي چي اسلام دَ امن او ورور ولۍ درس وركوي "

ما چي دا سي دَ هغه دَ زړه دَ تسلیٔ دپاره وَ وئیلو ، نو هغه ماته سرتر پایه کټلو ورسته ځواب داسي رابیا کړو ..

" منم .. چي په هر چا کي بد شته ، لاکن .. "

په لاکن يې ستنه ګوره چي دَ کومي ويري له سوبه چي ښنګه وَ درېدله ، نو ما يې مخته خبره داسي سرته وَ رسوله ..

" هو ، په مسلمانانو کي هم له شمېره وتي بد خلګ شته لکه په هر بل مذهب يا قام کي چي دي ...خو دعو بدو ته په بده سترګه کتل کېږي او په ټولنه کي هيڅ قدر نه لري "

" هو .. زما مطلب هم دغه وئيل وْ او دومره وئيلو سره يې سم خبره په بله داسي واړَوله لکه هغه چي زما په دليل نه وي مطمئين شوی -

---

دَ مارچ دَ مياشتي دَ **24**مي کال **1996** په سهار په رېجنسي هوټل کي ناری کولو ورسته مي په کاونټر باندي دَ خوني په اړه دَ ځيني نورو شکائيتونو سره مي دا ګيله هم ورګډه کړه-

" برايه شپه چي تا له خپلي خوا زما په خوني کي دَ ټوين شېرنګ په بنياد په **15** پونډه باندي مېلمه اوسَولی وْ.. نو دَ دې مطلب دا شو ، چي ته به ماته زما له **25** پونډه ښخه هم لس پونډه بېرته راکوي - ولي چي له ما خو دي دَ خوني پوره کرايه اخيستي وه "

دا مطالبه چي مي ښنګه وَکړه ، نو هغه سړی چي هندو وْ او مائينه يې هم ښنګ ته ولاړه وه په اُردو کي لږ په سخته لهجه کي راته واي -

" زه به نو ځله لس پونډه درکوم ؟ "

" ځکه چي تا له هغه ځوانه پنځلس او له ما پنځويشت پونډه اخيستي دي "

ما هم څه غوندي ځان ورته زيږ کړو- لاکن هغه خو هم دَ هندو بچی وْ - که څه هم لږ غوندي دَ مائينې او يو بل مېلمه له مخه خړ شو.. خو واي

" له هغه سره خو مي رعايت کری وْ "

بس نور نو زما دَ وئيلو دَ پاره څه پاته شوي وْ.. نو ځکه مي سترګي په سترګو کي ور واچولې او داسي کرار مي ورته وايم -

" وروره ! په دې لس پونډه باندي به نه ته موړ شې او نه به زه په غريب شم - بس دا درته وايم ، چي له دې خلګو لږ شرم په کار دی - هر ځای هم شوکماري خوند نه کوي.. پوی شوي "

او چي له دې سره سم څنګه راغبرګېدم ، نو دَ هغه دَ بُونېکېدو سره يې مائينې هم لکه پهولن دېوي اوړې وَ څنډلې او يو قدم هم رامخته شوه او له خلې يې لاس واخيستو- په زړه کي مي وئيلو ، چي..

" داسي نه بل ناحقه تور دَ زموږ کراچي والو په رنګه نه درباندي وَ لګوي "

نو ځکه مي په پښتو کي ورته دَ يو دوْو غټو شکنځا کولو ورسته خپله لاره وَ نيوله - او

" دا زموږ دَ سيمي خلک به يو خدای سمَوي "

له ځان سره دا وئيلو ورسته دَ اېډوېر مېټرو سټېشن په خوا په غټو غټو ګامو روان شوم - ولي چي زه يوځل بيا دَ سکون په لټون کي دَ خپل خوښي دَ هوټل موندلو په نيت روسيل سکوائر نامي ائيريا ته ځکه روان وم ، چي سبا نه بل سبا سهار مي له هغې علاقې دَ "ګرېنډ يوريپين ټوْر" کاروان هم روانېدو- قريبًا نيمه ګهنټه ورسته چي لوند خيښت زه په پوړيانو باندي لاندي وَانډرګراونډ ته ګُوز شوم ، نودې وخت په هغه سټېشن کي چپ له ما دَ څلورو ځوانانو يو ګروپ هم هلته ولاړ وْ- زما په ليدلو په خپلو کي بُونېدلو او بيا داسي په خندا

سر شولو لکه ما چي يې مور.... ، نو ځکه ما هم په کړو څه ورته وَکتلو ، چي يو دنګ او موالي غوندي ځوان غاښونه وَ چيچل او له ډېره خشمه يې يوه پښه لکه مست غوئيي په مځکه باندي په زوره زوره وهلو ورسته وئيلو

”Fuck Spanish… Fuck , Fuck “

په زړه کي مي وئيلو .. چي

" زه يې لا تر تا له مخه لا څه او څه ---- "

او بيا ورته وَ موسېدم ، لاکن هغه لا نور وَ خشمېدو او دَ پاکستاني فلمي ويلن په رنګه يې اوړې وَ ښنډلې او زما په لورداسي واز واز راروان شو ، لکه اوس چي به مي وَخوري - نو ځکه په ما کي هم ويده پښتون سر راپورته کړو او ورمخته شوم - اوس به مي لا تر ګرېوان نيولو ، چي هغه شوده وَ موسېدو او په ډېر خوارېه انداز يې خله پرې کړه -

” ?Are you really spanish..my friend “

او بيا يې لاس چي ښکګه راوَغزَولو ، نو ټېرېن هم راوَرسېدو او پنځه واړه په خندا خندا وَ ټېرېن ته دَ خوړو يارانو غوندي وَختلو - او په درسته لار مي ګوره چي څله ځان فاتح او هغوئ خپل مرئيان ګڼلو - که څه هم زموږ تر منځه ډېري خبري نه وَ شوې ، خو زه په سوچ سوچ کي وَ دي نتيجې ته رسېدلى وم ، چي..

" دَ کم همته ، (که څه هغه يو غړى وي او که درست قام ) له کمزورۍ څخه فائده اخيستل که څه هم انساني کمزوري ده .. خو هغه چا يا قامونو دا فطري کمزوري په داسي رډه او سپين سترګۍ تر ټاک اړَولي ده ، څوک چي له بده مرغه په شعوري توګه ځانونه تر نورو پاته خلګو يا قامونو غښتلي ګڼي - داسي ولي کېږي ..؟ او که کېږي ، نو چرته په اخلاقي يا بدني زور تکړه غړي يا قامونه خو دَ بل حق (دَ کمزورۍ څخه فائده اخيستلو په رڼا کي ) هضم کول خپل پيدائشي حق نه ګڼي ..؟ که هو ، دغسي خبره ده.. نو ملامت بيرته هم مظلوم ،

معزوره( په ډېره مانا کي ) او دَ غفلت په تیارو کي په خوارۍ خوب ویده خلک یا قامونه ځکه ګڼم. چي دَ شعور په رڼا منور او په خپلو پښو باندي دَ مړو خلکو سرونه خو په دې وجه هسک ښکاري ، چي هغوئ یې په اوږو باندي ګرځوي "

لندن دا ، چي یو وار تر کنګزکراس او بیا تر روسیل سکوائر پوري سفر که څه هم اوږد نه وْ ، خو دَ دې درانه بېګ په پورته کولو راپورته کول او کښېنولو ښه ډېر ستړی شوم - هم دغه وجه وه ، چي دَ روسیل سکوائرد مېټرو څخه په ځه واټن باندي جوړ سپلېټک هوټل کي ځای نیولو ورسته چي څنګه په خوني کي ورننوتم ، نو په پلنګ باندي وَ غزېدم او تر ډېره پوري ښه په آرام پروت وم -

---

له دې دوْو تېرو ورځو مي له سره چنداني خبري نه وې کړي ، نو ځکه دَ نن په دې ماځیګري کي مي زړه غوښتلو چي نه یوازي له هر چا سره خبري وَ کړم ، بلکې څه data هم راغونډه کړم - په دې نیت مي په یوه نا یوه بهانه له خلکو سره خبري کولي ګ- لاکن مصیبت دا وْ ، چي به مي له چا او چا سره دَ ډېرو خبرو دَ پاره زړه کېدو.. هغوئ به دومره تازیلمن وْ ، چي په تګ تګ کي به یې ترځان تېرکړم - او بلې خواته چي به ما له چا سره دَ مطلب تر خبري زیاته خبره کول نه غوښتله ، نو په هغوئ کي به زیاترو مجلس را سره شروع کړو -

یو وخت چي زما په ګهړۍ کي پنځه منټه بالا څلور بجې وې ، چي ما دَ یوې تور سري پېرنګۍ سره ملګرې سپین سري آنټي څخه دَ برټش میوزیم چي دلته نیږدې چرته وْ درک معلومولو هڅه وَکړه ، نو نه یوازي یې ښه په سړه سینه زما خبره واوْرېدله بلکې په ډېره مینه یې لاس را باندي اچولو ورسته دَ مور په رنګه راته وئیلو -

" فکر مه کوه بچیه.. زه هم په هغې خوا روانه یم ، ډېر لیري نه دی ، له ما سره درځه "

او مورڼ څنګ په څنګ روان شولو-

" ته څوک یې او له کومه راغلی یې ؟ "

" شوق زما نوم دی او زه له پاکستانه راغلی یم "

دَ تورسري انګرېزي دَ پوښتني په ځواب کي چي ما څنګه دومره وَوئيلو ، نو هغه وَ دربېده او سرتر پايه راته کتلو ورسته يې وَوئيلو

" ته پاکستانی يې..؟ "

" يا خدايه خېر.. "

زما له خلې هم دَ هغې په حيرت ور " سواليه پاکستان " دا خبره يو دم وَوتله ، خو په پښتو کي - او بيا مي همت دَ پوښتني وَکړو -

" ولي مېډم.. په دې کي دَ حېرانتيا څه خبره وه ؟ "

هغې به لا کېدلی شو ، چي خبره کړي وی.. خو سپين سري پېرنګۍ هغه په ځنګلي وَ وهله او بيا خپله واي

" يَه يَه په دې کي هيڅ بده خبره نه ده "

او دَ مکرجني موسکا ورسته يې زه تر لاس وَنيولم او بيا درې سره مخته روان شو- لاکن په پته ځُله باندي - هو ، که څه هم په وار وار به هغې بلې تورسري پېغلي راته په کږو داسي کتلو ، لکه زه چي ځُود کښه بمبار وم - چي راسره سره رواني هم وي ، خو نيږدې کېدلې نه.. او څه مخته دَيوې کوځې په ځُله کي دَ اجازه اخيستلو له مخه واي -

" مور په دې خوا ګرځو.. ته داسي وَکړه ، په هغه مخته روډ چي کينې لاس ته ګرځېدلی دی باندي نېغ مخته ځه.. ياني قريبًا دَ لسو يا پنځلسو منټو لار ده تر ميوزيمه پوري "

او بیاپه غټو ګامونو په خپلي لاري داسي په تادۍ ورسمي شولې ، لکه زه چي انسان نه بلکې دَ یو بلي ناخوښي دُنیا سړی وم -

---

" که څه هم تر اوسه موږ دا خلک خپل باداران ګڼو او ډېر په درنه سترګه ورته ګورو- خو حقه دا چي دوئ له موږ څخه کرکه کوي او دا کرکه دَ هغوئ په خمیر کي ده - او دَ دې خلګو په حقله هوشیاران هم وای ، چي روایت پسندي او کینه دَ انګلسیانو خاصه بلل کېږي "

دَ دې احساس په سمه مي زړه غوښتلو ، چي بیرته خپلي خوني ته لاړ شم او دَ خپل قام په دې سپکه ورځ باندي اوښکي تویه کړم - لاکن بیا مي خپله وَ دې زړه ته تسلي په دې سوچ ورکړه..ګوا

" لازمي هم نه ده ، چي ټول به دلته له موږه دومره نفرت کوي "

او بلکې دا فېصله مي هم له ځان سره وَکړه ، چي زه به اوس چاته دا موقعه نه ورکوم ، چي دَ نامه په پرته نوري پوښتني راڅخه وکړي -

" دا خو لا خبر دی..که په ګرېنډ یورپین ټوْر کي هم راسره داسي وَشو ، نو خو به نیم هم نشم پاته دَ نورو سیلانو مخي ته - ولي هلته خو به موږ یو بل ته معارفي کول کېږو له یو بل سره "

دَ چُړت سلسله مي تر دې ځایه چي ځنګه وَرسَوله ، نو زه هم په دې ګرېټ روسېل سټریټ کي دَ برټش میوزیم غټ پخواني ژېړېخون بلډنګ په لویه دروازه ورننوتم - نن اتوار وْ ، خو خلاس ځکه وْ - چي دَ غوره شوي شیډول په سمه دا میوزیم .. دَ جمعې څخه تر هفتي پوري هره ورځ سهار له لس بجو څخه تر پنځو بجو او په اتوار باندي تش دَ ماځپښین له دوه نیمو بجو بیا تر پنځو بجو پوري خلاس وي -

" دَ ښېخي غت ، زوړ او عالي شانه بلډنګ پرته دا برټش میوزیم په لندن کي دَ ادب ، سائنس ، او آرټ دَ نوادراتو قامي عجائب ګهر دی - په کال **1759**ع کي دَ پارلیمنټ دَ قانون مجریه

**1753**ع له لاري جوړ کړلی شوی وْ - په دې کې سر رابرټ بروس او سر هنیس سلون غټې کتابخانې هارلین لائبرېري ، دَ جارج اول او دویم کتابخانې ، دَ دویم جنګ عظیم زیاتره نوادرات او دَ دې پرته دَ دې میوزیم هغه لائبرېري چې په کې دَ دُنیا دَ ښخې ډېرو قامونو دَ علمي ، ادبي اثاثو په چپه دَ عظیمي برطانیې درست ریکارډ خوندي پروت دی دَ کتلو او ورڅخه استفاده اخیستلو ځایونه دي "

دلته څه درې پاوْه وخت تېرَولو ورسته چې دباندې راوتم ، نو که څه هم اوریځ په آسمان کې خوره شوې وه او لمر نه ښکاره کېدو - خو لا لومړی مازیګری وْ - نو ځکه مې دَ سېل تنده سړَولو په نیت په پښو باندې ګرځېدلو ورسته دَ هولبورن نامې مېټرو څخه په بلیو لائن (پیکادلي روټ) باندې دَ هائیډ پارک کتلو دپاره په رېل ګاډي کې سپور شوم - او په پنځلس منټه کې دننه دننه کوبنټ ګارډن ، لائیسېسټر سکوائر ، پیکادلي سرکس او ګرین پارک نامې سټېشنان شاته پرېښولو ورسته په هائیډ پارک کارنر نامې سټېشن کې کُوز شوم -

"هائیډ پارک څه وْ..؟ یو وړوکی جهان وْ ، چې په کې په دَ ویسټ منسټر ابې نامې مشهوره ځای ، چې په**350** ایکړه باندې یې اړه درلودله څخه پرته په **264** ایکړه باندې جوړ کېنسینګټن ګارډن او په **32** ایکړه رقبه کې دَ سرپېنټائن نامې ځای درلودلو هم دَ خپل خپل نوعیت زړخوښیانو دَ خلګو پام خپلې خواته اړَولو - دَ دې پارک اصلي شهرت په **1851**ع کې دَ نړئیز نمائش له سوبه په تاریخ کې رقم شوی دی - خو اوس دا پارک دَ زړونو په تاوْ ایستلو کې دَ شکنځاوْ تر هانده آزاده علاقه ګڼلی شي - ګوا که څوک شاهي خاندان ، چې احترام یې قانوني حېثیت لري ته هم بد رد وئیل غواړي ، نو وئیلی شي - حقه خبره ده ، چې دَ دې موقعې څخه فائده اخیستلو کې ما هم خپل ځان دَ غازیانو په قطارکې درَولو په نیت دَ اخلاقیاتو په دائره کې دَ انسانانو تر منځه دَ وحشي روئیو په زد څه خو وَ وئیل - لاکن هیڅا هم واوْرېدلو ځکه نه ، چې زه له ځان ځان سره بُونېدلی وم "

دلته که یوې خواته په ګرځېدلو باندې بدني سترِیا راڅرمه شوې وه ، نو بلې خواته مې مازغو هم دَ وسوسو سره په جنګ کې غړی اچَولی وْ - ګوا بیا هغه زه وم او هغه یکړې چې یو بل ته مې اوړې ورکولې - نو ځکه خو دَ نه غوښتلو پرته هم هوټل ته تر تلو دَ مخه په ذهن

کي پرته سودا کته کولو په نيت يو دوْو ټېليفون بُوتهانو ته وردننه شوم او هغو ژغونو ته مي ډائيل ځرخَوول شروع کړو ، چي ځېرې يې نه درلودلي -

" منم. چي تر بدعملۍ خو نو بد سوچ ښه دی - لاکن نه چي دَ Live Call تر هانده - چي ځوانان دَ لذت په اړه په داسي وحشت پارَوي ، چي انساني اقدار ورباندي حېواني ښي زېږَوي "

دَ نن په لټون کي دا پاټه هم اړَولو ورسته دَ توبه ايستلو سره مي ځان دَ خوب غېږي ته وَسپارَلو -

---

په دې بله ورځ سهار تر ټولو دَ مخه کاسموس ، چي په ټوله دُنيا کي دَ سېلونو دَ اهتمامولو دپاره نيټ ورک لري هېډ آفس ته دَ خپل راتګ اطلاع او حاضري ورکولو ورسته دَ نيږدې دَ کنګز کراس مېټرو سټېشن څخه دَ درستي ورځي په ټکټ باندي دَ بلېک لائن ( نارتهن روټ ) ټرېن ته وَختم او دا ټرېن دَ اېنجل ، اولډ سټريټ ، مورګېټ او کېنن سټريت نامي سټېشنانو څخه تېرېدلو ورسته دَ لندن بريج انډرګراونډ سټېشن ته وَرسېدو - او بيا څو منټه ورسته زه له کېمرې سره دَ لندن له هغه زوړ او مشهوره پُل سره خواکي ولاړ وم ، چي دَ لندن په منځنۍ برخه کي په تهېمز درياب باندي په کال 963ع کي جوړ کړل شوی وْ - خو دا اوسنی جديد جوړښت يې په نولسمه پېړۍ کي شوی دی - او دغه پُل ته سېلانيان پنځه محرابيز پُل هم واي -

دَ دې تاريخي پُل کتلو ورسته مي ځان دَ لندن ټاوْر ته وَرسَولو - کوم چي له اصله دَ زاړه شاهي محل او بيا تر ډېري زمانې پوري دَ سياسي قېديانو دَ بندي خانې په توګه هم په کار راوړل شوی وْ يوه هسکه ميناره ده - او له دې ميناري سره په خوا کي يوه بله ميناره ، چي دَ وېکفيلډ ټاوْر ورته وئيل کېږي او ټرټيرس ګېټ ياني دَ غدارانو دروازه هم ورته واي دَ کتلو وړ دی -

دَ غرمې ډوډۍ مي دَ تهېمز درياب سره خواکي په يو فاسټ فوډ رېسټورنټ کي دَ خوړَلو په وخت دَ لندن په حقله داسي وَليکلو -

" لندن دَ تاريخي شهرت پرته دَ ذهني، قلبي او هن جسماني تفريح دَ پاره پوره پوره اهتمام لري - دَ انګرېزانو په چپه دلته دَ دُنيا دَ هري سيمي خلک دَ روزګار کولو په نيت په روډونو باندي ليدل کېږي - "

هم دغه رنګه مي درست مازيګرى او ماښام دَ لندن په روډونو باندي يوې بلې خواته په ګرځلاوْ کي تېرکړو او دَ ټولي ورځي دَ ستړيا ورسته چي ټُوک ټُوک بدن په هوټل سپلټېک کي خپلي خوني ته ځه ناوخته دَ شپې وَرسېدم ، نو مي سامان تړلو ورسته په فون باندي وَ کاوْنټر کلرک چي دَ دي هوټل دَ پرتګالي مالک لُور وه ته اطلاح ورکولو هر څو هڅه وَکړه ، خو بريالى نه شوم - نو ځکه په خپله لاندي ورته راګُوز شوم او چي څنګه دَ واړه کاوْنټر په لور وره غلم - نو څه ګورم ، چي هغه انجلۍ دَ يوه ځوان سره په مينه کولو کي دومره غرکه شوي وه ، چي زما په ليدو هم لږ شرمنده نه شوه -

ژر ژر يې زما درخواست واورېدو او بيرته له اشنا سره په ګپه شوه - لاکن دَ اوس ګپه ، که څه هم هغسي ګپه نه وه ، خو دَ هغسي ګپي په خوا ور روانه ضرور وه - ځکه چي کله بالا دَ خوني په لور ختم ، نومي ځانته دَ هغوئ په ځاى ګوره چي څله بد وئيلو ؟ هو ، کېدلى شي په دې ، چي ما په دې مغربي ټولنه کي هم دَ خپل مشرقي سوچ او فکر له لاري ميني ته په حېرت او مئينانو ته په کرکه کتلي وْ - هم ځکه خو مي تر سر لګولو دَ مخه مي دا خبره ډائرۍ ته وسپارَله ، ګوا ..

" مينه هم عجيبه احساس دى ، چي که په پټه وي او که ښکاره ... خو وَ خپل اظهار ته دَ رسوائى تر هانده لاري مومې "

*****

# چرته چي دَ لمر لا هم يخ کېږي

په شپږويشتم مارچ کال 1996ع سهار نهه بجې دَ کاسموس ټوْرزم دَ سېلانيانو څخه ډک بس چي زه هم په کي ورګډ وم دَ رائل هوټل ، 43 ولبورن پلېس ډبليو ـ سي ـ ون لندن څخه مخته روان شو- او له دې سره سم دَ 23 ورځو ګرېنډ يورپئين ټوْر پئيل شو- او دې وخت زمونږ کاروان دَ چېنل پورټ ، چي دَ ډوْر په نامه باندي يادېږي په خوا دَ لندن په هوارو سړکونو باندي مخته روان وْ - تر نيم ساعته پوري خو بس په ښاري آبادۍ کي رهي وْ او څه مخته چي څنګه په تکو شنو لوړو ژوَرو غونډيو وزمه مځکو کي تلو ، نو باران وربېدل شروع شو- ځاى په ځاى واړه او غټ دَ کروندو پټيان ، چي حدبنديانې يې په ډېره ښائيسته طريقه په لرګيانو يا په خارداره تارو باندي شوي وې - که څه هم لاسي زيار په دې ښکاره جوړو مځکو کي کم او دَ فطرت ښکلاګاني زياتې مونېدلې ، خو دَ دې خلکو دَ جمالياتي ذوق په سمه دَ مځکو تقسيم او ژغورنه په داسي ترتيب شوى وه - چي دَ هر زميندار پوسُونه ، غواګاني او اسپي نه خو له يوه پټي څخه دَ بل دَ پټي په خوا ور چپېدلی شوی اونه يې دَ پښتنو په رنګه تر منځه په لارو باندي جنګ ته دَ لستوڼي غړلو بهانې په کي ښکاره کېدې -ګوا داسي مي سنجولو لکه دا خلګ چي په خپل خپل حال کي خوشاله وي-

دَ پاوْکم دوْو ګنټهو دَ دې خوندَور مزل ورسته ، ګوا پاوْکم لس بجې مونږ سره دَ کاسموس له بسه دَ ډوْر پورټ دَ يو ټرمينل څخه دَ انګلش چېنل دَ سمندر په اوبو کي ولاړ غټ لانچ ته وَخېژَول شولو- او دې فېري په يولس بجې دَ فرانس په لور مخه وَکړه - دا غټ لانچ ، چي په بله مانا کي ورته وړوکی سمندري جهاز هم وئيلی شو دننه دَ يو پنځه خاليزه هوټل په رنګه دري چتهيزه جوړ وْ - په بالا دوْو چتهونو کي يې دَ استوګني دپاره په تنګو کاريډورونو کي وړې وړې خوني ... او لاندي په فلور باندي يې دَ وړو دوکانونو ، بارونو ، کېفوګانو او دَ فاسټ فوډ کېبنانو پرته يو غټ ډيوټي فري شاپ هم درلودو- زمونږ دَ ملګرو سېلانيانو په چپه بلا نورو مسافرانو هم سفرکم او خوندونه زيات لُوټلو-

زه هم څه کم دَ خپل شوق په وړاندي چمتو نه وم .. ګوا که څه هم دَ نورو په شان ما په دې لانچ کي زړخوشياني کولې - خو زما په خيال چي هم زه هغه لومړنۍ لېونۍ وم ، چي دَ شړک باران او ټمک يخ پرته هم دَ لانچ وَ بالا ئي چهت ته په تللو پوړيانو باندي وَختم - او ما په

باران کي هيڅ چُرت ځکه نه وهلو ، چي اوريځي مي په لومړي ځل دَ سمندر دَ ببخي مستو څپو سره غوزي په غوزي ليدلي وې - هر لور ګړذجنه اوريځ وه چي دَ هوا طوفاني سيليانو يوې بلي خواته الوځوله - وايم چي داسي ښکاره کېدو لکه دا جهاز چي به اوس په دې طوفان کي غرک شي-

" که چرته دا جهاز ډوبېدلو ، نو که څه هم لاتو وهلی شم ، نو آخير تر کومه..؟ دا خو موږ رک دَ ژور سمندر په مابېن کي روان يُو "

دَ قُدرت دا رنګ له هغو ټولو رنګونو يو بېل او بدل رنګ وْ ، چي ماته يې دا موقعه راکوله چي زه يې وَستايم - او دې شاعرانه موسم له سوبه دَ دې نظم " ژوند او زه " تهيم هم په زما په مزغو کي دَ تکميل په لور غزوني پيبيل کړې -

دَ خوند اخيستلو په چپه به کله کله ډېري بدي وسوسې هم زړه ته راتلې - خو لا زه وم ، چي په يوازي ځان مي ګاللې - لاکن دا څه..؟ زما په چپه خويو بل سړی هم دغه وْ چي بالا راختلی وْ - خود يې لکه چي زه ليدلی وم.. نو ځکه خو زما په لور رارَوان وْ -

"ډېر يخ دی "

لاس راکولو سره سم چي يې داسي وَوئيل ، نو زما دَ " هو " او "يَه" انتظار يې لا نه وکړو .. چي بيا په يخ کي دَ اووف اووف کولو ورسته يو ګام مخته اخيستلو سره سم واي..

" ستا يخ نه کېږي چي داسي په خوند ولاړ يې ؟ "

" هم دَ دغه خوند دَپاره خو دا يخ په ځان وړم "

" واوْ انټرستېنګ.. "

زما دَ خبري په ځواب کي يې دومره وَوئيلو ، او سر تر پښو راته کتلو ورسته بيا واي..

"که زه غلط نه يم.. ته آرټسټ يې "

او زما دَ ځواب دَ مخه يې پوښتنه ورسره ګډه کړه

"دَ کوم هېواد يې او چرته روان يې ؟ "

"انسان يم او بس دَ انسانانو په لور روان يم "

مخته هغه خپله واي

"ستا خبره ما انجواى کړه .. زموږ دَ ټولو دغه انسانيت خو اصلي پېژندګلوي ده "

بيا مختنه که څه هم تر ډېره پوري له يو بل سره دَ نن دَ سرېټوب په ښو او بدو اړخونو باندي ډېري خبري وکړې ، خو تر آخيره نه هغه زه او نه ما هغه وَ پېژندلو.. چي ځوک دی او څه کار کوي ؟ لاکن ښکاره کېدو فرنچ ، ولي چي کله کله به يې له خبرو دَ انګلش دُشمنۍ بُوی هم راتلو- او بل دا چي ځنګه ځنګه مختنه تلو ، نو دَ فضا دَ صفاکېدو سره سره به هغه ځوان دَ فرانس دَ سمندري پُولو او ځای په ځای هلته ليري ښکاره کېدونکو وچو ځنډو په حق کي څه زياتي خبري هم کولې-

"هغه ليري چي ښکاري.. هغه خو ډنکارټ پورټ نه دی؟ "

"يَه ډنکارټ لا ښه ډېر ليري دی "

چي کله بيرته زه او هغه نابلده ځوان لاندي راګُوزېدلو په نيت روان شولو نو زما دَ سوال په ځواب کي يې راته وَوئيل-

دَ پاوْ بالا دوْو ګنټهو دَ سمندري سفر ورسته يوې خواته لانچ دَ فرانس په ساحل ډنكارټ باندي وَدرېدو - او دَ نورو مسافرانو سره دَ كاسموس ټوْر سپلانيانو هم دَ فرانس مځكه باندي چي لومړي ګامونه ښنګه ږدلو ، نو يو ښځينه ژغ مي تر غوږه شو -

" يو منټ يو منټ پليز.. زه ستاسو توجه غواړم - دَ كاسموس ټول ملګري دي دې خواته راشي "

دَ دې ژغ تر شا چي كومه ښېره زموږ شاوخوا ګرځېدله ، هغه دَ يوې شاپېرۍ ښېره وه ، چي ځانته يې دَ كاسموس ټوْر اسكارټ وئيلو -

" يا خدايه پرده مي ساتې - كه واقعي دا شاپېرۍ وزمه انجلۍ زموږ ګائيډ ده ، نو له ما خو چكر پاته چي پاته دی.. وايم چرته مي سلا بلا دَ ځان په غم اخته نه كړي؟ "

ما چي ښنګه په زړه كي دا خبره راګرځوله ، نو هغې زما په اوږه لاس كښېښولو او داسي يې ښوكه غوندي وَښورَولم -

" هې سړئيه ! افضال ستا نوم دی كه.. "

زه لكه له خوبه چي راويښ شوم او ورته وايم

" هو..هو افضل شوق له پاكستانه "

كه څه هم هيڅا په ما نه وَخندلو ، خو ځان ته خواشينی پدې شوم - چي ما ته نه وْ بايد ، چي بې پوښتني مي دَ هېواد نوم واخيستو - مطلب دا نه چي هغې زه پېژندلم - بلكې زه هغه ورستنی سيلاني وم ، چي وَدې ته په كتو كي له ځان جهانه داسي وتلی وم ... چي زه يې مختنه ولاړ وم ، خو پيدا كولی يې نه شوم - ولي چي زه په ويښه ويده وم او په خوب كي مي هغه ليدله ، چي نوم يې ميرنا ښئيلو -

په کار کي ټوندي او تېزي هغې اسکارټ ، چي به کله له سپين مخه ژېړي زُلفي څنګه څنډ وهلي ، نو په زړه کي به مي خوړه څړيکه راولاړه شوه -هو ، دَ دې په مريضانو کي زما په چپه ځيني نور سړي هم وْ ، چي تر ما يې لا زياته په هډو اخيستله -او ورته برګ برګ يې داسي کتلو لکه هغوئ چي هغې ته نه ګوري ، بلکې زما په زړه باندي پرهارونه کري -

په بېګونو باندي ستېکران لګولو او په بس کي دَ روټېټنګ سستم له لاري په چوکيانو باندي کښېنستلو ورسته چي څنګه دَ کاسموس بس روان شو ، نو مخته دَ ګائيډ له يوازيني سيټ سره ولاړي هغې پېغلي خلې ته مائيک وَنيولو..

" زه دَ کاسموس په دې ګرېنډ يورپين ټوْر کي وَ تاسو ته هرکلي وايم -زه ستاسو دَ دې ټوْر اسکارټ ياني ګائيډ يم -نوم مي ميرنا دی ، او دَ دې بس ډرائيور مسټر دانيال نومېږي - "

بيا دَ څه وخت دپاره پټه خله پاته کېدو ورسته واي..

" دې وخت په دې بس کي زما او دَ مسټر دانيال په چپه **43** سېلانيان دَ دې **13** هېودونو سره اړه لري - ګوا زه دَ سلوانيا ، دانيال دَ بلجئيم ، داسي دَ امريکه ، سنګاپور، جاپان، ملائيشيا ، فلپائن ، پاکستان ، انډيا ، تائيوان ، کېنېډا ، آسټرېليا سره سره دَ هالېنډ دوه ملګري ، چي په اېمسټرډم کي به ټوْر جوائن کوي همسفري کوي - "

بيا له دانيال اُستاذ ، چي ډرائيور کم او دَ پارليمنټ ممبر زيات برېښېدلو سره يو دوې خبري کولو ورسته واي -

" لکه څنګه چي تاسو خبر ياست ، چي موږ دَ بلجئيم بارډر، چي په څه واټن باندي دی په لور روان يُو- که څه هم دا مځکه دَ فرانس ده ، خو زه غواړم چي دَ بلجئيم په حقله څه معلومات درته وړاندي کړم - لاکن اول دا زما موبائيل نمر درسره وَليکئ - کېدلی شي ، چي په کار مو درشي "

او بیا یې دَ خپل موبائیل نمبر رااورَولو ورسته غاړه تازه کړه او دَ خبرو سلسله یې داسې شروع کړه -

" دَ اروپا په شمال مغرب کې خپور هېواد بلجئیم، چې رقبه یې **30519** مربعه کلومیټره ده باندې اړه لرې کې دې وخت قریبًا لس میلینه خلک مېښته دې - دَ برسلز، چې دَ دې هېواد دارالحکومت دی پرته Antwerp , Ghent , Charleroi او Liege غټ او مشهوره ښارونه دې حکومتې نظام یې دستوري باچهي دی - سرکاري مذهب یې رومن کېتهولک دی او کرنسي یې بلجئیم فرانک نومېږي "

دومره وئیلو ورسته ګائیډ په خپلې چوکۍ باندې کښېنستله او سړه ساه ایستلو پسته واې

" بلجئیم ، چې په شمال کې یې بحرشمالي او شمالي نیدرلېنډ، په مشرق کې جرمني او لګسمبرګ او فرانس دی کې دوې ژبې وئیل کېږي ، ګوا نیمه آبادي یې فرانسوي ژبه واې او نیمه فلېمش ژبه ، چې شمال مغربي ولندېزي ژبې ته نیږدې نیږدې ده - "

دَ دې خبرې ورسته یې دانیال اُستاذ ته وَکتلو او په خندا خندا یې ګوره چې څه ورته وئیلو ؟ خوماته په زړه کې دا خبره راغله ، چې ګوندې دا ښځه دَ بلجمي دانیال دَ زړه ساتلو دپاره دَ هغه دَ هېواد سره څه اضافي خبرې هم تړې -

---

" دا دَ فرانس بلجئیم بارډر دی "

دَ ټال پلازه په رنګه جوړ بارډر په وړاندې بس دربېدلو ورسته میرنا دومره وَوئیلو او کښېنسته شوه.. خود لکه چې دَ ان آوټ کولو په نیت - او خبره وه هم دغسې - لاکن تر پنځو منټو یې لا هم په کم وخت کې معامله تر سره کړه او زموږ کاروان دَ بلجئیم په پراخ سړک مخته روان شو -

" زه په بلجئیم کې تاسو ته هرکلی وایم "

داسي وئيلو سره سم دستي يې دَ "يوهو "غوندي ناره لګولو ورسته بيا وئيلو -

" دَ اروپائي هېوادونو دَ اتحاد په اړه دَ بلجئيم کردار ډېر پياوړى پاته شوى دى - هم ځکه خو دَ يورپي يونين هېډکوارټر او دَ ناټو هېډکوارټران هم دلته په برسلز کي دي او په درستي اروپا کي وَدي هېواد ته په درنه سترګو کتل کېږي "

دومره وئيلو ورسته بس دَ لوي لاري دَ يو هوټل په خوا وَ ګرځېدلو او لا سم پارک شوئ نه وْ، چي ميرنا په ډېره شوخه لهجه کي واي -

" دوستانو ! دا واخلئ ، ستاسي دَ صبر امتحان ختم شو او موږ خپله هم نه غواړو ، چي دَ برسلز ستي ټوْر له دې وجي متاثره شي ..ګوا چي ملګري دي دَ سېل ځايونو په چپه دَ ټائيلټ په لټون کي ستړي شي - نو ځکه دلته تاسو دَ خپلي خوښي په سمه ..هو هر څه کولى شئ - او بله خبره دا ، چي هغه ورسره ولاړ ووړ بلډنګ بينک دى - تاسو که وَ غواړئ ، نو بلجئيم فرانک تر لاسه کولى شئ "

او بيا يې خوږه کړيکه څه وَکړه ، ملګري ټول تر او تازه شولو - او څنګه چي له بس څخه په خپل وار کښته کېدلو ، نو زما تر شا يو ځوان واي -

" ماي سويټ ميرنا ډارلنګ "

دا خبره تر غوږه رارسېدلو سره سم چي مي شاته مخ واړَولو ، نو هغه فيلپينو ځوان چي ما يې په شوخ وزمه حرکتونو او شېطانيانو کي نن له سهاره پام وْ ، او نوم يې لا زما نه وْ زده دا خبره له خپل ملګري سره کوله - خو زما په کتو باندي ګوره چي ، څله چپ شو ؟ هرڅه هرڅه خو دا خبره حتمي شوله ، چي دَ ميرنا په ناروغانو کي يوازي زه نه ، نور هم بلا ملګري په دې ټرپ کي موجود وْ-

دا صفا او ښائیسته ټائیلټ څه وْ، دَ یوه چهت دلاندي واړه واړه حاجتځایونه داسي جوړ وْ.. چي که څه هم دَ سړیانو او ښځو دپاره په کي تر منځه یو وړوکی دېوال ولاړ وْ، اوسترګو هیڅ نه لیدلو، لاکن ...... ګوا لنډا دا، چي دلته زه په لومړي ځل خبر شوم، چي ښځي تر خپلو په داسي موقعه هم خورا ډېري او پټي خبري څپړي یو بل ته -

دَ حاجت پوره کولو ورسته چي څنګه دَ بنک په خوا ور روان شوم، نو پېغله جاپانۍ، چي نوم یې لا هلته سهار په لندن کي دَ ټوْر دَ پئیل کېدو څخه مخکي دَ کاسموس په انتظارګاه کي کائیکو راښولی وْ په منډه منډه تر ما راورسېدله..

" زه هم څه پیسې بدلول غواړم.. ستا په خیال به څومره پیسې هلته په برسلز کي په کارېږي ؟ "

دا پوښتنه یې داسي وکړه، لکه زه چي خبر وم - خو بیا مي هم ورته وئیلو

"زه خو في الحاله سل ډالره بدلوم.. "

او بیا دَ کرنسۍ بدلولو ورسته هم زما او کائیکو تر منځه داسي خبري خلاسي شولي، چي درسته لار که څه هم دا یوه چوکۍ تر ما مخته وَکېنۍ لاس ته ناسته وه، خو بیا هم راسره په وار وار ژغېدله -

له کائیکو په چپه په دې لومړۍ ورځ زما خبري دَ آسټریلین ځواني جوړې ابډرین او وېلینا سره هم تر دې هانده خلاسي شوي وي، چي کله به یې هم یو شی خوړَلو، نو ست به یې ضرور کولو او لا چي به یې کله عکس اخیستلو، نو په ما به یې ژغ کولو - او بل مسته پېغله لاراګُوک او بلنډا، چي له دې آسټرېلین جوړې سره به زیاتره وخت لیدل کېدلې هم دَ هېلو های تر هانده شناخته شوي وې -

" بلجئیم دَ خپلو ښائیسته غرونو رغونو او غټو میدانونو، ځنګلونو او اروپائي طرز کلیوال ژوند په پرته دَ قدرتي وسائلو او صنعتي میدان کي ښه لوړ نوم لري - دلته باچهي

نظام دی اواوسنی باچا البرټ، دَ اتالوي ښځي او درې بچیانو سره دَ دې خلګو نصیبونه لیکي - څلور دېرش کلن شهزاده فلیپ لا تر اوسه واده نه دی کړی. "

او سړه ساه اخیستلو ورسته واي

"ګوره ، چي څوک به وي هغه خوش بخته چي دَ شهزاده فلیپ په برخه به ورځي"

میرنا چي څنګه دا خبره وَکړه ، نو مي په زړه کي وئیلو

"های بدبختي میرنا قسمت دي خوار دی،ګني دَ هغه شهزادګۍ به ته وی"

او بیا مي دَ قسمت او تقدیر په وېښ او برخو په تقسیم باندي تر ډېره پوري سوچ کولو - چي میرنا واي

"اوس مي له مسټر دانیال څخه پوښتنه کوله ، چي په بلجئیم کي دَ دوْو عدد ولي عام دی - ګوا دَ وئیلو ژبي دوې ، ژواکونه دوه او صوبي هم دوې - نو خبر یاست ، چي دانیال څه ځواب راکړو... "

او بیا یې په خندا کي وئیلو

"دانیال واي ، هغه ځکه چي بلجئیم دَ فرانس او هالېنډ تر منځ سېنډ وچ شوی هېواددی"

په دې خبره باندي په بس کي داسي خله نه وه ، چي هغې دي غاښونه نه وي سپین کړي او څنګه څنګه چي خلې بیرته راټولېدې، نو دَ دنګو شنو، وَچو ونو او جدیدو بلډنګانو وَ ښائیسته ښار ته مو پېښه وَکړه -

په برسلز کي دَ پارليمنټ هاوْس له ښائيسته بلډنګ څخه چي څه مخته تېر شولو ، نو ميرنا زموږ پام دَ بلجئيم دَ آزادۍ دَ جوړ يادګار په خوا ور اړَولو ورسته واي -

" هغه هسک بلډنګ چي دَدې مونامنټ څخه په څه واټن باندي ښکاري يورپئين مارکېټ دی "

بېشکه، چي دَ دې انتهائي جديد بلډنګ سره په څنګ کي چي څنګه مخته وَتلو ، نو چي کوم کوم بلډنګ ته ګائيډ زموږ پام اړَولو ، په هغو کي زما دَ اندازې په سمون هر دريم يا څلورم ښه بلډنګ دَ ناټو ، يا دَ يورپي يونئين او يورپئين کميونيټي څخه منسوب وْ - دَ دي مطلب دا وْ، چي دَ يورپي اتحاد دا خواخوږي بلجميانو خو هم دَ خدمت په صله کي ښې شکوَني کړي دي -

دَ برسلز ښار که څه هم دې وخت دَ لمر په رڼا منور وْ، خو له يخه په کي تګاوْ ګران وْ.. هم ځکه خو دَ روډ دواړو څنډو ته اول خو خلګ ډېر کم ښکاره کېدلو ، او بل چي څومره وْ ، هغو دَ ګرمو کوټونو پرته په غوږونو باندي داسي مفلران پېچلي وْلکه واوْره چي اوري - که څه هم واوْره نه ورېدله - خو يخ شَمال ګُلېدلو -

دَ لېډي چرچ او ګېنډ پېس، چي دَ دُنيا تر ټولو مشهوره څلورګوټيزه مونامنټ ياد ېږي سره په څنګ کي دَ خپل خپل طرز جوړو غټو او ښائيسته بلډنګانو څخه په څه واټن باندي دَ مانېکن فيس نامي دَ يو ماشوم مجسمې مخي ته له بس څخه دَ څو منټو دپاره کښته ځکه شولو ، چي دَ ميرنا په قول نه يوازي دَدې ځای بلکې دَ دُنيا خلګ هم ورته احترام لري - او بيا يې دَ هغه ماشوم په وړاندي وئيلو-

" دَ برسلز په زړه آبادۍ کي جوړي شوي دې مجسمې ته دَ نورو هېوادونو څخه راتلونکي زياتره حکومتي غړي دَ خپل خپل هېوادونو له خوا کلتوري جامې وراغوندي "

بيا چي بيرته بس ته ختلو ، نو هغه شوخ فلپائني ځوان دَ ميرنا ، چي دې وخت دَ بس له دروازې سره ولاړه وه تر غوږ دا خبره ورتېره کړه..

" دا خوهلک نه.. بلکې دَ دې هېواد قامي هيرو شو "

او ميرنا هم ورته وئيلو

" ته صحيح پوهـ شوی يې او خبره ده هم دغه رنګه - ولې چې که يې په کارنامې خبرشوې نو... "

خبره يې لا سمه سرته نه وه رسَولې، چې هغه ځوان واي..

" هو زه خبريم چې هغه يو بم له چاوْدني دَ مخه ناکاره کړی وْ او ډېر خلګ يې دَ مرګ له خلې ژغورلي وْ "

لندَه دا ، چې دَ برسلز په روډنو باندې وَ يوې بلې خواته تللو ورسته دَ کاسموس کاروان دَ ايټومئيم نامې مونامنټ مخې ته ولاړ وْ، دَ کوم په حقله چې ګائيډ وئيلو -

" دا ايټومئيم چې نه يوازې دَ اېټم څخه وتلی توری دی ، بلکې دَمکمل ايټم غوندې هغه ګورئ.. ماليکيول، پروټان او نيوټران هم لري - دا مونامنټ چې په **1958**ع کې جوړ شوی دی ، اوس دَ دې هېواد دَ لېنډمارک په رنګه نوم لري - ګوا چې کله هم دَ بلجئيم ذکر کېږي نو ذهن ته يو دم ايټومئيم نوم راشي "

له دې ځايه څخه ځيني نور بلډنګان کتلو سره سره دَ يو زاړه چرچ مخې ته بس دَ څو منټو دپاره وَدرېدلو او ميرنا واي-

" دا هغه مشهوره رومن کېتهولک چرچ دی، چې ورته باسيليکا دې کولولې برک وئيل کېږي - دلته ببخې زياتو باچهانو او شهزادګانو ودونه اهتمام کړي دي "

دَ دې ستيې ټوڼ په وخت يو ځل زموږ بس په داسي زاړه ټاوڼ کي مخته روان وْ ، چي که خلک دَ ماډرنو جامو سره نه ګرځېدلی، نو کېدلی شو چي ورباندي دَ انګلسی دَ کاوْ بوای فلم دَ يو ټاوڼ شک مي ورباندي شوی وی- ولي چي دوکانونه او دَ دوکانونو مخته چوبارې او تنګي تنګي کوڅې يې دَ کتلو وړ وي ګ- ما هري خوا او هر څيز ته داسي په ژور نظر کتلو ، چي کائيکو راباندي ژغ وَکړو او واي-

" تاته لکه چي دا ستائل خوند درکوي "

او بيا چي يې په خپلي خبري وَخندلو ، نو وړې سترګي يې دَ څېرې په غټو غُوسيانو او پيتو نقشونو کي پټي شوي وې- بل دا چي هغې به تر خبرو زيات دَ لاس په اشارو خبري کولې- نو ځکه دَ موسکا په چپه ما نور هيڅ ورته پدې نه وئيلو ، چي ما نه غوښتلو چي هغه دَ پخواني اروپائي منظرونه له ما په خبرو کي تېر شي-

دَ ښار تر منځه تېر شوی درياب ، چي دواړه اړخه يې دَ پخو بارو په چپه پنډ پنډ دبوالونه هم ولاړ وْ باندي خورا ډېر غټ او واړه پلونه جوړ شوي وْ- او موږ ورسره کله کله په څنګ اوکله ورباندي بالا تېرېدلو ورسته دَ دې ښار وَ منځني ټاوْن ته ورسېدو- چرته چي موږ دَ نيم ساعت دپاره خپلي خوښي ته خوشي کړل شولو- دا دَ ښار هغه برخه وه، چي په کي ډېر رش وْ او ځای په ځای خو بهلارهم لا نه کېدله-

دَ ماښام تياري لا سمي په برسلز کي نه وې خپرې شوي، چي موږ دَ هوټل ګارډن ستيې وَ مخه له بس څخه ګوز شولو او خپلو خپلو خونو ته ور روان شوْ- له ماسره جاپانی ځوانْ توشيرو وْ ، چي دَ توشي په نامه بلل کېدو په خوني کي استوګن وْ..کوم چي تر ما لا لېونی او مست ښکاره کېدو-

---

دَ ماخستن ډوډی خوړلو ورسته زه او ملګری توشي دَ هوټل په وړه لابي کي دَ څو منټو ناستي ورسته دَ هوټل دَ يوې انفارمېشن ډېسک پېغلي دَ راښول شوي ګائيډ لائن په سمه په ټېکسي کي دَ ګرېنډ پېس دَ علاقې په خوا پېښنه وَکړه- چرته چي دَ ځيني نورو علاقو په

سمه ښه تر ډېره هانده دَ شپې ژوند تود او دَ خوړلو ، څيښلو ، او ستړيا وساکولو ډېري لاري ليکي وي - خو زه دَ توشي په خوښه له هغه سره دَ يو بار په لور ور روان شوم - مطلب دا چي دلته هر څه ډېر وُ، خو که نه وُ هغه همت - لاکن بيا هم دَ اروپا دَ کړه وړه مشاهده کولو دَ ضرورت په سمه ما له خلګو څخه په يوه او بله بهانه خبري کولې _ خو توشي به چپ له موسکاګانو که هيڅا ته هيڅ نه ورکولو ، نو له ڇا يې څه غوښتلو هم نه - لاکن ما خو يو وخت په يوه بله کېفې کي دَ غوره شوي ماحول په مناسبت دَ " جنتي دوزخيان " تر عنوان دلاندي دَ نظم خاکه هم هغه وخت ډائرۍ ته وَسپارَله... چي توشي دَ درو داسي پېغلو په لاسو کي لوبو ته ځان سپارلی وُ - چي خوند توشي نه بلکې هغو ورباندي اخيستلو -

او له دې ځايه چي نيمي شپې وَخواته دباندي وَوتو ، نودومره يخ وُ، چي دوه ګامه مخته ته تلل ګران وُ - خو له دې پرته هم موږ دَ بلجئيم په روډونو يوې بلې خواته ځکه تېرکړو ، چي شل کلن توشي ګوره چي دَ هوټل له خوني څله ځان پېچلو او غوښتل يې چي شپه دباندي تېره کړي -

"دَ سړو مازيګرونو په شان که څه هم دَ برسلز ماښامونه په کوڅو او فټ پاتهونو باندي چنداني زړه څکونکي نه ښکاري ، خو دَ دې ماډرن او زاړه ښار په ځينو خاص برخو کي دَ شپې ژوند دَ رقم رقم زړخوښيانو له سوبه دومره تود وي - چي دَ دې پُراسراره ښار هرڅه څيړلو سره سره ساړه احساسات هم دَ لټون له لاري ټکور شي - هو منم ، چي دَ شرافت په مقابله کي بدمعاشي په کي دَ نه برابر ده - خو بدمستياني په کي ليدل کېدلی شي "

دَ خوب وَ غېږي ته دَ تلو دَ مخه چي مي څنګه دا خبري ډائرۍ ته واړَولې، نو که مي څه هم درست وجود له ډېري ستړيا څخه ويده وُ، خو له ځان سره مي دا خبره بيا بيا کوله..

" ګوره چي هغه دَ سترګو په اشارو باندي پوهېږي هم که هسي بس.. "

او بيا به مي خپله وئيلو

" يَه.ګرسره نه ، ولې چې هغه خو دَ دې آزادۍ ټولنې روزل شوې پېغله ده، چرته چې خبره نېغ په نېغه خلاسېږي "

دغه رنګه دَ هغې مغرورې ښېرې په سوچونو کې ډوب ډوب يو وخت ويده شوی وم -

---

په دې بله ورځ سهار وختي ناری کولو ورسته دَ ډېلي روتېټنګ سستم له لارې راکړل شوي دَ خپل نمبر وَ چوکۍ ته دَ شا په خوا په بس کې روان وم، چې دَ ګلۍ خواته په يو سيټ ناستي ونېسا اوتېرو نامي امريکائي دنګي پېغلي چې دَ بوای کټ وېښتانو په چپه نن يې هم جينز اغوستی وْ، تر لاس وَ نيولم او واي

" ستاپ ستاپ مسټر شاک..دلته کښېنه، دغه چوکۍ ستا ده "

او بيا يې سم لاس په لاس کې راکولو په وخت چې څنګه په خوږې موسکا کې دَ خپل نوم اول توری " ونېسا " لا سم نه وْ وئيلی، چې زما له خلې ورته نابېره دويم توری " اوتېرو " څه وختلو ، چې هغې په حېرانتيا خبره پوښتنه وَکړه..

" مائي ګُوډنېس.. ستاخو زما نوم هم زده دی "

که څه هم لږغوندي خړ شوم ، خو بيا مې په زړه کې وئيلو-

" ځه ښه وَشو... نيمه مسئله خو حل شوه "

مختنه څه وْ.. چې زموږ تر ميان خبرې پېيل شوې - دا انجلۍ چې په امريکه کې دَ شکاګو وه او ځانته يې سوشل ريسرچره وئيلو زما دَ سوچونو څخه هم دوه لاسه مختنه وَ وته - او زړه يې غوښتلو ، چې ډېرې خبرې راسره وَکړي - دَ ځينو نورو خبرو پرته ، چې کله بس دَ برسلز دَ صنعتونو او جديدو ماڼيانو څخه څنګه دَ موټروې په خوا ور وګرځېدلو ، نو ونېسا پوښتنه وکړه -

" له پرون ما په تا کي پام وْ ، اوداسي سنجَوم لکه ته چي هم دَ يوې نا يوې مطالعې په سمه حقائق ټولوې "

" هو ، غوارم چي دَ اروپا دَ ټولني کره وره معلوم کړم "

دَ هغې دَ پوښتني په ځواب کي چي مي داسي وئيلو ،نو هغه په سپيکرانو کي په ژغا شوه -

" دا ګورئ خپل شاوخواته، چي په څه څه واټنانو باندي ورې ورې ښاريي او ټاوْنونه ښکاري - دا هر څه دَ نن دَ انسانانو په ذهنونو کي دَ ژر تر ژره دَ ښارونو جوړَولو دَ سوچ او رجحان نتيجې له سوبه دي "

دَ ميرنا له دغو خبرو څخه ما دا اندازه وَلګوله، چي دا وړوکی هېواد ځان دَ نور پرمختګ سره سم په هر ډګر کي دَ يورپئين ټائيګرانو وَ مقابلې ته دَ وتلو دپاره هڅوال ښکاري - ولي چي دَ نن له انساني روئيو څخه دا ښکاري ، چي داسي وخت به بيا هم راځي، چي په دغه نړۍ کي به بيرته واک دَ وسائلو په چپه دَ متهو دَ زور وي - دَ دې سوچ سره مي پام يو دم دَ روډ په څنډه باندي ولاړ هغو سائن بورډونو ته لاړو ، چي دَ کلو يا ښارو نومونه يا نور دَ ټرېفک په اړه هدايات په دوْو ببلو رسم الخطونو او ژبو کي داسي ليک ښکاري - چي که نور نه.. نو وَ دې هېواد ته راغلي ټوْرستان خو نو خامخا پرېشانه کوي - زما لا په دې خبره کي سوچ سم بند کړی نه وْ، چي ميرنا هم وَ دې خواته زموږ پام داسي وګرځولو -

" يوهو.. تاسي لږ خو وَ هغه مخامخ ښي لاس ته په بورډ باندي ليکلي دَ يوه ټاوْن وَ دوْو ببلوخطونو کي ليکل شوي نومونو ته وَګورئ... چي په فرنچ کي "ان وېرز(ان وغنز) " او په فلېمش کي "ان ټيورين " رنګه ليکل شوی دی.. "

ګوا دَ ميرنا مطلب دا وْ، چي فلېمش او فرنچ که څه هم دوې ببلي ژبي دي ، خو سره سره يې ويونکي تر يوه بېرغ دلاندي ژوند کولو ته جوګه دي -

"دا خو واقعي کړکېچنه مسئله ده..ځنګه ونېسا؟ "

دا پوښتنه مي راسره څنګ کي له ناستي ملګري څخه هغه وخت وکړه، چي کله موږ په موټروې نمبر E19 ، ياني (يورپ روټ نمبر **19**) باندي مخته روان وُ-

"هو رښتيا.. فرنچ او فلېمش خو بېخي بېلي ژبي ښکاري "

"خلګ به يې هم.. "

"يقيني خبره ده ، چي خلګ به يې تر منځه کلتوري توپير هم لري او داسي توپير تر منځه دَ هر ستېټ دَ خلګو شته - لاکن مسئلې بيا هم نه پيدا کوي "

او مخته خبري دَ دې ټاپک په اړه ځکه وَنه شوې، چي ګائېډ وئيلو -

"دا ټاوْن Bredr چي دې وخت موږ ورڅخه تېرېږو دَ بلجئيم هغه ورستنی ټاوْن دی ، چي له دې ورسته به دَ هالېنډ سيمه پئيل کېږي - او موږ به دَ هالېنډ په لومړني ټاوْن بېترافت کي دَ څو دقيقو دپاره درېږو هم "

او بيا دَ څه خاموشۍ ورسته واي..

"تاسي خبر ياست ، چي په اروپا کي دَ برطانيې په چپه چي ټرېفک يې په کيڼ لاس چلېږي ، نور هېوادونه خپل ښی لاس په کارَوي او ولې؟ "

هغې به لا نور څه هم وئيلو ، چي يو ژغ راغلو..

"هو..هو په دې ، چي دَ انګلسيانو زور په نورو پاته نه شو "

ځواب څه وْ، چي په بس کي دَ خندا او غژ بُوژي سره سم هر يوه شاته کتلو - ولي چي دا بل هيڅوک نه ، هغه فلپائني ځوان رونالډ يعني روني وْ -

" هو کېدلی شي، لاکن دَ دې هېواد خلګ خو يې لا اوس هم مني ، لاکن.. "

دومره تائيد کولو سره سم ميرنا له دانيال سره دوې خبري کولو ورسته په خندا کي يو دم داسي هم دَ يوهو يوهو غوندي ناره لګولو ورسته وئيلو ،

"دَ بلجئيم دَ خلګو په باب دا خبره مشهوره ده، چي دوي هر څه په آسانۍ اخلي ، ګوا Easy Going دي - وئيل کېږي ، چي يو ځل دَ اولمپک له لوبو څخه راغلی سوئمنګ ټيم وَلوبغاړو ته باچاانعام په دې خبره ورکړو ، چي هغوئ په اوبو کي ډوب نه شولو "

بس بيا نو څه وْ، چي هري خلې خندلو.. اوهغې هم ښه تر ډېره پوري - او څه وخت ورسته مي په زړه کي دا وئيلو، چي ګوندي کېدلی شي، چي دا خلګ هم دَ عربيانو غوندي ساده مشهوره وي .. کوم ، چي په سادګۍ سادګۍ کي له هغو قامونو څخه ساده جوړَوي، چي دوی ساده ګڼي -

" کم آن.. يو خو ته دومره په سوچونو کي ورک يې، چي دَ خبري دَ پاره لا وخت نه لرې.. "

بيا که ونېسا څه هم خندلو ،خو پوهېدم نه - لاکن زړه مي بيا هم وکړو او ورته وَمي وئيلو -

" ما او تا به خبري کوْنن په لنچ کي "

" دَ دې مطلب دا ، چي مورِ به په ګډه دَ غرمې ډوډۍ خورو ؟ "

نوره نوره مي دَ تلني په نيت ورته څوکه وَ وئيلو -

" يَه يَه ..که ستا خوښه نه وي، نو.. "

" ولي نه ، په دې کې نو اوس کمه بده خبره ده "

هغې چې زه پوره خبري ته هم نه کړم ايله ، نو پوهـ شوم - چې انجلۍ هم ...... خبره ښه نه وه او نه زما مقصد يوازي مينه وه - لاکن آ دَ چا خبره ، چې

" دا دَ اختيار خبري نه دي "

نو ځکه زه هم له اختياره وتلی وم او په دې سوچونو کې ورک وم ، چې دا دَ زړه رښتې هم عجيبه دي ، چې نه عمر ګوري ، نه رنګ او نسل - چې کېږي ، نو کېږي سلا بلا او بس - هو.. دا هغه موقعه وه ، چې دَ " سپين ببرغ " نامي تهيم مي هم يو وخت په مزغو کې نظم کړو -

لنډه دا ، چې ځنګه ځنګه موږ دَ هالېنډ بارډر ته نيږدې کېدو لګيا وْ ، دومره دَ بلجئيم مځکه دَ يخ له سوبه له شنېزو ځخه خلاسه ښکاره کېدله - يو وخت چې بس په وړو وړو دريابې ويالو باندي جوړو پلونو باندي روان وْ ، نو ميرنا په اروپا کې دَ ټائلټ دَ اهميت په باب دَ ژغېدلو سره سره دا هم وئيلو ، چې دلته بې پيسو حاجت پوره کول خوب ګڼل کېږي - ګوا ، دا خبري چې يې لا سرته نه وې رسَولي ، چې زموږ بس هم دَ بلجئيم او هالېنډ بارډري ټال پلازو مخي ته وَدرېدلو -

*****

# دَ تودو مابښامونو سوړ ښار

دَ بلجئیم څخه هالېنډ ته ورننوتلو سم دستي که څه هم لومړی کاردَدېِ هېواد کرنسي ګلډر تر لاسه کول وْ.. خو دَ بنک څخه نه یوازي زه ، بلکې هر ټوْرستِ نېغ دَ نیږدې ټائیلټِ په خوا داسي په چټکۍ باندي ګامونه اخیستلو لکه معامله چي ډېره نازکه وي - او خبره وه هم دغه رنګه.. ولي چي دلته په بارډر باندي که څه هم بالا په آسمان کي اوریځ باران ته جوړه وه او تک سپین سپین ګرځ خپور وْ - مځکه هم لږ ډېره لمده وه، خودَ سړې هوا دَ ګُلېدلو له سوبه دومره یخ وْ.. چي له وسه په دېرو ماناوْکي وتی وْ-

" او مای ګاډ .. څومره یخ دی ، مسټر افضال ستا لکه چي یخ نه کېږي "

میرنا چي تک شین او ګرم کوټ یې په تن وْ او په غوږو باندي یې ټوپۍ هم اړَولي وه چي څنګه له ټائیلټه په غټو ګامونو راوَوتله ، نو زما په خوا راغبرګېدلو سره سم چي یې داسي راته وَوئیلو ، نو هم ما چي دې وخت سګرېټ څکولو.. له خلې غټه لوغړکه ایستلو ورسته په ځواب کي ورته وَوئیلو-

" یخ خو بېخي زیات دی.. لاکن څه وکړم ، بې سګرېټه خو هم نه کېږي "

دا چي مي ورته وئیلو ، نو هغې په ملا وَټکولم او راته واي-

"اخله اخله خوندونه په دې یخ موسم کې "

او مخته تېره شوه.. اوس به لا ما هم دَ سګرېټ آخیري کش لګولو ورسته، چي دَ بس په لور ګام اوچتولو- نو ملائشئین ګروپ، چي نسلاً چینیان وْ راورسېدو- خندَرُویه ځوان ، چي دَ خور، ورور، مور او ورېنداري سره په دې ټوْر کي موجود وْلاس راکولو ورسته واي-

" ماته ډېني هاوْ واي "

او بیا یې دَ خپلې کورنۍ هر تن جلا جلا راسره معرفي کړو-

"زما په خیال چې ته ستړې کوې "

بس ته دَ ختو له مخه یې ورېنداري سوال راباندي وَکړو-

"مطلب دا ، چې ډېر مصروف ښکاره کېږې"

زما تر ځواب دَ مخه یې خور دَ خپلي ورېنداري دَ سوال وضاحت مزید وَکړو-

" هو.. تاسو صحیح وایاست ، زه دَ سپل سره سره په خپل ذهن کي راپورته شوْ سوالونو دَ پاره ځوابونه هم غواړم "

دومره وئیلو ورسته بس ته وختم - او بیا مي خپل داستان په بېخي لنډو ټکو کي تر هغه وخته پوري ورته تېرَولو ، چې خپلي چوکۍ ته رسېدم -

---

"یوهو.. "

میرنا په مائیک باندي دَ سپلانیانو پام ورګرځولو دپاره دا توری له خلې څخه ایستلو ورسته واي-

"زه او دانیال دَ کاسموس له خوا تاسو ته په هالېنډ کي ښه راغلی وایو "

او بیا په بس کي شاوخواته سترګي څغلولو ورسته په نرۍ موسکا کي واي

"لالا للا.. تاسو خو ګرسره خوشاله نه شوئ "

دومره يې وئيل وْ، چي په بس کي هاهو او له کړيکو سره سره په خپړو کي دَ ميرنا ښه توده زړه ساتنه هم وَشوه - نو ځکه خو هغه هم بيا تر ډېره پوري له خندا شنه شنه کېدله او دَ شا په خوا رارروانه شوه -

" ډېره مسته ښځه ده ميرنا هم "

په خندا کي چي له ماسره په څنګ کي ناستي ملګري ونېسا څنکه دا خبره وَکړه، نوکه مي څه هم ورسره په "هو " وئيلو خوښه کړه - خو له خلې مي نابېره ورته وَوتلو-

" ميرنا واده ښځه ده که..؟ "

" ولي.. ته خو واده نه ورسره کوې؟ "

زما دَ سوال په ځواب کي چي يې بيرته په ماداسي سوال وَ کړو، نو پوهـ شوم ، چي دَمیرنا ښائيست يې دننه دننه سېځي - ولي چي ښځه که له آسمانه راولوېږي ، نو به هم هغسي په فطرت باندي ښځه وي - ګوا که چرته سړی له يوې ښځي پوښتنه وکړي.. چي

"کوم هغه شی دی ، چي ستا بېخي زياته کرکه ورڅخه کېږي؟ "

نو زما يقين دی ، چي هغه به واي

"ښځه "

که يَه ځواب يې بل څه وي ، نو وَ منئ ، چي هغه ښځه دروغجنه ده او دروغ واي-

که څه هم دې وخت ونېسا ماته نه ، بلکې هغې ناخوښي حُوري ته کتلو او دَ هغې په خبرو باندي وړه وړه موسېدله هم، خو په زړه کي به يې ګوره چي څوني غاښونه ورته کرَلو -

بس مخ په وړاندي روان وْ ..له باړه ښه ډېر راليري شوي وْ او دَ هالېنډ په هوارو مځکو کي هغه غټي غټي پنکهې ، چي دَ هالېنډ په لويو ښانيانو کي يوه ښاني بلل کېږي هم ښکاره کېدل پيئيل شوي وې - ځکه خو ميرنا وئيلو..

"دا وائينډ ملز، چي تاسو وينئ دَ هالېنډ دَ لېنډمارک ياني په بله مانا دَ پېژندني نخښه ګڼل کېږي - او ترڅو پوري چي تاسو په دي هېواد کي ياست ، نو به يې وينئ - "

او بيادَ دې هېواد په حقله په خپلي ساده لاکن خوږې ژبې کي داسي ژغا ته چمتو شوه -

" هالېنډ.. چي ډېر پخوا يې تر نيمي علاقې هم زياته په سمندر کي پټه وه ، که څه هم نن ښکاره ده - خو بيا هم درست هالېنډ دَ سمندر له لېول څخه کښته دی - هم په دې خو ورته "دي نيدرلېنډز " چي مانا يې " تر اوبو دلاندي " ، "بې مځکي " يا " دَ وړو مځکو هېواد " خبره هم واي - بلکې په کال کي قريبًا شپږ مياشتي، چي دَ اوبو سطح ډېره پورته وي ، نو دَ دې هېواد نوم هالېنډ نه بلکې دي نېدرلېنډز وي - زما دَ خبرو په تصديق کي تاسو خپله هم دلته ځای په ځای دَ اوبو مشينان ، وړې او غټي دَ اوبو شېلې، دَ هوا چکياني او ډائيکس( دَ اوبو وچولو مشينان) ليدلی شئ "

او خبره وه هم دغسي، ولي چي تر ليري ليري پوري په هوارو مځکو باندي چي کوم شيان زيات ښکاره کېدلو ، هغه نور هيڅ نه بلکې دَ اوبو ايستلو ، وچولو وزر داره مشينان وْ -

"دَ دې مطلب دا دی ، چي ګوندي دلته ژوند محفوظ نه دی ؟ "

ډېني هاوْ له ميرنا څخه پوښتنه وکړه..

" يَه داسي خبره هم نه ده ، ګني خلګ به لا ډېر پخوا کډه شوي وی "

او بيا يې وئيلو..

" دَ دې هېواد ژبه که ډچ نومېږي ، نو خلګو ته يې هم ډچ وئيل کېږي - ګوا په دې هېواد کې چي رقبعه يې **40844** مربعه کلومېټره ده .. څه قريبًا **15** ميلينه ډچ (ولندېزيان) استوګنه کوي - دلته دستوري باچهي ده او دارالحکومت يې ابمسټرډم دی - خو په نورو غټو ښارونو کي يې روټرډم، يُوټرېکټ او داسي نور نور غټ ښارونه هم شته - دا هېواد په يو درڅن صوبو باندي اړه لري - او دلته په زرګونو دريابي ويالې وجود لري "

ميرنا چي دا خبري کولې، نو موږ دَ مغربي اروپا په دې هېواد ، چي په جنوب کي يې بلجئيم او په مشرق کي يې مغربي جرمني آباده ده سرکاري نوم يې "دي نيدرلېنډز" دی - خو اوس هالېنډ ورته واي کي مخ مخته روان وْ -

په هر څوڅو منټه کي به زموږ بس خامخا دَ واړه يا غټ نهر (دريابي وياله) په سر جوړ پُل باندي تېرېدلو - له دې په چپه دَ هالېنډ په مځکه باندي جوړ کورونه که څه هم ځان ځانته په پټيانو کي جوړ وْ - خو زياتره ډوپلېکس يعني دوه چتهيزه ښکاره کېدو - او دَ دې ودانيانو جوړښت له انګلسي او بلجمي تعميري طرز څخه بېل او بدل په دې هم وْ، چي دلته دَ ټاوْنونو په مقابله کي يو ازيني کورونه زيات تر سترګو کېږي - ياني دا خلګ هم لکه پښتانه، ځان ځانته په ژوند کولو کي چمتو برېښي ، خو پښتانه دي نه - ولي چي په کورونو يې څلور دېوالونه نه دي جاروتي -

هواري مځکي يې دې وخت دَ بېخي يخ له سوبه دَ اوچو ژېړو وشو څخه ډکي وې - ګوا په سپرلي کي دا ټولي مځکي له وشو او فصلونو څخه تکي شنې وي -

دا يې اوس په دې مارچ کي لا هم د يخ داسي بد حال دی، نو په ټمک ژمي کي به خود ډېري ماتَوي - ولي چي دَ ولندېزيانو سره سره دَ هرچا له خلو سپيني بهاپي وتې چي وتې .. وايم ، چي له ډېره يخه به دَ ټائيلټ حاجت دومره زيات پېښېدلو ، چي څنګه به چرته بس وَدرېدو ، نو دَ هر ملګري به دا کوشش وْ ، چي ژر تر ژره تر ټائيلټ پوري ته ځان وَرسوي -

---

وئيل کېږي ، چي دَ هالېنډ خلګ(ولندېزيان) نه يوازي په خپل ژوند او حېثيت غره دي - بلکې هغوئ دا هم واي ، چي ګونډي..

" خداى موږ ته مځکه راکړه او موږ ورباندي هالېنډ جوړ کړو او بل دَ دې خلګو په مخونو هرکله دَ غصې آثار بربېښي - ولي ، چي دا خلګ په "زه" فقط "زه" کولو کي لوی نوم لري "

اوس که هر څو له دې خبري څخه دَ هغوئ غاورتيا ښرګندېږي ، خو چي بيا سړی دَ هغوئ په مځکي باندي کښلي لاسي زيارته وَګوري ، نو دَ ولندېزي قام دَ عظمت اندازه ورته وَشي -

او بل په اروپا کي دَ پرون دَ رقم شوي ولندېزي تاريخ پرته دَ نن هالېنډ په معاشي ، معاشرتي ، صنعتي او په انقلابي زرعي چارو کي له مختنه وتلي هېوادونو څخه که زيات نه ، نو کم هم نه دی -

" زه خو دا وايم چي دَ ډچ مخلوق په ژبه کي خه، خا ، خې، خي، خُو رنګه توري ځکه زيات دي ، چي دلته يخ زيات دی - ولي که تاسو پام کړی وي ، ګوا چي کله د سړي يخ ډېر کېږي.. نو له خلې يې خُوخُوخُوخُو خېږي "

دا خبره چي يې ښنګه سرته ورسَوله، نو ګائيډ خپله له خندا تکه شنه شوه.. او بيا په خندا خندا کي واي

"دا زما خيال نه ، بلکې دا سي دانيال راته وئيلي دي "

او له دې سره سم په بس کي هم دَ دانيال په دې خبري له يو بل سره ګپي شروع شوې - ځکه خو ما هم چي ښنګه دَ خپلي ملګري په لور مخ ور واړَولو ، نو هغې هم په خندا خندا کي ژبه وکړه او واي-

" دَ ميرنا په خبري کي لاجک شته .. واقعي چي يخ دَ سړي زيات کېږي ، نو هم دغسي خُوخُوخُو کوي "

مابه لا هم اوس خپله رائې وړاندي کوله ، چي دَ ميرنا ژغ بيرته په سپيکرانو کي خپور شو-

" دلته G هم Kh ياني په "خ" باندي بدلوي او Good "گوډ" ته Khood "خوډ" واي او گُوډ نائټ په "خوډ نېخت" بدلوي - هم دَ دې پرته په دې ژبه کي sch چي کله سره يو ځاى شي ، نو ورته سخه واي - لکه دَ ابمسټرډم ائيرپورټ ته "سخپ خول" واي - مهمه خبره دا ، چي په دويم نړئيز جنگ کي به ډچ جاسوسان دَ "خ" په وجه نيول کېدو "

او بيا ميرنا کاغذ ته کتلو ورسته له موږ څخه پوښتنه وکړه -

" وَبه مي منم، که مو دا فقره په ډچ کي واړَوله "..گوا

" Eighty eight beautiful canals"

بيا نو څه وْ، په درست بس کي دَ هر چا له خلې څخه "خا ، خي، خو " رنگه توري داسي وَتلو لکه خوا چي يې گرځي او هلته ميرنا له خندا شنه شنه کېدله - تر ډېره وخته پوري خو داسي کېدو - خو چي ټول سترې شولو ، نو ميرنا واي -

" په ډچ کي يي سمه ادائيگي داسي کېږي، گوا... "اختي ابخت ترخته خه خرخته "

هغې لا خبره کوله ،چي ما په زړه کي وئيلو

" دا خو بيا پښتو ته نيږدې ژبه ده - اوس به دا گورم ، چي په خوى هم پښتانه دي ، که..؟ "

او بيا مي دَ هالېنډ دَ خلگو په لټون کي سترگي يوې بلي خواته غړَولې لگيا وم او چرته چي به مي يو نيم ولندېزى تر سترگو شو ، نو به مي تر ډېره ورته کتلو - لاکن هغه سره او سپين خلگ که څه هم له ليري دَ پښتنو غوندي دنگ دنگ ښکاره کېدلو ، خو جامو ورڅخه بېل کړي وْ -

په دې خو زه خبر وم ، چې په هالېنډ کې سېکس قانوني اجازه لري او هر ځوان ښځه او نردا حق لري ، چې هغه خپله وحشي تنده په غوره شوي علاقه ياني رېډ لائټ ډسټرکټ کې سره کړي - هر څه هرڅه ، خو په درستي اروپا کې هالېنډ په دې اړه دَ دې خلګو له رُويه ښه نوم لري -

نه يوازې سېکس ، بلکې په هالېنډ کې نشه کولو ته هم قانوني لارې هوارې شوې دي - ګوا ځوک چې هم وَ غواړي ، نو هغه تر غوره شوي حد دلاندې هر قسم نشه په آزادۍ باندې کولی شي - او حقه خبره ده ، چې دَ بل دَ خيال په سمه زما په مزغو کې هم دې خبرې سر بيا بيا پورته کولو ، چې دلته په دې هېواد کې خو به دَ مواليانو شمېر هم خورا ډېر زيات وي - لاکن بيا چې دَ ولندېزيانو دَ نشه کونکو په مقابله کې دَ هغو هېوادونو اعداد و شمارته وَ کتلی شي، چرته چې په نشه کولو باندې بنديځ لګول شوی دی.. نو شمېر يې که کم نه دی ، نو زيات هم کېدلی شي په دې وجه نه وي... چې دَ نشې دَ خوند تجسس يې په نفسياتي توګه دَ خلګو له مزغو ايستلی دی - هم دغسې نفسياتي هڅه دَ سېکس دَ فري کولو په اړه هم په دې شوې ده ، چې کم از کم دَ شريفو وګړو يا کورنئيو وَ لُوڼو يا خويندو ته خو به ځوک په بده سترګه نه ګوري - ولې چې دَ مُردارۍ او مخ تورَولو دپاره مخصوصې علاقې موجودې دي -

دَ پورتنئيو خبرو په حقله ماته په خپل هېواد کې دَ چکلو دَ بندولو ورسته دَ هغه لومړني کال سروې ګوا "دَ ښځو سره دَ زور زياتی" په باب ، چې په يو اخبار کې يې نتائج هم چاپ شوي وْ راپه زړه شوه - دَ کومې له رُويه چې قريبًا دَ دولس زره شريفو کورو انجونې دَ ځناور وزمه انسانانو له لاسه بې عزته شوې وې - او دا هم هغه کېسونه وْ، چې په تهانړو کې يې باقاعده رپورټ شوی وْ - اوس ګوره چې لا څومره کېسونه به په ريکارډ باندې دَ شملې يا عزت ساتلو دپاره نه وي راوړل شوي - او زما ښه په ياد دي ، چې په وجوهاتو کې يې يوه وجه دا هم ورکړل شوې وه - چې کومې جسم فروشانې چې به په يوې مخصوصې علاقې کې مېښتې وې ، هغوئ دَ شريفانو په محلتونو کې خورې ورې شوې -

خبره مې دلته دَ بادارانو دَ خوښې نا خوښې په رڼا کې کوله ، ګوا چې خوښه يې ذاتي وي ، نو قانوني لارې هم ورته هوارې کړلی شي او بيا چې کله خوښه عوامي شي ، نو زور يې هم تر

عوام باسي - که څه هم هغه خوښه نېکه او یا دَ خبر دَ کار وي لا هم - ما چي دَ سوچ لکۍ تر دې ځایه را اوږده کړه ، نو میرنا وئیلو-

" دَ هالېنډ انجنئیران پهٔ ډېمونو جوړَولو کي ډېر نوم ځکه لري ، چي دلته پهٔ زرهاوْ غټ او واړه ډېمونه دَ هغوئ پهٔ لاسونو جوړ شوي دي او لا جوړېږي هم لګیا دي - چرته چي پهٔ کوم هېواد کي ډېمونه جوړېږي ، نو دَ دې ځای انجنئیران که نه هم پهٔ کارَوي، خو دَ ډېم جوړَوني ټېکنالوجي یې خامخا تر نظر لاندي ساتي "

دا خبري چي ما ریکارډ کولې، نو راسره ناستي ونېسا هم پهٔ ډائرۍ باندي نوټس اخیستلو لګیا وه - لاکن چي کله به له دې کاره څخه څه غوندي فارغ شولو ، نو یو بل ته به مو داسي وَکتلو لکه مور چي جوړه یو بل Miss کولو- خو خبره بیا هم تر دېر ځایه کېدلی شي، پهٔ دې وجه هم مخته نه تله چي دَ هالېنډ زړخوښیانو دواړه پهٔ خپل خپل ځای باندي ډېر بوخت ساتلي وُ-

"ګوره چي هغه خو له ما خفه نه ده ؟ "

دَ دې واهمي احساس له مخي چي مي تر ضرورت لږ څه زیات ورته کتل پئیل کړو ، نو دې مي هم سترګي پهٔ سترګو کي راښخي کړې او دَ نرۍ موسکا ورسته واي-

" څله داسي پهٔ حریانۍ راته ګورې، چرته خو زما پهٔ مخ څه شی نه دی لګېدلی "

او بیا یې پهٔ خپل مخ چي څنګه لاس تېرَول شروع کړو ، نو ما وَ خندل او دا هم پوهه شوه ، چي زه ورسره ټوکي کوم - ځکه خو یې پهٔ څنګلي باندي څوکه غوندي وَ وېښتلم او راته واي -

" ته هم ډېر اړام یې "

تر دې هانده چي زمور ګپه رسېدله ، نو دَ میرنا خبرو مور بیا یو ځل له یو بله بې خبره کړو-

" په هالېنډ ، بلکې په تېره په ايمسټرډم کي به دَ اروپا دَ نورو هېوادونو په چپه ځيني داسي څېرې هم وَ وينئ - چي هغه به وَ ولندېزيانو ته نه مونېږي - داسي ځکه ، چي کله ډچ کالونياني په وېستې انډېز، ساوْتهـ امريکه او په ايشيا کي په ختمېدو شولې، نو دَ هغو ځايونو ډېر خلگ دَ ښه ژوند او معاش په نيت دلته راغلو "

ميرنا چي خبره سرته رسوله ، نو ونېسا واي

" دَ دې مطلب دا دی ، چي هالېنډ ډېري زړخوښياني لري "

" يقينًا.. چي دلته زما او ستا دَ دلچسپی دَپاره ډېر څه شته "

دا خبره که مي څه هم دَ معلوماتو دَ ټولولو په اړه وکړه ، خو هغې لکه چي بل مطلب ورڅخه واخيستلو او يو دم سنجيده غوندي شوه - زه بهلا اوس په ځان کي شرمنده کېدم ، چي هغې دَ توقع برعکس راته په کړو وَ کتلو او وَ موسېده - او دا هغه شېبه وه، چي زه په لومړي ځل ځانته مخاطب شوم-

" لاړې شوقه ! کښېوتلې "

که څه هم دننه دننه خوشاله وم ، خو څرګندونه مي ځکه نه کوله، چي هغه مي په رښتيا له زړه سره بازی نه کړي شروع - خبره مي په هم دغه ځای باندي ځکه پرېښوله ، چي هغسي هم ما او هغې نن دَ غرمې ډوډی په يو ځای دَ خوړلو خبره خلاسه کړي وه -

---

" څو منټه ورسته به موږ دَ هالېنډ دَ دارالحکومت ايمسټرډم وَ منځنی برخو ته وَ رسېږو "

او له دې خبرو سره سم موږ دَ هالېنډ په ښارايمسټرډم کي مخته روان وْ- چي بيا ميرنا ګډه شوه -

" ایمسټرډم که څه هم دَ ښائیسته بلډنګانو سره سره دَ کاروبار پرته تفریحي ځایونه لري، خو دَ نن ایمسټرډم دَ هیرو(ډائمنډ ) دَ کاروبار او دَ فلېمش سکول آف پېنټرز دَ خوندي کړل شوي آرټ له سوبه ډېر لوی نوم لري - او نن نن به یې په رائیکس میوزیم کي په خپلو سترګو په آپشنل ټوْر کي دَ پروګرام په سمه ګورو هم "

دومره وئیلو سم دستي بیا مخته واي..

" یوهو..ایمسټرډم په درسته نړۍ کي له یوې بلي وجي هم ډېر شهرت لري - که غواړئ ، نو وَ به وایم "

او بیا په خندا کي دننه دننه واي

" داسي نه چي تاسو.. په خاص توګه سړیان په عذاب کي نه شئ ورګېر "

" عذاب.. څنګه عذاب ؟ "

یو دم مي له خلې څخه دا خبره څه وَ خته ، چي ونېسا لکه له اوله چي خبره وي وَ خندلو او اوس به یې څه راته وئیلو ، چي میرنا دَ ملګرو دَ تکرار ورسته واي. " اوکې ..اوکې ، نو واوْرئ.. هغه دا چي تاسو خو نو خبر یاست چي سېکس دلته لیګلائز دی - خو په دې به نه یاست خبر، چي په دې کاروبار کي اخته ښځي سوشل ورکري بلل کېږي - نه یوازي دا ، بلکې دَ ایمسټرډم رېډلائټ ډسټرکټ ځانته تاریخي حېثیت هم لري - ګوا هغه علاقه نه لیدل داسي دي ، لکه چا چي په ایمسټرډم کي دَ اوسېدلو پرته هم ایمسټرډم نه وي لیدلی "

دا نو اوس کومه نوي خبره ده - دَ انډیا او دَ ساوْتهـ ایسټ ایشین هېوادونه لکه تهائي لېنډ ، لاوْس ، وېتنام ، کمبوډیا اوځیني نور نور هم په دې اړه څه کم نوم نه لري - او بل دَ مصر تاریخي بازار او دَ مراکش تاریخي چکلې خو هم په خپل خپل ځای....

په دې خبره کې شک نه شته ، چې اېمسټرډم دَ دُنیا په هغو ښارونو کې ځانګړې دی ، چې په خواپاکو بازارونو او فټ پاتهونو باندې یې دَ ژېړبخونو وېښتانو دَ سرو او سپینو سرېانو او ښځو سره سره تورپوستي هم کم نه ګرځي - او بله خبره دا ، چې دَ ښار دَ غټوالي په مناسبت خلګ دومره زیات نه په کې ښکاري -

په ښار کې دَ ښه چکر وهلو ورسته بس دَ یوې ډائمنډ کارخانې مخته وَ دربدو - دلته دَ هیرو دَ تراشلو او پالش کولو سره سره شوروںمونه هم جوړ وُ ، چې په کې په شوکېسونو کې ډائمنډ دَ خرڅلاوُ په نیت ږدل شوي وُ - هیرې څومره ګراني دي ، دَ دې خبرې اندازه نن راته وَشوه - زما په خیال چې چپ له کائیکو ، چې یو بېخي وړوکی ډائمنډ یې دَ ماسټر ګارډ په ذریعه واخیستلو... نورو هیڅ هم نه واخیستو -

دلته څه نیمه ګنټهه تېرَولو ورسته یې په بیلابیلو لارو باندې دَ اېمسټرډم ښار وَ منځنې برخې ، چې چرته نه یوازې غټ غټ شاپنګ سېنټران جوړ وُ کې هغه ملګري دَ درې ګنټهو دپاره دَ سېل کولو په نیت کښته کړو - چې په اېشنل ټوُر کې په خپله رضا نه تلو ، په کومو کې چې زه او ونېسا هم وُ -

دَ ونېسا یې کور ودان چې دَ ډوډۍ دپاره یې دَ بس څخه کښته کیدلو سم دستي راته وَ وئیل - ګنې زما خو له لوږې بد حال وُ - او ژر تر ژره موږ یو رېسټورېنټ ته ځانونه وَ رسولو - او چې څنګه ورننوتو ، نو هغې تر لاس وَ نیولم او واې -

" سټاپ سټاپ .. چرته دا هم هغه پب خو نه دی ، چې میرنا یې ذکر کولو "

هغه هم غلطه نه وه ، ولې چې دا رېسټورېنټ هم داسې په زاړه سټائل جوړ وُ ، چې که یې مخته په ولاړ مینو بورډ باندې زموږ سترګې نه وی نښتي - نو کېدلی شو ، چې مخته ورڅخه تېر شوي وی -

" زه خو نن ډېره ستړې شوم ..وایه ته څنګه یې ؟ "

په رېستورېنټ کي يو بل ته مخامخ کښېنستو او ټېبل ګرل ته مينو دَ خوراکونو ورکولو ورسته ونېسا چي دا خبره کوله ، نو لکه ماره غزېدله او وښېدله -

" هو ستړى زه هم يم لاکن.. "

" ته ښه يې زما په تا کي پام دى "

زما خبره ماتَولو ورسته يې لا خپله خبره هم سرته نه ورسوله، چي کېمره يې راواَيستله او وَ نيرډي ټېبل ګرل ته يې اشاره زموږ دَ عکس اخيستلو وکړه -

يو وخت چي په ډوډى باندي ور روږدېدلي وُ، نو هغې پوښتنه وکړه-

" تر اوسه په څو هېوادونو دَ خپل ريسرچ په غرض راګرځېدلى يې ؟ "

او چي ما څنګه ځان دَ ځواب دپاره تيارَولو ، هغې بل سوال هم ورسره ګنډي کړو -

" ته هر چرته يوازي ګرځې..که کله کله بل څوک هم درسره وي؟ "

او بيا دَ ريسرچ او دَ دُنيا دَ سېل څخه خبري څوکه څوکه مختته رواني شوې او چي کله ما دَ هغې دَ ښخي ضد پرته هم دَ دې لنچ (غرمې ډوډى) بِل پرې کړو ، نو خبره په دې ختمه شوه - چي زه به له دې سره يو ورځ ډنر( دَ شپې ډوډى) خامخا خورم -

---

يوې بلې خواته په فُټ پاتهونو باندي ګرځېدلو او دَ ويندو شاپنګ کولو ورسته نيرډې پارک ته ورچپ شولو- خودومره په پام پام ، چي له يوه سائيکله به مي ځان ژغورَلو ، نو دوه به نور مخي ته راغلو او په داسي څرپي به مي له څنګه سره تېر شولو ، چي ابله به يې جامې راڅخه نه يوړې -

" دا خو ماته دَ سائیکلانو ښار ښکاري "

ونیسا دا خبره اېله پیله نه وَ کړي ، بلکې دلته اومه ځوانان یا هلکان او انجوني په رو ډونو ، فُټ پاتهونو ، دَ دریابې ویالو( نهرونو ) په څنډو او په وړو وړو غټو پُلونو باندي که څه هم سائیکلان چلوي نه .. الوځوي یې ضرور- او هغه هم په داسي هُنر، چي سړی ورته حریان پاته شي-

" دا خو دلته هم له سائیکلانو لاره نه کېږي "

وَ پارک ته ننوتلو ورسته مي دا خبره چي څنګه کوله، نو هغې زما خبره یوې خواته غورځولو سره سم زما لاس په لاس کي نابره داسي واخیستو ، لکه مور چي پرېږدي نه خپل یُو او واي-

" ګوره ګوره .. هلته مخامخ په سائیکلانو څنګه بازۍ کوي "

هو ، لکه مقابله چي وي - ګوا ځوانانو او پېغلو په وړو وړو سائیکلانو هلته په انګلش یُو" U" غوندي جوړ فیلډونو باندي بازۍ کمي .. خو له مرګ سره لوبې زیاتي کولې څه، چي ونیسا هم له ویري دَ هر سائیکل باز له بازۍ سره سمه نوره نوره په ما راچیخېده لګیا وه - تر ډېره ورته درېدلو ورسته مخته روان شولو-

ابمستېرډم په دوْو برخو کي وېشل شوی دی او په منځ کي یې سمندر تېر شوی دی - چي دَ پُلونو په چپه بې ټکټه کښتیاني په کي دَ خلګو وړلو راوړلو دپاره تر نیمي شپې پوري چلېږي - نه یوازي دا ، بلکې دَ ښار تر هري برخي پوري زېر زمیني رېلوې نظام هم موجود دی -

"خبر یې ، چي دَ هري قسم آسانیاوْ په چپه دا ښار دوې ښکاره بښې هم لري..؟ "

" یَه .. هغه کومي بښې دي؟ "

ما چي ځان ورته ناخبره واچولو ، نو ونېسا دَ خپل يو بل دوست چي دَ هغې له قوله .. تېر کال دلته راغلي يا راغلی وْ دَ کړي خبري په سمه واي -

" ګوايوه ښه دا ، چي په کي دَ جديدو تقاضو په سمه ښائيسته او دنګي ودانياني او ماڼياني پارکونه او شاپنګ مالونه (مارکېټونه ) لکه البرټ مارکېټ داسي نور نور ، چي دَ دَنيا هر څيز او خوند په کي شته نه تش سترګي په کتلو ، بلکې په حريانولو هم مجبوره کوي - او نه يوازي دا ، بلکي زاړه پلونه ، زړې ودانياني ، زړې شاپنګ علاقې او بې شمېره انتهيک څيزونه ، چي په کې دغه Antiekmarkt de Looier نامي سېنټرانو کي خورا زړخوښياني موجودي لري "

او په دې بالا ذکرشوي مارکېټ کې دَ ګرځېدلو په وخت چي هغې خبره تر دې ځايه وَرسوله ، نو دَ ايمسټرډم دَ دويمي ښې دَ مخه يې ماته راوَکتلو او شُونډې په غاښو کې دَ چيچلو ورسته واي -

" اوايمسټرډم په خپله دويمه ښه کي دَ نشو دَ ځينو غوره شوْ کونجونو پرته دَ فاسټ سېکس دپاره هم دَ رېډ لائټ ډسټرکټ په چپه ځايونه لري چي لري ، بلکې دَ رقم رقم رنګيځه زړخوښيانو دَ پاره دَ بې شمېره سېکس کلبونو په چپه نورهم داسي دَ بې حيايۍ ځايونه لکه پيپ شوګاني لري - "

لنډه دا ، چي کله هغې دا خبري کولې ، نو په دې ښار باندي مي دَ اروپا دَ تهائي لېنډ پيدا شوی شک وار په وار ځکه هم يقيني کېدلو - چي دَ امريکې غوندي دَ يو انتهائي ماډرني ټولني ګس چي يې لا هم په آزادۍ باندي دَ حريانۍ اظهار کوي .. نو هغه به څومره آزادي وي؟

خبر، خو بيا مي هم دَ دې خبري دَ مزيد وضاحت ضرورت ځکه نه کړو محسوس، چي هغه که هرڅو آزاد خياله وه هم ... وه خو بيا هم ښځه - نو ځکه مي خبره داسي په بلي خوا واړَوله -

"داسي راته ښکاري .. چي څنګه څنګه موږ په دې اروپا کي له انګلينډه ليري کېږو، نو انګلسي ويونکي هم کمېږي نه؟ "

"هو، وي به... خو ما پام نه دی ورته کړی"

ځان چي يې يو دم ناخبره واچولو، نو پوهـ شوم چي په دې اړه خبري خوند نه ورکوي - نو مي خبري په بله واړَولې -

دَ ستي سېنټر څخه په مېټرو ياني زېر زميني ټرېن کي په درې نورو سټېشنانو باندي راګرځېدلو ورسته چي دَ راښول شوي Pick up point پوري ور رسېدلو، نو ما داسي وَ سنجوله ، لکه هغه چي دَ ټوکو تر هانده له ما سره فري شوي وي - ولي چي کله هلته ليري دَ کاسموس بس څنګه راښکاره شو، نو واي -

" څنګه درې ګنټهې تېري شوې، چي ګرسره په پوهـ نه شوم - چرته ته خو...ډېش ډېش نه يې؟ "

او بيا يې په زوره وَخندلو -

---

سېنټرل سټېشن سره جوخت په هوټل ګلېکسي ، چي چرته دَ نن شپې دَ پاره استوګنه کوله کي دَ ماخستن ډوډۍ خوړلو په وخت ملګرو دَ ابمسټر ډم دَ رېډ لائټ ډسټرکټ په حقله داسي مجلس تود کړی وُ - لکه هغه چي واقعي دَ دې ښار په بېخي خاص علاقو کي يوه علاقه وي - نو ځکه يو وخت په ما باندي هم ژغ وَ شو -

" ته هم ځې رېډ لائټ ډسټرکټ کتلو ته؟ "

زما مخامخ په مېز باندي ناستي سوزېن بارټ پوښتنه وکړه - ما يو وار هغې ته او بيا يوارخ ته ناستو لاراګوک او بلېنډا او بل څنګ ته دَ منيلا هغه دوه ځوانان ، چي روني او داني نومېدلو ته کتلو ورسته ځواب ته لا خله سمَوله، چي مسته لارا واي -

" ولي نه ولي نه... وَ داسي ځاي ته خو نران خامخا ځي "

او بيا په خندا کي بلېنډا هم داسي ملګري ورسره وکړه ، لکه لارا چي دَ هغې دَ زړه خبره کړي وي -

" نران ولي.. ښځي ولي نه "

" ښځي چي ورشي، نو به څه وکړي؟ "

دَ روني دَ خبري په ځواب کي چي بلېنډا داسي وَوئيلو ، نو دَ روني سره جوخت ناست ملګری واي -

" لاکن دَ ميرنا په قول.. هلته خو هم ښځي دي ، چي سوشل ورک کوي.. "

لا يې سمه خبره سرته نه وه رسولي، چي مارئين نامي کېنېډين ښځي له خپل مېزه دَ منېلا دَ ځوان خبره داسي پوره کړه -

" او نران دَ هغوئ سوشل ورک انجوای کوي "

بيا ټولو په دې خبره باندي ښه ډېر وَخندلو -

لنډا دا ، چي زه هم دَ فليپينو ملګرو سره ملګری دَ هوټل څخه په نهه بجې ماخستن راوتلو ورسته په مخامخ پراخ روډ ، چي تر ليري ليري پوري هيڅوک نه وُ ورباندي په پښو مزل پئيل کړو او په لس يا پنځلس منټو کي دننه دننه بيا په کشتۍ کي ناست دَ سمندر هغه بلي

ځنډي ته روان وم - چرته چي دَ بسانو غټ تم ځايونو پرته ورسره څنګ کي انډرګراونډ ريلوې سټېشن هم وْ -

دلته ډېر زيات رش وْ، اوچي کله له دې ائيريا څخه په وتو وْ، نو يوه ټين ايجره پېغله ، چي عمر يي ګرسره تر اتهه لس کلونو زيات نه وْ دومره نشه وه - چي يو دېوال بل دېوال پوري څه ځنګېدله ، چي له يو بل سره نښتله اوپرځېدله هم - خو عجبه دا چي هيچا هم په کي چُرت نه وَهلو -

"تر هغه ځايه پوري تلو څخه به دا ښه نه وي، چي دې پېغلي ته اوږې ورکړو؟ "

که څه هم روني دا خبره په ټوکو کي کوله ، چي داني وَ ټُومبلو او ورته واي -

"راځه راځه دا سمه انجلۍ نه ښکاري "

او بيا يو ځای بل ځای پوښتني کولو ورسته قريبًا په نيم ساعت کي وَ هغه جهان ته وَرسېدو ، چرته چي نه يوازي ښځه دَ ښځيتوب په لمن داغ ږدي ، بلکې نر هم وَ سړيتوب ته ځناوري پوستکي وراغوندي -

---

"ګورئ ګورئ هغه څوک دي؟ "

"څوک دي؟ "

دَ روني په حېرانتيا چي مي پوښتنه وکړه - نو هغه زما په اوږه لاس ږدلو ورسته واي -

"هغه زموږ دَ ګروپ انجوني.. "

"واقعي.. دا خو هغه نه دي؟ "

ما چي لارا او بلېندا تر نظره شولې، نو مي خله څه پرېکړه ، چي داني هم واي -

" هو هو ، هغه انجوني دي ، چي وئيل يې دا ځای ته تش نران راځي "

ما وئيلو-

" نو بيا څه ګورئ ..درځئ چي ورشو "

" لږ به يې خرمخي کړو "

او دَ روني له دې خبري سره سم په هغه خوا ور روان شولو ، چرته چي زمونږ دَ ګروپ شپږ پېغلي دَ يو سېکس شو روم مخي ته ولاړي وې او په شوکيسونو کي پرتو هغو نرينه بلاګانو ته کتلو ، چي وْ خو ماډلان - لاکن توبه توبه .... ځکه خو هغه شپږ سره انجوني ورته نه يوازي حرياني وي ، بلکې تر خپلو داسي ورو ورو پوُسکېدلې هم لکه يو بل ته چي واي

"دا خو هغسي نه دي، کوم چي هغوئ يې ويني يا يې ليدلي دي "

يا کيدلی شي، چي نور نور څه يې يو بل ته وئيلو ، چي روني داسي ټوکه غوندي واي

" لُوک لُوک ټو دېټ سپېشل ون "

دا خبره څه وه، چي انجونو زمونږ په خوا څه راوکتلو ، چي په ځای دَ شرمنده کېدو.. په خندا سرشوې او مونږ ته يې ديکې راکول شروع کړو - چي معامله کله لږ غوندي سړه شوه، نو روني ورځخه پوښتنه وکړه -

" تاسو دلته څه غواړئ.. دا خو دَ نرانو دَ کتلو ځای دی "

لاکن هغوئ هم دومره سپين سترگي وې ، چي دوْ درو په يو ځای وَوئيلو-

" يَه يَه دا خو دَ ښځو دَ کتو ځاي هم دی "

بلينړا چي لا دومره وئيلو ، چي وېلينا وار لاس ته کولو سم دستي واي

" مورِ دا کتلو ته راغلي يُو ، چي زمورِ په ملګرو کي ځوک وَ دې سوشل ورکرو ته دَ سوشل ورک موقعه ورکوي "

داسي چي يې وئيلو ، نو مستي لاراګوک دَ يو بل غټ شوکېس چي په کي نيمه لغړه ښځه ولاړه وه په لور اشاره کولو ورسته وئيلو-

" له مورِ سره خبري مه کوئ .. هلته ورشئ "

" هلته ولي ... تاسو ولي نه ؟ "

داني نابېره دا خبره له خلې ځه وَوتله ، چي لوري ويوار ورباندي غوټه ځه شوه ، چي مورِ ټول يې په منډه کولو باندي مجبوره هم کړو - او بيا يې تر ډېره پوري په مورِ پسې داسي نارې وهلې

" انجوای انجوای سوشل ورکرز "

او سوشل ورکري ځه وې ؟ چي هر چا ته په خندني موډ کي دَ هرکلي وئيلو دپاره دَ خپلو وړو کوټو په ورونو يا کهړکيانو کي ولاړي برېښېدلي - بل دا ، چي دا علاقه ځومره پراخه وه ، دومره تلکي هم ځای په ځای په ښېلا ښېلو نومونو درَول شوي وې - چي ورځخه مختته تګ په ګرانه کېدو- لنډه دا ، چي ځنګه ځنګه شپه مختته غزېدله .. سوشل ورک په هغه حساب نور نور زياتېدلو لګيا وْ -

له ننه دَ میرنا دَ پیرزوئیني له کبله زه په اعزازي توګه په خوني کي یوازي استوګني ته پرېښودل شوی په دې وجه وم ، چي هغې راته وئیلي وُ ، چي

" شوقه ! ستا دَ درستي ورځي دَ مطالعاتي مشغولا له لاري دَ هوم ورک دپاره یوازینۍ خونه دَ کاسموس له اړخه زما په اختیار درته سپارل کېږي "

هو ، دا شپه که څه هم په دې هوټل کي له هري خوا ښه وه ، خو په دغه شپه زموږ په چپه ګوره چي دَ کوم هېواد دَ کالجونو دوه بسان هم هلته خالي کړل شوي وُ - نو ځکه له یوې بجې څخه بیا رک تر درو بجو پوري چپه او راسته ټېلیفونونه یوې او بلې خوني ته دَ تنګولو دپاره کېدلو پرته به کله کله دروازه هم وَټکېدله -

که څه هم دا حرکتونه دَ کالج انجونو کولو ، خو مخته مستیاني دَ خپلو ملګرو تر منځ هم شروع شوي وې - هو لکه په داسي موقعو چي کېږي او موږ که څه هم ټول دَ ښو غټو عمرونو خلګ وُ ، خو ګوره چي دَ اېمستړډم دې شپې څله هر یو وَ ماشوموالي ته پارَولو - چرته دا خو دَ دې ښاردَ مست موسم اثر نه وُ ؟ - چي دَ دې هر شرارت پرته یې په ما دَ "ولندېزي سوشل ورک " تر عنوان دلاندي نظم هم نیمي شپې خواته په ډائرۍ کي نوښته کړو -

او بیا چي مي څنګه سترګي سره ورتلې ، نو دَ ونېسا فون راغلو

" تا ماته فون کړی وُ ؟ "

خود لکه چي هغو انجونو دا هم ښه تنګه کړي وه ، نو ځکه مي ورته وئیلو

" یَه.. ما خو فون نه وُ کړی - بلکې داسي فونونه خو ماته هم ډېر راغلو دَ دې ورانو انجونو "

" څله دا انجوني ټېلیفون کوي نو..؟ "

یو ځل مي خیال په زړه کي راغلو ، چي ورته وَوایم چي

"نران یې په کار دي "

خو ورته وئیلی مي نه شوی ، ولي چي هغه دې وخت دَ مسخرو په موډ کي نه وه - نو ځکه مي ورته وَ وئیلو

"دَ کالج او دَ سکول عمر وي دغسي .. "

"هو ، وي خو ... بخښنه غواړم ، بې وخته مي راویښ کړې "

زما خبره یې پرې کولو ورسته چي څنګه دومره وَ وئیلو ، نو یې دَ اباسۍ ایستلو ورسته اجازه واخیسته - او ما بهلا رسیور ږدلو چي زما دَ خوني دروازه داسي په زوره چا وَټکوله ، لکه ماتَوي چي یې - ور پورته شوم او دروازه مي خلاسه کړه - لاکن دباندي هیڅوک نه وْ .. چپ دَ قدمونو له هغه دربې ، چي زما ښې لاس ته په جوړو پوړیانو کي په منډه منډه کوزېدلو لګیا وْ - او وه موسېدم ځکه ، چي بې له هغو مستو نور څوک کېدلی شو - خو بیا چي مي څنګه ور پوري کولو ، نو یو بل رقم کښکی مي تر غوږو شو - ور مي بیرته خلاس کړو او څه ګورم ، چي دا هم دَ هغو قدمونو آواز وْ ، کوم چي په منډه نه بلکې څوکه څوکه زما دَ خوني په لور رارروان وْ -

"لاکن هغه څوک وْ ...؟ "

"هغه خو نه وه ؟ چي له دې څو ورځو یې ... "

هر څه هرڅه ، خو په ځواب کي یې کېدلی شي ، چي زه اوس هم لا هیڅ ځکه نه وَوایم ، چي هغه بل هیڅوک نه بلکې زما دَ ویښو سترګو نالیدلی خوب وْ .. یا هغه وام، چي په دې شپه داسي راڅرمه شوی وْ ، چي که به مي هر څو خوب ته تالیے وهلې .. خو خارمړی راتلو نه -

دَ 28م مارچ کال 1996ع په سهار دَ ناري کولو ورسته چي بس دَ ګلېکسي هوټل څخه مخته روان شو - نو زه يوازي نه وم ، چي له خوبه ځنګېدم - بلکي زموږ دَ ګروپ زياترو ملګرو دغه ډهول وهلو ، چي هغوئ برايه شپه سم خوب ځکه نه وکړو ، چي دَ ټېليفونونو په پرته خو دروازي هم ټکېدلي - او بيا چا اوچا چي برايه شپه تر خپلو يوبل ته دَ بل په نومونو ټېليفونونه کولو.. هغوئ هم يو بل ته کتلو او موسېدلو - لاکن دَ تهائيوان غاوري پېغلي چاوْ او دَ پام مېرِه ګرېګ خو شکنځاګاني لا کولي دَ هوټل وَ انتظاميي او هغو خلګو ته چي هغوئ يې تنګ کړي وْ - خو ميرنا دا ټولي خبري اورېدلو ورسته واي -

" زما هم دغسي حال دی - اوس زه څه کولی شم - داسي په لومړي ځل په دې هوټل کي شوي دي - "

بيا يې تسلي راکولو په نيت وئيلو -

" زما په ياد دي ، زه هم چي کله په سکول کي وم ، نو په داسي موقعو مي دغسي اړاميانې کولي - او زما په خيال چي داسي خلګ به په تاسو کي هم کم څه بلکي نه وي ، چي په سکول يا کالج ابج کي يې داسي اړاميانې نه وي کړي "

او بيا په سترِي انداز کي دَ غزېدلو سره سم دَ يوې اوږدې اباسۍ استلو ورسته " يوهو " کولو کي وئيلو ..

" قريبًا دَ1000 پلونو دَ خواره واره جال دا ښار ابمسترډم دَ شپې دَ زړخوښيانو په چپه سائيکلنګ او سکائټېنګ دَ دې ښار دَ خلګو دَ ورځي په مشغولاګانو کي دَ خوښي مشغولا ګڼل کېږي "

ميرنا چي دا خبري کولي ، نوبس دَ رائيل پېلس څخه مخته وتی وْ او دې وخت دَ يو پلن او ښېخي زاړه سټي وال ، چي په زاړه ټاوْن باندي شاوخوا جاروتی وْ سره په څنګ کي تېرېدلو -

" او دا ګورئ ، زموږ مخته سېنټرل سټېشن ، چي ارومرو دَ رائيکس ميوزيم په رنګه دی "

هغې به لا نور څه وئيلو ، چې زموږ مخته دَ سيګنل دَ سرې بتۍ پرته هم ځيني ګاډيانې داسې په مزه مزه تېرېدلې لکه هلته چې دَ هوار سړک په چپه بل هيڅ نه وي - نو ځکه هغه واې..

" دلته دَ ټريفک دَ اصولونو خلاف ورزې څه نوې خبره نه ده "

مخته چې څنګه بس په يوه پُل باندې دَ نهر بلې خوا ته ورغبرګ شو ، نو زموږ پام يې وَ يوه ببخې زاړه بلډنګ ته اړَولو ورسته وئيلو -

" دا ووبلې نومېږي ، دېوالونه يې اوبو دلاندې له خوا خوړلې دي او داسې دلته په دې ښار کې ډېر بلډنګان شته ، چې دېوالونه يې په نړېدو دي "

دَ سکوائر بلډنګ او بيا څه مخته دَ ميوزيم چې Martelwerktuigen Museum نومېدو څخه مخته دَ هغه کېنال ، چې په 13مې پېړۍ کې دَ بندرګاه په توګه په کارېدلو او دَ ګرين بليو سکوائر بلډنګ مخې ته تېر شولو - لنډه دا ، چې دَ ځينو ښو هوټلانو لکه ايمسټرډم کېنال کراوْن هوټل ، کارناسا کارېنا ، پارک پلازه او ايمسټې انټرکانټينينټل په پرته دَ سټاک ايکسچېنج بلډنګ او ځينو نورو وړو غټواو نوْزړو ودانيانو دَ ليدلو ورسته موټروې ته سم شولو -

" دَ دې ځاى خلګ ، په تېره ښځې لکه چې په فطرت ډېرې تودې دي ؟ دا چې يې يخ نه کېږي او ګوره با قاعده تنګ سکرټ او په نرئيو ماسيانو کې پټيې ، لاکن په لُوڅو غړو ګرځي "

روني چې زما په څنګ چوکۍ کې ناست وْ ، چې دا خبره کوله .. نو که څه هم دانې ورباندې خندلو ، خو هلته مخامخ دوې ولندېزې پېغلې دَ هغه دَ خبرو په سمه په غټو غټو ګامونو رواني وې - او دې وخت ميرنا هم ژغېدله ، نو ځکه مې خپل ريکارډر وَ سپيکرانو ته وَ نيولو - هغې وئيلو..

" هغه لیري دَ هوا چکیاني (وینډ ملز) چي تاسو یې وینئ ، دَ خپل اوسني فنکشن په څېړ په دویم نړیز جنګ کي دَ جاسوسي اشارو اوحساب کتاب په توګه هم په کارېدلې "

کله چي ما دَ میرنا خبري څپ کولې ، نو مي هلته دوه سیټه شاته وَ ونېسا ته پام شو ، چي ډېره په خوند ویده وه او خلاس ژړېږخون وینښتان یې په مخ خواره واره پراته وُ - ګوا هغه هم لکه چي برایه بې خوبه شوي وه - مابه لا نوري سترګي ورباندي کرارَولي ، چي روني مي په اوږه لاس رډلو ورسته واي..

" خېر خو دی ، له ډېره وخته ورته ګوري - ولي پرون دي لا بار نه دی په مات شوی ؟ "

ما به نور څه ورته وئیلو ؟ بس کرار ورته وَ موسېدم او بیرته په شاوخوا کتلو کي مشغول شوم- او بیا څه وخت ورسته دَ جرمني بارډر هم زموږ مخته وُ - نو ځکه خو ملګرو غاړي هسکي هسکي کولې او ماته داسي محسوسېدلو لکه زما په رنګه چي هر ملګری ژر تر ژره دَ هټلر په خاوره باندي ګامونه رډلو ته چمتو وي -لا به نور نور ورته هوسېدلو ، چي دَ میرنا ژغ په سپیکرانو کي خپور شو او وئیلو یې..

" کله چي هم دَ جرمنۍ نوم راځي ، نو مزغو ته هغه قاتل چي خلګ ورته هټلر واي... "

میرنا که څه هم دا خبره دَ زړه له سوخته وکړه ، خو په بس کي ناستو ملګرو هیڅ ردعمل نه کړو ښکاره... بلکې یو بل ته یې داسي سره وَکتلو ، لکه میرنا چي دَ هغوئ په جذباتو

باندي کاڼي ورَولي وي - نو ځکه خو یې په خاموشۍ کي هغه هیرو وَ هم ستائیلو ، چي دې وخت که یې موږ یوې خواته قدمونه په خاورو باندي رډلو لګیا وُ،خو بلي خواته دَ هغه په باب که نور نه، نو دا سوال دَ هر سېلاني په مزغو کي په بېلو بڼو غزَوني حتمًا کولې- ګوا

" خود به دَ هټلر قاموال هم دَ هغه په شان جلالي طبعیتونه لري ؟ "

هو ، دغه خو وجه وه ، چي په دې بس کي ناست هر ملګري ژر تر ژره دَ خپلو خپلو رابرسېره شوْ سوالونو ځوابونه ترلاسه کولو دپاره بې تېکه ښکاره کېدلو او غوښتلو يې ، چي دَ دې سوې سرې تاريخي خاوري اوسېدونکي له هغه هټلر سره وَتلي، چي په دُنيا کي يې چپ له ځان او له خپل قامه بل تکړه کس يا قام نه خوښېدلو - نو ځکه ځينو نقاړانو دَ هغه وَ غېرت او مړاني ته دَ لېونتوب او جنون نوم لا هم ورکړو -

که څه هم تاريخ ګوا دی ، چي هغه دَ يو ښه حکمران سره سره ښه جرمن او په جرمنيانو سرتېره قام پرست هم وْ - هغه جرمن وْ او آخير په جرمني او جرمنيانو کي ګار هم شو - نه چي دَ پښتنو دَ زياترو باباګانو په رنګه په ښکاره پښتو او پښتون دَښمنان څه، چي له ورې خاني يې را واخلې بيا تر هغو شاهانو او شهزادګانو پوري ، چي نه يې حپله پښتو وئيله او نه يې بل پښتون په پښتو وئيلو او کولو ربلېدلو - نو هم ځکه خو يې نومونه لا هم لاړو له بدنونو سره سم خاوري شولو - دا خو دي عظيم خدای وَ ستر خوشال خان او ملنګ رحمان بابا ته جنتونه ورپه نصيب کړي ، چي پښتو يې تر مورِ پوري راوه رسوله ، ګني دَ قام په ډوډۍ ماړه او شمله دارو خو يې دَ پيسو دپاره څڼې په کوم اتڼ کي نه دي څنډلي؟

*****

# دَ هټلر دَ پلونو خاوري مي رانجه کړو

دَ هالېنډ څخه دَ کاسموس بس چي څنګه جرمني ته پېښنه وکړه ، نو دَ غوره شوي پروګرام په سمه يې لومړی سټاپ دَ بارډر سره جوخت دَ جرمن بېنک مخي ته وکړو، چي ورسره نيږدې پرائيوېټ فېسيليټي ياني ټائيلټ هم وْ -

"داسي ولي کېږي؟ "

د لوري اوګريک دَدې خبري په ځواب کي ميرنا په خندا خندا کي داسي وئيلو -

" هغه کېدلی شي ، په دې سوب چي يو هېواد هم نه غواړي چي دَ بل هېواد خلګ دي ډکه خېټه وَ هغه هېواد راوړي "

که څه هم دا خبره هغې په ټوکو کي وکړه ، خو حقيقت ته نيږدې نيږدې ځکه وه ، چي داسي رک په بارډر باندي دَ ټائلټونو اهتمام څله.. ؟ څله څه نور په هر هېواد کي دننه نه ؟

دَ جرمنيانو په مځکه لومړی ګام ږدلو په وخت که مي څه هم هغه خاوره مچه کولو ته زړه کېدو ، خو کولی مي ځکه نه شو ، چي په داسي کولو که يو نيم زړه رغېدلو ، نو دَ ډېرو باندي ماتېدلو هم -

دَ جرمن مارک يو څو نوټونه په لاس کي چي څنګه له بېنک څخه دباندي راوَتم ، نو څه ګورم، چي هلته يوې خواته ونېسا اوتېرو چي زما له يارانو داني او روني سره ولاړه وه - نو ځکه ما هم ګامونه دَ هغو په لور ورتېز کړو - او زما له خلې څخه سم های ورته وتلي نه وْ ، چي هغه رامخته شوه او لاس راکولو ورسته يې پوښتنه وکړه

" څنګه يې شوق؟ "

او بيرته دَ هغوئ تر منځ ګپه له هغه ځايه شروع شوه - او ما نه غوښتل چي په کي ورټوپ کړم ، نو ځکه په پټه خله وَدرېدم - خو چي دَ بس په خوا ورتللو ، نو ونېسا راته واي -

" زمورِ دَدغو فلپائني ملګرو دَ فېصلې په سمه به نن غرمه مورِ ځلور واړه دَ غرمې ډوډۍ يو ځاى خورو "

ما ورسره خوښه خوکړه ، لاکن په زړه کي مي وئيلو ، داسي نه چي هغه زما او دَ ونېسا تر منځه ډنر په دې لنچ کي برابر نه شي - خو بيا چي روني راته په بس کي کومه خبره وکړه ، نو مي زړه په ځاى شو- ګوا دا لنچ دَ هغې نه ، بلکې دَ روني او داني له خوا اهتمام کېدلو-

---

"وَ جرمني ته دَ کاسموس له خوا تاسو ته هرکلى وايم "

او بيا زمورِ پام خپلي خواته ورګرځولو دَ پاره يوهو دَ نارې سره سمه واي-

" دَ جرمني نوم هيچاته نوى نه دى - ولي چي دويم نړئيز جنګ خو له دې هېواده پلان شوى وْ - نه غواړم چي دَ هغه جنګ يادونه بيرته ستاسو په زړونو کي تازه کړم - نو ځکه به زه هڅه کوم ، چي دَ دې هېواد په حقله نور معلومات درکړم "

او بيا غلي شوه - ګوا دې وخت ګهړۍ دَ غرمې پاوْ بالا يولس بجاوَلې ،چي دَ کاسموس کاروان دَ جرمني په اټوبان نامي موټروې باندي مخته رهي وْ - دا سيمه دَ هالېنډ او بلجئيم تر مځکو زياته شنه او په ځنګلي بُوټو او ونو کي نغښتي ښکاره کېدله - په ورو ورو پټيانو کي وښبل شوي مځکي په خارداره تارو باندي له يو بله جلا شوي وې - او بله اهمه خبره مي دلته دا تر نظره شوه - چي دَ دې سيمي کلو يا ټاوْنونو يې په ګڼو يو باميزه کورنو باندي اړه درلودله - او دَ هر کلي په سر فقط يو چرچ له يوې مينارې سره تر ليري ليري پوري ښکاره کېدو -
"ښه نو دا ده هغه خاوره ، چي هټلر يې زېږولى وْ "

دا هغه خبره وه ، چي په وار وار به يې ګوره چي څله زما په مزغو کي سر پورته کولو ؟ او هر څه ته به مي داسي په خلاسو سترګو کتلو ، لکه په دې هر څه باندي چي زه پخوا هم تېرشوی وم - هر څه بلد بلد ښکاره کېدلو - بس که نابلده وْ ، نو هغه هم دغه تجسس ، چي زه يې دَ دې هېواد په خاورينو لارو باندي دَ هغو انسانانو دَ ورک شوْ پلونو په لټون ورپارَولم ... چي اوس تر خاورو دلاندي دي -

" جرمني ، چي اوس يې تر منځه دَ برلن دېوال نه شو پاته ( دواړي برخي ، ګوا مشرقي او مغربي ) په **356910** مربعه کلوميټرانو باندي خپور هېواد دی ، دې وخت په لمنه باندي **80** ميلينو ته نيږدې جرمنيان مېښته لري - دارالحکومت يې برلن دی ، خو حکومتي چاري يې په بون کي نه يوازي سرته رسي ، بلکې تر برلن اوس دغه بون دَ دارلحکومت په توګه زيات نوم لري - په غټو ښارونو کي يې کولون ، فرېنکفرټ ، هامبرګ ، لايئپزيک ، ميونچ Munich او سټاټ ګرت شمېرل کېږي - رومن کېتهولزم او لوتهرانزم يې سرکاري مذهبونه دي او دَ کرنسي نوم يې ډچ مارک بلل کېږي "

ګائيډ چي دا خبري کولې نو موږ په اټوبان موټروې چي جوړښت او په موجوده حالت کي دَ تر شا پاته شوْ هېوادونو دَ سړکانو څخه څه کمزوره ښکاره کېده - نو ځکه مي په مزغو کي دا سوال راپورته شو ، چي جرمني دَ خپلې دومره لوی صنعتي او زرعي پرمختګ پرته هم دا روډ کمزوره ولي دی ؟ خو بيا چي به مي بلي خواته ته وَ بېخي زيات ټرېفک ته پام شو ، نو زما دَ خبري ځواب په ګوتو څه راغلو - چي ميرنا هم هلته په مائيک باندي دغه خبره کوله ، چي

"دَ بېخي زيات ټرېفک له سوبه دا روډ داسي کمزوره دی "

---

دې وخت موږ دَ بون په خوا روان يُو - دَ روډ په دواړو څنډو باندي شنه بورډونه چي ورباندي دَ انګلسي رسم الخط توري نوښته دي شا شاته که څه هم په ډېره تادی باندي پاته کېدلو ، خو بون دغوني وار په وار ليري کېدو هم -

دَ هري نيمي ګنټهي په واټن باندي دَ بېلا بېلو حاجتونو دپاره دَ Assault په نامه يوه وړه لاره بېلا شوي ده، چرته چي دَ رېستورېنټ پرته ، واش رومان ، دَ تېلو پمپ او دَ ګاډيانو دَ جوړَولو انتظام موجود وي -

څه مخته وَښي لاس ته دَ کولون لاره بېله شوه او مورِ دَ يوې ګڼي آبادۍ ، چي هم دَ دغه ښار مونږدله سره په څنګ څنګ کي چي تېرېدو ، نو دَ هغه خواره واره ښار دَ پلازو پرته تک سپين سپين لوګيان له بې شمېره هسکو دودکشانو څخه دَ آسمان په لور ور الوتلو - او دې وخت ميرنا هم ګويانه شوه -

" جرمنيان په فطرت ډېر بې آرامه خلګ دي - هر وخت متحرکه ښکاري او دَ هغوئ په حقله دا خبره مشهوره ده ، چي په يوه حال او حالت کي خوشاله کېږي نه - نوځکه خو دا خلګ دَ دُنيا په هر هېواد کي لېدل کېږي "

"ځکه خو هغوئ په ماضي کي هم غوښتلو چي په درستي دُنيا باندي باچهي وکړي "

داني چي دا خبره وکړه ، نو زما وَمخته په چوکۍ کي ناستي پېغلي چاوْ داسي په نېغه ورته وکتلو ، لکه هغه چي دَ جرمني خلګو په حقله نه .. بلکې دَ هغې په باب څه وئيلي وي - ځکه خو په ردعمل کي يې ملګري روني په خلې خلې کي ګوره چي څه وَوئيلو ، چي داني دومره کلک وَخندلو.. چي هلته ميرنا هم ژغ وکړو-

" ولي ما څه غلطه خبره خو نه وکړه ؟ "

دا خبره يې ځکه وکړه ، چي کله دلته نيږدې مورِ دَ داني او چاوْ په مرنې کي ورګېر وْ ، نو ميرنا هم ژغېدله -

" يَه يَه ته غلطه نه ، بلکې مورِ دلته سره وران شوي يُو "

روني خو دا خبره داسي وکړه لکه دَ چاوْ جیا جانګ په پُرهارونو باندي چي یې مالګه دُړَولي وي ، چي هغې بیا بیا دَ ټپي زمرۍ په شاني شاشا ته کتلو او دننه دننه موږ درو واړو ته څُوڅکېدله -

پاوْ بالا دولس بجې خواته دَ جرمني دَ عارضي دارالحکومت بون ، چي ډېر غټ او دَ دنګودنګو زړَو او جدیدو پلازو ښار وْ، کي مخته تېرېدلو ، نو میرنا زموږ پام دَ یونیم بلډنګ په لور اړَولو سره سره دا هم وئیلو-

" دَ متحده جرمني پوزیشن دَ صنعتي انقلاب له لاري چي څومره مخته دی ، نو نن دا خبري هم کېږي چي دا مضطربه قام دَ ښه سباوْن په حقله سنجیده هم دی - دا به هم درته وَوایم، چي جرمنیان خبري فلسفیانه کولو کي نوم لري - ګوا خبري پېچي "

او دا هغه خبري وې ، چي زه یې هم دَ هغو جرمنیانو په لور ورکتلو ته مجبوره کولم - چي په فټ پاتهونو باندي په غټو غټو ګامونو داسي روان وْ لکه بیا چي چا خشمَولي وي - ګوا په درخته باندي پښتانه وْ ، خو جینز پتلونان یې اغوستي وْ - او ښځي یې هم څه غوندي نر وزمه بربېښېدلې -

" جرمني دَ څو ریاستونو دَ اتحاد نوم دی ، چي په کي West Phalia , Saar , Pfalz او Rhine land پرته دَ مشرقي جرمني درسته علاقه شامله ده - او دَ رائن دریاب ، چي دَ اروپا په غټو درو دریابونو کي یو دریاب دی دَ جرمني پرته په ځیني نورو اروپائي هېوادونو کي هم بهېږي - "

او څه مخته ورسته یې بیا وئیلو-

" په دې خبري کي هم شک نه شته ، چي په دې هېواد کي چپ له جرمنۍ ژبي بله ژبه ځکه هم نه چلېږي ، چي دا خلک دَ خپلي ژبي په حق کي ډېر متعصبه دي "

دا خبره يې څه وکړه ، چې ماته خپله شېرينه پښتو راپه زړه شوه ، کومه چې دَ اغيارو دلاسه نه ، بلکې خپله دَ دې شمله دارو پښتنو دلاسه اوس ژبه څه ، چې بولی لا هم نه شوه پاته - خو بيا دَ ځان سره لکه لېونی وَ موسېدم او وئيلو مې...

" دا خو يې لا کور ودان دَ هغو ببرسرو ليکوالانو ، چې دَ پښتو پوزه يې ساتلې ده، ګني دَ پښتنو په سرونو وَ لوبو ته جوړېدلو سياست مدارانو اوخېټوړو دوکاندارانو خو چې په پښتو دُښمنۍ کې کومې چارې کړې دي ، هغسې حرَمونو هم کله په انساني تاريخ کې نه دي کړي "

دا خبرې چې مې له ځان سره ژړَولې ، نو موږ دَ يو اوچت غره په سر باندې جوړې زړې او ژېړېخونې کلا کوبلېنز لاندې او څه مخته په هم دغه نامه غټ ښار ، چې دَ موزېل او دَ رائن دَ دريابونو په سنګم آباد وْ څخه چې څنګه وَ کېنو لاس ته وَ ګرځېدو ، نو بُوپارټ ټاوْن له موږ څخه په څه واټن باندې وْ- ګوا کله چې دَ ويلئيم اول ، چا چې په لومړي ځل جرمني متحده کړي وه دَ جوړ غټ بُت له څنګه دَ درياب سره سره تېرېدلو ، نو بُوپارټ په لس منټه واټن باندې له موږه ليرې وْ-

بُوپارت ، چې دَ رائن درياب سره په څنګه کې دَ يو غره په لمنه کې آباد يو ښائيسته ټاوْن وْ کې يو پراخ ميدانګي کې له بسه کښته شولو ، چرته چې شاوخوا ته يې دوکانونه هم جوړ وْ- او دا هغه ټاوْن وْ ، چې نن سهار ميرنا دَ دې ټاوْن دَ سکولانو دَ ښه معياري تعليم په حق کې دا هم وئيلې وْ ، چې دلته په بورډنګ سکولانو کې زياتره دَ مړو خلکو بچيان تعليم کوي-

---

" ته به څه خورې شوقه ! "

" هغه ، چې تاسو يې خورئ "

دَ داني دَ پوښتني په ځواب کې چې ما دا وئيلو ، نو روني واي-

"راځئ چي داسي وکړو ، دا مینو په ونېسا باندي پرېږدو - آخیر هم ښځه ده - ټېسټ به يې ښه وي "

که څه هم ونېسا ځان پېچلو ، خو دَ داني او روني دَ ضد مخي ته آخیر هم ماته شوه - او دَ خپلي خوښي خواړه يې راوَغوښتلو-

" تا وَ ماته ښځه په کومه حواله وَ وئیلو ؟ "

دَ دوډۍ خوړَلو په وخت ونېسا له روني څخه په موسېدلي انداز چي پوښتنه وکړه ، نو ما وئیلو-

" ځکه چي ښځه خو نو یې .. "

" هو ، لاکن له سړي خو بالاتره نه "

ونېسا چي دومره وئیلو ، نو روني واي

" ته دا خبره کوې .. مونږ خو دا اورېدلي وُ ، چي ښځه په امریکه کي دَ سړي برابره ګڼل کېږي "

" او ده هم ، خو زما دَ خبري مطلب دا نه وُ ، بلکي ما دا وئیل غوښتلو ، چي ښځه له نره زیاته خو هم نه ده "

او بیا په دې موضوع باندي ډېري خبري وَشوي ، لاکن دَ برابرۍ په بنیاد ، ولي چي ونېسا که څه هم دَ سړیانو خلاف نه وه ، خو دَ ښځو په ښېځي آزادۍ باندي يې یقین درلودلو-

لنډه دا ، چي دَ لنچ کولو ورسته څلور واړه ملګري دَ بُوپارت ټاوْن په تنګو کوڅو کي دَ ګرځېدلو ورسته چي دَ بس په خوا راتلو ، نو مي دَ ونېسا دَ خفګان تر هانده نه غوښتلو برسېره هم چي څنګه په نیږدې سوینئیر شاپ کي دَ هغې کهلونې پیسې پرې کړې ، چي

کومه هغې خپل وړوکي ورور ته خوښه کړې وه - نو دا سي مننه يې بيا بيا زما کوله ، لکه ما چي ورته دا بُو پاټ ټاوْن په تحفه کي ورکړی وي -

نوځکه خو ، چي ما ښپښين دوه نيمي بجې خواته موږ له دې ټاوْن څخه په لانچ کي دَ رائن په درياب کي دَ سېل کولو په نيت دَ کاسموس ټوله ملګري سپاره شولو ، نو هغه راسره يو ځل بيا په ښنګ ښنګ کېدله او خبري کولو ته يې لاري غوښتلې - لاکن زه وم ، چي دلته دَ يادي شوي لورالائي شاپېرۍ په سوچ کي دَ ورک شهزاده غوندي له ډېرو هيلو سره يوې بلې خواته په کتلو کي بوخت وم -

دَ رائن په دې مست او شنه درياب کي دواړو ځئيو ته دَ غرو په شنو لمنو او سرونو باندي کلاګاني دَ ګائيډ له قوله يولس سوه کاله له مخه ډېري په مهارت جوړي شوي دي - هر ښکلی منظر په کېمره کي خوندي کولو سره سره مي دَ دې خوبَولي ناوې په غريزو لمنوکي دَ رېل ګاړيانو دَ تلو راتلو منظرونه هم ډېر خوښېدلو -

" هغه وړوکی ټاپو چي تاسو وينئ ، دې ته مينه کونکي دَ واده له مخه او دَ واده ورسته راځي او په هغو وړو کوډَلو وزمه خونو کي څو څو شپې او ورځي تېرَوي "

دا خبري چي يې کولې ، نو دَ لوري او ګرېک پېغله لور لوري ويوار ، چي ما به ورته Baby او هغې راته له ټوکو Papa وئيلو رامختنه شوه او راته واي -

" پاپا پاپا.. ته ولي هلته نه ځې؟ "

" لاکن له چا سره ؟ زه خو يوازي يم "

" ولي دا چي ده "

دَ ونښسا په خوا چي يې څنګه اشاره وکړه ، نو په خندا دَ مور په لور غبرګه شوه - او ونښسا زما په خوا له خوږو موسکاګانو سره داسي راغله ، لکه دَ هغې مستي ويوار خبره چي يې خوښه شوي وي او عجبه دا ، چي هيڅ يې هم په دې باب نه وَوئيلو - بلکې راته واي -
" نن به ډنر له ما سره خورې "

دا خبره څه وه ، چي دَ بدن هر وېښته مي جګ وَدرېدو او سر مي په "هو " کي ورته وَ ښورَولو - ولي چي په مغرب کي ډنر په ډېرو ماناوْکي اخيستل کېږي -

څنکه چي لانچ له لوْرز ټاپو څخه لږ مخته تېر شو ، نو ګائيډ واي -

" دې ښي لاس ته چي تاسو کوم وړوکی ټاوْن وينئ ، دا ګواد نومېږي - هغه ښکاره چرچ يې په سېنټ پيټر پوري تړل شوی دی... "

له دې ټاوْن څخه څه نور مخته واي -

"هغه ښي لاس ته په پاڼ وزمه کاڼي باندي جوړه ښځه لورالائي مېډم نومېږي - نورو ملګرو که څه هم دَ عکسونو اخيستلو تر هانده هغه مېډم ښه له ځانو سره خوندي کړه - لاکن ما دَ عکسونو په چپه هم ورته ډېر ډېر ځکه کتلو ، چي دَ خپلي لورالائي سره سره مي سيد خېر محمد عارف هم په زړه کي په دې راښخېدلو - چي ما په زړه کي وئيلو - چي اوس که زما په ځای هغه دلته وی ، نو خورا خوند به يې پرې اخيستی وْ- "

او مخته ميرنا دَ لورالائي مېډم په باب وئيلو ، چي

"دا هغه مېډم ده، چي دَ يو زاړه روايت او دَ مشهوره جرمن شاعر هائينا دَ نظم ( Die Lorelai ) په سمون داسي وئيل کېږي - ګوا دا شاپېرۍ دلته اوسېدله او داسي اثرناکي او جادوئي سندري يې وئيلي ، چي په دې رائن درياب کي به چا هم چي دَ هغې شېرين ژغ تر غوږو کېدلو ، نو له سروره به يې کشتۍ له قابو وَخته او هغه به په اوبو کي ډوب شو- "

Khyber.ORG



دا خبره تر کومه هانده صحيح وه ؟ په دې نه يم خبر- خو ماته يې دَ "لورالائي راک شاپېرۍ" تر عنوان دلاندي نظم ليکلو تهيم ضرور په ګوتو راکړو-

دَ دې شاپېرۍ څخه مخته تېرېدلو په وخت ګائيډ وئيلو-

"دا هغه شنه ناوه ده، چي دَ دې دَ قدرتي حُسن دَ نه خرابَولو په حقله په دويم نړئيز جنګ کي دا فېصله لاس ليک شوي وه ، چي په دې ناوې باندي به بمونه نه غورځول کېږي"

اودا هغه خبره وه ، چي زه يې بيا دَ افغانستان دَ هغو پښتنو مخي ته وَدرَولم ، چي دَ عظيم اسلام په نامه يې تر خپلو دَ جهاد په نيت په بېلابېلو بڼو کي څه او څه نه وکړل او لا به څه نه کوي - که يې څه هم دَ خداي په کور کي دننه دا فېصله کړي وه ، چي جنګ به نه کوْ - لاکن بيا هم هغوئ وْ او دَ هغوئ دَ منځه دَ جنګ تر هغه هانده شدت، چي نور خو نور خپلي پلارنۍ او تاريخي اثاثې يې هم داسي لُوټ پوټ کړې ، چي دغه مارشل پښتون نن څه ، چي دَ سباوْنْ وَ سيالانو ته به لا هم په تاريخي حوالو ځان انسان نه شي ثابتولی- او وَ دې خبري ته فکر وړی يم ، چي دَ باميان بُدها لا څنګه په خپل کرامات تر اوسه ولاړ دی.. ؟

ما به لا نور نور يوځل بيا په خپل قام زړه ژړَولو ، چي ابس - ټي- باکسواله ، چي دَ انډيا دَ فلمونو فنانسر او ډائرېکټر دی دَ خپلي پېغلي لور زينت او مائينې زېنب سره زما مخي ته راغلو او خواست يې دَ عکس اخيستلو کولو سره سم کېمره ماته راکړه - دَ عکس اخيستلو ورسته باکسواله راته واي-

"کيا بات هی کيون خفه خفه لګ رهی هو؟ "

"هيڅ خبره نه ده.. بس په سر مي لږ درد دی "

او بيا ورسره په ګپو کي اخته شوم - هغوئ مسلمانان وْ، او لور زينت يې وئيلو، چي مادهوري دَ هغې ښه خونَدکې ده-

زموږ دَ لانچ پرته هم نور لانچونه په دې درياب کي چلېدلو - خو زه نه يم خبر، چي نور څه وْ په دې سېل کي - خو هغه وخت لږ دَ پښتنو له ماتمي حاله راووَتم ، چي کله موږ دَ لانچ څخه دَ رائن په بله څنډه کښته کېدو -

---

اوس يو ځل بيا دَ کاسموس بس مخته روان وْ، دَ شنو شنو غرونو تر مابېن او په هوارو مځکوکي دا دَ مار غوندي تور سړک دَ فرېنکفرټ په لور روان وْ - چي دَ ميرنا ژغ په بس کي خپور شو او وئيلو يې -

" يوهو.. زما دوستانو، څنګه وه دَ ژېړو وېښتانو لورالائي شاپېرۍ او چا يې سندره هم واورېدله که..؟ "

" که چا اورېدلي وی ، نو اوس به هغه دلته نه بلکې په هديره کي وی "

دَ شا له خوا دَ روني دا خبره څه وه ؟ چي ټولو ، هن چي پېغلي چاوْ چياجانګ لا هم وَخندلو - ځکه خو داني ځوکه غوندي واي

" کاښ‌ی هم وَ ژغېدلو "

که څه هم هغه پوهـ شوه، خو دې ځل يې هيڅ باک په کي نه وهلو -

" هېلو زما شاعر دوسته ! ته هم لا ژوندی يې؟ "

" هو مړ نه شوم ، که مي څه هم سندري اورېدلې "

دا چي مي څنګه ورته وَوئيلو ، نو هغه ميرنا ته ناره کړه او واي -

" زموږ شاعر دوست يې سندري اورېدلي وې "

که څه هم ټولو زموږ په لور راکتلو ، خو ما ورته په ټوکو کي وئيلو-

"واه څنګه خوږې سندري يې وئيلې؟ "

او چي زموږ شوخياني څه زياتي شولې ، نو ميرنا هم شا ته ځان راوَرسولو او دَ روني مخته او له ما سره په څنګ ، خو په دې بل لائن کي په چوکۍ کي کښېنستلو ورسته واي-

" جرمنيان هم دَ کتاب دَ مطالعې دغوني شوق لري لکه انګلسيان ، لاکن شوقه ! ته خبر يې چي جرمني ته دَ شاعرانو او ليکوالانو هېواد هم وئيل کېږي - او دلته دې خلګو ته ډېر په درنه سترګه ځکه کتل کېږي ، چي دَ جرمنيانو له قوله .. شاعران او ليکوالان ذهنونو ته تر ټولو ښه تفريح ورسپاري او له دې خلګو څخه تحريکونه زېږونه کوي "

له دې خبرو په چپه څه نوره وَ ژغېده او چي څنګه پورته شوه او مخي ته لاړه ، نو روني چي هغې ته به يې په پټه ميرنا ډارلنګ وئيلو په خپله سينه لاس ږدلو سره سم دَ سړې ساه ايستلو ورسته واي-

" های ..کشکې چي زه دَ دانيال اُستاذ په ځای دَ دې بس ډرائيور وی ، نو خپل ښه بخت به مي ګڼلو "

او بيا زما په لور راکتلو ورسته واي

" يو خو دا زموږ دوست هم جادوګر دی "

دومره وئيلو ورسته داني هم ورسره خبره خوږه کړه او واي

" ګوره چي دا ځله دَ هر چا ورسره جوړه ده "

او بیا یې په ما ژغ کولو ورسته یو چاکلېټ هم راکړو او ما په ځای دَ خوړلو زما مخې ته ناستې چاوْ ته چې ځنګه ورکړو ، نو هغه له ډېرې خوشالۍ واې -

" واوْ... زما ښه قسمته ، چې نن شوق په ما رامهربان شو "

" ته بس موسېږه ... دغه مې فرمائیش دی "

" چا ته به موسېږم؟ دلته خو "

" هر څه ډېر دې که ته لږ دې خوا ها خوا وَګورې "

او دَ روني په دې خبره باندې دَ ملګرو سره په غټو کړیکو کې زه هم ورګډ وم او تر ډېره مو په اشارو کې خبرې یو او بل پلوْ اړَولې او خندېدلو -

اوس چې موږ دَ ښېنګان ټاوْن سره په څنګ کې په هاي وې نمبر **9** باندې ډېر په تادۍ مخته لاره لنډوله ، نو میرنا واې -

" نن هم ډنر زموږ په دې پېکېج کې شامل دی "

دا خبره یې لا سرته نه وه رسولې ، چې ونېسا زما په لور مخ را وړَولو - که یې څه هم نه وئیلو ، خو زه ورباندې پوهـ شوم ، چې په دې اناوْنسمنټ یې طبیعت خراب شو - ولې چې په امریکائې طبعیت یې دا اعلان بد وَلګېدو - که څه هم خبره دَ هغې دَ فائدې وه ، ځکه چې له ماسره وعده کړل شوې دَ ډنر پلان یې خرابېدلو - خو بیا هم ښځه وه - چې دویم ځل یې شاته راوَکتلو ، نو په نرۍ غوندې موسکا کې یې سر یوې بلې خواته وَښورَولو اوګوره چې له ځانه سره څه وئیلو ورسته یې دَمیرنا په لور په دې کتل شروع کړو ، چې هغې وئیلو-

" نېفرن ټاوْن چې ستاسو دپاره په کې هوټل بُک شوی دی ، ډېر پُرسکونه او په کلیوال غوندې ماحول کې جوړ دی - لاکن که څوک دَ پَب یا کلب شوق لري او یا نورو ځایونو ته ځې

- نو تلی شي ، خو دَ ژبي مسٔله به ضرور وي - ګوا دا يو څو توري درسره وليکئ - په کار به درځي - لکه "څنګه حال دی " ته (ويګېټ) ، " ښه يم " دپاره هم (ويګېټ) په کارَولی شئ ، "هو " ته (ډنکر) او "ښه " يا " بهتر " دپاره (ټال) غوندي توري په کارېږي - يا بيا دَ اشارو ژبه خو نو دَ هر چا زده ده "

دلته په جرمني کي دَ انګورانو درختو سره سمي ځای په ځای دَ سېبانو وني هم دَ سړک دواړو څنډو ته زياتي ښکاري - او دَ ميرنا په قول

"دَ جرمنيانو تر ټولو دَ خوښي کار هم کار کول دی او دا خلګ هر وخت په کار کي بوخت ليدل کېږي "

لنډه دا ، چي کله دَ رائن درياب سره سره او کله يوې بلي خواته ورباندي په جوړو پلونو ولانګلو راولانګو کي دَ مشهوره پُل هېنګنګ بريج هم ښه ډېر شاته پرېښودلو ورسته موږ شپږ نيمي بجې وَ نېفرن ټاوْن ته ورسېدو او دَ کوئين هوټل مخي ته چي بس څنګه وَدرېدلو ، نو هر يو له بس څخه په دې وجه ژر تر ژر کښته کېدلو په مُوډ کي وْ ، چي دَ ټولي ورځي دَ ستړيا له سوبه هر چا غوښتلو چي څه دمه شي -

---

په تاريخ کي په درنو ټکو لمانځل شوي جرمنيانو ته که څه هم په نړۍ کي اوس هم په ډېره درنه سترګه کتل کيږي ، خو ما يې په نرانو او ښځو کي داسي هيڅ يوه خبره نه وَ ليدله ، چي له خپل تاريخي عظمت سره يې سمون خوړلو - ولي چي دا خلګ هم لکه پښتانه اوس پيسه هرڅه ګڼي او ورته ګډېږي - لاکن دَ خپلي ژبي سره بې کچه مينه يې په دُنيا کي نن هم سرلوړَوي - هو ، که څه هم په خپل مذهب باندي ټېنګ هم يادېږي ، خو دا هغه خاصې دي ، چي هغوئ له پښتنو څخه ببلَوي - ځکه چي پښتون دَ ځينو ناروا فتووْ په سمه له خپلي شېريني پښتو سره تړون ساتل کُفر ته نيږدې نيږدې کار ګڼي-

دَ انګلسيانو په مقابله کي که څه هم دا خلک ، لکه پښتانه دَ خپل زړو تاريخي اثاثو په حقله ښه ډېره پاملرنه نه کوي - خو دَ دې پرته هم ، دلته په ښارونو کي څه ، چي په وړو

ټاوْنونو کي لا هم تهېټرهالونه موجود دي او په کي دَ جرمن تاريخ پانې په ډېر خوند او قامي جذبه سره په ستېج باندي وړاندي کېږي - او بل يې له کتابي مطالعې څخه لاس نه دی اخيستی او زياتره خلګ په فارغ وخت کي کتاب ضرور لولي-

غرض دا ، چي دا هر څه مي نن ماښام دَ فليپينو ملګرو سره په ګرځېدو کي مشاهده کول په چپه په دې هېواد کي دَ ځينو نورو زړخوښيانو په باب ترلي ګنډي خلاسولو سره سره يونيم بُک سټال ته هم ورچپ شولو - خو دَ داني په قول ، چي

" دلته خو بې دَ لغړ( پورنو ) ليټرېچره بل هيڅ نه ښکاري "

لاکن که څه هم دَهغه دا وينا صحيح نه وه او دَ ځينو نورو کتابونو په چپه ناولان هم پراته وُ ، خو دَ هغه له خبري څخه انکار بيا هم په دې نه شو کېدلی - چي دغه لغړلټرېچر په اروپا کي په کتابي بڼه ډېر زيات دَ کتابونو په سټالونو باندي ليدل کېږي -

دَ خپل وَس په سمه چي درې سره ملګري په دې ټاوْن کي ګرځېدلو ورسته ستړي شولو - نو هوټل ته رارسېدو دَ مخه داسي په شرک باران شروع شو ، چي کله موږ په هوټل کي ورننوتلو - نو په لابي کي ولاړي ميرنا وَموږ ته په کتلو په حېرانتياواي..

" اووو مائی ګاډ.. تاسو خو لکه په مخامخ رائن درياب کي چي لمبېدلي ياست "

او بيا په موږ باندي شاوخوا راګرځېدلو ورسته يې په ما دَ مورکۍ غوندي لاس را واچولو او دَ ګيلې په انداز کي واي

" مسټر شوق ! ته به دَ خپلي ستړي په شوق کي ډېر ژردا دوه ياران هم له زُکام سره مخامخ کړې "

" سوري ميرنا.. زه څه وکړم ؟ "

مابه لا نور څه په خپله صفائي کي ورته وَئيلو ، چي هغې په ټولو باندي ژغ وَکړو-

" درځئ درځئ .. ډنر ته پنځه منټه پاته دي "

او په لابي کي موجود درست ملګرو له هغې سره دَ ډائنګ هال په لور مخه وکړه -

" يو خو دا يورپئين پورک ( دَ سُور غوښه ) ډېره خوري - که څوک پوښتنه نه وکړي ، نو په دې او غټې غوښي کي فرق کول ګران شي "

په غاب کي وريژي اچولو په وخت چي ما دَ تکو تورو غوښو څخه ډک دېګ خواته څنګه اشاره کوله ، نو وَ څنګ ته مي ولاړ اېس - ټي - باکسوالا وَوئيلو -

" ارې شوق بهائ ! يهى تو مسئله هى "

دومره چي يې وئيلو ، نو دَ هغه پېغله لوُر زينت واي

" اګر کوئى بتا بهى دې ، تو اس سې مسئله حل نهين هوتا- کيونکه يه سب چيزين بهي توانهين ديګون مين بنتي هين "

" اسى لئې تو مين ګوشت کهاتى هى نهين "

دَ خپلي لوُر خبره پرې کولو ورسته دَ باکسوالا مائينې زېنب چي دا وئيلو- نو ما هم وار لاس ته کړو-

" نو بيا مونږ مسلمانانو ته په داسي حال کي څه کول په کار دي "

" همارا کام اپنې دل کو پوري تسلي دينې سې هونا چاهيى ، باقى خُدا معاف کرې .. کيا حلال کيا حرام؟ "

باکسوالا هم چي دا خبره کوله ، نو دَ نيږدې مېز په خوا دَ مائينې او لوُر سره ور روان وْ - او زه هم هلته چي ليري په خالي غټ مېز باندي ښنګه کښېنستمه، نو مسته لارا ګوک مي شاته دَ بل مېز په لور تېرېدلو په وخت راته ښوکه غوندي واي..

"دا ونېسا دي اول هم ملګري وه که دلته..؟ "

ما به لا اوس ښه ورته وئيلو، چي ورسره په ښنګ کي رواني بلبېنډا هم په خندا کي ګوزارداسي راباندي وکړو-

"دا دَ دې کاسموس دوستي ده "

"هو.. لاکن تاسو هم خپله هڅه وکړئ "

او له دې خبري سره سم دواړو وَخندلو او مخته تېري شولې -

"کومه داسي خبره وه، چي مو درباندي وَخندلو؟ "

جاپانۍ ملګري کائيکو دَ ونېسا او دَ روني او داني سره په ګډه رارسېدلو سره سم چي يې دا پوښتنه وکړه، نوما ورته وئيلو-

"دا لارا ډېره اړامه انجلۍ ده "

دومره وئيلو ورسته مي لا سمه لومړۍ کاچوغه دَ وريژو خلې ته نه وه وړي، چي ونېسا واي -

"داني وئيلو ، چي تاسو نن ماښام په باران کي ډېر خوندونه اخيستي وْ "

"هو ، لاکن ښه خبر وْ، چي دا باران به موږ دومره رسوا کوي چي.. "

لامي خبره پورا کړي نه وه، چي روني وئيلو

" دا هم زموږ بخت دی ، چي څوک خو مي غم خوري "

که څه هم دَ هغه اشاره دَ ميرنا په لور وه ، خو کائيکو واي

" په دې درست ګروپ کي تاسو درو ملګري خو ياست ، چي زيات خاندئ او ټرپ انجوای کوئ "

او دې خبري ورسته په مېز باندي يو ځل بيا دَ چمچيانو او غابونو تر منځ ګړنجی شروع شو- لاکن څه وخت ورسته کائيکو دَ اوبو غوړپ کولو ورسته واي

" دا شوق چي وَهرشي ته ډېر په غور ګوري، نو.. "

" هو داسي محسوسېږي ، لکه هغه شی چي په زړه کي نقش کول غواړي "

داني چي څنګه دَ کائيکو خبره پوره کړه ، نو ونېسا هم په پسخوند غوندي موسکا کي واي..

" هغه ځکه چي رائټر دی او شاعر هم "

په شاعر باندي زور ورکولو ورسته ما هم وار داسي لاس ته کړو -

" هر هغه شی ، چي ما ته اپيل کوي ، زه يې انجوای کولو سره سره ستايل هم غواړم "

نور که زما په خبره پوهه شوي وي او که يَه ، خو دا ورباندي پوهه شوه - ځکه خو يې سترګي په سترګو کي را اچَولو ورسته خندلو -لاکن ما خبره يو دم په بله په دې خبرو واړَوله - چي

" ما دا ګڼلو ، چي دُنيا دَ يوه ثقافت او يوې ژبي په لور روانه ده ، لاکن دَ دې څو ورځو په مشاهده کي داسي راته ښکاري ، لکه خبره چي رښتيا وي او نه هم وي - لاکن پوهېږم نه ، چي تاسي په دې باب څه سوچ لرئ ؟ "

"بيا هغه ريسرچ ، هغه مطالعه او ته..؟ "

روني چي دا خبره کوله ، نو ونېسا واي

" دا زه هم منم ، چي انګلسي که څه هم دې وخت دَ دُنيا تر ټولو غټه ژبه ، خو لاهم ډېر وخت غواړي ، چي دا به دَ دُنيا ژبه جوړېږي - او په تېره ، هغه هم په اروپا کي "

او بيا چي مي وَ داني ته وکتلو ، نو هغه واي

" لاکن فرانسيسی خو هم ورسره سره وده کوي او.. "

خبره يې سرته نه وه رسولې ، چي کائيکو واي

" ولي چيني ژبه ، هغه خو هم زيات ويونکي لري "

او بيا زمونږ تر منځه په دې حواله که هر څومره خبري شوي وې هم ، خو ورستی نتيجه يې دا وَوتله ، لکه په اروپا او نورو زيات شمېر مخته وتو هېوادونو کي چي لا دَ انګلش په حق کي فضا سازګاره نه ده - او دَ ژبو ترميان وَ ځان ځانته دَ ژوند کولو ورستنی هڅي لا کېږي لګيا دي -

ګوره چي زمونږ ګپه څه تېزه شوي وه او که زه په دې مجلس کي زيات ژغېدمه ؟ چي لاراګوک له خپله مېزه راولاړه شوه او دَ کائيکو تر شا درېدلو ورسته واي -

"دا شوق هم عجيبه سړی دی - ګوا دَ ورځې ورسره وخت نه وي او دَ شپې خلګ تنګوي"

په زړه کې مې وئيلو ، چې

"شوقه ! دا انجلۍ هم څه زياته فري فري نه کېږي ؟ "

خو له خلې مې دا خبره ځکه نه شوه رايستلی ، چې ما نه غوښتلو ، چې ځان ته دا بل محاذ هم خلاس کړم - نو ځکه مې دَ هغې خبره په ټوکو واړوله او له مګرو سره په خندا ورګډه شوم -

نور خو نور، لاکن ښه مې په ياد دي ، چې دَ خوب وَ غېږې ته ورتللو دَ مخه مې دَ نور څه پرته دا نظم "يو عجيبه غوندي اطمينان" هم ډائرۍ ته وَ سپارَلو -

---

په 29م مارچ 1996ع سهار دَ ناري کولو ورسته چې څنګه دباندي دَ ملګرو سره له هوټله وَوتم ، نو څه ګورم، چې ولات په واوْري باندي تک سپين برېښي - او په لږ ساعت کې بيا دَ ملګرو تر منځه په لومړي سهار له واوْرو سره بازۍ پئيل شوې - خوند هر چا له واوْرو اخيستلو ، خو دَ کېنېډا پېغلو مئی رېناړه ، مارئين او توشي که په يو بل باندي دَ واوْرو ګولې غورځول پئيل کړي وې ، خو کرسټائن او امريکائي پېغلي لوري ويواراو دَ تايئوان چاوْ چيا جانګ ،او سره سره لارا ګُوک او وېلينا هم دَ ماشومانو غوندي بازياني داسي په خوند کولې ، چې ملګری روني واي -

"دا ښځې واوْوره څله خوښوي.. خبر يې؟ "

"يَه.. ولې يې خوښوي؟ "

"هغه ځکه چې "

هغه چې څنګه خله پرې کوله ، نو ميرنا راورسېدله او واي -

" تاسو درځئ په بس کي کښېنئ - زه هغه مستي ښځي رابولم "

" دا ګوره، چي زما دَ زړه خبره ميرنا ډارلنګ وکړه "

روني دا خبره راته هغه وخت وکړه ، چي موږ دَ بس په خوا روان وُ -

خبر، دَ پروګرام په سمه بس مخته روان شو ، نو ميرنا مايئک لاسم خلې ته نه وُ نيولی، چي لوري اوګريک دوه ځله دومره په زوره وَ نوژلو ، چي ميرنا له سلامه هم دَ مخه واي -

" خدايه ته مي ساتې، داسي نه چي له دې يخه ټول زُکام نه شو "

او بيا يې خبره له دې ځايه شروع کړه

" که تاسو دې روډ ته پام وکړئ ، نو دا زيږ او ببرځکه جوړ کړل شوی دی ، چي په داسي کولو باندي دَ ګاډيانو دَ ښوېدلو چانس کم وي "

دَ جرمني دَ نېفرن ټاوْن څخه قريبًا دَ نيم ساعت مزل ورسته موږ په بلېک فارسټ ائيريا کي ورګډ شوي وُ - دلته دَ ګڼو ځنګلي درختو په چپه تر ليري ليري پوري هيڅ آبادي نه ښکاره کېدله او ميرنا وئيلو-

" دَ روډ دواړو څئيو ته چي کومي وني ښکاري ، دا دَ بلېک فارسټ شمالي سيمه ده - چي په بېلابېلو غرونو او ناوْ کي تر ليري ليري پوري خپور ځنګل په دُنيا کي لوړ نوم لري - او عجبه خو لا دا هم ، چي په دې څنګ کي داسي سيمي هم شته ، چي انسانانو لا ګامونه نه دي ورباندي اېښي "

باران بيا شروع شوی وُ او دَ بلېک فارست وني ، چي په يو بل کي سره چيخل شوي وې عجيبه غوندي ماحول شاعرانه کړی وُ - خو دَ روني او داني ګپي وَشاعري ته که څه هم نه

ایله کولم ، خو بیا مي هم دَ ښکلو نندارو دَ اثر په سمون دا وړوکی نظم " اتهم رنګ " وَ ډائرئ ته وَسپارلو -

دَ ځینو ځایونو او منظرونو عکسونه اخیستلو او په ډائرئ کي دَ لیکلو ورسته خپلي او دَ میرنا خبري ریکارډ کول که څه هم زما معمول وْ - خو نن په روټیټنګ سسټم کي زما ترشا لاراګوک او بلېنډا په برخه څه راغلي وې - وایم ، چي ګهړئ ګهړئ بېې تنګول هم کولو - کله کله به دومره له ورخه واویښتې ، چي دَ روني په قول

" ور یاده یې کړه شوقه ! "

غوندي خیال به مي په زړه کي ورته راغلو - خو همت مي بیا هم ځکه کولی نه شو ، چي هغوئ دوې وې - او ما نه غوښتلو چي دَ سهار ستوری شم - په دې خو مي له هغوئ سره دَ خلې تر هانده خبري خلاسي کړې وې -

دلته په روډ باندي دَ نورو وړو ، غټو ګاډیانو په چپه له موټرانو ډک ډک بېخي اوږده ټرالران هم ځای په ځای ښکاره کېږي - او بل که څه هم دَ هالېنډ په مقابله کي دلته په جرمني کي دَ رینګ روډونو او اوورهېډ پُلانو په شمېر کم دی ، خو په انټرنېشنل هائې وې باندي په بېخي لږه لږه فاصله باندي دَ مسافرانو دَ سهولت دپاره هر قسم انتظام موجود دی -

څنګه څنګه چي Basle یاني دَ سوئټزرلېنډ دَ بارډر په خوا مزل لنډېدلو ، نو دَ ځنګلي ونو له کمبوت سره سره دلته په بس کي ناستو ملګرو هم دَ خوبونو دَ هېواد دَ لیدلو په نیت سترګي موږلې او غوښتل یې چي ژر تر ژره پېښنه ورته وکړي - ولي چي هر چا سترګي روډ ته نیولي وې -

دَ غرمې لس نیمي بجې وې ، چي موږ دَ هټلر هېواد شاته پرېښولو او په Basle Border باندي وَ سوئټزرلېنډ ته دَ ننوتلو له مخه دَ ان آوټ کولو او نورو حاجتونو تر سره کولو دپاره له بس څخه دَ څو منټو دپاره کښته شولو -

*****

# دَ خوب په ریښتونو ناؤ کي

" دلته بې اجازته کښته کېدل ، عکس اخیستل او دَ جرمن عسکرانو په سترګو کي سترګي اچول جُرم ګڼل کېږي "

دَ اِن آوټ دَ بېخي لنډ عمل ترسره کولو ورسته چي څنګه زموږ بس دَ جرمني او دَ سوئټزرلېنډ تر منځه دَ باسېل Basle نامي بارډر دَ پلازو څخه مخته روانېدلو ، نومیرنا داخبره څه وکړه ، چي اول که چا نه هم کتلو - خو هغو هم ترشاشا وَ هغو عسکرانو ته کتل شروع کړو - لاکن موږ ته چا هیڅ ځکه نه شو وئیلی ، چي دې وخت موږ له جرمنۍ څخه وتي وْ - نور نه یم خبر ، خو دا خبره مي دَ هغو عسکرانو په اړه زړه وَمنله ، چي هغه عسکران وْ خو سړي ، لاکن ښکاره کېدلو بُتان .. ګوا داسي وچ او ساه نیولي ولاړ وْ -

نن 37 منټه بالا لس بجې غرمه په 29م مارچ 1996ع چي څنګه دَ خوبونو جزیرې ته په ویښو سترګو ورننَوتلو - نو نه یوازي ما ، بلکې په بس کي ناست هر ملګري شا وخواته داسي کتلو ، لکه جوړه چي یې په سترګو یقین نه کېدو -

" په دې بارډر باندي کله کله دَ پاسپورټ سره سره دَ مسافرانو چېکولو دپاره بالا بس ته هم راوَخېږي - خو نن یې مازي په پاسپورټونو باندي ټاپې لګولو ورسته راایله کړو - "

او بیا میرنا وبښتان له سترګو لیري کولو سمدستي په بس کي سترګي وَغړَولې او دَ خوږې خندا ورسته مخته واي

" یُوهوهو .. زه په سوئټزرلېنډ کي تاسو ته ښه راغلی وایم - او باسېل نامي دا لومړنی سوئس ښار ، چي موږ یې په آبادۍ کي ورګډ شوي یُو کي یوازي جرمني ژبه وئیل کېږي - ګوا تاسي دا ګڼلی شی ، چي دا هېواد دَ جرمنیانو له ثقافتي یلغاره خلاس نه دی- "

هغې چي دا خبري کولې ، نو بس دَ دې ښار له ځینو نورو کارخانو په چپه دَ دوایانو او دَ سائباګائیګي کارخانې څخه مخته تېرېدلو - او میرنا دَ سوئس هېواد په حقله وئیلو..

"دَ قدرتي ښائیست په چپه دَ صفائي او لاسي ښائیست په باب دا هېواد دَ فرانس ، جرمني ، اټلي او آسټریا په منځ کي په **41293** مربع کلومیټرانو باندي خپور دی او دې وخت په کي تر شپږنیم میلئینو زیات خلګ مېښته دي - دارالحکومت یې بارن Bern نومېږي ، خو زیوریچ Zurich او باسېل Basle ، چي دې وخت مورِ ورڅخه تېرېږو پرته لُوسرن او جنیوا نامي غټې او وارِه ښارونه هم لري - او بل دا ، چي دَ رائن او رون دریابونه هم له دې هېواد څخه تېرېږي - خلګ یې سوئس او کرنسي یې سوئس فرېنک نومېږي "

سوئټزرلېنډ دَ ښائیسته ناوْ، شنو غرونو او ګڼو ځنګلونو سره سره دَ وړو او غټو سُرنګونو ، چي ګاتهرډ او سمپلان نامي مشهوره سُرنګونه هم په کي راځي هېواد دی - قدرتي وسائل که څه هم نه لري خو سیاحت او دَ ټوکرانو ، ګهړیانو ، دوایانو دَ صنعتونو پرته پېک فوډز او ځیني نور شیان یې دَ ګټي غټي وسیلې بلل کېږي -

بس چي څنګه له یوه اوږده سُرنګ څخه سم وتلی نه وْ ، چي ګائیډ وای

" په سوئس هېواد کي که څه هم رومن کېتهولک زیات دي ، خو پروټېسټېنټ هم څه کم نه دي - دلته ځلور ژبي ځکه وئیل کېږي ، چي دَ څنګلورو هېوادونو لکه فرانس، اټلي ، آسټریا او جرمني یې ځان ځانته په بارډري سیمو کي نه یوازي وئیل کېږي ، بلکې په حق کي یې خبري هم کوي "

څه مخته ګائیډ زمورِ پام دَ یوه غټ فلائي اوور( غټ پُل ) په لور اړَولو ورسته وئیلو ، چي دا هغه پُل دی،

"چي دَ انجینئیرانو دَ غلطي اندازې له سوبه وَ نیږدې ودانیانو ته تاواني ثابت شوی وْ او اوس بیرته جوړېږي لګیا دی "

له دې خبري مخته یې که څه هم نور هیڅ نه وَوئیلو ، خو زما په زړه کي دا خبره راغله ، ګوا که څه هم زمورِ دَ هېواد په برخه دَ خلاسو شیطانانو په شمېر دلته کم شیطانان خوشي کړل شوي

دي ، خو شيطان هر ځای شيطان وي - هو دَ هر څه پرته هم دَ کرکي وړګڼل کېږي - او بل دا ، چي دَ خدای په دې دُنيا کي که څه هم هغه دَ مځکي په سر جوړ سوئټزرلېنډ دی ښه او بد خلګ لري -

" غوا او سوئس دَ يو بل دپاره لازم وملزوم ځکه ګڼل کېږي ، چي سوئس دَ غوا ډېر احسان منونکي دی او واي ، چي غوا هغوئ ته شودې ، ملائي ، کُوچي ، غوړي او بېلابېلي رنګي مستې ورسپاري - هم ځکه خو دلته دَ سُرنګونو په چپه که بل شی زيات ليدل کېږي ، هغه خواپاکي غواګاني دي چي ښکاري "

دا خبره يې لا سمه سرته نه وه رسولي ، چي موږ دَ رائن درياب برسېره په جوړ پُل باندي تېر شولو - او څه مخته وتلو ورسته بس دَ لوي لاري وَکيڼ اړخ ته جوړ درې چتهيزه هوټل په خوا وګرځېدو -

---

" زما په خيال چي رېستورېنټ به يې بالا وي - ښه به نه وي چي کوفي وَڅښو ؟ "

په سوئټزرلېنډ کي دَ لومړي ګام رډلو ورسته چي څنګه له ملګرو سره دَ هوټل په څنګ کي جوړ مني چېنجر په لور دَ پيسو بدلولو په نيت ور روان شوم ، نو تر شا مي په تېزو ګامونو راروانې ونېسا راژغ کړو -

" هو ولي نه .. "

داسي ورته وئيلو ورسته موږ دواړو پيسې بدلولو سم دستي په هغه هسک هوټل کي په دويم چهت کي جوړ ښائيسته رېستورېنټ ته وروَختلو - خو موږ لا سم کښېنستي نه وُ ، چي داني او روني هم راوَرسېدو - او په څنګ کي راسره کښېنستلو په وخت روني واي -

" دا خلګ ډېر ښه بخت لري ، چي په دومره ښائيسته هېواد کي اوسېږي "

" هو ، لاکن مورِ هم بدبخته ځکه یُو ، چي.. "

" Sence of Belongingness نه لرو ستا مطلب دا دی؟ "

زما دَ خبري په منځ کي چي بيرته څنګه راټوپ شو ، نو ما هم په خندا ورته وَوئيلو -

" هو ، نه يوازي دا بلکې کله کله دَ وخت او موقعې په چپه کارونه هم کوْ "

که څه هم هغه او ورسره داني ملګری نه شو پوهـ ، خو ونېسا ځکه وَ موسېدله ، چي هغوئ خو دلته هم بې سته زمورِ تر منځه راټوپ کړي وْ - هرڅه هرڅه ، خو بيا هم زما ياران وْ، نو ځکه مي خبره داسي په بله واړَوله -

" دلته امن دی او خلګ خوشاله هم ښکاري "

" ځکه خو دا هېواد دَ ميرنا په قول فقط **56** عسکران لري او بس "

ونېسا هم په ماته خله زما په ځواب کي چي داسي وئيلو ، نو دې خبري په محفل کي داسي بُوژ واخيستلو چي آخير پای وَ دې نتيجې ته وَ رسېدله ، ګوا

" سوئس هېواد هم هغسي دَ خدای په مځکه جوړ هېواد دی لکه څنګه چي نور دي - خو بس توپير په کي دا منځ ته راځي ، چي دَ دې هېواد خلګ دَ ځان سره سره دَ خپل هېواد او چاپېريال په حقله ډېر مخلص او زړځوږي لري او.. "

"کوم چي مورِ نه لرو "

خو دا خبره مي کولی ځکه نه شوه ، چي که هرڅو مي له سخن او خيچن هېواد سره اړه درلودله ، خو دې وخت خبره زمورِ دَ دې حاضر مجلس ترمنځه دَ سيالۍ خو هم راغلي وه - او ما نه غوښتلو ، چي ناسياله شم - درېغه درېغه چي هم دغه دَ ناسيالۍ احساس هلته زما دَ

هېواد په کليوالو يا ښاروالو کي هم وی ، نو نن به مورږ په ګوزو او دَ پرون نور ناسيالو قامونه راته په لوړو سترګو نه ګرځېدلو-

لنډه دا ، چي دَ تاوده بحث ورسته چي څنګه له هوټل څخه دَ بس په لور تلو ، نو ونېسا يو ځل بيا راته څو که غوندي وَ وئيلو ..

"زه غواړم چي لږ دَدې سوئس هېواد دَ شپې ژوند هم وګورم ، چي څنګه دی؟ "

که يې څه هم په مطلب پوه شوم ، خو ځان مي پرې واچولو او دا مي غوښنلو چي ست راته په آسانه تورو کي وکړي - خو زمورږ له بد قسمته بيا هغه دواړه راځرمه شولو او خبره نيمه څه پاته شوه ، چي ونېسا خفه غوندي هم شوه او په تېزو ګامونو دَ بس په لور روانه شوه - او چي کله بس ته ختله ، نو يې که څه هم شاته راوکتلو ، خو په څېرې باندي يې دَ پخوا په شان موسکا نه وه - په زړه کي مي يو دم دا خبره راغله ، چي دا خو لاړه خفه شوه - او بيا مورږ دري واړه يو بل تر شا په بس کي دَ خپلو چوکيانو په لور څه روان شولو ، چي هلته ناستي خفه ونېسا نور هم تندی تريو کړو - او دا هغه لمحه وه ، چي زه پوهـ شوم ، چي هغې ماته دَ فلپائيني ملګرو په باب دَ ست دپاره نه بلکې زه يې له هغوئ څخه بېلول غوښتم او بس - هم ځکه خو بيا مخته زه هم په ځان نه شوم خبر ، چي څنګه په بس کي کښېنستم او بس کله روان شو؟ - ولي چي دَ هغې دَ خفګان پرته هم زما په زړه کي راپارېدلو شکونو دَ رښتياؤ په لور واټونونه تر ډېره هانده لنډ کړي وُ - زه به لا کېدلی شو ، چي نور نور په خيالاتو کي ډوب شوی وی - که چرته ميرنا په اوږه ټکولی نه وی-

" شوقه ! ته او ستا ملګري نن چپ چپ ياست - خېر خو دی؟ "

" هان .. هوهو خېر دی .. خېر دی "

او زه په داسي سامَولی غوندي دَ ويښو سترګو له چي څنګه خوبه راويښ شوم ، نو داني او روني څه ، چي په بس کي زما شاوخواته ناستو ملګرو هم راباندي وَخندلو - او ميرنا هم له خندا تکه شنه مخته تېره شوه - هو په داسي وئيلو کي ..

---

دَ دُنيا دَ توجه پرته سوئټزرلېنډ په خپله مځکه باندي دَ اقوام متحده او ځينو نورو عالمي ادارو لکه رېډکراس ، انټرنېشنل لېبر آرګنائزېشن ، يونيسکو هېډکوارټران هم موجود لري - او دا خبره خو هم دَ دې ځای دَ ښه او پُرسکونه ماحول دليل ګرځي، چي دَ دُنيا زياتره او دَ عربيانو درسته پيسه دلته په بېنکونو کي نه يوازي خوندي ده - بلکې دَ دې هېواد په معيشت کي دَ غټ کردار لوبَولو وسيله هم ګرځي - هم دغه خو هغه خبري دي ، چي سوئس خلګ په دُنيا کي په هره حواله مخه ور کوي - ما چي دا خبري په مزغو کي چسپَولې ، نو دَ کاسموس بس دَ سوئس هېواد په شنو ناوْ، غرو ، رغو او وړو غټو غونډيانو په لمنو کي په تک تور او پراخو سړکونو باندي مختهډېر په خوند خوند روان وْ-

زما په چپه په بس کي ناست هر ملګري دا هڅه کوله ، چي ډېر تر ډېره منظرونه په مزغو کي خوندي کړي - ځکه خو نن هره سترګه ويښه او يوې بلې خواته په ديد کولو کي مشغوله وه -

دې وخت موږ دَ زيوريچ Zurich په لور مخه کړي وه او په بس کي ناستو ملګرو سره سم ما هم دَ دې هېواد ښکلي نندارې په مزغو کي په ويښو سترګو خوب کولې لګيا وْ - ټول چپ ناست وْ ، خو يوه ميرنا وه ، چي دَ زړه خبري يې په خلې باندي داسي راوړلې -

" دا ګورئ .. شاوخواته ښکلي مځکي ، وړې غونډياني ګڼې او زرغونې سدابهاره وني او بيا له پاسه ورباندي وربدونکي دا سپينه واوره لا جلا - زما خو زړه غواړي ، چي له بس ښخه ورټوپ کړم او هم په هغو ښکلو منظرونو کي ځان ورک کړم "

دا "ورټوپ کړم " توري يې داسي په خون وَ وئيلو ، چي په ځای دَ هغې په حالت دَ همدردۍ کولو ، ټولوملګرو په خپلو کي يو بل ته داسي وَبوُښېدلو لکه ميرنا چي خپله نه ، بلکې دَ ټولو دَ زړه خبره کړي وي - او خبره وه هم دغه رنګه ، ولي چي دَ تنګو ناوْ دا تک شين او په لوړو او ژوَرو کي خپور درئيز هېواد په هر هر منظر کي زړه ښکوني څه ، چي روح تخنوني هم

کولي - په درست بس کي چپ له روني چي شاته په چوکۍ باندي ویده وْ ، نورو ټولو ملګرو سترګي یوې بلې خواته غړَولې -

" سوئټزرلېنډ ته خلګ دَ سېل سره سره دَ آرام کولو په نیت هم راځي - دلته په هوټلانو کي رادیو ، ټېلي ویژن او هیڅ قسم هنګامه نه وي - ګوا چي څنګه سړی وَ بسترې ته ورځي، نو بیا ویده شوی وي - لاکن دَ دې ټولو پرته دَ سوئس ناک (ور ټکول ) ځانته ځانګړی څکه بلل کېږي - چي که چا هم یو ځل اوربېدلی وي - نو هېرَول یې ګران وي "

بیا یې دَ خوږې خندا کولو ورسته په شوخه لهجه کي وئیلو -

" خو درته ښئیم یې څکه نه، چي بیا دَ اوربېدلو خوند نه پاته کېږي "

دا خبري چي یې کولې نو موږ دَ سوئټزرلېنډ له یو غټ سُرنګ چي قریبًا **5000** میټره اوږد دی څخه تېرېدو لګیا وْ - دَ لائټونو پرته دلته دَ میرنا خبرو په سمه دَ آکسیجن دَ اهتمام په چپه هم دَ ایمرجنسي دپاره دَ نورو حاجتونو سره سره دَ ډاکټرانو ټیمونه هم شپه او ورځ په ډیوټي باندي موجود وي -

دَ یو بل ټنل څخه تېرېدلو په وخت میرنا دَ ځینو نورو خبرو کولو ورسته وئیلو

" سوئټزرلېنډ که څه هم له سمندر څخه لیري هېواد دی ، خو دَ ببخي زیاتو جوړو خېزیانو(ډېمونو ) له سوبه دا خلګ له اوبو څخه خوندونه داسي اخلي ، لکه هغوئ چي دَ سمندر په ځئیو باندي اوسېږي - او په هره خېزۍ کي وړې وړې کښتیاني هم دَ یخ له سوبه ولاړي ښکاري "

او بیا یې مخته وئیلو -

" دَ نن په دې ماډرن سوئس هېواد کي دَ سړي په سر آمدني په درسته اروپا کي دومره زياته ده ، چي دې هېواد کله هم دَ يورپي يونئين دَ ممبر کېدلو حاجت نه دی محسوس کړی او په خپل سر باندي ژوند ، بلکې مثالي ژوند کولو ته جوګه ښکاري "

اوس مونږ دَ لُوسرن نامي ټاوْن په روډونو باندي روان وْ او ميرنا يې په صفت کولو نه ستړې کېدله او وئيل يې -

" مونږ دې وخت دَ لُوسرن په ښائيسته ښار کي روان يُو او دا ګورئ زمونږ کينْ لاس ته هغه 700 کلن جوړه ودانۍ ، چي اوس ميوزيم دی او دا چي مونږ يې په لور روان يُو ، هغه دَ دې ښار نامي شاپنګ ائيريا ده - او دا ژېړ رنګه بسونه چي مونږ وينو ، فقط دَ ډاک رسولو رارسولو په کار کي شپه او ورځ ګرځنده ښکاري "

دَ دې خبرو ورسته بس دَ زاړه رېلوې ستېشن دَ ټاوْرخخه تېرېدلو ورسته دَ هغه مشهوره چېپل بريج چي له لرګيانو څخه جوړ يو پُل وْ په لور رهي وْ- او آخير پای بس دَ لوُسرن او دَ ريوس دريابونو په منځ کي غوره شوي هوار تم ځي کي دَ لُوسرن زمری کتلو په غرض وَدرېدلو -

---

دَ غره په لمنه کي په يو غټ پانْ کي تراشل شوی دَ لُوسرن زمری ، چي په 1792 کي دَ پېرسن په خاوره باندي دَ سوئس کارډ آف لوئيس XVI دَ ورستنۍ جنګي نخښې په سمون جوړ کړل شوی دی دَ کتلو وړ ځکه دی - چي په جنګي نېزې ، تُوري او ډهال باندي دغه زمری په وازه خله داسي پروت دی لکه يو ستړی فاتح عسکر چي دَ برياليتوب ورسته دَ سکون ساه اخلي -

دَ آرټ دغه شاهکار په لُوسرن نامي ښار کي داسي نوم لري ، لکه په پېرس کي چي يې ائيفل ټاوْر لري - نو ځکه مونږ هم ځانونه دَ تاريخ برخه جوړَولو په نيت ښه ډېر عکسونه واخيستلو او چي ورځخه غبرګېدلو ، نو داني راسره په ځنګ شو او واي -

" زه حېران په دې يم ، چې په دې زمري کې کوم داسې شی دی ؟ چې دومره نوم لري. ساده خو دی "

خوتر ما له مخه ورسره په څنګ کې روان روني ورته واي

" مسټر داني .. داسې که وَنه کړي ، نو بيا خو خلګ ورته نه راځي - اوس که ښه دی او که بد - دَ خلګو خطاکولو دپاره تاريخي حوالې ورکول کېږي "

" داسې به هم وي ، خو موږ په کې څکه هيڅ نه شو وئيلی ، چې دَ دريمې نړۍ هېوادونه او بلکې په تېره زما او ستا هېوادونه خو دومره هم نه لرو "

دا خبره چې مې وکړه ، نو روني واي

" شوقه ! موږ که هيڅ هم نه ، څه نا څه بُتان خو نو لرو ، چې دَ تاريخي اهميت لري لاکن.. "

" لاکن منې يې په چا ؟ ولې چې موږ خپله هم دومره په تيارو کې ايښې دي، چې کرار کرار زياته په رژېدو دي "

داني چې دا خبره دَ روني وَ خبري ته وده ورکولو دپاره کوله ، نو موږ درې واړه ملګري دَ ډائينګ لائن په وړاندې تېرېدلو ورسته په بس کې کښېښستلو او بس بيا په لُوسرن ښار کې رهي شو- په ښار کې ځای په ځای شنې جهنډې څکه راځړېدلې ښکاري ، چې دَ راتلونکې اپرېل په مياشتې کې دَ ميوزيک مقابله دَ هر کال په رنګه دې کال هم لمانځل کېدله -

دَ چېپل بريج سره کښته کېدو ورسته ملګري يوې بلې خواته په شاپنګ سېنټرانو کې دَ وينډو شاپنګ په غرض ډله ډله وَوېښل شولو- که څه هم دا علاقه دَ کتلو وه ، خو دَ نرې باران له سوبه يخ هم څه غوندې زيات وْ - په دې وجه خو زه ډېر ژر بيا دَ چېپل بريج په لور راچپ شوم او غوښتل مې چې چرته څه وَخورم - ولې چې ډېر وږی وم - او دَ لټون ورسته چې زه دَ يوه واړه رېستورېنټ وَ دروازې ته څنګه رسېدم ، چې ونېسا هم ګوره چې له کومې خوا

څخه په تېزو ګامونو تر ما راوَرسېدله - او دَ هېلو هاى كولو ورسته دوارہ دَ لنچ په نيت په رېستتورېنټ كي ور دننه شولو -

" نن خو هم ډنر په پروګرام كي ورګډ دى "

" هو.. دغسي خو نن سهار ميرنا وئيلو "

ما لا دَ هغې دَ خبري په ځواب كي دومره وئيلو ، چي ونېسا واي

" لاكن دا په پروګرام كي راګډي ډوډياني خو زمونږ دَ سېل كولو وخت هم خرابَوي - څنګه داسي دي كه يَه؟ "

هغې چي دا خبره كوله نو داسي يې په نېغه راته كتلو ، لكه هغه چي له ما زما خوښه لاس ته كوي - نو ځكه ما هم زړه وكړو او په سترګو كي مي سترګي ور اچولو سره سم په نرۍ موسكا كي پوښتنه وكړه -

" نو بيا ستا مطلب دا دى ، چي ډنر هم.. "

دې وئيلو

" هو.. هغه ډنر چي ما قول كړى وْ "

" لاكن بيا خو دا دَ اوس لنچ زما له خوا شو "

" دا هم زما له خوا دى "

" يَه يَه داسي بيا زه كله منم - آخير پښتون يم "

" څه دي وَوئيلو؟ "

ما ورته ژبه داسي واړَوله

" زما مطلب دا چي زه هم نر يم "

" که داسي خبره ده ، نو زه خو هم ښځه يم - او ښځه له چا کمه ده؟ "

او بيا دَ دې تکرار ورسته دواړو دَ مينو کارډ راواخيستلو او سترګي مو ورباندي غړَول شروع کړې - مخته دَ نورو نورو خبرو پرته دَ سوئټزرلېنډ دَ ښائيست او دَ دې ځای دَ خلګو په روئيو باندي مو ښې ډېري خبري وکړې -

لنډه دا ، چي دَ ډوډۍ خوړلو ورسته دَ څه نور وينډوشاپنګ کولو سره سره چي کله وَ نيږدې يوه سوئس واچ شاپ ته چي ورچپېدلو ، نو ونېسا واي

" شوق ! دا زړه مي غواړي چي په دې سوئس هېواد کي دَ ژوند په نامه داسي يادونه رقم کړم ، چي په درست ژوند مي بيا له زړه نه وَوځي "

دا خبره يې څه وکړه، چي ټول بدن مي زيږ شو ، او يو دم مي دا خبره زړه ته راغله او له ځان سره مي وئيلو..

" ښه ښه.. هم ځکه خو دې انجلۍ ماته دَ شپې ډوډۍ کړي ده .. خُدای دي کوي خېر "

او دَ راتلونکي وخت په باب به لا په سوچونو کي نور ورکېدم ، چي هغې په څنګلي وَ وهلم او پوښتنه يې وکړه -

" څه سوچونه کوې..؟ کور او يا بل څوک خو دي نه يادېږي؟ "

دا سوال يې څه وْ، لکه دَ پهانسۍ په تخته چې جلاد له مجرمه دَ آخيري خوائيش په حقله پوښتنه کوي - نو په دې وجه خو زه که څه هم وېرېدم نه ، خو دَ راتلونکي طوفان مخې ته مې دَ بارُو ترِلو ضرورت ډېر په شدت محسوسولو - هرڅه که هغه ښځه وه ، خو ما هم دَ نرتوب احساس له لاسه نه ورکولو - او بيا پښتون خو هم وم- ځکه مې دَ فرار لاره هم دَ مسْلې حل نه ګڼلو -

---

دَ پروګرام په سمه ځلورنيمي بجې ماځيګر بس دَ لُوسرن Lucerne ښار څخه چې مخته روانېدلو ، نو نرۍ نرۍ واوره هم ورېدله او هر لور سپين ګرِذ خپور وْ - او يو ځل بيا مورِ په ورِو غټو سُرنګونو کې مخ مخته تېرېدلو لګيا وْ - کينِ لاس ته درياب هم راسره سره مخته غزېدلو - خو کله کله به دغه درياب زمورِ وَ ښي لاس ته هم راجورِ شو - او دغه رنګه مورِ اودرياب له يو بله سره غارِې وتلو راغارِې وتلو -

دَ لُوسرن څخه دَ پنځلس منټو دَ سفر کولو ورسته مورِ په يوه دومره غټ سُرنګ ورننَوتو ، چې پوره اتهه منټه ورسته ورڅخه وَوتلو - او دَ ګائيډ له قوله دا ټنل **9250** ميټره اورِد او دَ دې هېواد دويم نمبر غټ ټنل دی - خو دَ خوند خبره مې دا په کې تر نظره شوه - چې په سلاوْ ټيوب لائټونو کې يو هم فيوز نه وْ - نو ځکه خو مې خپل هېواد راپه زرِه شو - چرته چې اول خو بجلي وي نه - بيا که وي هم ، نو له تمبو سره فقط دَ يو او آخيري ځل دپاره بلبونه لګول کېږي - ولې چې دَ شاته پاته هېوادونو دا کلتوري عادت ګرځېدلی دی ، چې که کله هم يوه نيمه تُوره دَ ترقۍ په باب وهي ، نو هغه دَ يو او آخيري ځل دپاره وهي - دا دَ Maintenance رجحان ګرسره نه لري -

دَ ميرنا له قوله..

" دا درياب چې له مورِ سره سره مخته غزَوني کوي ريوس Reuss نومېږي "

او دغه رنګه مورِ دَ سوئټزرلېنډ په ښائيسته او يادګارو ناوْ اولورِو ژوَرو کې پنځه نيمو بجو ته دَ فلئيولمن Fleulen نامې وارِه سوئيس ټاوْن چې دَ يو غره په لمنه کې آباد وْ ته

ورسېدلو - او بيا په نه ساعت کي دَ يو واړه درياب مخي ته جوړ هوټل چي Hirschen نومېدو کي تم شولو- هم دغه خو وْ هغه هوټل دی ، چي دَ ميرنا په قول ورته له ليري ليري ځايونو او هېوادونو څخه خلګ په دې سوب راځي ، چي دلته چپ له سکونه بل هيڅ نه شته -اوکه شته هم ، نو هغه دی فطرت ته نيږدې ژوند ، چي ورته سوئيس لائف هم وئيل کېږي -

داسي ښکاره کېدو ، لکه نن چي لمر په لومړي ماځيګرپټ شوی وي - لاکن يَه .. دا خو هغه اوريځ وه ، چي په مځکي باندي پرته وه -

---

" په څبرې باندي دي شوخياني نه ښکاري ، څه وجه ده؟ "

ونېسا دَ څه وخت دَ چپيا ورسته پوښتنه وکړه -

" يَه ..يَه خبر دی "

ما له دې خبرې څخه مخته خبره ځکه نه شوه بوتللی، چي ژبي ملګري راسره نه کوله - او دَ کوفي دَ يو غټ غوړپ کولو ورسته مي سګرېټ ته چي څنګه تلی ورته کوله ، نو هغې مي له خلې سګرېټ غوټه کړو-

" سګرېټ..؟ "

ما چي دومره وئيلو ، نو هغه وای

" ولي.. که يې نن وَڅکوم ، نو څه بده خبره خو به نه وي؟ "

او بيا يې سګرېټ ته تلی لمبه کولو ورسته يو غټ دم وهلو سره په نری موسکا کي وئيلو -

" زه پوهېږم ، چي ته له ما خفه يې "

دا خبره چي يې کوله ، نو لاس يې زما په ادوم باندي ايښى وْ- نوځکه خو مي په بدن کي وېښته وېښته دنګ وَدرېدلو او څه غوندي ورڅخه وَ څکېدم ، لاکن هغه وه چي زه يې خوشاله کول غوښتمه - هو ،که څه هم زه خفه نه وم اونه ما کله داسي ګيله ورته کړي وه - خو اوس ګوره چي چرته يې په خوب کي خو نه وم ماښېجن ليدلى؟ چي انجلى زما دَ شونډو موسولو په غم کي نه يوازي نيول شوي وه ، بلکې ځان يې ملامت ملامت هم ګڼلو او برسېره دَ هر څه دَ خپل ظلم کفاره يې هم اداکول غوښتله - خو بلي خواته زه وم ، ګوا يو پښتون چي دَ نه غوښتلو پرته هم دَ يار په ياری کي ورګېر شوی وم - او دَ هغې له موډ سره سره مي پښتني روئيې ، ژبه او جذبې اړَولې را اړَولي -

خبر.. دَ ډنر کولو ورسته چي دَ رېستورېنټ څخه دباندي راوَوتلو ، نو يخ کاڼي ماتَولو - ځکه په تېزو تېزو ګامونو دواړه دَ مستىۍ په اړه سمندر وزمه درياب سره سره مخته دَ هوټل په خوا روان شولو - هو..که څه هم ما هڅه کوله چي فاصله ژر تر ژره لنډه شي - خو هغه وه ، چي تندکونه خوړَلو په چپه هم په وار وار دَ خړو اوبو دَ هغو مستو څپو په لور ورغبرګېدله ، چي دَ هر څه څخه دَ فناکېدو پېغام يې په واز ګُومي اورَولو-

نه زه لېونى وم او نه هغه ، خو دومره راته معلومه وه .. چي زموږ په چپه تر ليري ليري پوري هيڅوک نه ښکاره کېدو- کله کله به مي داسي هم وَ سنجَولو ، لکه زما بدن چي به اوس يخى شي او بيا چي به مي ونېسا ته پام شو ، نو پښتني غېرت به بيرته مخته په تللو وَ پارَولم - هم دغه رنګه دَ لوى بادار لُور او زه که څه هم دَ فطرت په اړه اور او اوبه ، او دَ حېثيت په تول کي آسمان او مځکه وْ- خو بيا هم څنګ په څنګ چي څنګه هوټل ته وردننه شولو ، نو دَ هوټل په لابي کي هم چپ له يو سرې بل هيڅوک نه وْ - ځکه خو موږ هم دَ خپلوانو رنګه په خپلو کي دَ څه بُوښېدلو سم دستي په پوړيانو دَ دويم چهت په خوا داسي ژر ژر وروَختلو لکه غله ، چي دَ غلا موقعه يې موندلي وي - هو ، که څه هم حقه دا وه ، چي نه زه غل وم او نه هغه غله .. بلکې هلته زموږ خوني وې -

---

يو دم مي ستركي راخلاسي شوې او په پلنګ باندي جګ كښېنستم - په زړه كي مي وئيلو ، چي دا څوک كېدلی شي، چي زما دَ خوني وَوره ته يې لرګی راكښلی دي او ماتَوي يې - زړه كه څه هم تر حلقه پوري راغلی وْ او بدن مي ربږدېدلو ، خو همت مي وكړو او راولاړ شوم - دروازه چي مي ځنګه په وېره وېره خلاسه كړه، نو څه ګورم .. چي يو سوربُوژی ولاړ دی او څوكان يې دروازې ته نيولي وْ -

" اې وروره ! خېر خو دی ... څه پور دي راباندي دی؟ "

" مارننګ مارننګ سر "

او هغه په خندا داسي دَ بلي دروازې په لور روان شو ، لكه هيڅ چي يې نه وي كړي - ځكه ما چي هم ځنګه په خشم دروازه بنده كړه، نو يو دم مي دَ ميرنا هغه دَ سوئس ناک خبره راپه زړه شوه او داسي كرار وَموسېدم او غسل خانې ته دننه شوم -

كه څه هم له خوبه ځنګېدمه او وجود مي دَ برايه شپې دَ يخ او بې آرامۍ له سوبه مات مات وْ، خو دَ كاسموس دَ ټائيټ پروګرام له كبله دَ سوئس باتھ كولو ورسته اووه نيمي بجې خواته دَ ناري كولو په نيت لاندي لابي سره جوخت رېستورېنټ ته وركښته شوم -

دَ رېستورېنټ له غټو شيشو څخه دَ مخامخ غر ، چي په سر يې ډېره واوره پرته وه ډېر ښكلی ښكاره كېدلو - نو ځكه مي ژر ژر ناری وكړو او دباندي وَوتم - او دَ هوټل په دروازې كي ورته وَدرېدم - لا مي دَ سرابجن روح او تږي زړه تنده دَ ستركو په لار دَ قدرت په دې ښكلو ننداړو سمه نه وه ماته كړي ، چي دَ لوري ويوار او لوري اوګريک سره مي دَ هغوئ دَ مستيانو له لاري په واورو باندي دَ ويښتلو لوبه پئيل كړه - او بيا څه وخت ورسته چي ځنګه ځيني نورو ملګرو هم په دې لوبه كي برخه واخيسته - نو زه ساهكېدلی غوندي يوې خواته لا سم درېدلی نه وم ، چي تر ځنګه مي ولاړ كې -ابس - چان ، چي وْ نسلاً جاپانی ، خو په كښېنېدا كي استوګن وْ راباندي ژغ وكړو-

" های شوق ! دَ اروپا دَ شپو ژوند خو تا انجوای كړو "

يو دم مي په زړه کي راغلو ، چي چرته خو يې برايه زه او ونېسا نه وْ ليدلي - بيا مي خپله وَ زړه ته تسلي په داسي خبره ورکړه..

" ځه ياره .. دا څه مشرقي هېواد خو نه دی، چي په کي وصال دَ يارانو تر منځ ګناه ګڼل کېږي "

او په لوی زړه مي خبري ورسره پېيل کړې - که څه هم هغه لږ ډېر په لغازي انداز ژغېدلو ، خو ما يې هر څه ته له صفر سره ضرب ورکولو او خپل سپل مي کولو- او داسي مي محسوسولو لکه ما چي هم دغه منظرونه له ډېر پخوا په خوبونو کي ليدلو- ولي چي هر ننداره زما دَ خوب ننداره وه - او اوس خو دَ ونېسا دَ څو ګنټهو ملګرتيا دا سيمه زما دَ يادونو په کتاب کي دَ يو ښکلي باب په توګه هم نوښته شوي وه -

"چرته وې ته برايه شپه ؟ په ډنر کي هم نه وې "

څه وخت ورسته چي دَ تيار بس په څنګ کي ولاړ وم ، نو داني چي دَ روني او ونېسا په منځ کي تر ما پوري راورسېدلو پوښتنه وکړه - ما هم يو ځل ونېسا په سترګو کي سترګي واچولې او بيا مي ورته وَوئيلو -

"ويده وم.. او خوبونه مي انجوای کولو "

" ابکړ که... "

روني په شوخه لهجه کي فقط دومره څه وَوئيل، چي وار مي ژر تر لاسه کړو او ګويان شوم-

"وم خو يوازي ، لاکن په خوب کي به نو خامخا څوک خو راسره وْ "

او بيا مي ونېسا ته لاس وَغزَولو ، کومه چي تر ما هم زياته ټُوک برېښېدله-

غرض دا ، چي په 30م مارچ 1996 سهار پاوْبالا اتهه بجې يو ځل بيا دَ کاسموس کاروان دَ لُوسرن لېک دَ فلئيولم نامي ټاوْن څخه مخ په وړاندي پېښبه وکړه -

"څنکه ياست ، هې دَ کاسموس ملګرو؟ بيا هغه موږ يُو او سفر.. ګوا يوه ورځ به دا سفر هم لکه ژوند سرته ورسېږي او موږ او تاسو به په خوبونو او خيالونو کي سره وينو- "

ميرنا چي دا خبري کولې، نو زما سره په څنګ لاکن ښي لاس لائن کي ناستي ونېسا زما په لور په مړو مړو داسي راوکتلو لکه واي، چي

" شوقه ! ما ستا دَ ژوند په حسينو لمحاتو کي خپله څېره او دَ ځان په باب څو ستړي لمحې دَ يادونو په ډير داسي وکرلې ، چي اوس که وه هم غواړې.. نو ما به نه شې هېرَولی "

او بيا مي دَ دې سوچ ورسته ځکه په نېغ نېغ ورته کتلو ، چي زه هم دا ورته وَوايم ، چي

" ونېسا ! ګوره، چي ته به هم دَ پښتنې غوندي وفا ته ملا وَتړې ؟ که يَه خبره به هغه دَ پښتو دَ متل وي .. ګوا يار تر کوڅه تېر کړه، رنګ يې هېر کړه وي - ولي چي ته خو دَ هغي ټولني غړې يې ، چرته چي مينه هم دَ Dating love په رنګه څېرې بدلوي "

نور نه يم خبر، خو کله چي به مي سترګي سره څلور شوې ، نو به يې خله خندا ته نه جوړېدله- هو خود لکه چي هغه هم دَ برايه دَ خپل زړه دَ خواږه رنځ له سوبه نه وه ويده شوي-

دَ څه مزل کولو ورسته ميرنا په ډکه خله خندا کي واي

" تاسو به نو خامخا په سوئس ناک خوند اخيستی وي؟ "

دومره چي يې وَوَئيلو ، نو په بس کي دَ خندا کړيکي شروع شوې او هر يوه وَ خپل نيږدې ملګري ته خپله خپله کيسه پئيل کړه او تر ډېره پوري په بس کي ژغژغه وه چي سفر يې نور

نور دَ سپل او ناستو ملګرو دَ موجودګۍ په احساس خوړولو- لاکن یو وخت بیا دَ ګائیډ ژغ په سپیکرانو کي خپور شو او واي

" هغه ګورئ .. دَ روډ وَ کیڼ لاس ته چي کوم خلګ په وردۍ کي وینئ - هغوئ دَ چمني درېشي کوي او دا به هم وَوایم ، چي په خپل وخت دغو وښو ته کهاد هم ورکول کېږي "

او دا هغه علاقه وه ، چي دَ جغرافیائي ښکلاګانو پرته تر لیري لیري پوري په دې شنه یخ کي هم شنې درختي او تک شنه بوټي یو آرټسټ ښه متاثره کولی شي- او زه خو بیا شاعر وم ، داسي منظرونه ما له ځان او جهانه باسي - هم ځکه مي دَ " ژوند که فرېبي جنت؟ " نامي نظم بیا ټوله ورځ دَ تکمیل په لوري په سوچ کولو باندي هڅولم-

" نن شپه به ګهړیاني یو ساعت دَ سمرټائم په سمه مخته کول کېږي - او دَ سبا ټول شیډول به دَ سمرټائم په سمون سرته رسول کېږي .. دا په یاد لرئ "

ګائیډ چي دا وئیلو ، نو موږ دَ Arth نامي ټاوْن په اړخ کي تېرېدلو اودَ فضا ښه هم تر ډېره هانده صفا شوي وه - څنګه څنګه چي بس مخته لاره لنډَوله ، دَ سړک دواړو څئیو ته ځای په ځای جوړ دَ رنګېدلي چتهونو وړې او غټې ودانیاني نوري نوري واضح کېدلې - په هر ټاوْن کي دَ فقط یوه چرچ هسکه میناره ډېره ښه ښکاري -

اوس چي موږ دَ یوې شنې غونډۍ په لمن کي تېرېدلو ، نو میرنا وئیلو-

" دلته دَ هر چرچ وختي ژنګ تر لیري لیري پوري ځکه اورېدل کېږي ، چي علاقه ټوله غریزه ده - ژغ په کي ایکو پیدا کوي "

او بیا یې یو دم خبره داسي واړَوله..

" دلته Tip ورکولو رواج تر نورو اروپائي هېوادونو زیات دی - هر ځای ټیپ اخیستل کېږي - څوک چي ټیپ نه ورکي نو هغه بد ګڼل کېږي "

هو.. برایه ما دا خبره محسوسه کړي وه ، ګوا چي په رېستورېنټ کي يې سروس کولو ، نو ټېبل بوای یا انجلۍ به لکه زما دَ هېواد هوټل بارو الا تر هغو نه تلو ، چي مایوسه شوی نه وي یا یې څه ورنټولي نه وي - او نه یوازي دَ دې فلاحي مملکت خلک څه غاور طبعیته هم دي او وئیل کېږي چي..

"جرمن سوئس په طبعیت کي اضطراب لري، آستږین سوئس ټوکیال طبعیته او موسیقي خوښوي - دغه رنګه فرنچ سوئس نخرې بازه او فېشنیان دي - لاکن اتالوي سوئس څه غوندي زیات مذهب پرسته او قدامت پسنده یاد ېږي "

په سوئټزرلېنډ کي ډېمونه(خېزۍ) دومره ډېري دي، چي ورته دَ ناوْ دَ هېواد پرته دَ خېزئیو هیواد هم وئیل کېږي - دَ سوئټزرلېنډ دَ نندارو په حقله به دا وَوایم، چي دلته دَ هر څو کلومیټره ورسته نوي او بېل رنګیځه نطارې سترګو وړاندي راځي - هم په دې خو ورته جنت وزمه خاوره هم وئیل کېږي -

دَ زوګ Zug نامي ټاوْن ، چي دَ میرنا په قول آبادۍ یې **15000** تنه ده سره په اړخ کي تېرېدلو په وخت ما داسي سنجولو ، لکه دا کلی چي هم ما کله لیدلی وي - هو داسي دلته دَ هرچا په مزغوکي یو نیم ځای راځي-

څه مخته وَ کینږ لاس ته ولاړې له یوې زړې کلا ، چي اوس دَ زړې وسلې عجائب ګهر دی کودارګن نومېدله څخه مخته وتلو په وخت فضا ډېره صفا وه او هر څه داسي برېښېدلو ، لکه پرېمنځلي چي يې وي -

---

هغه مځکه ، هغه ماحول ، خو دَ میرنا په قول موږ اوس په نوي هېواد لېچټنستاځن ، چي یو نیم ځای یې خپل بېرغ هم رپېدلو ته پېښه وکړه -

"زه دَ کاسموس له خوا تاسو ته په لېچټنستاځن کي ښه راغلی وایم "

او بيا يې په خوږې خندا کې وئيلو

" وايمه ، چې مسټر دانيال که په دغه سپيډ ، چې په يوه ګنټهه کې تر دېرش کلوميټره زيات نه دی کې روان وي ، نو هم کېدلی شي دَ دې هېواد دَ ببخې لنډې پېژنګلوی دَ مخه موږ ورڅخه وَ وځو "

په دې خبري باندي په بس کې ناستو ملګرو سره زه هم حق حريان پاته شوم او دَ هرچا په تندي باندي دَ هغې دَ خبري دَ وضاحت په حقله سوالونه لوستلو ورسته ګائيډ واي

" هغه ځکه چې دا هېواد چې په دې وړه ناوه کې آباد دی ، تش **160** مربع کلوميټره علاقه لري او په کې **28181** خلګ مېښته دي - دغه ټاوْن وزمه ښار وادُوز Vaduz چې دې وخت موږ په کې روان يُو يې دارالحکومت دی - دلته دستوري باچهي ده او کرنسي په کې دَ سوئس فرېنک چلېږي ، خو سرکاري ژبه يې جرمني ده "

په زړه کې مې وئيلو ، چې دا خو هېواد نه بلکې کلی دی او باچا به يې هم دَ وړوکي خان يا ملک څخه غټ نه وي - دَ وړو او ځينو غټو بلډنګانو په منځ کې په روډونو باندي يوې بلې خواته ګرځېدلو ، چې ميرنا زموږ پام دَ هغه کلا وزمه ودانۍ په لور واړَولو ، چې مخامخ دَ غره په سرباندي جوړه وه او وئيل يې -

" دَ دې هېواد باچا دَ هغه غره په سرباندي جوړ محل کې اوسېږي ، له کومه ځايه چې ښه په آسانۍ باندي دَ درست هېواد پُولي ښکاري "

او په دې کليوال هېواد کې دغه دَ باچا غونډۍ خو وه ، چې دَ سېلانيانو پام يې په هغې خوا وراړَولو - ټوْرستېان ورته په زيات شمېر راځي هم ځکه ، چې هر هغه څوک چې دَ سوئټېزرلېنډ ويزا لري ، هغه دا هېواد هم کتلی شي - ګوا خپله ويزا نه لري -

په تنګۍ او اوږدې ناوې کې مېښته دا هېواد دَ زراعت سره سره ځيني کارخانې هم لري او يا ښه سکولونه ، چې په کې زياتره دَ نيږدې هېوادونو هلکان سبقونه واي - خو دَ معاش زياتره اړه يې په سياحت باندي ده - او دَ غره په سر باندي جوړ دَ باچا هانس ايډم محل وادُوز کاسل نومېږي - چې په دولسمي صدۍ کي جوړ کړل شوی وْ - له ليري څخه هغه محل دَيو پښتون خان له ختېو او کاڼو جوړ کور برېښېدلو ، خو تک شنه غره او دَ غره په لمني کي جوړ کورونو يې ښائيست ځانګړی کړی وْ -

غلط به نه وي که وَوايم ، چې دَ يوې ګنټې په سپل کي موږ بيا دَ دې هېواد زياتر سيمي تر سترګو وَايستلي - هرڅه هرڅه ، خو دَ دې هېواد يو بل اړخ ته غرونه دَ سوئس هېواد په مقابله کي که څه هم لږې ډېري وچي کلکي او ډبَريني پرشي هم لري - خو لمني يې په وړو وړو مځکو کي دَ کروندو دپاره جوړي کړل شوي وې -

په دې هېواد کي ځيني خلګ دَ خپلي مطالعې په سمه ژغولو ورسته چې دَ فلپائني ملګرو سره په يوه رېسټورېنټ کي وردننه شوم ، نو ګورو چې هلته ونېسا له هغه مسټر چان سره په مېز داسي جوخته ناسته وه ، لکه هغه چې يې خپل يا دَ مور يار يا مېړه وي - او دواړو که څه هم موږ وَليدلو ، خو داسي يې سترګي واړَولې لکه ګرسره چې يې ليدلي نه يُو -

" دغه خو مسْله ده په دې امريکايانو کي، چې وفا نه لري "

".. او دَ خپل غرض پوره کولو ورسته لاس هم ايله کړي "

هلته په کونج کي دَ يو وړوکي مېز شاوخواته کښېنستلو سم دستي چې ما دَ ملګري روني په رائې باندي رائې ورکړه ، نو داني دَ موسېدلو ورسته واي -

" مسټر شوق ! که غواړې نو به بل رېسټورېنټ ته لاړ شو "

ما به لا اوس ګپه ورسره منله ، چې روني له خشمه واي

" Fuck her موږ څله ځو ، هغوئ دي لاړ شي که يې.. "

او په دې کلکې شکنځا يې موږ په دومره غټې کړيکې وهلو مجبوره کړو ، چې چان او ونېسا هم زموږ په لور وَکتلو ، لاکن په ډېر کاربدلې نظرونو-
اوس که څه هم موږ ګپه په بل لور اړَولې وه ، خو له مزغو مې هغه مُرداره امريکنه نه وتله او په وار وار به مې دَ سترګو له کونجو ورته کتلو - اوس که هغوئ هره ګپه کوله ، خو زه دَ غله غوندې په دې خبرې باندې ورته يشېدم ، چې چرته.. هو هغسې ګپه خو نه سره کوي ، کومې چې پرون موږ تر منځه کولې -

---

دَ اروپا دَ دې واړه کلې وزمه هېواد Liechtenstein له مرکزه چې بس څنګه مخته رهې کېدلو ، نو دَ ونېسا په څنګ کې اوس دَ سهار په شانې پېغله Mae نه ، بلکې هغه دَ هوس مرئييچان ناست وْ او دواړو ډېر په خوند ګپه کوله - هم دغه وجه وه ، چې ماهم دَ هغې په... باندې اور لګولو په نيت په خپل څنګ کې ناستې کائيکو سره ګپه خوږه کړه او دَ هغې په سنجيده خبرو مې هم هڅه کوله چې وَخاندم -

" دَ سوئټزرلېنډ هغه ريټائرډ خلک چې هست من دي دَ ژوند آخيري شپې او ورځې دلته تېرولو دَ پاره استوګنه خوښوي - ولې چې دَ ډېر پُرسکونه هېواد سره سره دَ بې ځايه قسم قانوني لارو چارو څخه آزاد هم دی "

په ډائرئ باندې دَ ميرنا دغه خبرې اړَولو ورسته چې څنګه ما سر پورته کړو ، نو څه ګورم چې ونېسا په ما کې سترګې داسې ښخې کړې وې لکه هغه چې هم ښه ډېره... هو ، ځکه خو چې يې څنګه سترګې راسره څلور شوې - نو دَ لغازې موسکا سره يې سمه خله هم کږه غوندې کړه او بيا يې کائيکو ته سترګې ور اړَولو ورسته داسې په خشم مخ په بله واړَولو - لکه هغه چې له کائيکو سره دَ تاوْده مجلس کولو په سوب له ما خفه وي - بس بيا نو څه وْ ، ما نورې نورې مالګې دَ هغې په پُرهارونو دُوړَول شروع کړې - او "زېرى دَ مينې " نامې نظم خو هم دَ دې موقعې په سمون په ريکارډ راغلو-

دَ لېچټنسټائن څخه دَ وتلو له مخه چي بس دَ يو دنګ غره په لمن کې رهي وْ ، نو دَ کينڼ لاس په خوا جوړ ستېډيم وزمه ځای په لور ميرنا زموږ پام اړَولو په وخت وئيلو-

" دا دَ لوبو ميدان نه ، بلکې ګنج دی او دلته اسپي او غويان خرڅول کېږي "

او له دې ګنج څخه سم دستي موږ دَ پارليمنټ هاوْس ودانۍ وَ ښي لاس ته پرېښوله او په شل منټه کي دننه دننه بيا دَ کاسموس بس دَ آسټريا دَ بارډر دَ پلازو مخته دَ اِن آوټ کولو په غرض برېک شو-

" داسي راته ښکاري ، لکه موږ چي به ډېر ژر درسته نړۍ داسي تر پښو وَ باسو ، لکه سړی چي په نه ساعت کي په يو واړه کلي کي شاوخوا راوګرځي - او دلته مي زړه لړهغه خبره ، چي نړۍ ته په کي کلی وئيل شوی دی هم وَ منله - ولي چي دَ اروپائي دَ هېوادونو دَ سېل په مستۍ کي ورځي شپې داسي مخ مخته اوينټلې ، لکه ساعتونه او دقيقې "

دومره مي لا وَ ډائرۍ ته نه وْ سپارَلي ، چي ميرنا بيا په پاسپورټونو باندي ټاپې لګولي وې ، چي بس ته راوختله او په ساهکېدلي خواږه اندازکي واي

" آسټرين په دې وار ښه دي.. په خبرو باندي هم باور کوي "

او مخته يو ځل بيرته دَ يو بل نوي هېواد دَ کتلو هيلو په سېلانيانو کي اضطرابي کېفيتونو زېږېدني پېئيل کړي وې او هر چا غاړي داسي غزَولې لکه ډېر څه په لږ وخت کي دَ ليدلو هڅي کوي-

*****

# دَ ژوند په خوندونو کي مورږ هېواد

څنګه چي زمونږ بس دَ لېچټنستائن څخه دَ آسټريا وَ هېواد ته پېښنه وکړه - نو له دې سره سم دَ دولس بجو سائرن ، چي ورته يې Satureday Noon وئيلو هم وَژغېدلو او دَ ايل درياب River ill سره په ځنګ ځنګ مخته روان شولو -

" يوهو.. آسټريا ته ښه راغلی وايم "

دَ کاسموس اسکارټ ميرنا له دې خبري ورسته په بس کي تر نيمو زياتو ملګرو په ګډه يوهو يوهو ، هي هي هو هو غوندي کورس وئيلو سره سره که خپړي هم وَهلې ، خو ميرنا هم له چا کمه نه وه ، له خندا سره سم يې لاسونه هم يوې بلې خواته داسي ځنډلو ، لکه اوس چي به ګډېږي -

" په منځنۍ اروپا کي آباد هېواد آسټريا ، چي دَ اوو هېوادونو تر ميان په **83853** مربع کلوميټرانو باندي خپور دی او په خپله خاوره باندي تر اووه نيم ميلئينه زيات خلګ ، چي جرمني ژبه واي اوسېږي - دَ غرونو يوه غټه سلسله په کي هري خواته دَ جال غوندي خوره ده او په کال کي شپږ اووه مياشتي ورباندي واوره پرته وي - نو ځکه خو دلته دَ سکائينګ ( په دوْ دړو باندي دَ لګړو په کومک په واورو دَ ښوېدلو لوبه ) ښېخي ډېر خوښَول کېږي او دَ يوې اندازې په سمون **50** مشهوره ځايونه دَ سکائينګ دپاره غوره شوي لري او خپل هېواد دَ لوبغاړو پرته دَ نړۍ دَ بېلو بېلو هېوادونو څخه سکائرز ورته راځي "

هغې چي دا خبري کولې ، نو زمونږ وَ يو اړخ درياب او بل اړخ ته په ځنګلي ونو کي پټه دَ غره لمن وه ، چي په کي تک تور سړک مخته غزېدلو باندي زمونږ کاروان رهي وْ - او ځای په ځای مو کروندې ته جوړي مځکې هم شاته پرېښولې - ګوا دَ دې ځای دَ خلګو دَ معاش په وسيلو کي زراعت هم لويه برخه لري -

بل دا ، چي که څه هم دَ دې هېواد مځکه په خپله لمن باندي 37 فیصده ځنګلونه لري ، خو دا ځنګلونه دَ غټو او ګڼو ونو له سوبه داسي برېښي ، لکه درست هېواد چي په ځنګل کي پروت وي -

"دَ آسټریا دارالحکومت ویانا نومېږي ، چي په جرمني ژبي کي Wien هم ورته وایي ډېر غټ او انټرنېشنل ښار دی - له دې پرته Graz , Linz او SalzBurg هم غټ او نامي ښارونه دي - په آسټریا کي سرکاري مذهب رومن کېتهولک دی - لاکن دلته تر شا پاته شوْ هېوادونو مذهبي آزادی زیاته ده - کرنسي يې شیلنګ Scilling نومېږي "

دا خبري چي مي کوم وخت تر غوږو تېرېدلې ، نو موږ وَ خپل کینې لاس ته له دوه چتهیزه ، خو بې ځلور دېوالیزو ودانیانو څخه تېرېدلو - که څه هم هغه ودانیاني په څه څه واټن باندي جوړي وي ، خو تر نورو اروپائي هېوادونو غټي ځکه دي - چي وئیل کېږي ، دلته څه څه روایات دَ غټو کورنیانو هم شته - چي په کي واده دَ جوړې او دَ هغوئ دَ بچیانو سره سره مور او پلار هم اوسېږي - حقه خبره ده ، چي دَ دې سیمي خلګ دَ ربښتو په حق کي راست برېښي او ملګرتیا يې هم څه وخت باسي -

" دلته چي تاسو هر لور دَ کروندو دَ پاره مځکي جوړي وینئ .. نو دَ دې دا مطلب هم نه دی ، چي ګني دا خلګ تشه کشت کرونده کوي - بلکې دلته صنعتي ژوند هم ډېر مخته دی - او بل دَ پټرولو او نور معدنیات درلودلو سره سره کمبلي هم په دې هېواد کي جوړېږي "

کمبلي؟ په دې توري باندي میرنا کېدلی شي، چي په دې وجه زور ورکړو ، چي دې وخت موږ له کومي سیمي تېرېدلو ، هلته په څه فاصله باندي دَ غره څوکي په واورو کي پټي وې او داسي ښکاره کېدلو لکه دباندي چي ډېر یخ وي -

په آسټریا کي سُرنګونه تر سوئټزرلېنډ هم ډېخي زیات دي او دَ هر څو کلومیټرانو ورسته بس دَ یوه نا یوه ټنل دننه تېرېدلو - کله کله به په یونیم فلائي اوور باندي هم تېر شولو - روډونه ښه دي لاکن دَ روډ په دواړو څئیو باندي يې بریښېدونکی ماحول دَ سوئس هېواد په سر نه وْ -

ځنګه ځنګه چي موږ مخته لاره لنډوله ، نو له واورو څخه ډکي سپيني مځکي دَ غرو په لمنو کي زياتي تر سترګو کېدلې او دَ غرونو څوکي هم وار په وار دَ آسمان په لور ور غزېدلې لګيا وې - ځای په ځای به دومره ګڼ ځنګلونه مخي ته راغلو ، چي بې دَ شنېزې به تر ليري ليري پوري بل هيڅ نه ښکاره کېدلو - خو بيا به يو دم داسي علاقه هم راغله ، چي دَ ډبرو او دَ غرونو دَ وچو پانهونو او پرشو پرته به بل يو شی نه برېښېدلو - او ما به داسي سنجولو ، لکه زه چي په خپلو ناوْکي دَ خپل کلي په لور رهي وم -

" په دې ګڼو ځنګلونوکي پټ دا غټ غرونه چي اوس هم واوره وربانديي پرته ده که څه هم دَ کوه پېمايانو دَ پاره دَ زړخوښی ډېر څه شته ، خو دومره يخ وي په کي ، چي کله کله يې درجه حرارت تر منفي 25 ډګری سنتي ګرېډه هم لاندي وَلوېږي "

دَ څورلس کلوميټره اوږد سُرنګ څخه راوتلو سم دستي ميرنا دا خبره وکړه او بيا يې دَ آسټرينو په باب وئيلو -

" داسي خو په درستي اروپا کي دَ اتهلس کلونو ورسته هر ځوان او پېغله دَ ژوند دَ لاري ټاکلو په اړه خپل واکه دي ، خو دلته په آسټريا کي داسي رواج نه شته - هو وجه يې دَ لويو کورنيانو رواج کېدلی شي - که يَه نو دَ دې ځای دَ وفاداری خاصه لوی لاس په کي لري "

خبره چي تر وفاداری راغله، نو ما دَ ونېسا او هغې زما په لور داسي وَکتلو لکه هغه چي ما او زه هغه ملامته ګڼم - لاکن څومره چي دا په خپله امريکائي موډ غره وه او زه يې ماتَول غوښتلم ، نو زه خو هم پښتون وم - هو په خپله هوډه ولاړ پښتون - چي که په مينه کي سر بائيللو ته ملاتړي ، نو دَ کرکي په وار هم له چا کم نه - دغه خو وجه وه ، چي هغې خپله او ما خپله کوله - ګوا دَ دې کرکي دَ راپارېدلي احساس له مخي زه دَ نه غوښتلو پرته هم له کائيکو سره او هغې له چان سره ګپه خوږوله - هغې څله داسي کولو ؟ په دې که څه هم هغه خبره وه خو زه نه وم خبر - په دې سوب خو مي په ... ورته تبه وه -

" دَ آسټريا خلګ دَ ميوزيک ډېر شوقيان دي - نه يوازي يې په خوند خوند اوري ، بلکې که لار پيدا کړي ، نو خپل قسمت هم دَ سندرغاړي په توګه ګوري - او بل دَ دې هېواد وائن هم په درسته نړۍ کي ښه لوړ نوم لري - لاکن تر ټولو دَ خوند خبره په دې خلګو کي دا ده ، چي ټوکي ټکالي نه يوازي زياتي کوي بلکې خوښَوي يې هم - ګوا دَ خوشاله طبيتعه خلګ دي "

ميرنا چي دا وئيلو، نوما دَ ستر موسيقار موزارټ په حقله دَ سوچ پرته داسي هم محسوسَولو لکه دا چاپېريال چي دَ عاشقانو استوګن ځای وي - او په هر دوراو زمانه کي ورباندي دَ ميني راج پاته شوی وي - او بيا ځوکه ځوکه دومره له ځانه دَ خيال او خوبونو په لارو کي ورک او وَ وېښېل شوم ، چي ما ګڼلو لکه زه چي خپله موزارټ يم -

هم دغه هغه موقعه وه چي " دَ موزارټ په موسيقي کي " نامي نظم دپاره تهيم مي په مزغو کي غزوني پئيل کړي وي او ورو دَ تکميل په لور روان برېښېدلو - هو ، که څه هم په درسته ورځ دا تهيم نظم نه شو، خو وَ ډائرۍ ته مي وَ سپارلو، (کوم چي بيا په دې بله ورځ دَ موزارټ په ښار سېلزبرګ کي نظم شو ) -

لنډه دا ، چي دَ دې شاعرانه موډ پرته مي هم دَ کائيکودَ ماتي ماتي او وړې ژبي په مجلس هغه دَ شګاګو دَ پېغلي ونېسا باړ نه ماتېدلو - او نه مي له مزغو ځخه هغه وتله - ځکه خو مي بيا بيا سر دَ هغې په لور داسي کړېدلو لکه زه چي مات شوی وم ورته - هو که څه هم حقه خبره دا وه ، چي دَ خوائش په مرۍ مي پښه اېښې وه -

يوه نيمه بجه دَ آسټريا په ښائيسته او تنګو ناوْ او ټنلونو کي موړ دَ اِنزبروک Inns Bruck نامي ښار څخه 25 کلوميټره دې خواته له اِن درياب River Inn سره چي په څنګ کي رهي شولو او ميرنا وئيلو -

" اِن دَ دې درياب نوم دی چي ورسره سره موړ مخته روان يُو او بروک په دې درياب باندي جوړ پُل ته واي - نو ځکه کوم ښار چي زموږ منزل مقصود دی هغه اِنزبروک دَ آسټريا يو مشهوره ښاردی - چرته چي به دَ ستې سېل ورسته ماښام په تاريخيً هوټل ډولنګر ، چي قريباً 400 کاله پخوانی جوړ دی کي شپه تېرَوْ "

او بیا یې واوْ.. یوهو غوندي نارې وهلو ورسته وئیلو -

" په آسټریا کې خواږه هم ډېر ښه او خوندَور مشهوره دي - ارزانه هم شته ، خو ګران یې ښېخي ګران هم وي - ګوا له سلاد ، برګر څخه تر چرغې او بوفې پوري خوراکونه ځای په ځای لاس ته راتلی شي "

دا خبره چي یې سرته ورسوله ، نو لس منته ورسته بس هم دَ غټ او ډېر ښائیسته روزن نامي رېسټورېنټ مخې ته وَدرېدلو او ټول ملګري دَ غرمې ډوډۍ خوړلو په نیت له بس څخه کُوز شولو -

---

زه او فلیپینو ملګري بېلا بېل خوراکونه په لاس کې یوه کېښن وزمه کونج کې پروت خالي مېز ته ورسېدلو او چي لا سم کښېښستي نه وْ ، نو داني واي

" یار دي په څه حال دی ؟ "

" کوم یار؟ "

ما هم ځان ناخبره غوندي اچولو ورسته چي بیرته له هغه څخه پوښتنه وکړه - نو روني وَخندل او واي

" واه ..اوس یاران هم نه پېژنې "

ما بهلا ورته څه وئیلو ، چي بیرته خپله واي

" هغه یار "

ما چي دَ رېستورېنټ دَ لوي دروازې په خوا وَکتلو ، نو ګورم چي هغه امريکنه ښځه چي په نه څه له ما خفه وه له هغه چان سره ګډه دننه راروانه وه -

" عجيبه خلګ دي دا امريکائيان هم؟ "

" له تا څخه څه ، دا خو له موږه هم خفه ښکاري لکه چي؟ "

دَ داني دَ سوال په ځواب کي روني هم دَ ونېسا په لور کتلو ورسته شک ښکند کړو - لاکن ما ورته وئيلو

" يارانو ! هغه پوهـ شوه ، دَ هغې کار - موږ ولي خپل مازغه ورباندي ګرځوْ "

" هو ابله کوه يې - لاکن زه به ګيله ورڅخه کوم ضرور "

دَ روني له دې خبري سره سم موږ خبري په بله واړَولې او دَ تودې کوفي څخه مي خوندونه هم اخيستل شروع کړو - مخته خبري دومره دَ ټوْر او ملګرو په حقله شوخي شوي ، چي دَ روني په پرله پسې ټوکو باندي زما او دَ داني خلې وَ ټولېدلو ته نه جوړېدې - زموږ له کړيکو په هوټل کي ناستو خلګو څه ، چي دَ انکل سام لمسی هم زموږ په لور په برګو راوَکتلو ، خو بيا يې هم خله خندا ته نه شوه جوړه -

دَ ډوډۍ خوړَلو ورسته چي دَ روزن هوټل څخه دباندي راوتلو ، نو ګرېګ او ونيلا هم راڅرمه شولو - او ټول په ټولۍ کي دَ بس مخته وَدرېدلو او دَ کاسموس دَ سېل او انتظام په باب مي خورا ډېري خبري وکړې - او ونيلا چي تر ډېره چپ وه ، په آخير کي واي

"ښه به دا وْ ، چي په دې سېل کي له هوټله تر هوټل پوري تګ نه ، بلکې ځای په ځای مو کېمپنګ کولی "

دا خبره يې لا سرته نه وه رسولي ، چي مسته لارا هم راوَرسېدله او په شوخۍ کي واي

"ولي تاسو نه ځئ ؟ چي ونيلا دَ کېمپنګ مشورې درکوي"

روني وار لاس ته کولو ورسته واي

"څه لېوني خو نه يُو، چي"

دا يې لا نه وْ وئيلي، چي ګرېګ په خندا کي واي -

"نو دَ دې مانا دا شوه، چي زما خوږه ونيلا لېونۍ ده"

او له دې سره سم موږ په ډکه خله خندا وَ بس ته ختل شروع کړو -

بس چي څنګه په موټروې باندي رهي شو، نو ميرنا وئيلو -

"فقط پنځلس منټه ورسته به موږ وَ اِنزبروک ته وَرسېږو"

دې وخت زموږ کينې لاس ته دَ رېل ګاډۍ پټړۍ هم راسره سره مخته غزېدله او څه وخت ورسته چي موږ کله دَ Inns Bruck په ښار کي ورددننه شولو، نو ګائيډ واي -

"دا دَ آسټريا هغه ښار دی، چي شاوخوا يې غرونه ولاړ دي او دلته دوه ځله دَ اولمپک لوبي شوي دي.. ګوا په کال 1964 او 1976 کي - بله خبره دا، چي دې يو اړخ او بل اړخ په دنګو غرونو کي خورا ډېر ځايونه دَ سکائينګ دَپاره غوره شوي دي"

"ګوا دا ډېر سوړ ښار دی"

راسره په څنګ کي ناستي کائيکو هم چي څنګه وَوئيلو، نو ګائيډ خبره داسي کش کړه

" دلته هره پنځمه نوکری د سپورټس په اړه سپارل شوي ده - ګوا دومره په زيات شمېر Winter Sports کېږي - د ويانا ورسته دلته ښځي زيات طالبعلمان ، چي په شمېر **25000** يادېږي په هاسټلانو کي اوسېږي- کوم چي د دې ښار د درستي آبادی پنځه فيصده دي "

او بيا د ټولو سېلانيانو پام خپلي خواته اړولو ورسته واي -

" دا خبره مي نوټ کړئ او ګورئ ګورئ چي په هېره هم لاندي د زميني سېل په وخت له ما فرمائيش نه وکړئ- هغه ځکه چي د دې ځای د قانون له لاري ، دلته بې د لوکل ګائيډه بل هيڅوک سفري کمنټري نه شي کولی "

د اِن درياب په سر جوړ پُل باندي بس تېرېدلو ورسته موږ د دې زاړه ښار انزبروک ، چي په نهمه صدی کي يې بنياد ږدل شوی وْ کي د سټي سېنټر په لور مخه وکړه -

د انز په غريزه ناوه کي جوړ دغه ښار داسي ښکاره کېدلو ، لکه موږ چي د آسټريا د خګو په باب يو فلم ګورو - ولي چي دا ښار د غټو او خپل ځانګړو مانيانو او ودانيانو له لاري تاريخي ورثه برېښېدلو - دېوالونه يې ډېر زاړه او تر ډېره هانده رژېدلي هم وْ -

په لاره کي چي کله موږ د يوه پخواني چرچ چي په کال **1599** کي جوړ کړل شوی وْ او ميرنا له قوله .. دې ځای ته پوپ هم په دوره راغلی وْ سره په څنګ کي د رېلوې سټېشن و خواته تېر شولو - مخته د اېډم برائي، چرته چي لوکل بئير خرڅېږي و خپل کيڼ لاس ته پرېښولو ورسته د ښځي زوړ او تک ژېړ هوټل يوروپا له مخه وتلو سره سم د سټي سېنټر په لور پېښه وکړه -

په سيټي سېنټر کي د ګوزېدلو ورسته لوکل ګائيډ ، چي زړه ښځه وه په راهنمائي کي د دې سټي سېنټر په شاوخوا علاقو کي ګرځېدلو ورسته د ګولډن رُوپ (د سرو زرو چهت) په خوا وَره غلو-

" دا ګولډن رُوپ ، چي په ښکاره دَ بالکوني چهت دی ، له اصله په **2000** ژېړو ټائيلونو باندي جوړ شوی دی - او دا ټول ټائيلونه دَ سرو زرو په اوبو باندي پرېمنځل شوي دي - دا چهت په شپاړلسمه صدۍ کي باچا سلامت په خپله خوښه ډيزائن کړی وْ "

له دې ځايه موږ کرسټل شاپ ته يوړل شولو ، چرته چي دَ کرسټل څخه جوړ شيان دَ هيرو په قيمت خرڅول کېږي - لاکن بيا يې هم خلګ ځکه اخلي ، چي دَ دې شاپ شيان په نورو ملکونو کي ډېر ګران اخيستل کېږي -

دَ انزبروک په زياترو برخو کې سېل کولو ورسته بيرته په ستې سېنټر کي دَ يوې ګنټهې دپاره خوشي کړل شوْ - دې وخت دومره يخ وْ ، چي که دا وَ وايم ، چي داسي يخ ما کله هم په ژوند کي نه وْ ګاللی ، نو غلط به ځکه نه وي ، چي دَ نري باران او نرۍ واورو سره سره سړې هوا دَ بدن له هډونو غوښې بېلولې - لاکن بيا هم هغه زه وم او زما لېونی شوق.. چي دَ جنون وَ پُولي ته په رسېدو وْ -

دلته چي ما کومه خاص خبره وَليدله ، هغه دا وه چي دَ دې دومره يخ پرته هم زياتره پېغلو هاف سکرټونه اچولي وْ - او پښې يې تر ادومانو پوري لغړي يا نرئيو ماسيانو باندي پټې کړي وې - او بل ، خلاسو ځيګرونو يې هم داسي څرګندولو ، لکه دَ دې ځای پېغلي چي په فطرت دَ هغو سپينو اېژانو په رنګه وي ، چي په واورو کي ژوند کوي او په وچو دښتونو نه-

بلې خواته زموږ ملګري پېغلي وې ، چي ځانونه يې سرتر پښو داسي په کوټونو او وړو غټو مفلرانو کي نغاړلی وْ ، لکه دَ درست جهان ساړه چي په هغوئ ورمات شوی وي -

" اور څه وي ، جامه او ټُوکر څه وي ؟ "

دا خبره که څه هم بيا بيا مزغو ته راتله ، خو کله به پښتني غېرت په دې خبره هم وَ پارَولم ، چي کوټ او مفلر وَغورځوم - ولي چي چاپېريال مي سترګو ته دَ خزان دَ څېرو سره سره سپرلي هم غوړَولو -

پنځه نيمي بجې مازيګر، چې يخ خپلي انتها ته وَرسېدلو- نو موږ دَ هوټل ډولنګر، چې يوه زړه کلا برېښېدلو او دَ تاريخي شان وشوکت له سوبه ډېر مشهوره هم وْ مخې ته کښته کړلی شو-

هوټل څه وْ ؟ له چتهونو يې واخلې بيا تر دروازو او کهړکيانو هن تر فرنېچره او بسترو پوري شيانو يې دَ زړې زمانې حال وئيلو- زه چې څنګه خوني ته ورسېدم- نو مې ځان داسي وَسنجولو، لکه زه چې دَ دې دور نه بلکې دَ هغې زمانې سړی وم.. چې انسانانو ابله له يو بل سره دَ ژوند کولو هڅه کړي وه-

دَ ټولي ورځې دَ ستړيا او په هډونو کي ننوتي يخ له سوبه مي زړه کېدلو، چې په تودې بسترې کي ورننوځم او ښه ويده شم- لاکن دَ دې خوني له وړې بالکونۍ، چې شاوخوا په شيشو باندي خوندي کړل شوي وه څخه دَ باندي ښکاره کېدونکو منظرونو زه هلته په پرتې زړې چوکۍ باندي په کښېنسلو مجبوره ځکه کړم- چې واوره هم لا ببلا دباندي ورېدله لګيا وه-

ماخستن په غټو او تودو کوټونو کي نغښتي ټول ملګري لاندي دَ هوټل په ډائينګ هال کي په خوراکونو داسي ورمات شولو، لکه له تېرو څو شپو او ورځو راهسې چې هيچا هيڅ نه وي خوړلي- لاکن ما او اېس- ټي- باکسوالا فېميلي خوند ځکه نه ورباندي واخيستلو، چې دَ سوَر له غوښو سره سره که څه هم دَ پوسُونو او چرګانو غوښې په دېګونو کي پرتې وې -خو موږ يوه مېز شاوخوا ته ناست سبزياني او ماهيان خوړلو-

" په داسي يخ کي چې غوښه نه وي، نو لوږه نه ماتېږي "

باکسوالا چې دا خبره وکړه، نو ورسره ناستي لور زينت وئيلو-

" هو، ځکه خو دا ټول ملګري پورک خوري لګيا دي "

" دا غوښه لکه چې ډېره ګرمه ده، چې خلګ يې په يخ کي خوري "

دَ لُور دَ خبري په حق کي يې مور زينب چي داسي وئيلو، نو باکسوالا موسېدلو ورسته واي..

"لاکن مورې ته بې فائدې "

خبره يې لا سمه سرته نه وه رسولي ، چي زما وَ نښي لاس ته ناست داني دَ پورک غټه بوتی خلې ته کولو ورسته په ګوال وهلو کي واي-

"دا تاسو مسلمانان ځله دَ سوَر غوښه نه خورئ ؟ دَ دې او پُوسه غوښه خو يو رقم ده "

"هو، ده خو يو رقم.. لاکن دا سور دی او هغه دَ پُوسه غوښه او بس دغه خو يې فرق دی مورې مسلمانانو ته "

دَ داني دَ خبري په ځواب کي چي زينت خپله رائې داسي ځرګنده کړه ، نو ما هم دَ هغوکي په اندازکي ځان په غازيانو کي داسي وَليکلو-

"خبره آسانه ده ، ګوا تاسو يې خوښه ناخوښه ګڼئ او مورې روا او ناروا "

دا خبره څه وه ، چي دَ ټولو خلې خندا ته داسي ويړي شولي ، چي له نيږدې مېزه څخه لوري اوګرېک راباندي ژغ وکړو..

"أوولله.. مزې کوئ مزې "

او بيا چي دَ خندا جراثيم دَ هغې تر مېزه رسېدلو، نو ميرنا هم په ځرپې تر موږه پوري راوَرسېدله او پوښتنه يې وکړه..

"دا اېشئين ګروپ بيا په کوم شي هنګامه کوي؟ "

او مخته څه وْ ، چي دَ ځواب انتظار کولو دَ مخه خپله هم زمورِ په هاهو کي راګډه شوله - ښه خندلو او خپړي وهلو ورسته دَ روني په اوږو باندي دَ چوکۍ له شا خپل تيان بار کولو په وخت واي..

" دا شوق او روني چي سره يو ځاى شي ، نو هلته غم نه ، خنداګاني وي "

"..او مستياني هم "

دَ ميرنا خبره پرې کولو ورسته زړَې لوري په خپل تېره ژغ کي چي داسي وَوئيلو ، نو ميرنا واي..

" هو ، دا شوق خو چي دَ ورځي وخت دَ خبرو دپاره نه لري ، دَ شپې بيا ويد يږي لا نه "

" څنګه به ويد يږي ؟ خوب ته چي يې خلک نه پرېږدي "

روني يې په ځواب کي دومره په زوره دا خبره وکړه ، چي محفل لا نور تود شو او ځيني نور ملګري هم راغونډ شولو - او بيا دَ کاسموس ملګري ټولى ټولى په لابي کي مېزونو شاوخواته دَ ګپو او تاش په نيت کښېنستلو - خو ما غوښتلو چي بالا خوني ته لاړ شم او څه وَليکم ، هم ځکه چي دَ پوړيانو په خوا ور روان شوم ، نو په لار کي له نورو خوندکيانو سره ناستي لاراګوک راباندي ژغ وکړو -

" راځه راځه.. نن خو له مورِ سره هم کښېنه "

کېدلى شو ، چي ورسره کښېنستى وى ، که هغه غاوره ونېسا نه وي ورسره ناسته - نو ځکه مي داسي معذرت وکړو -

" طبعيت مي ښه نه دى ، ځم ويد يږم "

او لا مي دويم ګام مخته اخيستلو ، چي ونيلا را ولاړه شوه او تر لاس يې وَنيولم او له ځان سره په صوفې باندي په رک زورکښېنولم او واي -

" نن به تاش کوْ "

" لاکن تاسو خو خپله هم پوره ياست "

ما شاوخواته سترګي ځغلولو ورسته چي دا ورته وئيلو ، نو بلينډا واي -

" دَ ونېسا او فلانۍ فلانۍ نه دی زده "

غرض دا ، چي دَ نه غوښتلو پرته مي هم دَ کائيکو په ملګري کي له بلينډا او مستي لاراګُوک سره په تاش کي دَ مقابلي دَپاره داسي ملا وَتړله ، چي له تاش سره سره لارا او بلينډا زما او دَ مخامخ ناستي ونېسا دَ ملګرتيا په باب ټوکي هم شروع کړې - او دَ نورو خبرو پرته لاراګُوک لا يو وار داسي هم په خندا کي وَوئيلو -

" دا دواړه دومره هوشياران دي ، چي دَ بل له مخه خبري نه کوي.. "

"..خو ليدل کيږي بيا هم ځنګ په ځنګ "

ونيلا چي دَلارا خبره مخته دومره کښول ، نو بلينډا هم وار داسي راباندي وکړو -

" او هغه هم ابکړ ابکړ لکه مئينان "

دا هغه خبره وه ، چي تاش په مېز پاته شو او موږ په خندا ځکه سر شولو ، چي ونېسا هم سر ښورلو ورسته داسي په اړامه موسکا کي وئيلي وْ -

دَ سمرټائم په لومړۍ ورځ ، ګوا **31**م مارچ **1996**ع په شنه سهار چي ګهړيانو اتهه بجاوَلې، نو په بس کي کښېنستو او بس دَ ميرنا دَ سهار سلام اچولو ورسته مخته روان شو-

" هېپي سمرټائم .. له ننه ګهړۍ يو ساعت مخته شوه - وايم ، چي دا هغه موسم دی ، چي په اروپا کي څه ، چي دلته په آسټريا کي هم ځواني جوړې دَ سېل په نيت يوې بلې خواته وځي او لمر انجواى کوي - خو دا بېلا خبره ده ، چي دې کال دَ يخ موسم څه غوندي اُوږد شو "

ميرنا چي خبري کولې ، نو واوره هم وار په وار تېزېدله - ګوا څنګه څنګه چي موږ مخته لاره لنډَوله سپين څُوپ هم دَ واوري هغومره ډېرېدلو او څه مخته خو دا حال شو ، چي پورته کښته او هر لور تک سپين څُوپ او واوره ښکاره کېدله - او زموږ دَ بس په مخامخ شيشه باندي هم دومره واوره پرته وه ، چي وائپرونه ورباندي ډېر په ګرانه چلېدلو -

په بس کي ناست ملګري داسي چپ وْلکه اوس چي به دا بس له هغوئ سره سم په دې څُوپ کي ورکېږي - خو زه بيا په دې وېرېدلم ، چي که بس راخراب شو ، نو به څه کوْ ؟ تر ليري ليري پوري آبادۍ نه ښکاري او نه دې وخت دومره زيات ټريفک وْ - خو يوه ميرنا وه ، چي په دې موسم کي داسي مستۍ ته جوړېدلې وه، چي يو سيټ بل سيټ ته يې ډکه خله خنداګاني وړلې او په ډېره مينه مينه له هر چا سره ږغېدله - کله چي زموږ له چوکۍ سره مخته تېرېدله ، نو کائيکو واي -

" دا ميرنا داسي دَ خوشالۍ ښودنه ځکه کوي ، چي هغه دَ ملګرو زړونه لوړَوي ، چي وَ نه واهمېږي "

دَ کائيکو دا خبره څه وه ، چي زما هم وېره شروع شوه - او په زړه کي مي کليمې وئيل شروع کړې - خو څه مخته يو دم کائيکو زما په اوږه سر دَ ماشوم غوندي رالګولو ورسته په وړه ژبه کي واي -

"شوقه ! زه وېرېږم ، هو داسي نه چي .. "

ما به لا اوس تسلي ورکوله ، چي هغې وَوئيلو ..

"که داسي څه وَهم شولو ، نو ته خو به ماهم ژغورې "

او بيا دَ اوُهوهوهوهو کولو ورسته واي ..

"ولي چي ما او تا خو اېشئين هم يُو "

دې چي خبري کولې ، نو نوره نوره مي په بدن کي راچخېدله هم - که څه هم زما حالت په بس کي دَ ناستو خلګو څخه بېل نه وْ ، خو دَ کائيکو وَ زړه ته پښتون شوی ضرور وم او داسي مي ځان ټينګ کړی وْ ، لکه زه چي ډېر لوی پالوان وم - دَ دې هر څه پرته هم ميرنا په سپيکرانو کي وئيلو -

" لکه څنګه چي تاسو خبر ياست ، چي موږ اوس دَ سېلزبرګ په لور روان يُو - لاکن تر هغه دَ مخه به موږ يو ځل بيرته قريبًا شل کلوميټره په جرمنۍ کي مزل کوْ - او بيا به مخته په سېلزبرګ کي به ښه سېل کوْ "

که څه هم ميرنا دا هڅه کوله چي په خبرو باندي زموږ زړونه بېداره وَساتي - خو له بده مرغه واوره نوره نوره زياتېدله - او اوس خو دا حال وْ، چي چپ له روډه ، بل هر لور دَ واورو غرونه ولاړ برېښېدلو -

" هېر به مي نه شي آسټريا ستا ژمی " نامي نظم په ډائرۍ اړَولو سره سره مي دا سوچ هم په برخه شوی وْ - چي اوس که په ريښتيا دلته بس خراب شو ، نو زه به دا جاپانۍ پېغله په دې واورو کي چرته چرته ګرځوم ؟ او بيا خو په داسي موسم کي مرګ هم اېله بهانې غواړي - که

دا ناجوړه شوه ، نو به يې تر کومه په اوږو ګرځوم - او يا که چرته زه له پښو وَ لوېدم ، نو خُدای خبر چي دا به مي غم وَ خوري - ولي چي دا خلګ تش ځانونه وار کوي او بس..

دَ شېخ چلي غوندي به مي لا نور نور ولاتونه په سوچ کي سر کولو ، چي يو لاس مي په اوږو محسوس کړو او مخ مي لا نه وْ وراړَولی ، چي تر غوږو مي ښېخي خوږ او بلده ژغ هم راتېر څه شو - چي دَ سوچونو له لارو بېرته راغبرګ شوم او څه ګورم چي ونېسا مخامخ راته ولاړه ده او يو چاکلېټ يې په لاس کي نيولی دی او وای..

" دا واخله چاکلېټ شوقه "

" واؤ .. دا خو به ډېر خوږ وي "

ورته په حېرت کتلو او دَ مننې دَ موسکا وړاندي کولو ورسته په پسخوندي انداز مي خپله خبره سرته دَ رسولو سره چي څنګه لاس وروَغزَولو ، نو تر شا په تاړيانو کي روني او داني دَ مبارکۍ زېرى راکولو لګيا وْ -

زه پوهـ شوم ، چي دا ټول شرارت دَ هغوئ له خوا وْ - لاکن زړه مي خوشاله بيا هم په دې خبره باندي وْ ، چي ونېسا په نرۍ خندا کي کله زما او کله دَ هغوئ په خوا کتلو - خو چي څنګه دَ ميرنا ژغ په بس کي خپور شو ، نو هغه هم بېرته خپلي چوکۍ ته ورتېره شوله - او ميرنا وئيلو -

" دَ واوري وربدلو خپل خوند دی - لاکن دَ دې هېواد خلګ په دې واورو کي خوندونه اخلي او هڅه کوي ، چي زيات وخت په واورو کي دباندي تېر کړي - او بيا په دې خبره کي شک هم نشته ، چي دَ ځينو خلګو واوره خوښېږي هم زياته - هو لکه دا زه او زما په رنګه نور نور يې خوښَوي "

خبره يې چي تر دې ځايه راورسېدله ، نو مي داسي محسوس کړلو ، لکه ونېسا چي زما په لور ګوري - او وه هم دغسي خبره .. ګوا هغې زما په لور کتلو او سترګي چي مي څنګه

ورسره ځلور شولې - نو داسي يې په برګو سترګي په ما کي راښخي کړې ، لکه هغه چي راته واي..

" شوقه ! ته واقعي چي په خپل ضد کي پښتون وَ وتې - ګني دَ لوی بادار دَ لُور په حېثيت خو ما غوښتلو ، چي ځان ته دي مرئيی کړم "

او بيا يې په نرۍ موسکا کي له سترګو وېښته داسي شاته وَ ځنډلو ، لکه هغې چي زما دَ سترګو په وړاندي نه ، بلکې دَ دې شاعرانه موسم له سوبه ماته خوړلې وي - ولي چي بيا مي تر ډېره په هغې کي پام وْ ، چي هغې واورو ته ډېر په لمبه شوْ نظرونو کتلو -

---

"داسي واوره که زموږ په هېواد کي ورېدلی ، نو دا تګ راتګ به نه وی - بلکي په درست ژمي کي به خلک دباندي نه ، په کورونو کي ناست وی "

ما چي دا خبره په ډائرۍ باندي اړَوله ، نو بس دَ يو دنګ غره په لمن کي داسي روان وْ ، لکه اوس چي به دا بس په دې تک سپين غره کي ورننوځي او موږ به دَ همېش دپاره په کي ورک شو - لاکن زما دَ سوچ په چپه بس په خپل رفتار مخته ځکه روان وْ ، چي دلته روډ زيږن جوړ شوی وْ ، چي دَ ښوېدلو امکانورباندي ډېر کم وْ -

پنځه منټه بالا نهه بجې سهار موږ دَ آسټريا او جرمني په پُولي باندي دَ ان آوټ کولو ورسته چي يو وار بيا په جرمني کي مزل کولو ته جوګه شوي وْ - هر څه هغسي وْ ، خو يو شی چي بدل بدل سترګو ته برېښېدلو ، نو هغه وْ دَ دې ځای کرسمس وزمه دَ سائپرس وني ، چي په سپينو واورو کي ورنغښتي برېښېدلې - او بل يو درياب وْ ، چي زموږ يو اړخ او بل اړخ ته راسره سره غزېدلو -

" کوم هېواد له کومه ځايه شروع کېږي ؟ دا هغه سوال دی - چي زما په خيال دَ هر سياح په مزغو کي به حتمًا سر پورته کوي - ولي چي ، نه چرته تارونه شته او نه باډري کرښي ښکاري "

دا چُړت مي لا په سمه سرته نه وْ رسولی ، چي ميرنا هم دغسي خبره په سپيکرانو باندي په دې ټکو کي کوله -

"هغه خلګ چي دَ روزګار دپاره په غلا باندي دَ آسټريا وَ دې سيمي ته راغلي وي - او غواړي ، چي له انزبروک څخه دَ سېلزبرګ په لور لاړ شي ، نو په هغوئ کي زياتره په دې ځای کي ځکه ونيول شي ، چي دَ آسټريا له اړخه غله چي شېلنګ کرنسي ورسره وي دلته څنګه په کارَوي ، نو وَنيول شي - ولي دا خو دَ جرمني سيمه ده او دلته جرمن مارک چلېږي "

دا خبري چي ميرنا کولې ، نو بس دَ يو غټ درياب وَ کيڼ لاس ته دَ سېمربرګ نامي ټاوْن په لور وَګرځېدلو ، او يو ځل بيرته په سپينو واورو کي پټ دنګو غرونو په منځ کي مخته رهي وْ - او کائيکو دې وخت که څه هم له ما لرِ ليري شوي وه ، خو داسي پوښتني يې کولې لکه ګائيډ چي زه وم .. ميرنا نه - که مي څه هم ځان ورڅخه پېچلو ، خو هغې هم ګوره چي څله زه په خبرو کي بوخت ساتلم - او غوښتل يې چي ورته دَ ګډاګي غوندي لوبي وکړم - او ما هم داسي کله کله ځکه کولو ، چي ونېسا ورباندي وَ سېځم -

پاوْ بالا لس بجې که څه هم هغسي واورين ماحول وْ ، خو ملګرو په خپلو کي خبري شروع کړي وې او وېره څه غوندي کته شوي وه - لاکن زما تر شا ناستو ملګرو له خلو څخه W C غوندي خبري مي هم بيا بيا تر غوږو څه راتلې ، چي خپله مي هم ترحاجت ځای پوري وَ ستاپ ته سترګي ستړي شوي وې - ولي چي په يخ کي دَ حاجت ضرورت زيات پېښېږي - نو ځکه خو مخته دَ ملګرو په خوښه حاجت پوره کولو ورسته چي بس بيرته په موټروې منډه پېئيل کړه ، نو ګائيډ وئيلو ..

" سېلزبرګ له دې ځايه فقط دِ پنځلس منټو په واټن باندي دی او دَ نور سېل سره سره به موږ هلته په سېلزبرګ کي دَ اروپا دَ ښېخي مشهوره تاريخي موسيقار موزارټ ، چي په ميوزک کي يې انقلاب راوړی وْ کور ته هم په چکر شو - بل دا چي دَ غرمې ډوډۍ به هم په سېلزبرګ کي خورو "

او بیا یې مخته وئیلو ، نو دا واخلئ دَ موزارټ هغه میوزیک ، چې دَ هالي وُډ په بېخي ډېرو فلمونو کې ژغول شوی دی - او دلته دَ روایت په سمه هر څوک چې واقعي وَ موزارټ ته خراج تحسین وړاندي کوي ، هغوئ دَ هغه له میوزک سره دَ هغه دَ ښار په لور لاره لنډوي - نو راشئ ، چې موږ هم دَ موزارټ په موسیقي کې دَ هغه دَ ښار ، ګوا سپلزبرګ په لور مزل وکړو - او بیا نری نری میوزیک دَ رپېدلو مغربي راګونو په سمون په بس کې خوږ خوږ ژغېدلو لګیا وْ -

څنګه څنګه چې موږ دَ سپلزبرګ په لور ورنیږدې کېدلو ، نو هغومره دَ موزارټ دَموسیقي خوند سېوا کېدلو - او کله کله خو به ما داسي هم وَ سنجولو ، لکه دَ موزارټ په موسیقي کې چې دا نظارې هم ژغېږي - ولې چې دومره سرور وْ په کې - او دغه خو هغه لمحې وې ، چې دَ پرون راهسې هغه نظم ، چې دَ "دَ موزارټ په موسیقۍ کې" تر عنوان دلاندي زه دَ خیالونو په ټاپوګانو کې یوې بلې خواته دَ مجنون غوندي دَ لیلا لیلا رنګه تورو په لټون کړَولم ، آخر هم دا دی سرته رسولو ورسته ډائرۍ ته ور وَسپارَلو او پیرته دَ موزارټ وَ موسیقۍ اورېدلو ته یو غوږ شوم -

خوند به یې لا هغه وخت نور هم وکړو ، چې دَ مېرنا ژغ به هم کله کله ورسره داسي پورته شو ، لکه هغه چې په موزارټ مئینه وي - خو څه مخته یو ځل چې هغې څنګه له ساز سره بُونېدل سرته رسولي لا سم نه وْ رسَولي ، چې دَ روني ژغ ورسره پورته څه شو ، چې په درست بس کې خنداګاني داسي پئیل شوې ، لکه هغه چې ټوکه کړې وي - خو دا ټوکه نه ، بلکې دَ پخوانۍ زمانې دَ سندري وئیلو "هاهوهوهو هو" آسترین او اروپائي طرز وْ -

*****

# دَ موزارټ په میوزیک کي مسروره ګلدرې

دَ اروپا دَ سمرټائم په لومړۍ ورځ وَ غرمې خواته دَ کاسموس بس ، چي په کي دَ ستر آسټرین تاریخي او کلاسیکل موسیقار موزارټ خوږ میوزیک ژغېدلو دَ آسټریا دَ نوموړي ښار سېلزبرګ ، چي ورته دَ موزارټ کور هم وئیل کېږي په لور په موټروې باندي رهي وُ -

په غرو رغو او هوارو باندي دَ مزل خوند په خپل ځای ، خو دَ موټروې دواړو اړخونو ته په واورو کي پټ ټاوُنونه شاته پرېښولو سره سره دَ سُرنګونو او یو نیم فلائي اوور څخه بس مخته که په ډېره مزه منډه وهله، خو بلي خواته اسکارټ میرنا هم په خواږه ژغ کي داسي ژغېدله -

" په اروپا کي دغه هېواد دَ هسکو غرونو، ناوُ، دریابونو، خېزیانو او دَ سکائینګ سپاټونو له سوبه ډېر نوم لري- ګوا دَ سکائینګ پرته هم په دې هېواد کي دَ آوټ ډور لوبو دَ پاره بېخي زیاتي مواقعې موجودي دي "

میرنا چي دا خبري کولي ، نو په روډونو باندي داسي ډېر موټران موږ وَلیدلو ، چي په چهتو یې سکائینګ پېډونه تړل شوي وُ-

بیا چي کله ، ګوا دَ یولس بجو خواته زموږ بس دَ سېلزبرګ وَ غټ کمرشل او په ډېرو ماناوُ مهم او دَ سېل وړ ښار ته پېښنه وکړه - دَ ځیني کارخانو، ودانیانو او شاپنګ سېنټرانو په منځ کي ، یا اړخونو ته تېرېدلو سره سره چي موږ دَ ډاوُن ټاوُن (دَ ښار مرکز) په لور روان وُ- او میرنا وئیلو -

" دَ ښي لاس وَ خواته هغه بلډنګ ، چي دوه عسکران یې ګېټ مخي ته ولاړ دي زالزا نومېږي او مخته یې دَ ډسټرکټ اتارني ودانۍ هم ولاړه ده "

او له دې سره سم مونږ دَ سېلزبرګ وَ مرکزي ښار ته وردننه شولو ، چرته چې دَ ښار دَ جديدو تقاضو په سمون ښې غټې پلازې ، شاپنګ مالونه ، دوکانونه او يا واړه غټ پارکونه دَ پراخو روډونو دواړو څنډو ته ليدل کېږي - څه مخته دَ ميرنا په قول مونږ دَ هغې زړې کلا وزمه ودانۍ مخې ته هم تېر شولو ، چې تر اوسه په کې اوسېدونکې دَ زاړه قانون له لارې له هر رقم ټېکس څخه خلاس ګڼل کېږي - غرض دا ، چې يو وخت بس په نونتال نامې علاقې کې درېدلو سره سم چې کله دَ مخامخ چرچ له ټاوْره خوږ غوندې ساز پورته کېدلو ، نو مونږ خپلې مخې ته خوشي کړل شولو -

دَ Sunday Prayer په نيت ټولو عيسائي ملګرو وَ هغه چرچ ته مخه وَکړه او مونږ مسلمانانو او دَ بُدهـ مت ملګرو هم دَ چرچ سېل کولو په اراده دَ هغوئ تر شا شا روان شولو - او دَ چرچ په نقش و نګار باندې سترګې ځغلولو ورسته په نيږدې زړو او نوْ بلډنګانو شاوخوا راګرځېدلو سره سره مونږ دَ موزارټ په کور او کوڅه کې پېښې کښېښولې - او بيا له هغه ځايه دَ موزارټ دَ ميوزيکل آوزارونو دپاره جوړ کړل شوي ميوزيم په لور ورچپ شولو -

وئيل کېږي ، چې هر کال په دې ښار کې دَ موزارټ په ياد کې موسيقي مېله هم لمانځل کېږي - او په دې مېلې کې دَ نړۍ او دَ اروپا سندرغاړي په ډېر شمېر برخه اخلي - يو ځای دَ موزارټ دَ مجسمې سره په خپل خپل وار عکسونه اخيستلو ورسته دَ کاسموس ملګري دَ لنچ کولو او شاپنګ په نيت يوې بلې خواته وَ وېشل شولو-

دَ راتلونکي ايسټر، چې په اووم اپرېل باندې به لمانځل کېږي ته تياري کولو له سوبه داسې ښکاره کېدلو لکه مېله چې لګېدلې وي - دَ رنګارنګ اګيانو پرته نوري تحفې په هره تره او دوکان کې دَ خرڅلاوْ دپاره پرتې ښکارې -

يخ هغسې ډېري ماتولې او نرۍ نرۍ واوره هم ورېدله ، خو بيا هم دې ښار دومره زړخوښياني درلودلې ، چې هر ملګرى په خپل خپل چکر کې بوخت ښکاره کېدلو - او دَ ميرنا هغه خبره ، چې دَ دې ځای دَ خلګو په حقله يې کوله هم بده نه وه - ګوا ما هم داسې وَ سنجَولو ، لکه دا خلګ او په تېره ښځې يې په يخ کې ګړسره باک نه کوي - داسې ګرځي لکه دا چې ژمی نه بلکې دوبی وي-

دَ فلپائيني ملګرو سره مي دومره آواره ګردي وکړه ، چي په يخ پوهـ نه شوم - خو بيا چي ستړي شولو ، نو درې سره په يوه لاره باندي دَ رېستورېنټ په لټون کي روان شولو -

" نن بيا هغه ظالمه نه ښکاري "

داني غوزۍ راباندي اچولو ورسته چي دا وَوئيلو ، نو ما ورته وئيلو

" وروره ! هغه دَ بادار لُور او مورِ دَ دريمي دُنيا خلګ .. څه مقابله مي تر منځه کېږي؟ "

" لاکن هغه خو دوې ورځي دَ مخه .. "

" هو ، لاکن هغه ورځ .. هغه ورځ وه او نن بيا نن "

دَ روني دَ اشارې په ځواب کي چي مي داسي وَوئيلو ، نو داني زمورِ پام هلته دَ يوې جوړې په لور اړَولو ورسته واي -

" هغه ګوره څنګه خوند يې له دې موسمه واخيستلو "

هو ، دغسي کيسه وه ، ګوا له دُنيا او جهانه بې خبره يې دَ يو بل په شونډو کي شونډي ورکړَي وې -

---

دَ پروګرام په سمه يوه نيمه بجه ماښپښين زمورِ بس دَ ميرنا له دې خبري سره سم مخته روان شو ، چي

" په دې ښار کي درې شيان ډېر نوم لري او هغه دي .. موزارټ خپله ، دَ موزارټ ميوزيک او دَموزارټ په نوم جوړ ځايونه اوبس "

هو په دې خبري کي شک هم نه وْ، ولي چي په دې زاړه تاريخي ښار کي دَ زړَو ودانيانو پرته هم هر څه هر څه دَ موزارتې په رنګ کي رنګېدلي ښکاري - ما چي هم داسي خبري په ډائرۍ کي اړَولې، نو کائيکو راته واي..

" دا ته څنګه دومره کولی شې ؟ "

" پوهـ نه شوم ؟ "

ما چي په ځواب کي بيرته له هغې وضاحت وَغوښتلو، نو دې وئيلو -

" ګوا، يوې خواته دا ليکل راليکل او بلي خواته ريکارډنګ هم کوي - بلکې عکسونه هم اخلې او سوالنامې هم لا جلا ډکوې - دا هرڅه دَکوم نوعيت مطالعې دَپاره کوي ؟ او څنګه دي دَلاسه کېږي؟ "

او زما دَځواب انتظار کولو له مخه بيرته واي..

" زما خو دا حال دی، چي په دې کتلو راکتلو او دې سفر کي دومره ستړي شم چي.. "

" مګر جاپانيان خو ستړيا ګړسره مني نه - ما خو دا اورېدلي دي "

دَهغې خبره مي ماتَولو ورسته چي داسي وَوئيلو، نو هغې په خندا کي خله داسي وکړه..

" ولي جاپانيان انسانان نه دي که څه ؟ "

" دي خو انسانان، لاکن روبوټ وزمه "

ما چي دا وئيلو، نو هغې دَ خوږې موسکا ورسته زما لاس په خپلو لاسو کي اخيستلو ورسته چي دَ ځان په لور ورکشوَلو ، نو دا يې وئيلو

"ګوره ، اوس دا وَګوره .. زه ستا غوندي انسان نه يم؟ "

او ما يې هم په پاسته لېچ باندي چُونډۍ لګولو ورسته دَ دې له " هاى .. هوى " سره سم وَوَئيلو -

"دا دومره لږه غوښه خو په انسان باندي نه وي ؟ بلکې انسان خو داسي وي لکه زه "

او بيا مي دَ پالوان غوندي خپل لېچ لا سم ورته ښکاره کړى نه وُ ، چي هغه له خندا شنه شوه او زه يې هم په خپل موډ کي له ځان سره په خندا داسي سر کړم ، چي شاوخوا ملګرو زموږ په لور راوَکتلو او روني له خپلي چوکۍ راباندي ژغ وَکړو -

"څه وَشو شوقه ؟ "

او زما په ځاى کائيکو ورته په ځواب کي ور ژغ کړو -

"دا سړى ډېر اړام دى .. او ما تنګوي هم "

دَ تنګولو په خبري باندي که چا سرګرځولى وي او که يَه ، خو ونېسا زموږ په لور داسي دَ ټېپي زمرۍ غوندي راوَکتلو ، لکه جوړه چي يې په پُرهارونو باندي ما او کائيکو مالګي ور دُوړَولي وي او بل دَ روني په دې خبري لا نوره هم وَ خُوځکېدله ، چي وئيلو يې ..

"شوقه ! ته خو هم هر ځاى لاس اچوې "

که څه هم هغه دا خبره په ټوکو کي کوله ، خو له دې خبري ورسته ونېسا يو ځل بيا هغسي په وار وار راته کتلو- که به مي هرڅو ورته غاښونه سپينَولو ، خو دا وه ، چي خله يې نه

ويرېدله - هغه په خپل ځاى ، خو دلته دې کائيکو هم داسي لاس وَهني پئيل کړي وې، چي که څه هم وې خو ټوکي او بازۍ تر هانده - لاکن کله کله به مي ګمان ورباندي دَ نيت دَ خرابۍ هم شو - ځکه خو مي ځان ورڅخه ژغورلَو او نه مي غوښتلو ، چي په لومړي پُرهار باندي پُرهار کښېږدم -

دې وخت بس مخته په پستو واورو باندي منډه وهله او ميرنا هم له خپلو شوخيانو سره سمه داسي ګډه وه -

" څنګه وْ دَ موزارټ ښار ؟ يخ خو به مو هم ډېر شوى وي ؟ خېر.. دې وخت مور دَ ويانا په لور مخه کړي ده - کوم چي دَ آسټريا دارالحکومت دى او مور به هلته دوې شپې په هوټل البا پېلس کي کوْ - لاکن خبره دا ده ، چي په دوارو شپو کي ډنر نه دى شامل په پروګرام کي "

دا خبره څه وه ، چي ما په ډېر حسرت باندي دَ ونېسا په لور ور وَکتلو - خو هغه وه ، چي ګرسره يې زما په لور نه کتلو او دَ بس له شيشو څخه يې دباندي کتلو - نو ځکه ما په زړه کي وئيلو ، چي کېدلى شي ، چي دا خبره يې نه وي اورېدلي - په دې خو مي په ملګري روني ، چي سترګي يې پُټي کړي وې باندي په زوره ژغ ځکه وَکړو ، چي په هغې يې هم واورم -

" روني روني ياره ! دا خو به دواړي شپې په ويانا کي په خپل خرڅ دَ شپې ډوډۍ خورو "

روني کېدلى شي ، چي په ريښتيا ويده وْ - لاکن ونېسا مي خبره ښه واورېدله ، خو ځان يې ورباندي واچَولو - بيا خوابدي ښکاره کېدله - او په زړه کي مي ورته له يوې غټي ښکنځا کولو ورسته وئيلو ،

"دا امريکنه يا خو ډېره موډي ده ، يا بيا په حُسګن باندي غاوره ، چي په ساعت کي ماشه وي او په ساعت کي توله "

او دا فېصله مي په زړه کي وکړه ، چي بيا که په څټه کي راته کښېني هم ، نو زه به يې باک نه کوم - هم دغه خو وجه وه ، چي له کائيکو سره بيا په ټوکو کولو کي له کسته بوخت شوم - هو خپل پام په بله اړَولو په نيت او بس -

څنګه څنګه چي موږ مخته لاره لنډَوله ، نو هغومره غرونه وار په وار له روڼه ليري کېدلو او موږ په هوارو باندي رهي وْ - او موسم هم ځوکه ځوکه سمېدلو لګيا وْ - ګوا اوس سپين ځُوپ ورو ورو خړېدلو او دَ روڼ دواړو اړخونو ته منظرونه سترګو وړاندي هم واضحه کېدلو-

په آسټريا کي دَ ښځو جامې څه څه ګڼي برېښي او بل په دې مزل کي دَ شاته پاته شوْ ملکونو په مقابله کي په ټاوْنونو کي دَ خلګو شمېر هم زيات زيات ښکاره کېږي - يو ځاى چي موږ خپل ښي لاس ته دَ اوبو له يوې خېزۍ سره په څنګ څنګ روان وْ ، نو دَ حېرت وړ خبره دلته دا وه ، چي په اوبو کي دَ دې يخ پرته هم څو کښتياني خلګو چلولې-ګوا دا يې ښکاره کولو ، چي دَ هغوئ يخ نه کېږي -

مخته لمر هم کله کله دَ څو دقيقو دپاره خپله څېره ښکاره کوله ، خو اوريځي وې ، چي اوربل يي په ساړه او بې سبکه لمر بيا بيا خپرولو راخپرولو او په دې پټ پټاني کي موږ چي مخته روان وْ، نو ميرنا وئيلو -

" هغه ژېړه کلا چي په مخامخ وړې غونډۍ باندي ښکاري په اووه لسمه صدۍ کي جوړه شوي ده او په جرمنۍ ژبه کي ورته "لېښټ وروکو روکوکو "وئيل کېږي "

پاوْ بالا درې بجې خواته دَ دې تاريخي کلا څخه تېرېدلو ورسته بس دَ يو رېسټورېښټ مخي ته کوفي سټاپ په غرض ودرېدلو-

---

" په آسټريا کي چي دَکومو ټاوْنونو په دروازو باندي شنه ځانګه دَ وني راځړېږي ، نو دَ دې مطلب دا وى ، چي په هغه رېسټورېښټ کي تازه وائن خرڅېږي - هغه وائن ، چي دَ نن په

چکري پروګرام کي به يې ښه ډېر وَ وينئ - ګوا په " ويانا وائن ټاوْن " کي ، چرته چي سپلانيان تاريخ رقم کوي "

دا او داسي نوري خبري دَ بس په وړَو سپيکرانو کي هغه وخت کېدلې ، چي موږ دَ يوه تنګ سړک چي رومانتيک روږ نومېدلو باندي رهي وْ - له اصله سړک دَ وائن يارډ تنګه لاره وه ، چي دَ سېبانو دَ وړَو وړَو درختو په ميان کي مخته تېره شوي وه - او بل دلته دَ سېبانو داسي باغونه دَ غونډيانو په لمنو کي ترميلونو ميلونو پوري سترګو وړاندي ولاړ ښکارکېږي - ولي چي له سېبانو دَ ميرنا په قول آئسکريم او وائن جوړېږي -

مخته چي بس دَ يوغټ درياب سره سره رهي وْ، نو ځنګلي وني هم وار په وار کمېدلې او واړه او غټ ټاوْنونه هم شاته په چټکۍ سره پاته کېدلو او ګائيډ وئيلو -

" آسټريا هغه هېواد دی ، چي په مذهبي توګه  وړباندي دَ رومن کېتهولک هولډ دی اوداسي ځکه دي ، چي اټلي (دَ عيسائيت مرکز) ورته نيږدې ده - **95** فيصده رومن کېتهولک دی "

او بيا چي دَ يو فېري سټېشن څخه پنځو بجو خواته موږمخته روان وْ ، نو که څه هم رومانټيک روډ لا نه وْ ختم شوی - خو دَ دې روډ دَ اهميت په حقله نور نور ډېر څه وئيلو ورسته ميرنادا خبره هم وَکړه -

"په آسټريا کي په کلاسک ميوزيک باندي چي کوم رقص کوي هغه پولکا نومېږي او په دې رقص کي ښځي او نران لاس په لاس په ګېرد که کي ناچ کوي "

اوس موږ په هوارو مځکو کي مخته روان وْ  او مځکي تر ليري ليري پوري کښت کروندې دپاره په وړَو وړَو بندونو کي وېښل شوي وې - او  دلته موږ کارنيو برګ نامي ټاوْن هم شاته پرېښولو - او ډېر ژر بيا په نارډبرګ روډ باندي بس منډه وهله - او دا روډ دَ ويانا په لور تللو - پنځه نيمي بجې موږ دَ پرله پسې اووْر برجونو لاندي تېرېدلو ورسته په يو بېخي جديده ښار کي ورګډ شولو -

دا ويانا ښار وْ او موږ يې دې وخت په پراخو روڼونو باندي په وړو غټو ودانيانو کي څه وخت ورسته په يوې زړې علاقې کي وردننه شولو - بيا يوې بلې خواته ګرځېدلو ورسته بس دَ يو غټې Hotel Alba Palace مختهوَ درېدو -

---

لاندي په لابي کي دَ کاسموس زياتره ملګري په ټوليانو کي ولاړ وْ ، او ميرنا دَ اشارې په تمه وْ - زما اراده ورسره دَ تللو نه وه ، نو ځکه چي هلته استقباليه په مېز کي جوړ باکس کي مي دَ خوني کيلياني اچولو ورسته ، چي څنګه دَ لابي دَ لوي دروازې په لور ګامونه اوجت کړو ، نو ونېسا له شا راباندي ژغ وکړو -

" شوق.. مسټر شوق ! ودرېږه "

او بيا په تېزو قدمونو زما په لور راغله او واي -

" ما اورېدلي دي ، چي ته له موږ سره په آپشنل ټوْر کي وائن ويليج ته نه ځې.. څه وجه ده؟ "

" هيڅ نه.. بس نن مي زړه غوښتلو ، چي يوازي لږ دباندي وګرځم "

داسي چي مي څنګه ورته وَوئيلو ، نو هغې راته په برګو کتلو ورسته په اوږه لاس ږدلو سره سم وئيلو ،

" ته به له موږ سره راځې او ستا په ځای به زه پېمنټ کوم "

او بيا يې تر کاوْنټره پوري په وړو وړو ديکو تر لاراګوک او بلېنډا په لور يوړم - زه پوهـ شوم ، چي هغې دا هر څه دَ دې مستو آسټرېلينو په وئيلو کولو - نو ځکه ما هم غږی ورته واچولو -

اووه نیمي بجې خواته په ویانا ښار کي له Danube’s Canal نامي دریابي نالې سره په څنګ کي تېرېدلو په وخت ما وئیلو -

" داسي ښکاري لکه په دې ښار کي چي هم دَ شپې ژوند سوړ وي "

دې وخت زما له اړخه ناستي ونېسا هم تر شیشو دباندي کتلو ورسته زما خبره منلو سره سمه واي -

" هو ته صحیح واې او کېدلی شي ، چي دَ یخ له سوبه داسي وي "

ونېسا بهلا نور څه ته خله جوړَوله ، چي میرنا په سپیکرانو کي واي -

" که څه هم خلګ دې وخت په روډونو باندي لږ ښکاري ، خو دَ دې ښار دَ شپې ژوند په کلبونو ، پبونو ، کلچرل شوز ، میوزیکل کلبونو ، ډانس کلبونو او دَ وائن رېستورېنټونو په نامه ډېري مستیاني لري "

او بیا یې دَ خواږه شپېلکي وهلو ورسته داسي هم وئیلو ..

"یوهوهو.. یو بل ځای خو هم لا شته ، چرته چي شاپېریاني دَ ابډرین او توشیرو غونډي ځوانانو په انتظار کي ټوله شپه رونړوي "

دَ توشي او ابډرین نومونه یې څه واخیستلو ، چي لوري اوګرېک ، لوري ویوار ، مئی رونالډ ، لاراګُوک او ویلینا بس په سر واخیستلو په داسي وئیلو..

" شېم شېم "

او دَ کرېکو سره یې خپړي هم وهلې - او ابډرین هلته دَ خپلي چوکۍ مخته ولاړ هم شین شین له خندا کېدلو ، خو جاپانۍ توشیرو لا جلا دومره سپین سترګی وْ ، چي سم یې له هغو

سره ټوپونه وهلو او خوند يې اخيستلو - نه يوازې دا، څه وخت ورسته موږ ټول لکه دَ سکول ماشومان په بس کې په چيغو او تاړيانو وهلو بوخت وُ-

نو ځکه په دې خبره ګړسره پوهه نه شولو، چې له کومه او په کومه روان وُ - خو دومره مې په ياد دې، چې اتهو بجو خواته موږ دَ يو زاړه آسټرين سټائل جوړ کليوال ريسټورېنټ مخې ته له بس څخه کُوز شولو او دَ ميرنا په مشرۍ کې ورننوتلو - داسې مې سنجَولو، لکه موږ چې وَ کلې ته پېښنه کړې وه - ګوا په څراغ وزمه رڼاګانو کې په ښې لاس باندې دَ خلاسو مېزونو شاوخواته کښېښستلو - او بيا دَ څودقيقو ورسته په مخامخ سټېج باندې ښائيسته کوربنو پېغلو په آسټرين اتڼونو باندې داسې په خوند خوند او په مستۍ سر شولې، چې په دې هال کې ناستو مېلمنو دَ زړه له اخلاصه داد ورکولو - او دَ داد په بدله کې هغوئ دَ مېلمنو لوړه او تنده دَ سروس په داسې اداګانو ماتوله - چې دَ هرچا زړه غوښتلو، چې جامې وَباسي او په سړواوبو کې وَلمبېږي - نو ځکه خو يو وخت ونېسا له ما سره اوږه جنګولو ورسته واې-

"دلته ته څنګه محسوسوې؟"

"ښه ښه ډېر ښه.."

دومره وئيلو پس دَ ټايئلټ په نيت ورڅخه پورته شوم-

"ټائيلټ چرته دی؟"

ما له يوې آسټرين خادمې څخه چې څنګه پوښتنه وکړه، نو هغې تر لاس وَنيولم او هلته په کونج کې يې يو واړه، لاکن صفا ټائيلټ ته په ديکه داسې ور وَدېکلم، لکه زه چې هم...

هو، که څه هم زه دې وخت په ګڼ عالم کې ناست وم، خو په هغو لارو له خلګو سره نه وم روان - په کومه باندې چې ټول ځنګېدلي روان وُ - ولې چې يو خو زه مسلمان وم او بل په دې محفل کې ځينو خلګو جامې هم څيرَلې لګيا وُ - نور خو نور، هغه دَ بادار لُور لا هم له

کنټروله وَتي وه - او توشي سره يې هلته په سټېج باندې ډانس کم ټوپونه زيات وهلو - نو ځکه خو مې ځان ورڅخه يوې بلې خواته ژغورلَو او دَ دې خلګو اصلي بڼې مې کتلې لګيا وم -

" دا خبرې چې موږ يې په سترګو هره ورځ وينو ، هغه خبرې نه دي چې انسانان يې په انساني پوستکي کي پټې لري "

لنډه دا ، چې دا هغه رائې وه ، چې ما دلته دَ انسانانو په باب ګوره چې څله غوره کړه -

دَ دې دومره مستۍ پرته هم دا خلګ چې کله له بس څخه دَ هوټل البا پېلس مخي ته کښته کړل شولو ، نو په لابي کي ټولۍ ټولۍ شو او هيچا ، چپ له ما نه غوښتلو ، چې دا پاته شپه په خوب تېره کړي -

هم ځکه چې څنګه ما په لفټ کي لومړۍ ګام ږدلو ، نو څه ګورم ، چې تر ما له مخه بيا ونېسا هم ځان ورته رسولی وْ - يو ځل مې لا په زړه کي راغلو ، چې دباندې يې ديکه کړم ، خو بيا چې مې دَ هغې وَ حالت ته پام شو ، نو زړه مې ورباندې وَسوی - او هغه مې دَ هغې تر خوني وَ رسوله ، هو .. دَ هغې په خوښه -

---

دَ برايه شپې دَ بېخي ستړيا او بې خوبي له سوبه مې لا دَ ناری کولو په وخت سمي سترګي نه وې خلاسي شوي ، چې مسټر پاټ لبن چې دَ خپلي مائينې شېلا اوډلې سره په څنګ کي ناست وْ ماته وئيلو -

"شوقه ! سترګي دي پړسېدلي دي ، ناروغه خو نه يې؟ "

ما که څه هم ورته دَ خېر خېريت حال وئيلی وْ ، خو حقه خبره دا وه ، چې بدن مې ټُوک وْ او زړه مې هيڅ شي ته نه کېدو - خود لکه چې ډېر په بد حال وم ، چې يو وخت دَ امريکا

مسټر نئيل ويلئيم او ريګلې او کرسټينا هم زما دَ حال په حقله پرېشانه وْ او پوښتنه يې کوله-

زه لا په ناري خوړلو باندې اخته وم ، چې روني او داني هم زما په لور راتلو ورسته داني په ګيله کې واې-

" شوقه ! موږ لتا څخه خفه يُو "

" څله او څه بد مې کړي دي ؟ "

ما چې داسې وَوئيلو ، نو روني واې-

" برايه شپه خو ته وائن ويليج ته تللې وې ،که څه هم موږ پروګرام وَ ډاوْن ټاوْن ته دَ تللو غوره کړې وْ "

او ما هم خپله غلطي احساسولو ورسته بخښنه په داسې بهانه وَ غوښتله-

" خبره دا ده ، چې زه په ډېر ضد هغه ستاسو نازَولې په آپشنل ټوْر باندې وائن ويليج ته وړې وم- خو زه بيا هم بخښنه غواړم "

او بيا دَ څه ناز دَ خوړو او ترخو غاړو وئيلو ورسته دواړه ملګري په نيږدې چوکيانو باندې راسره کښېنستلو-

" موږ ته وَ بخښلې.. وايه ، څنګه وْ دا آپشنل ټوْر؟ "

اوس که مې ډېر خوښ شوی هم وْ ، خو دَ هغوئ دَ زړه ساتلو دپاره مې ورته وئيلو ..

" يارانو.. بې تاسو يې چنداني خوند نه وکړو "

"ولي ، ونېسا چي وه "

"هو ، وه خو لاکن.. لاکن "

"هلته هم لاکن وْ ؟ "

"وْ ...خو هغسي نه ، چي تاسو يې سوچ کوئ "

او مخته ، په خپله کيسه کي چي مي يو ځای لږ ژبه په دروغو وئيلو کي يوې بلې خواته وَشوېدله ، نو داني راته واي -

"زه خو پوهـ شوم "

"په څه ؟ "

"ګوا تاسو به هر څه کړي وي زما يقين دی "

"ولي نه.. ته خو جج يې او ججان تر بيان زيات دَ څېرو لوستلو هنر هم په کارَوي ، که څنګه ؟ "

په آخير کي چي مي داسي ورته وَوئيلو ، نو نه يوازي هغه دواړه بلکې شېلا او دَ هغې مېړه او کرستينا هم خندا ته وَجوړېدله - او بيا خوند لا نور سېوا شو ، چي رېګلي له روني دا سي پوښتنه وَکړه-

"ښه نو ته حال راکړه ، چي څنګه وْ ، دَ دې ښار رېډ لائټ ډسترکټ؟ "

بس بيا نو څه وْ، داسي خندا زموږ له مېزونو په هال کي خوره شوه ، چي ميرنا له دانيال سره ملګري هلته راوَرسېدله -

" دا شوق چي چرته وي هلته خنداګاني وي "

ميرنا دَ مرکې دَ ناخبري لېوې په شان په ما کي چي داسي راوخته ، نو شېلا ورته واي

" يَه يَه دا شوق نه ، بلکې دَ روني.. "

اوس به يې ورته په خندا کي کيسه تېرَوله ، چي ميرنا دَ هغې خبره ماتولو ورسته واي -

" هو دا روني هم ډېر اړام دی "

دومره يې لا نه وْ وئيلي ، چي لاراګوک هم له خپلي ډلي سره راوَرسېدله او وار يې دَ خبري داسي راباندي وکړو-

" داخو دَ هالېنډ هيروګان هم دي "

روني هم وار نه وَشو او ورو يې ور دانګلو ،

" هيروئيني خو دَ هالېنډ ته او ستا ملګري هم ياست "

او بيا يې دَ خندلو ورسته زما په خوا هم اشاره وکړه او واي -

" اصل هيرو خو دا شوق وْ شوق.. بل هيڅوک نه "

" هو ، شوق خو برايه شپه هم هيرو وْ "

دَلاراګُوک په دې انکشاف به ملګرو څه وئیلو ، چې ورسره ولاړي مسته بلښنډا واي

" شوقه ! برايه خو دي هغه خپله محبوبه ترلاس نيولې خوني ته هم يوړه او بيا تر ډېره .. "

دا خبره څه وه ؟ چې روني او داني دواړو زه په مخه داسي واخيستم ، چې بيا که مي هرڅو ځان ورته سپينَولو ، خو راباندي لګول شوی دَ ناحقۍ دغه تور داغ مي نه کړو پاک -

لنډه دا ، چې په لومړي سهار مي دومره وَخندلو ، چې بدن مي سپک شو او په ډکه خله خندا له ملګرو سره په بس کي کښېنستمه -

---

نن دَ اپرېل لومړۍ ورځ وه او موږ دَ کاسموس ملګري په بس کي دَ لوکل ګائيډ الزبتهٔ په راهنمائي کي دَ ويانا په ښار کي مخته روان شو او الزبتهٔ دَ سهار دَ سلام اچولو ورسته وئيلو-

" يو له ما څخه دَ واده په حقله خواست مه کوئ - نور زه درسته ورځ ستاسو په رضا باندي يم "

دا چې يې وئيلو ، نو نيېږدې روني څوکه غوندي واي،

" داني داني .. زه خو ورته دَ واده ست کوم "

او داني په خبېته کي دننه دننه خندلو ورسته واي،

" هې روني ، ته هم ډېر.. "

مخته يې خبره ځکه کش نه کړه ، چې ما يې خبره داسي سرته ورسوله -

" هو مست سړی دی "

او له دې سره سم الزبتهـ وئیلو -

" ویانا ښار دَ آسټریا تر ټولو غټ کمرشل ښار او دارالحکومت هم دی - دا ښار په 23 ډسټرکټونو باندې اړه لري - هغه ستاسو هوټل البا پېلس په څلورم ډسټرکټ کې جوړ دی "

داچې یې وئیلو، نو بس دَ هسکو پلازو وَ یوه او بل اړخ ته روان وْ - داسې ښکاره کېدلو، لکه دا ښار چې ډېر صفا ښار وي - ولې چې چرته هم زموږ دَ ښارونو په شان په کې هوا دَ پلاسټکو کڅوړې یوې بلې خواته نه الوځوي - او بل په دې ښار کې خاص خبره دا وه، چې په چوکونو باندې خو یې جوړ بُتان او غټې یادګاري مجسمې دي چې دي ولاړې - بلکې په زیاترو وړَو او غټو ودانیانو په بامونو باندې هم بېلا بېلې مجسمې لګول شوي لري - چې دَ بلډنګانو ښائیست نور نور زیاته وي -

" داسې ښکاري لکه دا یخ چې تاسو په کاسموس بس کې له ځان سره راوړي وي، ګنې دومره یخ خو په دې موسم کې دلته کله نه وْ - او دې موسم ته سمرټائم وئیل هم بد ښکاري - خبر موږ اوس دَ سېنټرل ټاوْن په لور روان یُو او دا ګورئ زموږ وَ کیڼ لاس ته دَ مېټرو (زېر زمیني) سټېشن پلازه، چې نخښه یې دَ انګلسیU دی - که څوک وَ غواړي، نو له دې ځایه هم په رېل ګاډي کې تر مرکزي ټاوْن پورې تلی شي "

دا خبره چې یې کوله، نو موږ په تنګو سړکونو باندې یوې بلې خواته رهي وْ - او دا هغه علاقه وه، چې خلک په ڤټ پاتهونو باندې زیات ښکاره کېږي -

" دا ګورئ زموږ مخته دَ ویانا اوپن مارکیټ، چې دَ ژوند هر څیز په کې خرڅېږي - له سبزي یې واخلې، بیا تر ټوکرانو او مېوْ او الېکټرانکس پورې شیان خرڅېږي او دا دریابې ویاله چې ډانئیو کېنال نومېږي هم له دې مارکیټ ائیریا سره په څنګ کې تېرېږي "

او بیا یې خبره داسې دَ ویانا په حقله واړَوله -

" په ویانا کي دَ آسټریا **20** فیصده ګوا **1.6** میلینه خلګ اوسېږي - په **160** مربع میله باندي خپور دې ښار کي **800** پارکونه او باغونه وجود لري ، چرته چي خلګ سټړیا وساکولو دپاره ورځي او هلته دمه کېږي "

اوس چي موږ دَ چارلس چرچ ، چي په **18**مه صدۍ کي جوړ کړل شوی وْ له څنګه تېرېدلو ، نو الزبتهـ وئیلو ،

" دلته په ویانا کي دَ ورکېدلو وېره ډېره زیاته وي - که څه هم ډېرآسان ښار دی ، او هیله ده چي تاسو ټول به بیرته خپل هوټل ته ماښام وَرسېږئ - هو که چرته دَ څُمارو آسټرین څُورو په دام نه شولاست ورګېر "

دَ میوزیم څخه دَ کوفي هاوْس په لور ګرځېدو ورسته دَ ریډیو سټېشن ، او ټېلي ویژن دَ غټو ودانیانو مختـه تېرېدلو په وخت الزبتهـ دَ یوې نرۍ کوڅې په خوا اشاره کولو ورسته وئیلو -

" دا کوڅه که څه هم پخوانۍ جوړه ده ، خو په کي یو اړخ بل اړخ او مخته زموږ ځیني تاریخي ورثې خوندي کړي دي - لکه دا ښي لاس ته هغه بالکوني ، چي دَ ویانا دَ علامت په توګه شهرت لري "

لوکل ګائیډ چي دا خبري کولې ، نو موږ دَ یوه چرچ ، میوزیم او ځینو نورو زړَو ودانیانو څخه مخته تېر شوي وْ - او بیا څه مخته دَ پېنټنګ ګېلري سره په څنګ کي چي تېرېدلو ، نو دَ ګائیډ له قوله .. هلته دَ زړَو آرټسټانو دَ نمونو پرته دَ نوْ آرټسټانو دَ آرټ نمائش هم کله کله کېږي - کله چي بس له تنګو کوڅو او روډونو څخه وَ لوی روډ ته پېښه وکړه - نو ګائیډ وئیلو -

" په آسټریا کي **95** فیصده رومن کېتهولک دي او مذهبي لمونځونه هم خلګ زیات کوي - نو ځکه چي تاسو کوم چرچ ته هم ګورئ - نو هلته به خلګ ډېر زیات وي - که څه هم دَ جنت هیلي لري، خو دغه آسټرین دا ژوند هم ښه په خوند تېروي - ګوا میوزیک یې کمزوري او

ډانس يې دَ خوښې شيان دي - او بل دا خلګ دَ هوټلانو شوق هم لري - دلته دې وخت **15500** ستېنډرډ کېفې په دې ښار کې موجودي دي - چرته چې ځوانان تر زړَو زيات ښکاره کېږي - ولې؟ خپله به يې نن وَوينئ - اوبل دَ ډانئيو دريابې ويالې څنډې هم څه کمې زړخوښيانې نه لري "

---

غرمې خواته بس دَ **1440** خونو يو زاړه او عالي شانه ودانۍ چې شونبرن **محل** نومېدلو مخته پارک شو او وَ هغه غټ **محل** ته وردننه شولو - دننه الزبتهـ وئيلو -

" دا شونبرن **محل** ، چې دَ فرانس ملکه مېري انټونېټې په کې **خپل** ماشوموالی تېر کړی وْ او جوزف هم په دې **محل** کې زېږېدلی وْ - دې وخت يې په **1440** خونو کې فقط **45** خونې دَ خلګو وَکتلو ته خلاسې کړل شوې دي "

**محل** څه وْ ، چې اوس هم دَ جنت دَ يوې مانۍ غوندې برېښېدلو کې ښه ډېر ګرځېدلو ورسته دَ **محل** په صدر دروازه کې دَ ناستو وزر دارو اسپو ، چې وې بُراق وزمه .. خو لغړې ، سره په څنګ کې تر ډېره ګرځېدلو ورسته دَ دې **محل** په کېڼ لاس کې يوه پراخ باغ او ستېشن په لور هم ورچپ شولو - بيا دَ ډانئيو درياب او بلې دريابې ويالې په منځ کې جوړ ټاپو وزمه ډسټرکټ نمبر **2** ته هم وره غلو - هلته دَ رېګربشن پارک ، رېګربشن پلازه او په بېخې اوږده واکنګ ټرېک باندې تر ليرې ليرې پورې وَګرځېدلو -

داسې Erizhish Palail,Peter Church , Opera House او ځينې نورو ځايونو اودَ پارليمنټ هاوْس کتلو ورسته چې په مخه روان وْ ، نو ما په ډائرۍ باندې داسې خبرې دَ ويانا په باب اړَولې-

" په اروپا کې غټ ښارونه ټول يو بل ته سره ورته دي - لاکن ويانا ، دَ يو ښايئسته عالمګير ښار پرته ، په ځان کې دَ جديدو تقاضو سره سره دَ آسټرين قامې او ثقافتي رنګ او خوند هم هرچرته او په هر څه کې لري - لکه دَ جديدو او زړَو ودانيانو او مانيانو په بامونو او مخته دَ رقم رقم بُتانو موجودګې دا څرګندوي ، چې دا خلګ مخته ته دَ تللو په حق کې چې څومره

ښکاري .. نو دومره له خپلو زړَو روائياتو سره ګنډلي هم برېښي - خو دا ښېله خبره ده ، چي دَ دې انساني او حيواني مجسمو په باب زياتره آسترين خپله هم خبر نه دي - دغسي په دې ښار کي له ښځو سره قسماقسم سپيان هم دَ سېلاني پام خپلي خواته ورګرځوي - که څه هم دلته دَ ښځو جامې څه ګنې دي ، خو شوخياني هم څه کمي نه لري - چي موقعه په لاس ورځي ، نو له لاسه يې نه ورکوي - مذهبيان زيات دي ، خو ډانس هم هغه پخوانی " پولکا " خوښوي ، چي په کي دَ دې نوي دور ښځي لاس په لاس سړيان هم په يوې ګېرډکي کي رقصوي "

دَ پنځه ګنټهو دَ ستهي تهوْر ورسته يوه نيمه بجه يې تهول ملګري په ستهي سېنټر کي په Schweden Platz نامي علاقې کي خپلي مخي ته پرېښولو - ما او فلپائيني ملګرو چي له بس څخه يوې خواته حرکت کولو ، نو دَ ونېسا ، کائيکو پرته هغه غاوره پېغله چاوْ چيا جانګ هم راځرمه شوله او کائيکو واي ..

" مورې هم غواړو چي لتاسو سره په سېل لاړي شو ، ولي چي په دې رش کي دَ ورکېدلو امکان زيات وي ، لکه څنګه چي ګائيډ وئيلو "

روني وَ کائيکو ته پورته کښته کتلو ورسته په موسېدلي انداز کي واي -

" بې شکه .. دَ دې جګو خلګو په وړاندي ته او دا چاوْ انجوني ښکارئ - ځکه مو دَ Kidnaping وېره هم شته "

" دا خو به ښه خبره وي - ما او کائيکو ډئيربه يو ځای خو يُو "

دَ چاوْ په دې خبره زمورې داګروپ په خندا خندا مخته روان شو - او دَ نيم ساعت دَ ګرځلاوْ ورسته په يو رېستهورېنټ کي وردننه شولو - هم دلته راته دا خبره واضحه شوه ، چي زه يوازي نه ، بلکې تهول بېخي وږي وْ - ولي چي تهول په آسترين خوراکونو داسي ورمات شوي وْ ، لکه په ورځو ورځو چي يې هيڅ نه وي خوړلي - دلته په دې رېستهورېنټ کي ښځي زياتي وې - ځکه خو مورې دَ هغوئ له شور څخه تر دوْ خبرو هم ډېري نه وکړې او دباندي راوختو او

په فټ پاتهونو باندي تر ليري ليري ګرځېدلو ورسته زما په خوښه وَنيږدي مېټرو سټېشن ته ورګُوز شولو او په ګرين لائن رُوت باندي S tadt Park په خوا ورچپ شولو- دا علاقه دَ پارک دَ زړخوښيانو پرته دَ بازاري رونق سره سره شاوخواته رهائشي علاقه هم لري-دلته هم يو ځاى کوفي څيښلو ورسته موږ بيرته په مېټرو کي په ګرين لائن باندي لومړى Karispl بيا Ketten Bridge او Pilgramg علاقو څخه مخته وتلو ورسته موږ په ډسټرکټ 4 کي له مېټرو سټېشن څخه بالا مځکي ته راغلو ، نو داني وئيلو -

" ګوره ، چي هغه زموږ هوټل به څومره ليري وي؟ درځئ چي په ټېکسي کي ورشو "

" يَه يَه .. موږ به په پښو ځو "

ونېسا يو دم خله وکړه او موږ يو بل ته کتلو ورسته له يو چا څه ، چي له څلورو کسانو پوښتنه وکړه ، نو اېله يوه پېغله زموږ په ژبي پوهـ شوه او موږ يې په لاره سم کړلو -

" هغه دَ شوق خبره صحيح ده ، دلته خو په اشارو هم ژغېدلى نه شو - ولى چي زموږ او دَ دوئ په اشارو کي لا هم خورا ډېر فرق دى "

چاوْ واي-

" دغه خو مسْله ده ، چي زه دلته زياتره وخت دَ دي بېلابېلو ژبو ويونکو خلګو له سوبه ښه ډېه پرېښانه شم او کله کله خو راته انګلسي دَ پېريانو ژبه محسوسېږي "

" هو ، دلته چي له چا سره په انګلسۍ کي خبري کوم ، نو هغه راته داسي وګوري ، لکه زه چي دَ آسمانه راغلي يم "

" بلکې کله کله داسي ردعمل هم دَ انګلسۍ په ضد ښکاره کړي ، لکه هغوئ چي له دې ژبي کرکه کوي "

ما چي داسي رائې وړاندي کړه ، نو ونېسا کېدلی شي، چي په دې راته وګتلو ، چي ما يې ژبه غندلي وه - او بيا خپله واي..

" دا ښه خبره ده ، لاکن دَ کميونيکېشن دپاره خو هم يوه ژبه په کار ده "

" هو ، که هغه انګلسی وي يا فرانسوی ژبه ، ولي چي دا دواړي ژبي په دُنيا کي بېخي ډېر ويونکي لري "

داني چي دا وئيلو ، نو روني هم ورسره دَ هغه خبره داسي خوښه کړه -

" هغه ځکه چي دغه دواړي ژبي سائنسي او علمي هم دي "

" لاکن خپله ژبه خپله ژبه وي - که هرڅو هغه وړه وي يا غېر علمي او سائنسي "

منم .. چي خبره يې صحيح کوله ، خو ما دَ خپلي پښتو سره دَ جنون تر هانده دَ ميني له سوبه په خپلي پورتنی خبري باندي جذباتي تېنګار څه وکړو ، چي ملګرو دَ وړَو ژبو په باب زما دا رائې په خپل خپل نقطهْ نظر ډېره وَغندله - او بيا مخته که ما هرڅو دلائل ورته کتارَولو ، خو دَ مشر بادار دَ لورکی دَ تپل شوي رائې په حق کي ملګرو ماته ګرسره غوږ نه نيولو - لاکن زه هم خپل ضمير ته دَ پښتو په حق کي نيول شوی نه وم او پښتو مي کوله - که څه هم يوې خواته چي زه څومره څومره دَ پښتنانه په څير پښتو ته جوړېدمه ، نو بلي خواته هغومره مي دغي شېريني پښتو دَ سيالو ژبو په مقابله کي تول ځکه کمَولو لګيا وه .. چي تش په خبرو باندي خو هم دَ شهيدانو او غازيانو ژبه جنتي کېږي نه - نو ځکه که دننه دننه ما ماته دَ هغوئ په لومړئيو خبرو کي لا منلي وه ، خو خبره دَ پښتو وه او داسي مي په نره سرته رسوَله لکه بې پښتو چي بله ژبه په دُنيا کي چرته وي نه -

لنډه دا ، چي نېغ خپل هوټل البا پېلس ته دَ نيم ساعت دَ پېښو مزل ورسته ورسېدلو -

*****

# شپه. چي سهار کېدله نه

دَ ويانا دَ څلورم ډسترکټ په يو چينائي رېستورېنټ کي دَ ماښام ډوډۍ خوړلو ورسته زه له فلپائيني يارانو او توشي سره چي دباندي وَوتم نو دومره يخ وْ،چي هيڅ ګزاره ورسره نه کېدله-

" دا به يې په ژمي کي څه حال ؟ "

" دَ چا.. توشي خو نه ښئې ؟ "

روني چي زما دَ سوال په ځواب کي داسي وَوئيلو ، نو توشي زه وَ د ېکلم او ما دَ مستۍ ګزار په اړام روني وَکړو- او هغه چي له اوله په حال کي نه وْ ، نېغ په هغې ځواني جوړې کي له کسته ور ټوپ کړو ، چي دې وخت يې له يخ موسمه خوند اخيستلو سره سره يو بل ته دَ خلو په لارو باندي ګرمي هم منتقل کوله-

بس بيا نو څه وْ ، پېغله دَ تېرې چيغې وهلو ورسته يو دوه قدمه يوې خواته ټوپ شوه او په خپله ژبه کي يې ګوره چي جاپانيانو ته څه وَوئيلو- چي توشي ور مخته شو او ترغاړې يې داسي وَنيوله لکه هغه چي ښځه نه ، بلکې نر وي او ښه شاربلو ورسته ورته واي..

" جاپانيانو له تا سره کوم بد کړي دي ، چي ورته بد واې ؟ "

هغه انجلۍ چي ماته ګوډه انګلسي يې هم وئيله ورته واي

" ما ښکنځا نه کوله.. ما خو په دې ناڅاپي پېښي خداى يادَولو "

لاکن توشي وْ، چي له ټينګېدلو وتى وْ او په خلې چي څه ورتلو هغه يې وئيلو- خو آخير تر څو ؟ دَ هغې پېغلي يار هم غېرت وکړو او توشي يې شاته د ېکلو ورسته ورته وئيلو..

"هغه پربږده ، له ما سره خبري وکړه .. که واقعي دَ نر ځوی يې سپئيه ! "

بس بيا نو څه وْ، دواړو يو بل ته لاسونه واچَولو او روني هم اول خپل کميس په ميان له غُصي دوه ځايه کړو او بيادَ فلمي هيرو په شان په کي ورانِله شو- که څه هم دا جنګ دَ يو بل دَ جامو څيرَلو وْ ، خو بيا هم زه او داني يې په ګواش ستړي شولو- دا لا دَ هغو نورو دوْ ښځو لارويانو ډېره مننه ، چي زموږ سره په ګډه يې هغوئ کرار کړو او يوې ښځي خو هغه پېغله داسي هم ترټله لکه خپله چي يې وي او يا يې پېژني-

جنګ چي څنګه سوړ شو، نو هغو دوْ لارَويانو له روني او توشي څخه بخښنه غوښتلو ورسته دا ست هم وکړو، چي تاسو ټول به اوس په دې نيږدې کېفې کي کوفي هم زموږ په خرڅ څښئ- ما او داني که څه هم نه غوښتلو ، خو روني او توشي چي تر اوسه يې دُښمنۍ ته جوړېدلي وْ ورسره تيار شولو او ټول په څيرو جامو کي وَ کېفې ته پېښنه څه وکړه - چي هلته ناستو خلګو موږ ته په ډېرو وازو وازو سترګو کتلو او په خپلو کي يې خبري هم کولې لګيا وْ-

"تاسو خو جاپانيان ياست.. او جاپانيان خو ډېر ښه خلګ دي"

يوې ښځي چي روډي يې نوم ښئيلوسره سم يې ځان ته دَ هغې پېغلي خاله وئيلو چي لستونۍ يې څيري وْ او لا يې په خشم خشم زموږ په لور راکتلو او دننه دننه يشېدله،څُوڅکېدله-

"هو موږ جاپانيان يُو او دلته دَ سېل دپاره راغلي يُو "

داني چي داسي ورته وَوئيلو، نو اوس يې خوند هم نه کولو ، چي ورته مي دَخپل خپل هېواد نوم اخيستی وی-

"څنګه دی دا زموږ هېواد؟ "

"ډېر ښه او دا ستاسو ښَه والی هم سړی متاثره کوي "

ما يې زړه ساتلو دَپاره چې دا وئيلو ، نو هغه بله ښځه واي.

" ته هم جاپانی يې؟ "

او بيا يې زما دَ "هو " يا "يَه " انتظار کولو له مخه خپله وئيلو ،

" ښکارې نه ، ولې چې "

ما به لا اوس يو ځل بيا خپل تول دَ خپل هېواد دَ نامه اخيستلو له لاري کمَولو ، چې خدای په ما کرم وکړو او هغې ځواني پېغلي دَ روني ، چې کميس چې په ميان کي دوه چاکه وْ په لور اشاره کولو ورسته داسي وَوئيلو ،

" آنتې آنتې .. که ته دا خپل جېکټ وَ دې سړي ته ورکړې ، نو به له يخه په امان شي "

دا خبره څه وه ، چې نو نور خو لا نور ، روني خپله هم ځانته دَکتلو ورسته له خندا داسي شين شو ، چې موږ هم غلي نه شو پاته - بيا که څه هم هغې ښځي هيڅ نه وئيلو ، خو ګېپه خلاسه شوي وه او دَ ماخستن دُښمنان دَ شپې دَ يخ سره سره تر خپلو دَ دوستیِ رښتي نه يوازي جوړَولې بلکې تر ډېره هانده يې تودَولې هم - ولې چې دَ توشي او روني لاسونه اوس دَ هغوئ له ژبو سره ملګري نه کوله - ګوا ژبو يې يو څه او لاسونو بل څه وئيلو او بلکې کولو- ما او داني او ځوان چې توشي يې له غاړي نيولی وْ دومره خندلو ، چې کله کله به له ډېري خندا څخه دَ هغو نورو ملګرو او په کېفې کي ناستو خلګو هم په زيږو راته وَکتلو -

" يَه يَه .. هيڅ خبره نه ده ، موږ له خپلو مېلمنو سره ډېره ښه روئيه ساتو "

هغې پېغلې دَ توشي لاس له خپل ادوم څخه لرې کولو ورسته دا چې وَوئيلو ، نو ما وَ داني ته په غورږ کې وَوئيلو..

" ښه به دا وي چې لاړ شو ، داسې نه چې.. "

" هو هو مورږ ته تلل په کار دي ، ګني لاسونه به يې له ادومانو بلې خواته تچ کول پئيل کړي "

داني زما په مطلب پوهېدلو ورسته چې داسې وَ وئيلو ، نو روني دَ يو بدمعاش په رنګه لاس پورته کړو او داني يې په ملا ټکولو ورسته په غوزېږ کې ځانته داسې ورټول کړو ،لکه هغوئ چې هم په خپلو کې سره Gay وي- هم ځکه خو يې ورته په حېرت کتلو-

بيا چې مورږ له هغوئ څخه اجازه واخيستله او دباندې راوَوتلو ، نوروني ته مې خپل کوټ ورکړو او ما مفلر په غوړږو راوپېچلو او څلور سره ملګري دَ هوټل په لور روان شولو-

" په ويانا کې دَ شپې ژوند ډېر ښه دی "

توشي چې دا خبره وکړه ، نو ما ورته وئيلو ..

" څه خبر يُو ؟ دا دَ نن شپه خو مورږ ستاسو په غال کې تېره کړه "

" نو بيا درځئ چې په دې ښار کې وګرځو "

اوله دې سره سم يې ټېکسي په لور اشاره کولو ورسته وئيلو..

" هغه ټېکسي راروان دی ، نن زما په خرڅ دا شپه زما په خوښه تېره کړئ "

" مګر زه خو ځم ويد يږم "

ما چي اختلاف وکړو، نو داني تر لاس وَنيولم او په ټېکسي کي دَ ويانا وَ منځني ښار ته روان شولو-

---

"خيال کوه په داسي ځاى کي ګنډ کپان زيات وي"

داني ما ته ځان رانيږدې کولو ورسته چي دا وئيلو، نو دې وخت موږ دَ يو غټ ګېټ مخي ته ولاړ وْ- او توشي په ضد وْ، چي دَ آسټرينو دا کلچرل شو به ګورو- او بيا يې خپل ضد سرته کولو ورسته ټيکټونه په لاس کي نيولي وْ او تر موږ مخ مخ کي دَ هال دَ ګېټ په لور روان وْ- شو څه وه؟ دَ آسټريا دَ ثقافتي او زاړه ژوند دَ خوى او بُود په حقله يوه غټه سټېج ډرامه وه- چي تر دوْ ساعتو پوري يې موږ له ځان ځان سره وړلو او په پولکا او ځينو نورو خوندورو روائتي رقصونو يې زموږ له زړونو دَ عمرونو زنګونه لري کولو-

په ګڼو جامو کي ښځه څنګه ښه او درنه برېښي؟ په دې خبره باندي په ژوند کي اول ځل پوهـ شوم او خپلي روائتي پښتني جامې مي سترګو ته دلته هلته کېدلې- او کله کله به مي داسي هم وَسنجولو، لکه زه چي له خوبه خپلي پښتنې وينم- ولي چي کله چي به دا آسټريني حُوري په يوه دائره کي دَ ناچ کولو په وخت څرخېدلې، نو زما به هم زړه غوښتلو، چي ورپورته شم او هغسي دَ کالج دَ زمانې پښتني اتڼ ورسره وکړم-

په دې شو کي چي کومه خبره زما نه شوه خوښه، هغه دا وه، چي يو خو ټوله ټاله په جرمني ژبه کي وه او بل په هال کي ناست خلګ تر خپلو ژغېدلو هم ډېر- توشي چي زما وَښي لاس ته ناست وْ هم وَ هغه بل اړخ ته ناستي يوې ښخي زړَې ښځي سره داسي ژغېدلو، لکه جوړه چي يې انا وي- په زړه کي مي وئيلو، چي دا پيټ پوزي خو په ډېرو خبرو کولو کي مشهوره دي چي دي- خو دا دَ نوري مغربي دُنيا خلګ هم په دې اړه تر چا له شا نه دي پاته- او موږ پښتانه خو چي وَ هغوئ ته وګورو، نو ګرسره ژغېږو نه-

شو ښه روانه وه ، خو تر ختمېدلو له مخه ثقافت يو او تاريخ په بله پاته شوئ وْ او درست هال په خپل خپل ځاى ولاړ ډسکو کولو ته جوړېدلى وْ- او داسي تضاد او په تضاد کي

خوند ما په لومړي ځل لیدلی وْ - ګوا دَ موزارټ په کلاسیکل میوزیک باندي ډانس..او هغه هم ډیسکو ،که څه هم ډېر عجیبه ښکاره کېدلو ،خو له خونده یې انکار هم نه شو کېدلی - ځکه چي ترتیب خو تر منځه وْ نه،بس هر چا لاسونه او پښې یوې بلې خواته ښنډلو - او تر ډېره پوري خولې ایستلو ورسته چي شو ختمه شوه، نو هر چا دا هڅه کوله لکه دباندي چي بله شو هم لګېدلي وي او هغه ځان ورته رسوي - ګوا داسي دیکې یې سره ورکولې -

"اوس به چرته ځو؟ "

دباندي وتلو ورسته توشي چي دا خبره وکړه ، نو داني واي

" هیچرته نه ، هوټل ته "

" هوټل ته؟ یَه یَه اوس به بلې شو ته ځو "

او دَ هیچا یوه خبره یې نه اورېدله او په مخه روان شو او څه مخته له یو سړي څخه چي یې دَ بلې نامعلومې شو پوښتنه وکړه ، نو هغه هلته نیږدې ولاړې انجلۍ ته ژغ کړو- او ګوره چي څه یې په خپله ژبه کي ورته وَوَئیلو ، چي هغې له "کم کم" سره موږ په یو خوا ورسم کړو -

" داني ! دا توشي به مو نن پوره کار راوَکړي "

" هو ، شوقه.. زه هم وېرېږم، داسي نه چي په بل غم مو واړوي نه "

ما او داني لا دا خبري کولې چي هغې انجلۍ یوې دروازې ته وَدرولو او واي..

" پیپ.. پیپ.. پیپ "

او بیا یې Tip اخیستلو ورسته مخته تېره شو او توشي واي -

" درځئ ، چي دننه ورشو "

" تاسو ورشئ ، زه خو هلته په هغه کوفي شاپ کي کوفي څيښم "

او له ماسره داني هم خوښه کړه او واي..

" هو ، زه به هم له شوق سره کوفي وَڅيښم "

بيا زه او هغه دواړه په خپل ضد داسي ټينګ شولو ، چي آخير پای هم هغوئ په خپله او موږ په خپله لاره کوفي څيښلو ته وَجوړېدلو - که څه هم دا يونيم ساعته راباندي کال شوی وْ ، خو ما دلته ښېخي زيات خلګ دَ خپلي مطالعي په نيت وَژغولو - لاکن دا ښېلا خبره ده ، چي دلته هم دَ شپې په ژوند کي دَ هري دويمي ښځي مطالبه دَ پيسو کوله - او دا هغه خبره وه ، چي زه يې دَ انسان په غرضي فطرت وَ سوچ ته پارَولم - ګوا ما سوچ کولو ، چي

" دا خلګ خو هم لا دَ خپلو ضروریاتو له لاري هغسي خواست ګر دي ، لکه زموږ دَ هېواد سوالګر - بس توپير يې تر منځه دا دی ، چي زما په هېواد کي سوالګر دَ دوْ وختونو دَ ډوډۍ په غم بل ته لاس نيسي او دلته دا په ظاهره خوشاله خلګ نور نور ځان وساکولو په غم ډنګرېږي او په داسي سړو شپو کي هم سهارکولو ته غړی نه اچوي "

بيرته له سوچه راستون ځکه شوم ، چي داني دې وخت له يوې ښځي سره زما دَ مطالعې دپاره داسي مجلس تود کړی وْ -

" ته خو له جامو ډېره دَ ماړه او خوشاله کورنۍ ښځه ښکاري،نو بيا دا شپه څله په خوارۍ خوب نه تېرَوې؟ "

خو هغې دَ سګرېټ په غټو لوګيانو کي وئيلو -

" داخو زما مجبوري نه ده ، بلکې زه په يو دفتر کي کار کوم - بس لږ پام غلطولو په نيت راوتلي وم "

"نو تر اوسه دي له چا سره...؟ "

دَ داني دَ خبري په ځواب کي يې چي دا وَوئيلو، نو مي داني ترلاس وَنيولو او ورته مي وئيل..

"درځه چي هلته ځو، هغه ياران به هم اوس دباندي راوځي لګيا وي "

که څه هم وَ داني ته زما دې خبري خوند نه کړو ور، خو چي له ليري روني راژغ کړو، نو داني وَ موسېدلو - او دَ روني او توشي تودې تودې خبري اورېدلو سره موږ مخته روان ځکه وْ، چي دې وخت اول خو ټېکسي نه وْ ، او که وْ هم ، نو هلته دَ ډ سټرکټ 4 په لور تللو نه - په غټېو ګامونو مخته روان وْ او په هر دويم قدم مو له يوه نا يوه لاروي څخه پوښتنه کوله او چي ښه سټرې شولو، نو په يو ټېکسي کي کښېنستلو او نېغ هوټل البا پېلس ته څلور بجو خواته ورسېدلو - څنګه چي په بستري پرېوتم ، نو بيا مي خوب وَ ټاپو ته ځان رسولی وْ او ليدل مي چي زه هم په يو سکائينک سپات باندي موجود يم - هو ، دَ هغه بلي ورځي دَ منظرونو په شان چي موږ دَ ويانا په خوا را روان يو نيم ځای تر سترګو شوی وْ - ګوا زه هم دې وخت په سکائينګ کټ کي په يو تک سپين او هسک غره باندي ختمه او دا خبره مي په زړه کي بيا بيا راګرځېدله، چي زه به له دغه دنګ غره څخه څنګه په دې واورو باندي راګوزېږم-

لنډه دا، چي څنګه دَ غره له سره مي دَ راښوېدلو دَ پاره سترګي پټولې ، چي په پلنګ کي سامولی غوندي راکښېنستم او په خولو کي ډوب شوی وم - دې وخت دَ سهار اووه بجې وې - نو ځکه مي دا خوب او په خوب کي ليدلي منظرونه وَ ډائرۍ ته وسپارلو، چي مخته دا خوب "جوړه مړيمه يا وينمه خوبونه" تر عنوان دلاندي نظم هم شو-

دَ برايه شپې دَ بې خوبۍ له سوبه مې دا حال وْ، چې سترګي که مې څه هم ويښې وې او يوې بلې خواته مې غړَولې، خو بدن مې ويده وْ - هم ځکه خو چې له بالا ځخه ځنګه په پوړيانو راګوز شوم ، نو مې په سترګو توره تياره راغله - او زه لکه شرابي يوې بلې خواته دَ يو ځو ساعتو دپاره څه وَ ځنګېدم ، چې ځنګ ته په صوفه ناستي لوري ويوار پوښتنه وکړه

" نشه خو نه يې ؟ "

" دې سړي نو کله نشه کوله ، خود لکه چې طبعيت يې ښه نه دی "

زما په ځای دَ هغې په ځواب کې کرستينا چې داسي وَوئيل ، نو دواړي راپورته شوې او زه يې تر نيږدې صوفې وَرسولم او ځنګه چې يې په صوفې باندي کښېنولم،نو مې په موسکا کې ورته وئيلو

" زه روغ جوړ يم ، دَ فکر کولو ضرورت نه شته - بس مازي برايه شپه مې خوب نه وْ کړی "

او په دغه وخت روني او داني هم راوَرسېدلو - زما هم څه زړه په ځاي شو او له ملګرو سره دباندي دَ بس په لور ور وَتکېدم - بيا چې بس په مخه رهي کېدلو ، نو موږ درې واړه ملګري بيا دَ شا په سيټ کې ويده شوي وْ -

يوې ګنټهې ورسته چې راويښ شولو ، نو دَ ملګري ويلئيم په قول موږ داسي ښه په خوند ويده ولو ، لکه جوړه چې په بسترو کې پراته وْ - هم دغه خو وجه وه ، چې اوس مې طبعيت هم ښه برابر شوی وْ - او دا هغه وخت وْ ، چې بس په واورو کې مخته روان وْ او داسي ښکاره کېدلو ، لکه دا واوره چې نن سهار شوي وي - ولې چې تازه برېښېدله - او وخت دَ سهار نهه بجې وْ چې موږ درې سره ملګرو له خوبه دَ راستنېدلو تياریاني کولې - لاکن توشي ، چې له موږه درې چوکيانی مخته له ونېسا سره په خپل وار ناست وْ داسي ويده وْ ، لکه مړی او سر يې لاندي يوې بلې خوته ځنګېدلو او نيږدې ملګرو ورباندي خندلو هم لګيا وْ - او هلته په لاوډ سپيکرانو کې ميرنا هم وئيلو -

" شوق او دَ هغه دَ پارټۍ ستړيا او دَ شپې ويښ پاته کېدل خو مي زړه مني ، لاکن دا توشي نن څنګه په خوارۀ خوب ويده دی او يوې بلې خواته لکه ماشوم څنګېږي - چرته هغه خوهم برايه دَ شوق او پارټۍ په سېلاني جنون نه وْکښېوتی "

" هو هغه برايه له موړ سره ډاوْن ټاوْن ته تللی وْ "

دَ هغې دَ خبري په ځواب کي روني هم دومره په زوره دا خبره وکړه ، چي درست بس واورېدله - خو هغې بيا بيا پوښتنه کوله - لاکن په دويم ځل بيا روني هم نه شو ورته وئيلی - ولي چي په لومړۍ خبره يې لا درست بس له خندا شين شين کېدلو-

موړلا دا خبره انجوای کوله ، چي دَ ډېني هاوْ پېغلي خور داسي په کلکه وَنوړلو ، چي ميرنا واي-

" دَ آسټريا دَ يخ اثر شروع شو "

او ډېني هم وئيلو

" ميرنا ! ما پرون وَ دې ته وئيلو ، چي په واوري کي لوبي مه کوه ، خو دې نه منلو - او اوس دا ده چي اوس زکام هم شوه "

" لاکن دا خو لا خبردی ، چي نور نه کړي زکام "

او بيا يې په مسته چان ژغ وکړو او په خندا کي ورته واي

" خيال کوه ، چي ته هم.. "

دومره وئيلو سره يې سم زموړ پام دَ هغو انجونو په خوا واړَولو ، چي وې خو پټې په تودو جامو کي ، لاکن په يو بل يې دَ واورو ګولې داسي غورځولې لکه هغوئ چي په يو Beach

باندي بازۍ کوي - او نه يوازې دا ، بلکې هلته له دې انجونو څخه په څه فاصله باندې دوه واړه ماشومان هم په واورو کې رغړېدلو ، نو ځکه ميرنا واي..

" په کار خو دا دی ، چې مورې هم له دې ماشومانو څخه وَشرمېږو "

مخته چې بس په يو رينگ روډ باندې وَکېږ لاس ته په يو پراخ سړک باندې منډه پئيل کړه ، نو هغې وئيلو..

" دَ دې کال دغه ايسټر، چې څو ورځې ورسته ګوا په اووم اپرېل راځي به هم دَ وائټ کرسمس په شان په واورو کې تېرېږي - او دا خبره درته کوم ، چې څنګه مورې مخته ځو ، نو به واوره نوره نوره زياتېږي "

او دغسې خبره وه، ګوا وار په وار هرڅه بيرته په سپين څادر کې ورنغاړېدلو لګيا وُ - بلکې څه مخته ، چې مورې له موټروې نمبر 82 څخه په سمرنګ ماونټېن پاس روډ باندې دَ آسټرواټالين بارډر په لور واټن کمَولو - نو مورې په تنګو او پراخو ناوْ کې تېرېدلو - چرته چرته چې به ټاوْن مخې ته راتللو ، نو داسې به ښکاره کېدلو لکه په هغو کې چې انسانان نه ، بلکې پرياڼان اوسېږي - ولې چې تر ليري ليري پورې دَ آدم زاد نوم او نشان نه ښکاره کېدو او شاوخواته وني او بُوټي هم په تکه سپينه واوره کې داسې پټ وُ لکه هغه چې وني او بُوټي نه ، بلکې سپيني باري پرتې وي -

اوس خو چپ دَ واورو له سپينو غرونو او غونډيانو بل هيڅ نه ښکاره کېدو او بلکې په دې روډ باندې مخ او شاته چپ له واورو بل هيڅ هم نه وُ- نو ځکه ميرنا له دانيال اُستاد سره مشوره کولو ورسته واي -

" خُدای دې مورې په خپل امان کې واخلي - دا خو نه زمورې مخته ټرېفک شته او نه شاته - ښکاري داسې ، چې لاره مخته بنده ده "

او بیا یې په خپل فون ، چې غالبًا سپټلائټ فون وْ باندي له چا سره خبري کولو ورسته وئیلو -

" هر څه په خپل حال دي - خلک دَ خپل احتیاط له سوبه له داسي سفره ځانونه ژغوري "

په بس کي دې وخت دَ چپیا داسي عالم وْ، چې دَ ساه اخیستلو ژغ هم نه اورېدل کېدو او هر ملګري بل ته کتلو - لاکن په درست بس کي یوه ونېسا وه ، چې په دې بل اړخ چوکۍ کي ناستي لوري اوګرېک سره یې په داسي مړانه خبري کولې لکه هغه چې دَ سخترو سره په مخامختیا کي خوشالي محسوسوي - ګني یو وخت چې هلته لیري ناست باکسواله کله دَ خپلي مائینې زړه په تسلیانو ور پورته کولو ، نو خبري یې هر چا اورېدلې -
نه یوازي دا ، څه مخته خو مي داسي سنجَولو لکه زموږ بس چې په واورو کي دننه روان وي -ګوا دواړو خواوْ ته دومره غټې غټې دَ واورو دېوالونه ولاړ وْ - چرته روان یُو دا کوم ځای دی ؟ هیڅ نه وه معلومه - ولي چې هرڅه خو پټ وْ - نه بوره ښکاره کېدلو او نه دَ میلانو ډېري - غرونه هموار په وار خپلي څوکي دَ آسمان په لور غزولې -

"ګوره چې دباندي به څومره یخ وي ، چې هرڅه په واورو کي پټ دي ؟ "

دا هغه سوال وْ، چې بیا بیا ما له ځانه کولو - ولي چې دا دومره واوره ماکله هم په خپل ژوند کي نه وه لیدلي - اوس وني .. وني نه ، بُوټي .. بُوټي نه او نه غرونه .. غرونه ښکاره کېدلو - تر لیري لیري پوري واوره وه او یا دا زموږ بس چې مخته روان وْ او په کي ناست ملګري ساه نیولي او سامولي ښکاره کېدلو - هو ، ښه مي په یاد دي چې کله بس دَ روډ یوې څۍ ته په سپینې وائټ نامي ټاوْن کي جوړ ، لاکن په واورو کي تر ډېره هانده پټ رېستورېنټ باندي وَدرېدلو ، نو په موږ باندي دَ نوي ژوند زېری وَشو او په ټولو کي ساه وَښورېدله - او لاندي له بس څخه کښته شولو - چې دَ W C څخه څنګه راوَوتم ، نو خپل ښي لاس ته مي په اېډرین او ویلینا کي پام شو ، چې په لومړي ځل یې زموږ دَ مخه یو بل ته شاهد چې په دې وجه خلې ورکړي وې - چې بیا مخته ګوره ، چې ژوند وي هم که نه - خو زه چې یې وَلیدم ، نو سره لیري شولو او کرار غوندي وَموسېدلو -

"واوْ.. په دغو خلګو کي هم دومره حياه خو شته"

داسي مي ځان سره وئيلو ورسته ګامونه مخته دَ ربستيوربنتې په لور اوچت کړو-

---

دلته دَ څو دقيقو ستړاپ کولو ورسته زموږ بس هم دَ اوږدو ټرالرانو په کانوای کي شا شا ته په مخه رهي شو او دا کانوای چي څه مخته لاړه ، نو ودرېدله او ميرنا لاندي ګُوزېدلو ورسته دا حال راويستو ، چي مخته يو ټرالر اوبنتی دی- ځکه روډ بند دی- هر يوه له بله پوبنتنه کوله چي اوس به څه کوْ اوس خو بې دَ هېلي کاپټرانو دَ کومک په پرته بل هيڅ آسره نه لرو- او وه هم دغسي کيسه-

"دلته انتظار په خپل ځای ، لاکن دا حاجت به څنګه پوره کوْ ؟"

" Behind the bush "

دا هغه لنډ ځواب وْ ، چي ميرنا دَ لاراګُوک چي خپلي چوکۍ مخي ته ولاړه وه ته وکړو- لارا خپلي ناستي ملګري ته کتلو ورسته بيرته په ميرنا ژغ وکړو-

"لاکن څنګه؟ لاندي خو هر لور واوره ده"

ميرنا دَ مخ له شيشې څخه دَ هغه سړي په لور اشاره وکړه، کوم چي دَ ټرالر وَ ټائر ته ولاړ وْ او حاجت يې پوره کولو، او واي

"هغه رنګه.."

"هغه خو سړی دی ميرنا "

لاراګُوک چي په خندا کي دا وَوئيلو، نو ميرنا هم له خندا شنه شوه او واي..

"هو رښتيا ، هغه خو سړی دی او ښځې خو داسي نه شي کولی "

دومره وئيلو ورسته يې په هغې ژغ کړو -

"راځه يو ځای به لا پيدا کړو "

او بيا دواړي دَ بس ښې لاس ته له موړه پټي شوې - دَ هغوئ دَ راتګ ورسته په بس کي ناست هر ملګری په خپل خپل وار لاندي دَ حاجت په نيت ګوزېدلو - او بيا داسي وخت هم راغلو ، چي ميرنا او دانيال په يو بل باندي واوره څه غورځول شروع کړه ، چي دلته ابهٔرين او دَ هغه ملګري ويلينا هم په يو بل باندي ګزارونه کولو او دغه رنګه دَ کاسموس ټول ملګري داسي بيرته را ژوندي او موسکني شولو - چي دَ دې هېواد سېګمنډ فرائيډ نامي نوموړی ماهرنفسيات مي په زړه کي را ښخ شو ، چي دَ ذهني ، روحاني ، نفساني او هن چي دَ ځينو بدني ناروغيانو علاج يې هم په نفسياتي توګه کولو کي لوی نوم درلودلو- ګوا هغه وېرو ، چي زموږ په زړونو کي يې ځای نيولی وْ - اوس کوچ ځکه کړی وْ چي موږ دَ خندا سامان برابر کړی وْ - او اصل وجه يې دَ ميرنا او دانيال دَ واوري هغه لوبه وه - چي اوس زموږ پېغلو له يو بل سره داسي کوله لکه دا چي شين ژمی نه ، بلکي تود دوبی وي-

---

"مخته واوره اوري... ګوا موږ نه شو تلئ "

ميرنا په موبائل باندي خبر اخيستلو ورسته تندئ وَ ټکولو او په مات زړه واي..

" موږ نن مخته نه شو تللئ.. مخته دَ ډېري زياتي واوري ورېدلو له سوبه روډ اوس مکمل بند کړل شوی دی "

دا خبر څه وْ ، چي په بس کي ناست هر ملګری پرېشانه شو او له ميرنا څخه پوښتني پئيل شوې..

" اوس به څه کوْ ؟ "

"چرته به شپه تېرَوْ ؟ "

"بیرته خو هم شاته نه شو تلی ؟ "

او دغه رنګه چا چي هم خله درلودله ، هغه پوښتنه کوله - لاکن میرنا چي یوازي وه او بلا ښځه ، چي دَ هر چا دَ سوال په ځواب کي یې بس فقط داسي وئیلو..

" دغه یو حل دی ، چي شاته په پښو تر هغه رېسټورېنټ پوري لاړ شو ، چرته چي موږ آخیري سټاپ کړی وْ "

ټول خقه وْ ، لاکن بیا هم هغه میرنا وه ، چي په ښځه ځان یې هم دَ ټولو حوصلې لوړَولې لګیا وه -

" شوق..شوق زه خو تا سره ملګري کېږم "

کائیکو داسي ځان را وَرسَولو ، لکه وړه ماشومه - نو ځکه ما هم ورته وئیلو..

" غم مه کو ، خدای به خېر کړي "

لاکن هغه وه ، چي تسلي یې نه کېده او بیا بیا یې وئیلو..

" کوره موږ خو اېشئین یُو - موږ به یو ځای یُو.. ښه "

څو څو ځله مي ورته وئیلي وْ ، چي زه به هغه یوازي نه پرېږدم - خو هغه وه ، چي را چیځېدله او ځان یې راباندي اړَولو څه ، تپَلو لګیا وه - او بلي خوا ته میرنا دا اعلان کولو ، چي

" ژر کوئ ژر... څه څه شيان له ځان سره در واخلئ او درځئ چي ځو شاته "

او څه وخت ورسته زموږ کاروان په واورو باندي شاته رهي شو - لومړئ چي هر چا څومره په تادۍ مزل کولو ، هغه کس لږ مخته هغومره شا شاته کېدو او ښوېدلو هم - په کوم کي چي دا وېرندوکي کائيکو هم وه ، چي په ما يې ځان را تاوان کړی و ْ-

" که مي پښې شلي شوې نو ما خو به دلته نه پرېږدي؟ "

يو ځل مي لا په زړه کي راغلو ، چي ورته وَوايم

" پرېږدم دي دلته "

خو چي به مي دَ هغې حالت ته پام شو ،نو ورته وَ به مي وئيلو..

"کائيکو.. زما له تا سره وعده ده،چي تا به په اوږو اخلم - خو ته لږ تسلي وکړه،خدای به هر څه خبر کړي "

دا به چپ شوه او واړه ګامونه به يې زما له قدمونو سره سمَولو هڅه شروع کړه -

ما په نره هم داسي سنجَولو، لکه موږ چي به دَ شپې تر خپرېدو پوري وَ هغه ځای ته نه ورسېږو ، چرته چي يو وړوکی ټاوْن دی - ولي چي اوس زياتره ټول ملګري ستړي شوي وْ - او بلي خواته يخ لا نور نور زياتېدلو لګيا وْ - که څه هم زموږ دَ کاروان په چپه څه نور خلګ هم اوس له موږ سره ملګري شوي وْ- خو دې وخت دَ تور روږ له دوْ ليکو په چپه نور هېڅ شی هم په واورو کي نه ښکارکېدو - او واوره هم لکه سپين غرونه ، چي موږ يې تر منځه روان وْ -

"داسي نه.. چي موږ هم دَ هغه آئس مېن په رنګه په دې واوره کي مړه او ورک شو "

داسي سوچ مي په هر دويم ګام کولو- هو نه يوازي زه وم ، داسي سوچ هر چا کولو او کائيکو خو لا يو ځل داسي هم راته وَ وئيلو..

"شوق که زه مړه شوم ، نو ما له ځان سره جاپان ته يُوشه.. ښه"

او بيا په ژړا سر شوه- خداى ګواه دى، چي زما په سترګو کي هم دَ هغې نازکي پېغلې په باب اوښکي راغونډي شوې- خو توېدو ته مي ځکه نه پرېښولې، چي زه نر وم او هغې ماته تمه وه-

واوره هم اوس ورېدله ، نو ځکه هر کس خپلي آخيري هڅي کولې ، چي ځان بچ کړي- يخ دَ هيڅا اوس ځکه نه کېدلو ، چي هر يو خوله خوله وْ- څه څه له ستړيا او څه له وېري- او بل په دې کاروان کي داسي يو هم نه وْ، چي په هر دويم ګام نه پرځېدلو-

"لاړه هغه ده ، روډ هغه دى ، نو هغه ټاوْن ولي دومره ليري شو؟ خبره نه يم "

يو وخت چي په ساهکېدلي اندازکي ميرنا هم داسي څه وَ وئيلو ، نوملګرو دَ مايوسۍ ګپه پئيل کړه- وېلينا ، چي دَ ايډرين لاس يې نيولى وْ وئيلو..

"زه داسي فکر کوم ، چي موږ لار غلطه کړه "

داني وئيلو..

"موږ ته نه وْ په کار، چي له هغه ځايه را روان شوي وى"

"هو ... هلته خو که نور نه خلګ او ګاډياني خو وې "

زاړه ويلئيم چي داسي وئيلو ، نو پېغلي لوري ويوار چي دَ مور په اوږه يې لاس نيولى وْ ، خو په ژړا کي وئيلو..

" ماما.. داسي نه ، چي په دې ځنګل کي مو ځناور وَخوري "

ځومره چي خلګ وې هغومره خبري وې، چي دَ سړي زړه يې نور نور وړوکی کولو- لاکن کائيکو ، چي اوس باقاعده لکه وړه جنۍ په ژړا سره وه او په سلګيانو کي يې وئيلو..

" زما خو زړه ډوبېږي.. زه به مړه شم.. زه به مړه شم "

هو.. هغه شوخه لاراګوک، چي زه به يې تنګولم هم يو ځای چي ښوېدله ، نو يې وَ ماته لاس را اچولو په وخت داسي چيغه له خلګ وَ وته ، چي تر زړه مي وَلوېدله - او ما هم داسي لاس ور واچولو ، لکه هغه چي وَ لوی کوهي ته لوېږي - او بيا چي لږ په خپل حال کي شوه ، نو راته مننه وئيلو سره سم يې سترګي له اوښکو ډکي شوې - او زه يې په ځېګر باندي داسي دَ خپلوۍ په احساس ځوکه غوندي وَ وهلم او واي..

" ته ډېر ښه يې، ډېر ښه او زه.. هو زه بده "

دومره وئيلو سره سم يې ورسره رواني بلېنډا په اوږه سر ږدلو ورسته داسي په ارمان وَ ژړلو ، لکه هر څه چي به اوس شاته پرېږدي او په دي واورو کي به دَ همېش دپاره ځان ورکوي - دَ هغې په داسي حالت قريباً ټولو ملګرو حوصلې زياته بائيللي وې - خو يوه ميرنا وه ، چي که څه هم اوس ډېره مايوسه شوي وه ، خو زموږ په دې کاروان کي تر زياتره سړيانو تکړه وه او تسلي يې هرچاته ورکوله -

لاکن په دې باندي هرڅوک خبر وْ، چي خبره اوس تر تسليانو وتلي وه او موږ دَ واورو دَ جوړو غونډيانو په منځ کي په دې روډ باندي دَ خدای په توکل روان وْ - که څه هم ورځ وه ، او رڼا هم وه - خوَ دَ ښخي ډېر ځُوپ او بې اندازې زياتي واوري له سوبه په هيڅ شي کي توپير نه کېدو - او نه په يو ځو ګامه باندي يو ځيز ښکاره کېدلو - ولي چي اوس خو روډ هم سپين شوئ وْ او موږ خپله هم وار په وار په راوربدونکي واوري کي پُټېدلو لګيا وْ -

او ناشوده خو هغه وخت وَشوه، چي دَ میرنا ټېلیفون هم کار پرېښی وْ او هغې که هرڅو وئیلو ، چي ببټرۍ یې ختمه شوه - خو هیڅچا داسي نه منلو او دا یې ګڼلو، چي بس دا ورستی اُمید مو هم ختم شو - نو ځکه خو زموږ دَ کاروان درستي ښځي چپ له ونېسا ژړلو او له نرانو سره یې ګامونه سمولو هڅي دَ کولو سره سره هغه منزل وَ خواته مخه کړي وه،چي تر لیري پوري یې هیڅ آثار نه وْ -

"زیاته په رسېدو یُو "

یو وخت چي ما په تسلۍ کي دا خبره وَکائیکو ته وَکړه ، نو وئیل یې..

"یَه یَه.دا خو تا څو واره داسي خبره کړي ده -واټن لا پاته دی "

او بیرته په ژړا سر شوه -

په زړه کي مي وئیلو..

"کېدلی شي چي هغه صحیح واي ، دا چي کله کله دَ هغه کلي دَ نیږدې کېدلو کوم آثار مخي ته راځي .. چرته زموږ دَ نظرونو فرېب خو نه دی ؟ او یا بیا دا هر څه هغه مړدوزمیان کوي ، چي موږ ته به په وړوکوالي کي مور په نکلونو کي یادَولو - چي ګوندي دا مړدوزمیان کله کله خپلي بڼي هم بدلوي او مسافران غولوي په داسي تکل چي مانا نه لري "

ما لا داسي خبري سوچ کولې ، څه مخته یوه تېره چیغه په فضا کي خوره شوه - ملګري هک بک په خپلو ځایونو وَدرېدلو او یو بل ته یې کتل شروع کړو - ټول هلته موجود وْ ، خو چپ له میرنا - او دا ژغ وْ هم دَ میرنا ، چي دې وخت له موږه بېله شوي وه - موږ به لا نور نور مایوسه کېدلو، چي هلته مخته یوه سپینه سایه لاسونه وهلو سره سره موږ خپلي خواته وربلي لګیا ده - ځکه موږ هم په هغه لور ور روان شولو - هغه سپینه بلا بل هیڅوک نه ، بلکې میرنا وه ، چي موږ ته یې دَ هغه سېنټ وائټ ټاوْن ته دَ رسېدلو زېری راکولو-

اوس که څه هم تر هغه ځایه پوري دَ لس منټو تګ نور پاته وْ ، خو دَ هر کس په بدن کي ساه راژوندۍ شوه - او بېرته تر خپلو خبري ډېري په خوند او خندا پئيل شوي وې - ټاوْن ته وه خو رسېدو ، لاکن هلته دَ بېخي زياتو خلګواو له شمېره وتي ولاړو ګاډيانو مورږ دَ ميرنا په دې خبره څه څه زهير کړو ، چي ګوندي په هغه يوازيني هوټل کي يوه خونه هم نه ده خالي -

" ګوره چي اوس به دَ راتلونکي سرې شپې تېرَولو دپاره هوټل کي چرته دَ سر پُټولو ځای پيدا هم کړو.. که به شپه په دې يخ کي دباندي تېرَوْ ؟ "

خو دا زمورږ بخت وْ ، چي مورږ دَ ډېرو هلو ځلو پرته په رېستورېنټ کي يو وړوکی هال ترلاسه کړو - او ميرنا وئيلو..

" دا لا بخت ګنڼ ، چي له واوري څخه دَ سر پټولو ځای خو مي مونده کړو "

او بيا ټول ملګري په هغه هال کي داسي دَ يو څو ساعتو دپاره وَغزېدلو ، لکه دَ عمرونو ستړي مسافران - څوک به چرته ويدېږي ؟ دا سوال دَ هيچا په مزغو کي ځکه نه راتلو - بلکې هغه تکړه وْ ، چي خپل بېګ يې چرته دَ قبضې په نيت ږدلو - که څه هم کائيکو لا راځرمه وه ، خو ونېسا او فليپينو ملګرو هم زمورږ وَکونج ته ټالیِ وَهلو ورسته په چم چم باندي رارسېدلو کي بري شولو - نو ځکه قبضه کولو ورسته دباندي وَوتو او دَ خېټې غم خورَلو دپاره په هر هغه شي ورسم شولو ، چي دَ خوړلو وْ -

---

" نه بستره شته او نه پلنګ ، نو اول خو به خوب نه وه شي - او که کېدو هم ، نو به دَ يو بل دَ بدنونو په تودښت "

ميرنا چي دا خبره په ټوکي کي کوله،نو زړَه لوري اوګريک ورته په خندا کي واي

" تا خو نو خپل دانيال هلته يخ ته ايله کړو - مورږ خو به ګزاره وکړو.. ته به څه کوې ؟ "

Khyber.ORG

په دې خبرې مو خندا ته لا سمي خلې جوړې کړې نه وې ، چې روني په کې نابېره وَ دا نګل..

"ولې دا زه چې يم "

بس بيا نو څه وْ ، ميرنا ورته په خلګو باندې برسېره را وَولانګلو او ورسره په څنګ کې کېنېنستو ورسته يې لاس دَ هغه په اوږه ږدلو سګره سمه واي..

"ما خو دا دی ځان ته نر پيدا کړو ، وايه ته به څه کوې اوګريک ؟ "

يوې خواته که نورو دَ هغو دوْ په ټوکو خندلو ، نو هلته روني سر زموږ په خوا راغزوَلو ورسته راته په څوکه غوندې تورو کې واي..

"خدای زما هم دا ده واورېدله او... "

مخته يې خبره ځکه نه کړه کش ، چې ونېسا هم روني په ملا ټکولو ورسته وئيلو

"مزې کوه روني مزې "

او بيا ماته راڅکېدلو ورسته واي

"ته هم نن خوشاله يې چې کائيکو.. "

لاکن خبره يې سرته رسولو دَ مخه ميرنا ته وار ورکړو.. هغې وئيلو

"اوس خو لا نيمه ورځ ده - خو هغه راتلونکې شپه به هم دلته تېرَوْ ؟ "

او بيا شاوخوا سترګې ځغلولو ورسته واي..

"نو ولي دا دَ ستړيا او پرېشانۍ وخت يادګاره نه کړو "

": هغه څنګه ؟ "

باکسواله چي هلته په مخاخ کونج کي له لُور او مائينې سره ناست وْ هم خله کولو سره سم دا پوښتنه وکړه -

" هغه داسي، چي نن به هر کس کم څخه کم پنځه منګه دپاره دَ ژوند هغه کيسه، چي هغه يې نه شي هېرَولی تېرَوي - خو په خونداو ربښتيا "

او بيا دَ څو نورو خبرو کولوورسته دَ ميرنا په خوښه لوري اوګريک تر ټولو مختهوار خپل لاس ته کړو او يوه داسي کورنۍ پېښه چي دَ خپل او مېړه له پرېکړون سره يې اړه لرله چي کله تېرَوله - نو يې په ورستۍ خبرو باندي ژغ ډډن شو او فقط يې دومره وئيلو سره خله وَترِله ، چي

" بيا مي مېړه دا لُور ( چي ورسره ناسته وه او لوري ويوار نومېده ) ، چي هغه وخت دَ پنځو کالو وه زما په لور را وَديکله او خپله دَ همېش همېش دپاره له کوره داسي ورک شولو ، چي بيا ما او زما دې لُور نه وَليدو "

او بياماحول داسي مانېجن شو ، تر اوومي کيسې پوري کيسې دَ غمونو کيسې وې - خو چي وار روني ته وره غلو ، نو هغه دَ خپل لومړي عشق داسي خوندَوره او له زړخوښيانو ډکه کيسه تېره کړه - چي له هغه ورسته بيا تر ورستۍ کيسې ، چي ميرنا کوله پوري دَ خوند او دَ دې عاشقانه ماحول په سمون تر ډېره هانده زړه تخنونکي کيسې وې -

لنډه دا ، چي که څه هم وخت لا دَ وختي ماڅېښين وْ ، خو دَ دې تېرو شوْ څو ورځو دَ ستړيا له کبله بيا يو نيم ملګري سُومکېدل او خرکېدل هم پئيل څه کړو - چي درست ملګري په خپل خپل ځای لاړو کرار شولو - هو .. که څه هم له يو بل سره نښتي او جوخت جوخت -

لا خو لومړی مازیګر وْ ، چي دباندي دَ ګاډیانو هارنونه او دَ خلګو ژغ ژوغ شو -

" خود لکه چي لاره خلاسه شوه "

میرنا دَ کهړکۍ تر شیشې دباندي کتلو ورسته ، چي څنګه دا خبره لا سمه نه وه کړي ، چي ټولو خپل خپل بېګونه اوړو ته کړو او هغه کوستړ ته ور وَختلو ، چي زموږ دپاره کرایه کړل شوئ وْ - او دَ ګاډیانو کاروان مخته روان شو - هغه لاره، چي نن په موږ باندي دَ کال هومره اوږده شوي وه په نیم ساعت کي لنډه شوله - او بیا موږ وْ او زموږ دَ کاسموس بس، چي دَ سمرنګ پاس په تنګو او اورینو ناوْ کي رهي وْ - او میرنا وئیلو..

" دَ سمرنګ پاس دا تنګي او پراخي ناوې چي دَ دې هسکو هسکو غرونو تر منځه جوړي دي ، له اصله دَ هغې غریزي سلسلې تر منځه غوره شوي دَ اوبو قدرتي لاري دي ، چي ایلپس ماوْنټېن نومېږي - او دا هغه علاقه ده، چي په دغو غرونو کي چرته هغه پنځه زره کلن آئس مېن هم موندلی شوی وْ "

" ځکه خو دومره یخ دی دلته او دومره واوره هم.. "

دَ ګائیډ خبره پرې کولو ورسته چي ډېني هاوْ څنګه دا خبره وکړه، نو میرنا وئیلو

" هو دا هغه علاقه ده، چي واوره او ساړه یې په پوره اروپا کي څه ، چي په نړۍ کي نوم لري "

او بیا چي میرنا څنګه چپ شوه ، نو شاته په اوږده چوکۍ باندي راسره په څنګ کي ناست ملګری روني واي..

" زه ډېر خوشاله یم "

" څله.. څه وجه ده؟ که موږ هم په خپله خوشالي کي درګډ کړې ، نو خوند به وکړي "

دا پوښتنه چي مي ځنګه ځيني وکړه ، نو هغه هم دَ يو سندرغاړي غوندي غاړه تازه کړه او بيا واي -

" هغه ځکه چي که ستاسو دپاره دا موقعه تاريخي ده ، نو ما هم په دې تاريخي ورځي باندي يو ياد په خپل زړه کي نوښته کړو او له ميرنا ډارلنګ سره مي خورا ډېره ګپه وکړه او.. "

هغه چي خبره لا سرته نه ور سوله،نو داني هم ورسره خبره خوښولو ورسته واي

" هو دا خبره خو ده ، دا ټول خلګ يې ګواهان هم دي "

داسي چي يې وَوئيلو ، نو ما هم ورته مبارکي ورکولو ورسته په ملا داسي وَټکولو لکه هغه چي هغه دَ سمرنګ پاس دَ غره هسکه څوکه سر کړي وي -

او بيا خبري دَ نن تر مجلسونو وَ هغي سټړيا وسا کولو پوري وَرسېدلې،نوځکه خو داني په زما په خوا راکتلو ورسته واي..

" ما خوب ځکه نه شو کولی،يو خو ځای نه وْاو بل دې يار ته مي سودا بنده وه، چي کله به دَ هغو دوْ انجونو تر ميان سپنډوېچ کېږي "

" لاکن سپنډوېچ نه شو..ولي چي خرکی يې ما په خپلو خوړو واورېدو "

روني تر ما له مخه زما لمن صفاکولو په نيت چي ځنګه دا خبره سرته وَ رسوله، نو داني په خپله مخصوصه خندا کي وئيلو..

" هو ،ته هم صحيح واي روني، لاکن زه هم غلط نه ځکه يم - ولي چي پروت خو بيا هم دَ هغو دواړو تر منځ وْ "

او بيا مي توجه هغو سپينو غرونو، چي غرونه نه وْ، بلكې سپيني واوري وې چي روڼ يې دَ مار دَ لاري غوندي تر مابېن مخ مخته غزېدلو لګيا وْ- مخته كه څه هم هسكو غرونو څوكه څوكه له واورو څخه يو نيم اندام ښكاره كولو او دَ څو غټو سُرنګونو څخه تېرېدلو ورسته چي موږ دَ ويلاج نامي ټاوْن او يو درياب شاته پرېښولو، نو آسټرو اټالين بارډر زموږ مخي ته وْ-

*****

# هر قدم په نوي ټاپو باندي

" مورږ ډېر خوش بخته یُو ،چي په بارډر باندي يې تنګ نه کړو - ګني په دې بارډر باندي دَ اِن آوټ کار زيات وخت اخلي .. او وجه يې دا وي ، چي دا دَ اټلي خلګ خبري کمي او کاغذاً زيات مني "

څنګه چي بس دَ آسټروا ټالين بارډر څخه مخته روان شو ، نو اسکارټ ميرنا غاړه تازه کولو ورسته په سپيکرانو کي داسي واي ..

" زه او دانيال دَ کاسموس له خوا دَ ګرېنډ يورپئين ټوْر وَ ټولو ملګرو سپلانيانو ته په اټلي کي ښه راغلی وايو - دا هېواد چي رقبه يې **310268** مربع کلوميټرانو باندي اړه لري .. دَ اروپا په جنوب کي دَ فرانس ، سوئټزرلېنډ ، آسټريا او سلوانيه څخه يې اېلپس غرونه جلا کوي او دَ بحريه ټرينئين او بحيرهٔ اېډرياټک په منځ کي يو ټاپووزمه هېواد دی "

دا خبري چي يې کولې ، نو واوره هم ورېدله او هر ملګري که څه هم په کټلو خوند ورباندي اخيستلو ، خو په زړونو کي يې ګوره چي څنګه څنګه ويرو ځای نيولو؟ ولي چي هيڅا نه غوښتلو ، چي بيا دي دَ سمرنګ پاس په غرونو کي دَ راټبرېدلو په وخت له هغسي پېښي سره مخامخ شي - لاکن له داسي خطراتو بې خبره پېغله ميرنا وه ، چي ژغېدله .. او هغه هم داسي -

" په اټلي کي دې وخت قريبًا **57.6** ميلينه خلګ ، چي اټالين نومېږي مېښته دي او رومن کېتهولک سره اړيکي لري - دارالحکومت يې روم دی ، خو ميلان ، نېپلز، ټورين ، جنيوا او پالرمو رنګه غټ غټ ښارونه هم لري - دَ کرنسي نوم يې ليرا دی ، چي دَ يوه ډالر په مقابله کي قريبًا **1500** ليرا لاس ته کېدلی شي "

دَ سپين ګرځ له سوبه دَ سړک وَ دواړو څئيو ته هيڅ نه ښکاره کېدلو - اوس که څه هم مورږ له هسکو غرونو څخه راټېر شوي وْ او دې وخت دَ وړو غټو غونډيانو په ناوْکي رهي وْ - دلته دَ سُرنګونو شمېرد نورو هېوادونو په مقابله کي زيات وْ - او بله اهمه خبره مي دا هم

محسوسه کړه ، چي په دې هېواد کي روږدونو ته څه زياته پاملرنه شوي وه - خبر ، چي کله په يو غټ رينګ روږ باندي بس وَ بلي موټروې ته ګرځېدلو ، نو ميرنا وئيلو ..

" سان مرينو او وېټيکن ستي که څه هم دلته په دې هېواد کي دننه وجود لري ، خو دواړه په خپل اختيار آزاد رياستونه دي - او سان مرينو ته به پېښه کوْ . لاکن وېټيکن ستي زموږ په پروګرام کي ګډ نه دی "

او څه مخته چي موږ له غټ سرنګ څخه تېرېدلو ، نو هغې وئيلو..

" يو هو..اوس موږ له ايلپس غرونو څخه راتېر شوي يُو - لاکن دَ آئس مېن ، چي پنځه زره کلن مړی وْ او هغه دلته په ايلپس غرونو کي موندلی شوی وْ او دا ممي اوس دَ آسټريا او اټلي تر منځه متنازعه شوي ده - يو واي دا زما ده او بل واي زما "

لاکن دَ دې آئس مېن په حقله دا خو هم وئيل کېږي ، چي..

" دغه مړی يو چا وژلی وْ او هغه هم دَ دې آئس مېن دَ پوُسونو دَ رمې تر لاسه کولو په نيت - ګوا انسان په هر وخت کي دَ انسان دَښمن دغسي پاته شوی دی ، لکه نن سبا چي دَ يو بل په وژللو کي دَ ځناورتوب ټول ريکارډونه ماتوي لګيا دي .. او هغه هم خندا تر هانده دَ امن په نوم - چي خوب يا يو فرضي توری دی او بس "

دا خبري مي لاسمي نه وې په ډائرۍ کي اړولي ، چي کائيکو راته واي..

" مسټر شوق ! تا خو په بارډر باندي ليرا واخيستله "

" نو بيا ؟ "

ما چي پوښتنه ځيني وکړه ، نو هغه په وړې خندا کي واي..

" ما ځکه نه کړه دا کرنسي تر لاسه ، چي له ماسره خو ماسټر کارډ دی او څه ټربولرز چېکونه هم لرم - زه به هڅه کوم ، چي يو ځای ليرا تر لاسه کړم - لاکن که نه شوم بری، نو ته ماته په پور زما دَ ضرورت په سمه تر سهاره راکولی شې؟ "

" ولي نه ..اوس به يې درکړم "

او بيا چي مي څنګه وېلتې له جېبه راواَيستلو ، نو دې مي لاس وَنيولو او واي ..

" يه يه .. اوس نه ، وايم چي که چرته زما په کار شولې "

لاکن زما په ضد يې دَ شلو ډالرانو په سمون دَ ليرا نوټونه چي تر لاسه کولو ، نو وَدې بل اړخ ته ناست روني په څنګلي داسي ويښتلم لکه ما چي هغې ته پور نه ، بلکې خرڅه ورکوله - ځکه خو ، چي کله هغه دَ خپلي چوکۍ په لور له موسکاګانو سره ولاړه، نو روني راته په خندا واي ..

" زما په خيال چي دا هم .. "

" څه مطلب ؟ "

ما چي دا پوښتنه کوله ، نو دَ هغه په ځای وَ هغه بل اړخ ته ناست داني مخ راغزولو ورسته ځوکه په غوږ کي راته وَوئيلو ..

" مطلب دا ، چي ډېر ژر به دي په لار کړي - دا خو به وَ منم ، چي شاته په سمرنګ پاس کي دَ هغې نيږدېکت که هرڅو دَ هغې فطري ويري دَ ضرورت له لاري وْ - خو اوس که يې واقعي پيسې په کار وې ، نو دا خو له ټولو سره وې - ته څله ؟ دا دَ بيا بيا اخيستلو مطلب دا دی - چي تر منځه مو دَ ليدلو کتلو بهانه وي "

ما هم داسي سر ورته ښورَولو لکه هغه چي صحيح واي ، خو ګڼه مخته ځکه په دې ټاپک نه وَشوه ، چي په سپيکرانو کي ميرنا وئيلو..

"وئيل کېږي ، چي خُدای دَ اټلي له خلګو ډېر خوشاله دی او وربانديِ مهربانه هم - ولي چي دَ ايمان پرته يې ورته غرونه ، رغونه ، دريابونه او ځنګلونه هم ورکړي دی - او بل زما په دې خبره هم هېواد ډېر خوښ دی ، چي کارونه ډېر په کرار باندي سرته رسول کېږي - او هغه نه دی اټالين ، چي دَ نن کار په سبا باندي نه پرېږدي - ګوا نن دَ هغوئ دپاره او سبا دَ کار دپاره دی - لاکن کېدلی شي ، چي داسي دَ پيسو په باب نه وي- ولي چي دا خلګ په پيسو هم مئين دی.. خو دا به وَوايم ، چي په فنون لطيفه کي يې دَ ذوق ځواب په نړۍ کي نه شته "

خبره چي يې په پيسو باندي سرته وَرسوله ، نو روني بيا راته واي -

"وا دي ورېدلو که يَه.. ډارلنګ دَ پيسو په باب څه وئيلو ؟ "

"لاکن هغې خو دَ اټلي دَ خلګو په اړه وئيلو او کائيکو خو جاپانۍ ده "

ما ورته ښېخي کرار غوندي وَوئيلو..

" هو منم، لاکن ښځه ښځه ده زما دوسته ! "

او له دې خبري ورسته يې داسي اپلاتي هم شروع کړې ، چي له خندا مي بيا تر ډېره پوري خله نه ټولېدله -

---

" په هر هېواد کي شُوکماران شته ، لاکن دلته په اټلي کي څه زيات دي او خيال کوئ - چي څومره څوک هوشيار وي ، له هغو څخه دا دَ شکوَنو والا هغومره زيات زيرک دي - هڅه کوئ ، چي په يوازي او په خوشي علاقو کي ورچپ نه شئ "

که څه هم ما مخ کي داسي اوربدلي وْ، خو دې وخت دَ میرنا خبري زه په دې باندي سوچ کولو ته مجبوره کړم او په ډائرۍ کي مي قلم داسي ورچمتو کړو-

" چرته چي هم کوم مذهب دَ جنون تر هانده زيات منونکي لري - هلته ګوره ، چي څله دهوکه ، فرېب ، شُوکماري ، تراه ګري او نور نور غېر انساني کارونه زيات کېږي ؟ "

هو دا هغه سوال دی ، چي ماته دَ بُدهـ متانو په اصل کور تهائي لېنډ کي ... خپل ګران مذهب په خپل هېواد او څنګلوري وطن کي ... هندومت په سري لنکا او نيږدي هندي هېواد کي ... او دا دی ، چي دَ عيسائيت په باب هم دغسي کمزوري خبري اورم لګيا يم - چرته چي دَ عيسايیت په نوم دَ درستي دَنيا ټېکه اخيستل شوي ده پرته هم دَ ناليدلو اسرائيليانو ظلم او غېرانساني کارونه هم له چا پټ نه دي -

او بيا چي مي دَ سوچ نيليان ښه په تېزۍ وَځغلولو ، نو اصل سوب ته يې په دې خبره ورسېدم-

"چي شېطان خو هم هلته ، چرته چي دَ رحمان او انسان تر منځه لاري لنډېږي خپل زور او زيار زيات په کارَوي - او چرته چي دَ شېطان په رضا کارونه کېږي .. هلته نو شېطان غواړي څه ؟ "

دا خبري چي مي ليکلې، نو موږ يو نيم ټاوْن چي هلته ليري دَ غره په رک سر باندي جوړ وْ شاته پرېښولو- دا خبره مي ځکه وَکړه ، چي دلته په اټلي کي زياتره ټاوْنونه دَ غرونو په څوکو باندي جوړ ښکاري - خو دَ خوند خبره دا هم ، چي هر ټاوْن ته پراخ روډ ، اوبه ، بجلي او نور ټول سهوليات فراهم کړل شوي دي - ما که څه هم دَ اټلي په قدرتي منظرونو باندي روح ته سکون ورسپارلو، خو ميرنا بيرته دَ پيسو او مادي ژوند او حاجاتو په حقله واي..

" دلته ژوند ګران او وَ سېلانيانو ته دَ شک په سترګه کتل کېږي - په خاص توګه دَ خپل طرز فنانشل عسکرانو سترګي به ستاسو په تعاقب کي وي - نو ځکه هر شی چي اخلي، نو رسيد

حتمًا اخلی -او بله خبره دا ، چي په اټلي کي به له خبره یوه هفته تېرَوْ -نو ځکه تاسو ته به په میلینونو لیرا په کار وي "

دا خبره چي یې کوله ، نو روني راته په غوږ کي وئیلو..

" ځان ټینګ کړه دوسته ! وَکائیکو ته "

دا بیا بیا چي یې زما له غوږونو دَ هغې جاپانۍ نوم تېرَولو ، نو حقه خبره ده، چي اوس زما هم سوچ په کي بند شوی وْ او په وار وار مي دَ هغې په لور سترګي ور اړَولې - یو نیم ځل یې سترګي هم راسره ټلور شوې، خو داسي خبره مي په کي نه کړه محسوسه..کومه چي داني او روني کوله - ټېلي پېتهي څه ته واي ؟ نن ما وَمنلو ، چي کائیکو هم راته بیا بیا کتل یو دم شروع کړو او یو وخت هغه را ولاړه شوه او شاته له موږ سره په اُوږدې چوکۍ باندي کښېنستلو ورسته واي..

" سوري سوري.. زه دا یم بیا راغلم "

" وېل کم وېل کم "

دومره چي مي ورته وئیلو ، نو هغه دَ میرنا دَ تېري خبري په حق کي واي..

" دَ میرنا خبره درسته ده او ماته په کور کي پلار هم دغسي وئیلي وْ ، چي په اټلي کي ډېر زیات Cheaters دي "

روني ورته واي..

" هو داسي خو دي ، نو بیا.. "

هغه لا خبره سمه نه وه کړي ، چي کائیکو واي..

" زه نه غواړم چي چيتړ شم يا بيا له يو بلي حادثې سره مخامخ شم - زما مطلب دا ، چي که زه لتاسو سره دا هفته ملګري وکړم ، نو.. "

" نو څه.. مور به ستا په ملګرتيا خوشاله شو ، څنګه داني؟ "

داني هم مړ غوندي وَموسېدلو او واي..

" بېشکه..او بيا مور خو اېشئين هم يُو "

او لدې سره سم هغه کائيکو مخته واي..

" په دې وجه خو زه له تاسو سره ګرځېدل غواړم "

که څه هم خبره سمه وه ، خو زه هغې او دَ داني دَ اېشيائي تعصب په حقله خبري کي داسي ورک او حريان شوم - چي له ځانه مي دا پوښتنه کوله..

" چي خلګ دَ براعظم په باب لا دومره سيرئيس دي او مور، ګوا پښتانه يا په لوی سر افغانان څله دَ خپلوۍ په اړه دَ کرکي روئيه خپله کړي ده؟ حرَموني خو هم نه يُو او نه له چا کم "

او يو وخت ، چي مور له يوه سرنګه دَ ختلو ورسته په بل ورننوتلو ، نو دَميرنا په دې خبري بيرته دَخپلي مانده ورځي له سوچ څخه راستون شوم - هغه واي..

" دلته خلګ دَ سهار ناری ځکه نه کوي ، چي دا قام هم دَ يوناني ، هسپانوي ، يوګوسلاويه او دَ مېډيټېرنئين په قامونو کي يو قام دی ، چي په زياتره خويونو کي سره شوي دي او دا ټول ناری نه کوي - او بل دلته دَ اټلي برېډ ( ډوډۍ ) داسي وي ، لکه کانی - که څوک په سر

ورباندي وَوهې ، نو به يې سرمات شي- خو مورِ ته به دَ غوره شوي معائدې په سمه هر سهار جرمن بټر، وائټ کوفي ، چائ او دَ اټلي برېډ راکوي "

او بيا يې مخته وئيلو ..

" دلته انګلسي ښځي دَ نه برابر وئيل کېږي او بل يې اشارې هم نابلده دي - نو ځکه دا يو څو توري درسره وَليکئ .. په کار درځي ، لکه ښځي ته "ووميني " او سړيانو ته "ډونمي " وئيل کېږي او داسي په ټائلټ باندي ليکل شوي وي - انټر چېنج ته "کامبئيو " او موټربائيک ته "ګاښيټې " واي.. "

او داسي نور نور توري يې راښئيلو لګيا وه - دا خبري يې چي کولې، نو دې وخت ما هم پښتون لاله ته دَ دې بې پښتو وضحي په باب نوره نوره خوا بدېدله ، چي ميرنا په زوره کړيکه وَلګوله - ما وئيل که يې په پښتو او دَ پښتنو په حال وَخندلو - نو ځکه سر مي هسک کړو او اوس به مي لا څه له خلې څخه ورته وتلو ، چي هغې په خندا خندا کي وئيلو ..

" بخښنه غواړم .. نور مي هم زده وْ، خو اوس مي زړه ته نه راځي -لاکن دا خبره ياد لرئ - دلته TIPنه ورکول داسي دي ، لکه سروس بوائ ته چي ښکنځلي وَشي "

" دا خو هېواد نه شو ، تيار جنګ ته روان يَو "

دَ ميرنا دَ خبري اورېدلو ورسته مي چي دا خبره کوله ، نو کائيکو واي..

" ځکه خو زه ورڅخه وېرېږم او بل دا هم وئيل کېږي ، چي دلته له سپلاني ښځو سره بد سلوک هم رواکوي "

" ستا مطلب له ربې څخه دى ؟ "

روني پوښتنه وکړه او دې سړه ساه ايستلو ورسته وئيلو ..

" هو زما دغه مطلب دی.. پلیز ! تاسو ما یوازي مه پرېږدئ "

دا خبره چي يې کوله ، نو زما لاس يې په خپلو وړو لاسونو کي نيولی وُ - او بيا يې تر ډېره دغسي نيولی وُ ، ځکه خو روني په وار وار اوږه راسره جنګوله او بُونېدلو هم -

دَ هسکو غرونو ، چي له روږه لیري وُ باندي جوړ ټاوْنونه شاته پرېښولو او له يوه سرنګه ځخه وتلو او بل ته ننوتلوکي موږ اوس په ميداني علاقه کي مخته روان وُ ، چي دَ حاجاتو دَ پاره يو ځاى په رېسټ ستېشن باندي دَ څو دقيقو دپاره برېک شولو او بيرته تازه دم مخته رهي شولو - او ميرنا وئيلو..

" دلته **153** سياسي پارټياني دي او يو حکومت هم خپل ټرم نه پوره کوي - خو دَ کار په اړه دَ هري پارټۍ اخلاص دَ ستائيني وړ دی - او دا سرنګونه او روډونه دَ مسوليني(**1923_1943** ) دَ پلان برخه کارونه دي ، چي هر حکومت يې کولو ته پابند دی "

"دې ته واي قامي خواخُوږي "

دا مي له ځان سره داسي وَوَئيلو..

" لکه زما قامي مشران چي انسانان نه ، بلکې دَ قام وينه ځيښونکي سرېخوران وي - او په دې خبري کي خو شک هم کول غټه ګناه ګڼل کېږي - نو ځکه خو شاته يُو او لا به تر هغو پوري وَ شاته پاته يُو - چي دا قامي خېټُور مو په کورونو کښيښېنولي نه وي او يا په هر دور کي راباندي مسلط سترو بادارانو ملګري راسره شامل حال نه وي - پښتو يې راته بې پښتو کړي ده او دَ خُداى ، رسول او اسلام نوم يې تش تر چوکۍ پوري دَ رسېدلو اوزار جوړ کړی دی - لاکن دا بېلا خبره ده، چي دَ هغوئ دَ خېټو په پړسَولو کي دَ دې ساده او بوده وزمه اولس هم ښه لوی لاس دی ، چي بيا بيا يې په سر کښېنوي "

لنډه دا ، چي کله دا خبري ما په ډائرۍ اړولي، نو وخت اووه نیمي بجې وْ او باران بیا شروع شوی وْ او شاوخواته مځکي تر لیري لیري پوري هواري او دَ کشت کرونديٖ دپاره جوړي وې - او موږ دې وخت له ځینو ټاوْنونو څخه هم تېرېدلو- او دغه رنګه پاوْ بالا نهه بجې ماخستن خواته موږ وَ یو غټ او تر لیري لیري پوري خواره واره ښار چي مارګېرا نومېدلو په وړَو او غټو ودانیانو کي مخته روان وْ او یوې بلې خواته بس ګرځېدلو راګرځېدلو ورسته په نیم ساعت کي بیا دَ هوټل کولمبو مخته ودرېدو -

---

" بېشکه.. دا کانې به انساني معده په ګرانه هضم کوي "

ماخُستن دَ هوټل کولمبو په ډائننګ هال کي ناست، چي روني څنګه دا خبره وکړه ، نو داني ورته واي..

" لاکن دَ هغه پرته یې هم دا یې په خوند خوند خوري لګیا یې "

" څه وکړو ؟ وږی خو هم نه شو پاته کېدلی "

دَ روني په ځای ما داسي وئیلو ورسته چي څنګه هغه اوږده او بېخي کلکه ډبل روټۍ راپورته کړه ، نو میرنا چي هلته نیږدې ولاړه وه دَ خندا ورسته راټوله شوه او زما لاس یې نیولو ورسته په ډکه خله خندا کي وئیلو ..

" شوقه ! پام کوه ، چي څوک وربانديٖ نه وَوهې..؟ "

او بیا زما له لاسه هغه برېډ اخیستلو ورسته یې روني په سر بانديٖ داسي څوکه غونديٖ وهلو سره سم وئیلو ..

"دا دَ جنګ دپاره ښه اوزار دی "

" هو میرنا ډارلنګ.. دا اټالین برېډ بې له شوقه یې بل څوک نه شي هضم کولی "

روني چي داسي وَوئیلو، نو هغې هم ورته په ځواب کي وئیلو..

" هو ډارلنګ ! ته صحیح وایې "

دا یو بل ته ډارلنګ ډارلنګ وئیل څه وْ ، چي ما او داني په زوره زوره په کورس کي مبارک مبارک وئیل څه شروع کړو، چي راسره څنګ کي ناستي کائیکو هم راسره خپل ژغ پورته کړو- او میرنا چي له خندا یې بد حال وْ په آخیر کي په روني لاس وراچولو ورسته واي..

" په دې کي نو اوس کومه بده خبره دا، روني خو زما ډارلنګ دی "

او بیا په خندا خوشالۍ باندي ډوډۍ خوړلو ورسته دَ خپل معمول په شان په لابي کي موږ ډله ډله کښېنستلو- زموږ درو په چپه کائیکو او ونېسا سره له توشي ، چي له پرونه ورسره سره ښکاره کېدله هم په لابي کي په صوفو باندي کښېنستو او دَ تاش له پتو سره په بازۍ بوخت شولو- که څه هم ما نه غوښتلو، چي دَ ونېسا په وړاندي له کائیکو سره خبري کمي وکړم- خو هغه وه، لکه چي دَ ونېسا په زخمونو یې مالګي دُوړَولې لګیا وه او له خبرو سره سره یې لاسونه هم داسي راباندي وهلو، لکه هغه چي زما هرڅه وي- که څه هم حقه دا، چي لا مي هیڅ هم نه وه او که وه هم، نو فقط ملګري او بس- خو ونېسا راته یو ځل بیا په کړېو کتلو- څه مخته چي ویلینا، لارا او مئی رېنالډ هم راوَرسېدلې، نو په اشارو اشارو کي یې زما او دَ کائیکو خبري داسي په خوند خوند کولې ، لکه هغوئ چي هم په دې خبره خوشاله یا خفه وي- خو ما په کي هیڅ باک نه وهلو او یو وخت مي لا دَ لاراګوک دَ یو چیچلي سوال په ځواب کي دا هم وَوئیلو ورته..

" قسمت دَ هر چا ښه کېدلی شي، که بس لږ زیار وکړي "

" څه مطلب.. موږ ته هم دَ وخت پاسَولو د پاره دوستان جوړَول په کار دي؟ "

ما چي ځومره په هغوئ پړده اچوله ، هغوئ هغومره ځانونه زما په خبرو کي بربنډ کړو او له دې سره سم ټول ناست ملګري په خندا سرشولو -ګوا دغه نيمي شپې خواته محفل برخاست شو-

---

دَ اپريل دَ مياشتي په دويمه نېټه کال **1996** سهار اتهه بجې دَ ناري کولو ورسته دَ کاسموس بس په لمدو روډونو باندي مخته منډ شروع کړه او په دې مارګېرا ټاوْن کي يوې بلي خواته په لارو بدلولو کي رک په اتهه نيمي بجې بيا موږ په يوه لانچ کي ناست دَ سمندر دَ مستو څپو په ضد مخته روان وْ - هو هلته ، چرته چي دَ ميرنا په قول مځکه نه شته، روډونه نه شته او نه په کي موټر يا ګاډياني شته - او بس که شته ، نو دَ وينس ښار او ودانياني يا بيا دا اوبه دي چي هر لور ښکاري .. هن چي په کوڅو کي هم - ځکه خو هر ملګري دَ وينس ښار په حقله نن خپل خپل خوبونه رښتيا کول غوښتلو او مخ مخ ته يې کتلو ، چي ژر تر ژره ورته وَرسېږي او بس - او زما خو دا حال وْ ، لکه دَ جنت په لور چي روان وم - له آسمانه باران راورېدلو سره سره دَ تېزي هوا څرپي وْ او لاندي مستي څپې وې دَ اوبو ، چي چړپې يې درلودلو - خو زه لکه لېونی ، دَ فليپينو ملګرو سره په باران کي ولاړ دَ موسم خوندونه مي لُوټلو-

يو وخت چي موږ په وينس کي له لانچ څخه کُوزېدلو ، نو په اوبو کي ولاړ په درځنو لانچونه داسي په اوبو کي پورته کښېته کېدلو ، لکه اوس چي به دا ټول لانچونه په اوبو کي ډوب شي او موږ به هم دلته بند پاته شو - په لومړي ګام ږدلو داسي راته محسوسه شوه ، لکه موږ چي له واړه لانچه وَ لوي کشتۍ ته ور وَختلو - خو يَه دا هغه ښار وْ ، چي په **180** وړَو ټاپوګانو باندي جوړ شوی دی او دَ خپل نوعيت دا ښار په درسته نړۍ کي ثاني نه لري - ولي چي دَ وينس ودانياني او ماڼياني په اوبو کي داسي ولاړي دي ، چي دَ هر بلډنګ شاوخوا ډم اوبه ولاړي دي او يوه ودانۍ هم بلي ته وچه لاره نه لري او تر منځ يې اوبه ولاړي دي-

دا هغه ښار دی ، چي نه روډ لري او نه دلته هيڅ قسم موټران ، بسونه يا رېل ګاډياني شته - دلته په اوبو باندي واټر بسان ، واټر ټېکسيان ، واټر سکوټران ، لانچونه ، وړې غټې

کشتیاني دَ ټرانسپورټ په توګه په کارَول کېږي - خو دَ ګنډولا په نامه نرۍ لاکن تکي توري کشتیاني، چي قریباً یولس یا دولس فټه اُوږدې دي سېلانیان زیاتره دَ سېل دپاره په کارَوي - لاکن دَ دې ښار تر ټولو غټې اوبئیز سړک ګرېنډ کېنال ته مخامخ ولاړ دَ سېنټ مارک دَ چرچ له میناري ، چي تقریباً درې سوه فټه هسکه ده څخه دَ وینس دَ ننداري خوند په خپل ځای -

دَ هارس مېن مونامنت ، چي په تک تور آس باندي دَ اټلي آخیري باچا سپور وْ او شاوخوا ته یې دښځو بُتان هم ولاړ وْ څخه زموږ دَ وینس ستې ټوْر آغاز وَشو - او په نري باران کي دَ کاسموس کاروان ، چي تر ما پوري لا ملګرو رېن کوټونه اغوستي وْ دَ ګائیډ په مشرۍ کي مخته په پښو روان شو -

وینس، چي په اټالوي ژبه کي ورته ونېزیا هم واي ، دَ **180** ټاپوګانو پرته **150** دریابي ویالې دَ کوڅو په بڼه کي لري او په دغو اوبه اوبه کوڅو کي قریبًا **400** واړه او غټ پلونه جوړ دي - نه هارن ، نه لوګی او نه دَ مشینانو ژغ په دې ښار کي شته - که شته هم ، نو دَ انسانانو سره په سمه یا زیات شمېر کوتري هر لور ښکاري - یا بیا دَ اوبو ځړپې دی ، چي ځای په ځای ناستو دَ میوزک ژغونکو په موسیقي کي خوند زیاتوي- او دا خوند لا نور نور سېوا شي ، چي سرې یې دَ ګرېنډ کېنال په څنډه ناست اوري-

" دا بلډنګان په اوبو کي څنګه او کله جوړ کړل شوي دي؟ او خلګ دَ وچي کارونه او دَ اوبو تنده په څه او څنګه ماتوي ؟ "

دا هغه سوالونه دي ، چي دلته دَ هر راتلونکي سېلاني په مزغو کي غزَوني کوي - او دَ ځواب دپاره په دې ښار کي که څه هم لوکل ګائیډ شته خو بیرته هغه مسْله .. چي انګلسي دلته ببخي نه شته او نه ځوک ورباندي پوهېږي - په خپل اټکل باندي هم دا یو جادوئي ښار ښکاري - خو وئیل کېږي دا ، چي دا بلډنګان په ځورلسمه او پنځلسمه صدۍ کي جوړ شوی دي -

دَ بيل ټاوْر، چې په وينس ښار کې تر ليرې ليرې پورې ښکارې او بې لارې شوې سېلانيان دَ دې ټاوْر په رهنمائي کې ځانونه تر خپل مطلوبه ځايونو رسَوي ځخه مخته وتلو ورسته په وړو او اوږدو کوڅو کې دَ سېنټ موسيس چرچ او کلاک ټاوْر باندې راګرځېدلو ورسته چې دَ دې ښار په شاپنګ سېنټر، چې زياتره دوکانونه يې په يوې غټې او زړې کلاوزمې مانۍ کې جوړ وْ کې ورسم شولو- نو کائيکو هم راسره قدمونه سمول پېئيل کړو او داسې راځرمه شوه، چې خپلې خوښې ته کم دَ هغې په رضا زيات مخته روان وم-

"درځه ، چې په دې کېفې کې کوفي وَ ځيښو "

او بيا يې لاس نيولى وَ کېفې ته وردننه کړم-

"ته نن چپ چپ يې.. څه کيسه ده؟ "

"هيڅ نه ، بس لږ مې بدن داسې مات مات کېږې لکه چې تبه مې ده "

دا چې مې وَوئيلو ، نو هغې مې لاس دَ ځان په لور ورکښ کړو او بيا مې دَ نبض کتلو ورسته واې..

"تود خو يې ، لاکن يوه ګولۍ وخوره، نو خپله به ښه شې "

له پرس ځخه يې يوه ګولۍ، چې ورباندې په جاپانۍ ژبه کې ليک وْ روَايستله او راته سپينَولو ورسته يې زما په لاس کې ږدلو په وخت چې داسې وئيلو ، نو يې سترګې هم زما په سترګو کې اچولې وې او ډېر په غور يې راته کتلو -اوس که مريض نه هم وم ، خو په مرض يې داسې اخته کړم ، چې مخته زه مريض وم اوهغې دَ طبيبې په رنګه زما علاج کولو -داسې علاج ، چې زه يې که څه هم په ظاهره باندې روغ کړى وم ، خو دننه يې بلا نور رنځونه هم راسپارلي وْ-

دَ خپل پروګرام په سمه ګائيډ وَ يوې ګلاس فېکټرۍ ته يُوړو ، چرته چي له رنګارنګ شيشو څخه ماسټرانو بېلا بېل شيان داسي په هنر جوړَولو ، چي هر ملګرۍ ورته دَ حېرت ګوته په غاښ ولاړ وْ - او دَ دې فېکټرۍ په شوروم کي هر ملګري يو نا يو شی دَ ميرنا په خوښه په خپلو کي دَ راتلونکي ايسټر په موقعه ګفټ کولو په نيت واخيستلو او دغه رنګه په نيم درځن نرئيو تورو ګنډولا نامي کشتيانو کي دَ وينس په اوبئيزو کوڅو کي يوې بلې خواته ورسم شولو-

داسي راته ښکاره کېدلو لکه دا کشتياني چي ولاړي وي او دَ وينس ودانياني او ماڼياني چي شاوخوا ګرځي - ځکه خو بيرته چي له اوبو وَ وچي ته شولو ، نومي طبعيت لا نور خراب شوی وْ -ميرنا مي يو سائيډ ته کړه او ورته مي وَوَئيلو ، چي

"زه نور نه شم ګرځېدلی ،او غواړم چي هوټل ته ځان وَرسوم "

هغې که هرڅو راته وَوَئيلو ، چي

"ته يوازي تر مارګېرا او بيا تر هوټله نه شې رسېدلی "

خو زه په خپل ضد ولاړ وم او آخير هم دَ هغې په شول شوي لارو مي تګ ته ملا وَتړله-

---

په نري باران کي زه دَ وينس له تنګو کوڅو ، چي څنګه دَ کشتيانو تر يوه پلېټ فارم داسي سامولی غوندي وَرسېدم ، لکه يو مارغه چي له خپله سېله پاته شوی وي-

"زه مارګېرا ته تلل غواړم "

په يوه بُوتهـ کي ناست کلرک ته مي چي داسي وَوَئيلو ، نو هغه لکه ګونګی، په خپله ژبه کي اوتي بوتي شروع کړې - بيا که څه هم ما په وار وار ورته دَ مارګېرا توری له خلې ايستلو سره سره په لاسو دَ تللو اشارې هم کولې - خو هغه سُوربوږي ، ګوره چي لا څه راته

وئيلو - خو آخير پاى چي ورته ستړى شوم، نو مي په پښتو ورته يوه کلکه بابولاله په زړه زړه کي ګردانَولو ورسته له سپلانيانو څخه پوښتني شروع کړې-

دَ څه زيار ورسته يو سړى ، چي اتالين وْ له ځان سره يو بوتهـ ته بوتلم او هلته يې ماته دَ ټکټ کولو ورسته دَ يوه لانچ په خوا اشاره کولو ورسته وئيلو..

" ګو ګو زاتري (Zatere) ګو فرسټ "

او تر دې مخته دَ هغه هم انګلسي نه وه زده - په زړه کي مي وئيلو ، چي روان مارګېرا ته يم او ټکټ يې دا زاترې نامي ټاپو راکړو -

" شوقه ياره .. داسي نه چي دې شريف اتالوي هم چرته دَ خپلي قامي پسخوندي خاصې په توګه خو نه وَغولوې ؟ "

دې سوال که مي څه هم په مزغو کي غزَوني کړي وې، خو بيا مي هم دَ خُداى په نوم توکل وَکړو او په هغه لانچ کي کښېنستم ، په کوم کي چي ټولي ښځي او نرانو ماته او زما وَ روسي خولۍ او اوږده ژېړ ربن کوټ ته داسي کتلو ، لکه زه چي دَ دې نړۍ انسان نه او لا بيا خپله زه مريخ ته راغلى وم - زه هم دَ ځيني نورو سوارليانو په شان ولاړ وم ، او اوبه راڅخه څڅېدلې لګيا وې -

" سيټ سيټ "

يو وخت چي لانچ په مست سمندر کي مخته روان وْ ، نو يو زاړه سړي زه له کوټه کښ کړم او له ځان سره يې کښېنولم او مخته واي..

" انګلش انګلش.. جرمن جرمن؟ "

ما هم ورته په پښتو کي خبري پېئيل کړې او ورته وئيل مي..

" پلاره !زه پښتون يم پښتون "

" پاتون او پوشون "

او بيا يې داسي تون پتون پون شون بون غوندي توري تکرارَول پئيل کړو ، لکه هغه چي زما او زما په غښتلي قام پوري پسخوند وهي - بيا چي به يو نيم سوارلۍ هم ورته کتلو ورسته په موسکا باندي يو خوږ شو ، نو په ما کي به پروت پښتانه نوري نوري اوړې له غصې ورته دَ پښتو دَ فلمي هيرو بدرمنير په رنګه وَځنډلې - خو کولی مي هيڅ نه شولو - ولي چي دې وخت زه ناوسه وم - ځکه به مي خله وړه غوندي دَ لباسي موسکا په شان ورته ويړه کړه او دَ هغه خبره به مي ټوکه وګڼله -

زور يې په دې خبره نه راکولو ، چي ګني هغه زاړه سړي پښتون توری نه شو وئيلی - زه په دې خبره باندي مات رامات شوم ، چي زه به چاته پښتو ور ښئيم ؟ دا خو نړۍ زما شېرينه ژبه دَ ژبي په توګه پېژني لا نه - او بيا مي يو ښکنځا ځانته کوله ، چي ولي له ملګرو رابېل شوی وم او بله مي خپلو هغو خوا خُوږو ته ، چي ياد بړي خو پښتانه .. لاکن پښتني تشخص له خپله لاسه بائيللو سره سره په خپل کور کي هم قامي سرودونه دَ هغو په ژبو کي ژغوي ، چي دَ پښتو ازلي دُښمنمان ياد بړي -

په زاترې نامي واړه ټاپو کي له لانچ څخه چي کُوز شوم ، نو بيا هغسي حال وْ - نه ماته دَ هغه پلېټ فارم پته وه له کومه ځايه چي وَ مارګېرا ته لانچونه ځي - او نه څوک زما په برغزو پوهېدلو - بس يوې خواته دَ سمندر له ځۍ سره روان شوم او غټې غټې ګامونه مي په دې باندي اخيستلو ، چي څومره ما تازيله کوله ، نو دَ ګهړۍ ستني هم په هغه رفتار مخته په تېزۍ رواني وې -

" هغه ښځه کېدلی شي، چي په انګلسي پوهېږي "

يو وخت مي يوې ښځې ته پام شو ، چې ترما له مخه روانه وه ، او يوې بلې خواته يې داسي كتلو ، لكه هغه چې هم لاره غواړي - نو ځكه مي ګامونه نور ورپسې تېز كړو او ژغ مي ورباندي وكړو-

" ماته ښكاري چې ته هم.. "

لا مي خبره نه وه پوره كړي ، چې هغه په عمر پخه ښځه يو دم وَدرېدله او دَ انګلش په اورېدلو راته واي..

" ته انګلش وئيلی شې ؟ "

" هو هو زه هم فارنر يم.. مارګېرا ته تلل غواړم "

ما چې دا ورته وَوئيلو ، نو هغې سرتر پايه راته كتلو ورسته لاس راغزولو سره سم په موسكني انداز وئيلو..

" راځه، زه هم Marta ته روانه يم "

او بيا چې مي ورسره قدم برابر كړو ، نو هغه چې نوم يې لينا ښئيلو مخته واي..

" ته هم درځه مارتا ته - له هغه ځايه په آسانۍ درته لانچ دَ مارګېرا يا هغه ته نيزدې ټاوْنونو او ټاپوګانو دپاره په ډېره آسانۍ باندي پيدا كېدلی شي "

دَ څه سوچ كولو ورسته مي ورسره خوښه كړه او دواړه مخته روان شولو - او تر پلېټ فارمه پوري مي دَ اټلي دَ خلګو دَ تعصبي روئيې او له خپلي ژبې ، مذهب او كلچر سره دَ مينې په باب ډېر وَژغېدلو- بيا چې دَ مارتا په لانچ كي كېنښنستو ، نو هم ما او هغې چې خبري په انګلسۍ كي كولې ، نو خلګو مونږ ته ډېر په كږو كتلو- كه څه هم زه له لينا ، چې ولندېزه وه سره ژغېدلم ، خو دې وخت مي په بدن كي تبه ښه زياته شوي وه او اوس مي يخ هم كېدو -

یو وخت لکه چي هغه په ما پوهـ شوه ، چي پوښتنه یې له ما زما دَ صحت په حقله وکړه ، نو ما ورته وئیلو..

" زه جک جوړ یم.. بس لږه ستړیا لرم "

او سوچ مي کولو ، چي څنګه هوټل ته وَرسېږم نو به ښه آرام کوم - خو بیا چي به مي ګهړۍ ته وَکتلو ، نو مایوسه به شوم - ولي چي دا زما دریمه ګنتهـه وه ، چي له وینس څخه را راون شوی وم - او اوس لا په نیمه لار کي دَ خپلو غلطیانو په سمه دَ منزل په لور تکېدمه -

په مارتا نامي ټاپو کي لینا له ما اجازه واخیسته او زه دَ هغې دَ وینا په سمه دَ P-Ruma نامي ټاپو دپاره په لانچ کي کښېنستم او په دې لانچ کي بیا هغه زه ، هغه زما وسواس او دَ خلګو په کي پام - یو څو ځوانانو هڅه کوله چي راسره انګلش وَ وایي، خو ما ځان ورڅخه پېچلو او په داسي کش او بګیر کي لانچ روما ټاپو ته وَرسېدو او زه هم له خلګو سره سم پلېټ فارم ته څنګه وَختم ، نو مي سترګي دَ کینۍ لاس په یو بُوتهـ باندي لیکل شوي مارګېرا وَلګېدلي او وره غلم - ټکټ کولو ورسته چي دَ مارګېرا په لانچ کي کښېنستم ، نو داسي دَ بې غمۍ ساه مي واخیستله، لکه زه چي زیاته هوټل ته په رسېدو یم - که څه هم اوس مي تبه لا نوره هم زیاته شوي وه - خو دَ نن دَ دې ټرپ په باب مي دَ دې نظم چي عنوان یې دی -

" فاصلې چي څنګه څنګه رالنډېږي
انسان دومره له انسان لیري کېږي "

تهیم هم په دې ستړي مزل کي په مزغو کي غوره کړو -

لنډه دا ، چي دا مزل که څه هم وْ خو هغه رنګه - لاکن په خپل سوچ او خیال کي دَ ورکېدو له سوبه څه ښه تېر شو او کله چي په مارګېرا کي له لانچ څخه ګُوزېدمه ، نو تبه مي هېره شوي وه -

دلته مي دَ انفارمېشن بُوتهـ څخه دَ مارګېرا دَ مرکزي ښار په لور تلونکي بس پوښتنه کولو ورسته په هغه لور ګامونه اوچت کړو ، چرته چي هغه بس ولاړ وْ- او څه وخت ورسته زه په نامعلوم سټاپ باندي کښته کېدو ورسته په خپله اندازه يو خواته روان شوم -

څه مخته مي په لاره کي دَ هوټل کولمبو پوښتنه هم وکړه، خو دلته هم داسي ښکاره کېدلو ، لکه خلګ چي دَ خپل کور په چپه دَ نورو علاقو او ځايونو په باب نه دي خبر- اوس لمر هم پټ شوی وْ او زه وېرېدمه ، چي مي شپه دلته په دې لټون کي نه شي تېره - نو ځکه نيږدې کېفې ته ورچپ شوم او هلته مي توده کوفي څکلو ورسته له کاونټر کلرک څخه چي دَ کولمبو هوټل پوښتنه وکړه، نو هغه وَ خپل ملګري ، چي هلته يو سائيډ ته ولاړ وْ ته زما مسْله بيان کړه - او بيا هغه په مزغو باندي زور ورکولو ورسته راته وئيلو ..

" راځه ، چي زه دي په لاره سم کړم "

او دَ کېفې څخه دَ وتلو ورسته راته واي..

" داسي نېغ لاړ شه او چرته چي راونډاباوټ په مخه دره غلو ، نو خپل کيڼ لاس ته وګرځه ، نو له هغه ځايه به تاته دَ هوټل بورډ ښکاره شي "

او ما هم دَ هغه مننه کولو ورسته په هغه لور ګامونه اوچت کړو -

*****

# خوب وْ ، خو دَ خوب په رنګه نه..

په شړک باران کي زه مخته روان وم - يخ هم وْ، خو داسي سخته تبه مي وه ، چي اوس مي سترګي هم توربېدلې او کله به مي لا هم ټوک وَوهلو- لاکن بيا هم مخته په کېپېدلي سرت رهي وم او ما غوښتلو ، چي ژر تر ژره هوټل ته ځان وَرسوم - څنګه څنګه چي وَ راښول شوي نفورې (راونډ اباوټ) ته نيږدې کېدمه ، هغومره مي پښو کار هم پرېښولو- لاکن وَ هغه چوک ته چي ورسېدم ، نو خپل کيڼ لاس ته مي هوټل کولمبو تر سترګو شو او له خلې څخه مي ابله له ډېري خوشالۍ چيغه نه وَوته او بيرته مي په پښو کي دَ تګ توان پيدا شو او په تېزو قدمونو يې خوا ته روان شوم - او دَ درستي ورځي دَ ستړي سفر ورسته چي په هوټل کي دننه شوم ، نو زما له بده بخته ميرنا سره مخامخ شوم ، چي له کاونټر سره ولاړه وه - په ما يې سترګي څه وَ ننښتلې، چي زما په خوا يې ابله رامنډه نه کړه او په ما باندي دَ مور غوندي راګرځېدلو راګرځېدلو او له ما رېن کوټ ايستلو په وخت وئيلو ..

"شُکر کوم دَ خُدای ، چي راغلې ، ګني ماته خو دي دُوک رااچولی وْ - او ملګري هم درپسې پرېښانه وْ - مورې په اول مازيګر بيا دلته رارسېدلي وْ - وايه په تا څه شوي وْ ؟ چي دومره وَځنډېدلې "

دا ټولي خبري په يوه ساه کي کولو ورسته يې زما په تندي لاس رېدلو ورسته وئيلو..

" او مائ ګاډ.. دا خو ستا ټمپرېچر هم دی "

او بيا يې زه هغې خواته په لابي کي يُوړم ، چرته چي واټر هيټر لګېدلی وْ او په څنګلي باندي وهلو سره يې لاس زما په سر رامورلو ورسته وئيلو..

" دا ته په کومه لاره راغلې ، چي دومره وَځنډېدې؟ "

ما چي ورته دَ زاترې ، مارتا او پي - روما نومونه ورته کتار کړو ، نو هغې په سينه څوک راکولو ورسته وَخندلو او واي..

 ليک: افضل شوق

" شوقه ! واقعي چي ته شاعر يي .. لېونی رائتېر يې - خپل ضد پوره کوې - خو بل ځل به داسي نه کوې ښه - ولي چي دا تاسو ټول خو زما په ذمه واری کي راسپارل شوي ياست "

" سوري ميرنا ! دا نن چي ما څه کړي دي ، دا غلطي ده او زه يې احساسومه او.. نه يوازي دا ، بلکې لتا معذرت هم غواړم "

ما دَ يو ماشوم غوندي سر کښېته نيولی وْ او په ماته خله مي ځکه خبري کولې ، چي زما له سوبه ميرنا دَ اسکارټ په څير نن ډېره په تکليف شوي وه - نو هغې دَ مور غوندي زما له جامو څخه اوبه څنډلې او په ما يې خپل نظرځغلولو - لنډه دا ، چي ما نه غوښتلو ، چي نور نور دَ هغې وَمخته پښېمانه شم ، نو مي په مړه خله ورڅخه دَ تللوخواست چي وکړو - نو ميرنا په ملا ټېَولو ورسته واي..

" اوکې ډئېر.. ورشه آرام وکړه په خپله خوني کي "

او بيا هغه دَ کاونټر په لور او زه دَ پوړيانو په خوا بالا ختلو ته چمتو شوم - که څه هم په مخه کرسټينا ، ويلئيم او شېلا راغلو ، خو فقط په هېلو هائی مي تر ځان تېر کړو او خوني ته ورسېدم -

---

عجيبه خبره خو دا وه ، چي دَ يونيم ساعت دَ آرام ورسته بيا لاندي دَ هوټل په خوراکي هال کي چي کله کائيکو راته په خوا کي په خالي چوکۍ کښېنستلو اشاره وکړه ، نو هغه پاته سترېيا مي هم دَ هغې په دې خبره وسا شوه - چي وئيل يې..

" زه غواړم چي ستا پيسې درکړم او دَ مِنني دَ پاره به دَ دې ډوډۍ خوړلو ورسته کوفي هم راسره څيښې - اوس ستا خوښه ، چي دلته په هوټل کي او که چرته دباندي ؟ "

دَ څه سوچ کولوورسته ورته وايم چي

" زما په خيال چي په هم دغه هوټل کي به يې وَځيښنو ، که ستا خوښه وي "

هغې له ما سره چي خبره منله ، نو ډوډۍ هم په مېز باندي لګېدلې وه او زه دَ عمرونو دَ وږي غوندي ورباندي وَروځږدېدم -

" واوْ.. نن لکه چي ډېر وږې يې ؟ "

" هو.. دغسي خبره هم ده ، چي نن خو مي مزل هم دَ عمرونو کړی دی "

" څه مطلب ؟ "

هغې په حېرانتيا پوښتنه وکړه -

" نن زه چرته وم ، خبره يې ؟ "

ما چي دا سوال وکړو ، نو هغه واي..

" هو رښتيا.. نن مي هلته په لنچ کي غوښتې، خو ته نه وې "

او بيا مي له "الف" څخه تر "ی" پوري ټول نکل چي تېرَولو ، نو هغې بيا بيا راته وئيلو.. چي ته ډېر زړَور يې- غرض دا چي کيسه لا پاته وه ، چي خبتې دواړو ډکي کړې او باقي مانده کيسه چي مي دَ هوټل په کېفې کي ورته څنګه تېرَول شروع کړه - نو دا چي مخامخ راته ناسته وه ، خپل مخ دومره رانيږدې کړی وْ - لکه ..... هم ځکه مي ځان لږ ورڅخه شاته کړو او بيرته مي کيسه دَ خپلي ستړيا تېرَول پېئيل کړه -

کيسه څه وه؟ کله کله چي به مي هغه منظرونه راپه زړه شو ، نو په بدن کي به يوه برقي څپه راتېره شوه او په زړه کي به مي وئيلو ، چي داسي ما څنګه وکړو ، چي اوس يې له تصوره لا

کېږم - او کائیکو مي هم خبري داسي په غور اورېدلې ، لکه زه چي ورته دَ دېبانو او پريانو په نړۍ کي دَ يو داسي شهزاده دَ سفر حال وايم .. چي په خوب کي دَ ليدلي شاپېرۍ پسې يې پائڅې پورته کړي وې - او په غرونو رغونو او ټاپوګانو کي ګرځېدو - هغې زما دا نکل داسي اورېدلو ، لکه هغه چي دَ هالي وُډ جوړ يو اېډوېنچر فلم ګوري - ولي چي دَ دې هېواد دَ شُوکماري او خطراتو په حقله دَ هغې له قوله په جاپان کي هم څه ښې خبري نه وې کړي - ځکه خو کله کله چي به زه په کيسه کي له سخترو سره مخامخ کېدمه ، نو هغې به سترګي دَ يوڅو لمحو دپاره پټې کړې - هو.. خود لکه چي هغسي واقعه به يې په ځان ورتېل پېيل کوله - هم ځکه چي به يې سترګي خلاسي کړي ، نو سره ساه به يې داسي واخيستله لکه جوړه چي په تصور کي ښه ډېره وېرېدلې وي -

لنډه دا ، چي کيسه ختمه شوه ، نو مي هلته په کونج کي پراته مېز سره ناستي ونېسا ته پام شو ، چي دَ اېس- ټي - باکسوالا له لُور زينت سره ناسته وه او دَ کوفي کپ يې په لاس کي وْ او زموږ په لور يې کتلو- سترګي چي مي څنګه ورسره ځلور شوي ، نو هغې له خشمه راته کتلو ورسته داسي په بله مخ واړَولو ، لکه ما چي دَ هغې په حق باندي ډاکه وهلې وي - او بيا يو دم زينت سره دَ ژغېدو ورسته پورته شوه او په غټو ګامونو چي تر پوړيانو رسېدله ، نو شاته يې وَکتلو او دَ هوا دَ څپې غوندي له سترګو پټه شوه - او ما هم کائيکو ته وَوَئيلو ..

" ناوخته دي ، درځه چي ځو "

که څه هم په دې تګ تګ کي تر نيم ساعته زيات وخت وَوتو -

خو شُکر مي وَ ايستلو ، چي ځان مي ځيني خلاس کړو او تر بستري مي ځان وَ رسولو - ولي چي زياته په ما کي هم دَ نوري ناستي او وينښ پاته کېدلو توان نه وْ پاته شوی -

---

ښه مي په ياد دي ، چي زه دَ تباه شوي کشتۍ په اوږدې دړې باندي ناست وم او دَ اوبو له مستو څپو سره مي دَ وَس په سمه ځان ژغورَلو او په هغه لور مي لاره لنډه وهله ، چرته چي ببخي زيات خلګ ولاړ وْ- ناري يې وهلې او لاسونه يې بوې بلي خواته داسي وهلو لکه په

تباه شوي کشتۍ کي چي دَ هغوئ خپلوان دي - چي اوس دَ ژوند او مرګ سره په جنګ دي - اوبیا چي شاوخواته خلګ ډوبېدلو لګیا وْ اوچیغو یې آسمان په سر اخیستلو - نو ما هم مرګ په خپلو سترګو لیدلو - ولي چي دَ وینس دَ ښار په کوڅو کي ولاړو ډم اوبو زه له یو او بل دېوال سره داسي په زوره زوره وهلم ، چي یو وخت مي سینې ته پام شو ، چي پژل شوي وه او سرې ویني ترې رواني وې -

دلته زما دا حال وْ او هلته ونېسا او کائیکو هم په یوه نرۍ دړه باندي ناستي په څای دَ ژړا داسي خندا ته جوړېدلي وې - چي ما څومره په زوره ورته دَ مدد دپاره چیغي وهلي ، نو هغو هم هغومره خندا په فضا کي پورته کوله - په زړه کي مي دا راغلو او وئیل مي ، چي کېدلی شي ، دا زما په دې مانده ورځ باندي خوشالي کوي او غواړي چي مړ شم - خو بیا لږ مخته څه وینم ، چي توشي او دانیال اُستاذ هم په بله دړه ناست دي او لاسونه پښې وهي دَ ژوند ساتلو دپاره - داسي ښکاري لکه دَ هغو چي هم لامبو نه وي زده ، ولي چي دَ کومک دَپاره یې ناري بُغاري وهلې - لاکن هیڅچا دَ چا ژغ خو لومړی اورېدلو نه .. او بل هر چا خپله ساه ساتله - ګوا دومره تباهي وه هر لور-

" چرته قیامت خو نه دی راغلی؟ "

زړه ته به مي دا خبره هم راغله ، ولي چي هلته مخامخ یو غټ بلډنګ هم نړېدلو لګیا وْ او له کهړکیانو او دروازو څخه یې خلګو په اوبو کي ټوپونه وهلو - او دَ نیږدې نورو بلډنګانو په دروازو کي خلګو هم له غټو غټو پنډو سره ولاړ، لکه دَ خپل وار انتظار چي یې کولو - نه یوازي دا ، بلکې دې بلي خواته ما وَلیدلو ، چي واړه واړه سپین او خړ سپیان هم ښځو په غوزیانو کي نیولي وْ او مچي یې ورکولې -

هو ، ما وئیل لکه هغه سپیان چي به موږ له دې طوفاني اوبو ژغوري ، ولي هغوئ خو نه ډوبېږي - لاکن بیا چي مي هلته لیري وَ داسي سپي ته پام شو ، چي دغه وْ، یوې پېغلي له اوبو ایستلو - نو مي زړه کي دا خبره راغله .. چي هو رښتیا ، سپیانو ته خو په اروپا کي کله کله تر انسانانو هم زیات په درنه سترګه کتل کېږي - او دغسي خبره وه هم ، ګوا څو نور

سپیان مي هم ترسترګو شولو ، چي په یو نیم پسې خو مي پېغلي په ژړا سر هم وَلیدلې او ناري یې وهلې -

" څوک شته ، چي زما سپی له اوبو راوَباسي "

او بیا مي دا وَلیدلو ، چي یو نیم ځوان په سپیانو پسې دَ هغو پېغلو په خواست وَ اوبو ته ورټوپ هم کړولو او غوښتلو یې چي ژرترژره یې دَ مرګ له ځامو راوَباسي هم - که څه هم دې وخت ما یوه زړَه بُږدهي هم وَلیدله، چي دَ هېلپ هېلپ غوندي توري یې په چیغو چیغو له خلې څخه وتلو - لاکن مجال وْ، چي چا ورته کتلي هم لا - او بلکې هلته لیري دوْ ځوانانو یو زوړ سړی هم اوبو ته دېکلو لګیا وْ - خو یوې سپین سري ښځې بیا بیا هغه معذوره زوړ سړی له سینې سره لګولو او دا هڅه یې په ژړا ژړا کوله ، چي خپل مېړه له هغو ځوانانو ، چي زامن یې بربښېدلو څخه خلاس کړي -

غرض دا ، چي زه خپله هم دَ اوبو له مستو څپو سره په جنګ کي اخته وم او زده لامبو مي هېره شوي وه - خو دَ دې پرته مي دَ انسانانو په دې ځناوري روئیو او خوئیو بېخي زړه هم چاوْدلو - ویلئیم ، چي اویا کلو ته نیږدې امریکائي ملګری وْ ، هم اوس زما نیږدې ښه په مزه مزه چي مخته لامبوزن وْ ، نو ماته یې وئیلو..

" څه در وَشو شوقه ! چي په یوه ځای ولاړ یې او څرخې - راځه راپسې .. دا لاره لنډه ده - ځان ساتلی شو ، که وَس وکړو "

او بیا داسي په تېزۍ مخته لاړو ، لکه هغه چي دَ شلو کلو ځوان وي - لاکن بیا څه وینم ، چي میرنا لاراګُوک ، کرستینا ، شېلا او لوري اوګرېک هم په یوې اوږدې تختې باندي ناستي دي - که څه هم دَ اوبو مستو څپو به له ځان سره پورته کښته کولي - خو هغوئ وې، چي په خپلو ملګرو باندي یې داسي په نره ژغونه کولو-

" اې ملګرو.. لمر پُټېږي لګیا دی.. هله ژر کوی - په تیارو کي به بیا په کومه ځئ "

" میرنا ها میرنا ! ما هم له ځان سره په دې تختې درسره کښېنَوه .. زه ټپي یم دا ګوره "

او ما له دې فریاد کولو سره سره خپل پژَلی ځیګر هم په وار وار ورته ښکاره کولو - لاکن هغې هیڅ باک نه وهلو - ښه مې په یاد دي ، چې هغې به ګای ګای راته وَهم کتلو - خو داسې ښکاره کېدو لکه هغه چې زما نارې نه اوري -

یو وخت چې زه په لامبو لامبو وَګرېنډ کېنال ته وَرسېدم ،نو هڅه مې کوله، چې په ځی ځی کې یې تېر شم - ولې چې په درځنو ورې کشتیاني په کې دَ اوبو غټو څپو یوې بلې خواته وهلې او په کشتیانو کې ناستو ځینو خلګو دَ هوا بادبانونه خلاسَولو..تړلو او ځینو بیا په بالټیانو اوبه ورڅخه تویولې لګیا وْ - اوس زه له وینس څخه دَ زاترې ټاپو وَ هغه پلېټ فارم ته په رسېدو وم، چې کینې لاس ته یې هسک هسک سپین، ژېړ او توربوخون بلډنګان ولاړ وْ - خو څنګه چې زه دَ هغه هسک بلډنګ سره په څنګ کې وَ پلېټ فارم ته زیاته په رسېدو وم ،چې یودم له هغه ځایه ملګرو ،چې ونېسا او داني هم په کې ولاړ وْ راناري کړې -

" شو قه شوقه .. ژر راتېر شه ، ګني دا دېوال به درباندې وَنړېږي "

او ما چې څنګه دَ دېوال په لور وَکتلو ، نو ګورم چې هغه هسک دَ وړَو خښتو جوړ زوړ دېوال زما په لور راکږېدلو لګیا وْ - هم ځکه زما له خلې دَ ژوند ورستی چیغه څه وَوتله ، چې په پلنګ باندې جګ راکښېنستم او داسې سامَولی ، چې بدن مې له خولو لوند خیښت او رېږدېدلو - په ځان مې ژر ژر کلیمه چُوف کړه او دَ باتهـ روم په لور ورچپ شوم - ولې چې دې وخت دَ کهړکۍ له نرۍ پرِدو څخه دَ سهار رڼا ښکاره کېدله -

---

نن دَ اپرېل څلورمه نېټه او کال **1996** وْ - دَ سهار اووه نیمې بجې وې ، چې دَ کاسوس بس له کولمبو هوټل ، چې په مارګېرا ښارکې په Poulocci Via کې دَ ټورسټ هوټل مخې ته جوړ وْ څخه مخته روان شو - او بېخي ژر بیا دَ مشهورو شاپنګ سېنټرانو Panarama او Vale تر شا خپل ښي لاس ته راګرځېدلو ورسته په یو پراخ روډ باندې چې مخته روان وْ، نو ښي لاس ته په یوه غټه چاردېوارۍ کې په سلاوْ موټران چې اکسیډنټ یې کړی وْ او په یوبل برسېره

پراته وْ دَ ميرنا دَ هغې خبري تصديق کولو ، چي دَ اتالويانو دَ Rough Driving په باب يې پرون نه هغه بله ورځ کوله - او بل مي دا سوال هم په مزغو کي سر راپورته کړو..ګوا

" زما په هېواد کي ګاډياني څله نه کنډم کېږي ؟ "

ولي چي هلته هغه ګاډياني لا هم په روډونو باندي ښکاري ، چي ورته انتهيک وئيل کېدلی شي -

دَ مارګيرا دَ صنعتي علاقې څخه چي څنګه بس په موټروې باندي ورسم شو ، نو زه بيا په ځان نه وم خبر - او ويده شوی وم - خو بيا هغه زه او دَ وينس په کوڅو کي ولاړي ډم اوبه وې ، چي دې وخت زه له يوې کهړکۍ دَ مخامخ کور په دروازې کي ولاړي هغې پېغلي ته ګورم ، چي ما کله هم مخ کي دَ سر په سترګو نه وه ليدلي - هغې ماته او ما هغې ته خندلو - لاکن نه خو زه تر هغې پوري ورتلی شوم او نه هغه تر ما راتلی شوه - ولي چي تر منځه مو وچه مځکه نه ، بلکې شنې توربخوني اوبه تېرېدلې - که څه هم زما دَ کور وَ مخي ته يوه وړه او نرۍ اوږده کشتۍ تړلي ولاړه وه - خو همت مي ځکه په کي دَ هغې تر کوره نه شولو کولی ، چي په مزغو کي مي يو ځل بيا دَ وينس دَ قيامت خېزه طوفان منظرونو دَ انګلش فلم غوندي په بېل او بدل ترتيب غبرګون شروع کړی وْ - ځکه خو چي کله بيا دَ مرګ په ځامو کي ورګوله کېدلم ، نو په يوه جټهکه باندي رابيدار شوم -

" واوْ.. ته خو بيا له اول سهاره ويده شوې "

په دې بل اړخ سيټ کي ناست داني راته واي او بيا يې څنګ ته ناست روني ته وئيلو..

" ګوره دې شوق ته چي بيا يې خوب ته تالۍ وهل شروع کړې "

" خود به يې شپه وينبه تېره کړي وي "

روني ، چي خپله يې هم سترګې موږلې ، چي داسي وار راباندي وکړو ، نو مي ورته دَ اباسې ايستلو ورسته وئيلو..

" دغه دَ برايه شپه خو وه ، چي په کي ډېر ويده شوی وم "

او بيا مي سُستې ايستلو دپاره دَ غزېدلو ورسته ورته وئيلو ..

" ويده خو ښه شوم ، لاکن.. "

بيا مي يو دم دَ دې اوسني خوب په باب دې لاندېني نظم دَ " وينسي ميني " تر عنوان دلاندي غزَوني پئيل کړې - ګوا په نه ساعت کي داسي سرته وَهم رسېدو .. لکه

زما او ستا دَ کورو ورونه
که څه هم په يو کوڅه کي
وَيو بل ته مخامخ دي
زه له خپلي کهړکې تاته
ته له خپلي کهړکې ماته
ديدنونه راکوې تل ،
خو يو بل ته ورتلی نه شو
لکه جوړه چي موږ دواړه
دَ وينس دَ ښار په رنګه
په دوْ بېلو ټاپوګانو
ژوند کولو ته جوګه يُو
او تر منځه مي شنې ډنډي
دَ اوبو دي ډېم ولاړي

په ډائرۍ باندي دا نظم اړولو ورسته مي زړه غوښتلو ، چي يو ځل بيرته دَ خوب وَ ټاپوګانو ته په خپله خوښه ورستون شم ، چي ميرنا زمونږ پام خپلي خواته دَ اړولو هڅه کوله او بيا يې وئيل، چي

"دلته صنعتي علاقو ته چي څوک پام وکړي، نو دا خبره به يې په زړه کي دَ سوال په حېث غزوني وکړي ، چي په يو داسي هېواد کي، چرته چي حکومتونه يې دَ غېر سياسي اطمينان له سوبه خپل معياد نه پوره کوي .. دا دومره صنعتي ترقي عجوبه نه ، بلکي قامي خواځوږي هم ښرګندَوي "

ميرنا چي دا خبري کولې، نو موږ دَ Po Delta نامي درياب څخه مخته تېر شوي وُ - او اوس په يوې صنعتي ائيريا کي مخته رهي وُلګيا وُ -

" هو بېشکه .. ميرنا سمي خبري کوي - ولي چي زما په هېواد کي خو هم حکومتونه دَ جامې اچولو را اچولو غوندي بدلېږي - لاکن دَ قام دَ خواځوږۍ په ځای ليډران دَ خپلو خېټو په ډکولو کي ډنګرېږي "

دَ ميرنا دَ خبرو په اثرکي ليکلو ورسته له سترګو خوب ځغلولو په نيت به مي اوس پام دَ هغو ګڼو ونو په خوا اړولو ، چي سپوان وزمه ښې يې درلودلې ، نو ميرنا واي..

" په دې هېواد کي خلګ دَ خپل ثقافت او ژبي سره دَ ميني لرلو سره سره قامي مينه هم له لاسه نه ورکوي او هر هغه شی په کارَوي ، چي په اټلي کي جوړ وي "

دَ کاغذ جوړولو له ونو سره په څنګ څنګ کي دَ تېرېدلو په وخت چي هغې دا خبره سرته رسوله ، نو مي ډائرۍ ته داسي خبري وسپارلې -

" هو .. قامونه خو نن هغه ژوندي دي ، چي ژبي يې ژوندۍ دي او په ژوند ژواک باندي دَ خپل قام غړي برېښي - نه چي زما دَ قام خواځوږي ، چي قامي پېژندګلوي په ناروا فتوُ

باندي له کُفر سره تړي - او ځان يې په بل پوري تړال ، لکه مرئيان خوښېږي - ځکه خو اوس دَ سيالانو په نظر کي موږ لوېدلي او بې وزنه ښکارو "

دا خبري چي مي نوښته کولې ، نو مي دَ دې اتالويانو وَ کېمپنګ جنون ته پام شو او په زړه کي مي وئيلو ، چي په اټلي کي په لويو لارو باندي ګښنتي کورونه دَ ګاډيانو شاته نښتي له يو ځايه وَ بل ځاى ته داسي وړل کېږي ، لکه زموږ موسمي کډي - ګوا هغوئ هم آزاده فضا داسي خوښوي لکه پښتانه، خو پښتانه له مرئيتوبه دومره بد نه کېږي لکه اتالويان چي په کوم شدت خپلواکي خوښوي -

کله چي بس دَ ايډرياټک سمندر له کوسټل ائيريا سره سره په موټروې باندي مخته رهي وْ ، نو زه چي نن له خپله ښه بخته په چوکۍ کي راسره په څنګ هيڅوک نه وْ ناست - ځکه خو يو ځل بيا دَ خوب په ټاپوګانو کي لکه لېونی ګرځېدمه -

دې وخت که څه هم زه او زما ژوند په امان وْ ، خو دَ بس له هري جټهکې او برېک سره زه په خوبولي سوچ کي وينس په لوري ورتلمه - کله دَ خپل هغه سترې مزل په خوا او کله مي دَ ليدلي خوب په رڼا کي دَ سوچ نيليان داسي ځغلولو ، لکه زه چي وَ دې دُنيا ته دَ راتلو دَ مخه هلته دَ روح په غېر مرئيي بڼه کي اوسېدمه - او دا هر څه زما په لاشعور کي خوندي پراته وْ - هم دغه وْ ، چي ورته په راتګ مي هرڅه هرڅه تر سترګو شولو او هغه هم له طوفانونو سره مخامخ..

غرمه وه او زما په ګهړۍ کي لس بجو ته يو پاوْ پاته وْ ، چي بس دَ خور وور ښار Revena څخه مخته وتلو ، نو زموږ دواړو اړخونو ته دَ وړو وړو ونو باغونه چي دېوالونه يې شاوخواته جاروتلي وْ شا شا ته پاته کېدلو - عجبه خو دا وه ، چي کله به لمر څرکېدلو ، يا بيا چي به مي سترګي غړَولې، نو باران به وربېدلو- او دغه رنګه لس پنځلس منټه ورسته چي موږ دَ Rimini نامي ټاوْن ته پېښبه وَ کړه، نو ميرنا وئيلو..

" موږ اوس سان مرينو ، چې ځانته يو خپلواکه هېواد دی په خوا روان يُو ، چې که يو وړوکی ماډرن کلی ورته وَوئيلی شي ، نو به ښه ځکه وي، چې آبادي يې تر شلو زرو کسانو زياته نه ده - خو ځو ورته ځکه، چې دَ کتلو ارمان مو پاته نه شي "

او بيا په ابډرياټک هائي وې باندي موږ وَ هغه مخامخ ښکاره هېواد ، چې دَ غره له لمني دَ غره تر سره پوري يې وړې او غټې ودانياني جوړي ښکاره کېدلې په خوا زياته رسېدو ته وْ- چې ګائيډ وئيلو..

" دا هېواد سان مرينو دَ خپل دې ښائيسته ننداري پرته هم په ځان کي ښې ډېري زړخوښياني لري او سېلانيان ورته له ليري ليري راځي - په دې هېواد کي ګرېنډ کونسل چې شپېته ممبران يې دَ انتخاب په ذريعه چونړ کېږي انتظام چلوي "

او بيا يې ټوخلو ورسته وئيلو..

" ځو ځله دَ دې هېواد لاندېنۍ برخه سېلاونو هم وړې ده "

ميرنا چې دا خبره کوله ، نو موږ سان مرينو ته رسېدلي وْ- او اوس لګيا وْ کښته کېدلو لاندي-

" دا خو يو ښائيسته کلی، لاکن له ښاري انتظاماتو څخه روزل شوی هېواد دی "

دَ نورو ملګرو په شان زما له خلې هم داسي خبره که څه هم وتله ، خو له دې ځايه ، چې موږ په کي ګرځو څخه يوې بلې خواته ښکاره ننداري سېلانيان ګوره چې په څه څه ..؟ خو زما غوندي شاعربه په يوازيني حېثيت خامخا په ليکلو حتمًا پارَوي - نو هم په دې مي دا نظم دَ "ګيله.. لاکن له چا " هم چې کله بيرته بس ته ختمه په ډائرۍ واړولو-

لنډه دا ، چې دَ نيم ساعت سېل ورسته ، چې بيرته په موټروې باندي بس منډه وهله ، نو ميرنا داسي ګويانه وه..

"دلته پسته خاوره له ليري ليري څخه راوړل کېږي او دا درختي ورباندي کرل کېږي "

هو ، لکه زمونږ دَچوتېر او زيارت په ناوْ کي چي يې پېښتانه کري - دا خبره مي زړه ته چي راتلله ، نو مونږ دَCeseno Town څخه ښه رادې خواته دَ دوْ دنګو غرونو په منځ کي جوړ ښېخي او چت پُل باندي تېرېدلو - او زمونږ کينږ لاس ته لاندي .. ښېخي لاندي منظرونه، چي په کي لوړي ژوري او ځاى په ځاى کورونه هم ښکاره کېدلو په ليدو که مي څه هم زړه له ويري دَ حلق ژبه ښکلوله، خو ستر ګي ورباندي خوږېدلې لګيا وې -

لنډه دا ، چي څه وخت ورسته په Ceseno Town کي دَ کوفي ستاپ په نيت Giorgi نامي رېستورېنټ مخته بس ودرېدلو -

---

" څه وجه ده .. نن خو ستا دواړه ملګري ليري ليري کېږي؟ "

مېز شاوخوا چي څنګه کښېنستلو ، نو روني چي راته دا وئيلو ، نو هلته په يو کونج کي مي په ونېسا او په کائيکو ستر ګي وَ هم نښتلې - کومي چي په خپلو کي ژغېدلې او يو بل اړخ ته يې زينت او ښېلا هم ناستي وې - نو ځکه ما دَ يارانو پام دَ هغوئ په لور اړَولو سره سم ورته وئيلو..

"هغه ګورئ ، چي دواړي زما خلاف محاذ خلاسولو ته جوړېدلي دي "

" هو.. داسي ښکاري لکه هغوئ چي يو بل ته خپل خپل دَ زړه حالونه واي "

" او دَ دواړو په حال کي به دَ شوق تاوان وي "

داني چي دَ روني دَ سوال په ځواب کي دا وئيلو ، نو ما ورته په خندا وَ وئيلو ..

"ما نو کله هغوئ یرغمالي کړي وي ؟ اول هم آزادي وې او اوس هم"

"اوس دَ آزادۍ دَ پاره پلاننګ کوي لګیا دي"

داني هم په خندا باندي دا خبره څه وکړه ، چي ما او روني هم ورسره خندا ګډه کړه او په خوند خوند مي کوفي ځیښل شروع کړو - او دغه رنګه چي موږ له رېستورېنټ څخه دباندي وَوتلو ، نو ونېسا په داني باندي دَ تم کېدلو دپاره ژغ کولو سره سمه خپله هم ورته په تېزو ګامونو دَ هغه په خوا را روانه شوه -

"درځه.. چي ما او تا ځو"

"هو زما هم خیال دا دی ، چي هغه ستا په باب ورته ګیله کوي"

او بیا مو په ګډه مخته ګامونه اوچت کړو-

که څه هم زما ملګرو له ما سره ټوکي کړي وې، خو دې وخت زه په ځان کي شرمنده کېدمه او غوښتلو مي چي ژر تر ژره داني راشي - چي دا وسواس مي له ذهنه وَوځي -

لاکن بس مخته روان هم شو ، خو دَ شا په چوکۍ باندي دَ ونېسا او دَ داني تر منځه مذاکرات نه ختم کېدو - ما په وار وار ورته شاته کتلو ، لاکن هغوئ وْ ، چي له دَنیا او جهانه بې خبره په خپلو کي پُوسکېدلو او کله کله به یې وَهم خندلو -او څه مخته میرنا وئیلو..

"دا ناوې او لوړي ژوري به تر اسیسي Assisi پوري له موږ سره سره ځي - چرته چي مشهوره سېنټ فرانسس چرچ او کور دَ دې ټاوْن اهمیت زیاتوي - او ډېر ژر بیا موږ دَ Pergoria نامي ټاوْن څخه تېرېدلو ورسته دَ روډ په کېڼ لاس کي جوړ ښار ، چي اوس ښکاره کېدلو په خوا روان وْ - چرته چي سېنټ فرانسس په **1182**ع کي زېږېدلی وْ -

ښار اسيسي، دَ خپل خواره واره حېثيت پرته که مشهوره د ی، نو دَ سېنټ فرانسس په وجه - چې دَ عيسائيت دَ تعليماتو خپرولو په څير کي يې خورا لويه برخه لوبولې ده، او دَ نړۍ له ليري ليري ځايونو څخه عيسائيان دَ زيارت کولو دَپاره ورته راځي - وئيل کېږي چي سېنټ فرانسس خپل ژوند دَ انسانيت دَ بقا په خاطر په ډېرو ستونزو کي تېر کړی وْ - دَ هغه په درس کي دَ فطرت سره مينه او دَ انسانانو تر منځ رښتې رنګه اصولونو باندي ورګډ دي - هغه انسان ، دَ انسان په رنګه غوښتلو هڅي کولې - نو ځکه خو ملګرو ټوْرستانو ، چي زياتره په کي عيسايان وْ تر ډوډۍ خوړلو او هر قسمه حاجت پوره کولو له مخه دَ هغه وَ تاريخي چرچ ته ور مات شولو - زه هم دَ ملګرو سره اوږه په اوږه وَ چرچ ته وردننه شوم ، خو دَ سېل کولو په نيت -

سېنټ فرانسس ته دَ عقيدت ګلونه وړاندي کولو ورسته چي له چرچ څخه دباندي راوتلو ، نو ميرنا راسره په څنګ کي دَ بس په لور روانه شوه - او په ما يې دَ نر غوندي لاس راجارباسلو ورسته وئيلو ..

" دا ستا دَ ستړي کولو انداز مي ډېر خوښ دی - يادَوم به دي - او بل دَ مسلمان کېدلو پرته هم چرچونو ته احترام لرې.. ما داسي سنجَولي دي "

ما هم مخ وراړَولو سره سم ورته په ډېره عاجزۍ وَوئيل..

" هو ميرنا.. زه اول انسان يم او بيا مسلمان هم - خو هر انسان ته دَ قدر په سترګه کتل او دَ بل دَ مذهب احترام کول نه تش زما بلکې دَ اسلام تعليمات دي "

" هر ليکوال او شاعر داسي نظر لري؟؟ "

هغې له ما پوښتنه وکړه -

" هو ، که واقعي شاعر يا ليکوال وي هله - ولي چي مثالي انسانيت خو دَ ادب يوازينی مرام دی او دا بېل بېل مذهبونه يې ورته دَ رسېدلو لاري خو دي.. "

داسي چي مي ورته وئيلو، نو هغې په ملا وَ ټکولم او مخته وتلو څخه يې لومړی داسي سرټيفيکېټ هم په خوړه او پسته ژبه راکړو، او واي..

"شوقه ! يقينًا چي ښه سوچ لرې.. قدر دي کوم "

دومره وئيلو ورسته يې بيا په ملګرو ژغ وکړو..

"هله هله راځئ ، چي مخته ځو "

او څه وخت ورسته يې دَ اسيسي ښار په منځنۍ برخه کي دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو او سېل کولو په نيت چي خوشي کولو، نو ميرنا وئيلو.. "دلته که خپله خپله ژبه له خلګو سره وَوايئ ، نو به ښه خبره وي - ولي چي ښخي هيڅوک هم په انګرېزي نه پوهېږي "

هو خبره وه هم دغسي ، ګوا دلته ما هم په پښتو وئيلو ښه زړه سوړ کړو او دَ خپلي مطالعې په سمه مي خورا ډېري خوندَوري خبري په اشارو او ښخي ماتي ګوډي انګلسۍ کي هم تر لاسه کړې -

هرڅه هرڅه ، خو دلته دَ ځاني تشخص سره سره قامي ژبه او دَ قام دَ سرلوړۍ خبرو زه دومره په احساس کمترۍ کي ورګېر کړم ، چي ما به هرڅو په خيال کي دَ ځان تول دَ يو پښتانه په څير درنَولو هڅه کوله، نو هغومره به تول سپکېدلو - ولي چي ما سره هيڅ داسي دليل نه وْ، چي ګوندي ما ځان په خپل نظر کي دَ سيلالۍ په اړه دَ هغو خلګو سره په مقابله کي درونډ کړی وی - چي له مذهبه يې واخلې بيا دَ ژوند تر کاروباره پوري قاموالي په وياړ کوي - نو ځکه دا هغه خيالات وْ، چي زه يې په "مارشل پښتون "نامي نظم ليکلو وَپاروَلم - ولي چي دَ ابس - تي - باکسواله او دَ هغه له فېميلي سره ډوډۍ خوړلو ورسته ما په نيم ساعت کي خورا په ګرځېدو ځان ستړی کړی هم وْ -

"هغې وئیلو.. چې شوق ډېر بې وفا ملګری دی "

او بیا یې خندلو ورسته لا دا خبره هم وکړه..

" ملګرئیه .. هغې ستا دَ بدي روئیې په باب میرنا  او نورو خوندَکیانو ته هم حالونه وئیلي دي او خورا یې رسوا کړی یې.. "

دَ اسیسي څخه بس روانېدلو سم دستي چې داني زما دَ پوښتني په ځواب کي داسي وَوئیلو ، نو مځکه مي له پښو وَختله او اوس به مي لا دَ ونېسا په نامه کلکه ښکنځا له خلي ورته وتله ، چې داني زما په حالت پوهـ شو او دَ خپلي مخصوصي خندا کولو ورسته یې وئیلو..

" شوقه.. هغه ستا ډېر عزت کوي او داسي یوه خبره یې هم نه ده راته کړي ، چې زړه دي په بد شي "

" ښه ښه... لاکن څه خو به یې نو خامخا وئیلي وي درته.. ولي چې کله تاسو خبري سره کولې ، نو هغې یو څو ځله په کړو راته کتلي هم وْ "

داني زما په دې سوال څه چپ غوندي شو او بیا یې راته په صفا ټکو کي وئیلو ..

" داسي یې یوه خبره هم نه وَکړه چپ له دې، چې هغه زما ، ستا او دَ روني دوسته ځان ګڼي او بس "

" لاکن نوري هغه کومي داسي خبري وې، چې دا دومره وخت مو سره کولې ؟ چرته ته خو هم..؟ "

روني چې داسي ورته وَوئیلو ، نو هغه هم اوړې څنډلو ورسته په ویاړمني خندا کي وئیلو ..

" کېدلی شي، چي زما هم لاتړی راختلي وي "

او بیا خپله په خندا کي مخته داسي واي..

" یَه داسي کیسه هم نه وه ، بلکې هغې له ما څخه په منیلا کي اوسېدونکي یوې خوندکی په باب ځکه حال کولو ، چي هغه زما هم شناخته وَوتله او بس "

دا چي یې وئیلو ، نو په روني نه یم خبر.. ما خو یوه اوږده ساه دَ سکون واخیستله او په زړه کي مي دَ خدای شُکر ادا کړو - او مخته له یو سیټ سره ولاړي ونېسا ته مي بیا بیا سترګي په غلا ور اړَول هم شروع کړي وې - چي دې وخت له ابېرین او وېلینا سره یې په یو چا ، یا دَ ابېرین په خبرو ، چي لاسونه هم له خبرو سره دَ غورځولو عادت درلودلو باندي خندلو لګیا وه - او لکه ماره یوې بلي خواته له پستو جټهکو سره ځنګېدله ، وشېدله او زما په زړه راتاوېدله..خو پټ په پټه -

څه وخت ورسته زه او روني هم دَ شا له چوکی مخته خپلو چوکیانو په لور ځکه روان شولو ، چي ونېسا دَ لاس په اشاره وَ داني ته دَ خپل ورته راتګ بیا زېری کولو - په خپلي چوکی لا سم کښېنستی نه وم ، چي هغې شاته ګامونه اخیستلو په وخت راته یو نظر کتلو سره سم زما په زړه باندي دَ نری ،لاکن خوږې موسکا ګُوزار هم وکړو او تېره شوه -

پاوګم څلور بجو خواته په ټال پلازه کي ټېکس ورکولو ورسته موږ دَ St . Raita دَ سپیني مجسمې ته مخامخ شولو او بیا خپل ښي لاس ته په وړَو وړَو غونډیانو کي جوړ تک تور روډ باندي مخته رهي وْ، او میرنا وئیلو..

" دا هغه نوموړي او ښائیسته غونډیاني دي، چي ورته Sleeping Joint Mossulini وئیل کېږي "

دلته په دې ورو غونډیانو باندي ځای په ځای دَ پوُسونو رمې هم غرېدلې - او بیا دَ نیم ساعت ورسته بلې ژېړې ټال پلازې باندي ټېکس ورکولو ورسته دانیال اُستاذ په هوارو میدانونو کي بس مخته وهلو او ملګرو هم غاړي هسکي هسکي ځکه کولې، چي اوس دَ میرنا په قول زیاته روم ته په رسېدو یُو - او بیا چي څنګه څنګه موږ مخته تلو ، نو تر لیري لیري پوري پروت دَ روم ښار له خپلو ورو ، غټو او هسکو بلډنګیانو سره موږ ته هرکلی وئیلو -

له لیري دا ښار په لومړي نظر داسي راته ښکاره شو ، لکه اسلام آباد - خو هغومره درختي یې نه لرلې - ګوا په لوړو ژورو کي جوړ وْ - خو بیا چي څنګه څنګه ورننوتلو ، نو دَ روم ښار هواري علاقې هم څه کمي نه وې - ماته یې په فُټ پاتهونو باندي تلونکو خلګو کي ژوند ښکاره شو - ولي چي په ګامونو اخیستلو کي یې تېزي بربښېدله - په روم ښار کي یوې بلي خواته بس ګرځولو راګرځولو ورسته چي دَ Terminal Ostiense نامي بېخي غټي او پلني تمبې سره په کیڼ لاس تېرېدلو ، نو میرنا دا زېری راباندي وَکړو ، چي

" اوس چي بس څنګه ښي لاس ته په هغه چوک وګرځي، نو هغه لاره به یو دم موږ څلور خالیزه هوټل پارک ته ورسوي "

او هغې لا خبري سرته نه وې رسولي ، چي دانیال اُستاذ بس دَ یو ښائیسته هوټل، چي پارک کوستانزا نومېدلو مخي ته ودَرولو -

"ګوره ، چي دا روم بیا موږ ته کومي زړخوشیاني راکوي ؟ "

زما له مخه په خپل وار له بس څخه ګوزېدلو په وخت چي داني داسي خبره وکړه ، نو وېلینا په خندا کي ورته وئیلو ..

" ما اورېدلي دي ، چي دلته په روم کي دَ نرانو دَ خوشالۍ دپاره هر رقم سامان موجود دی "

"که ته او لارا هڅه وَکړئ ، نو ځان ته ډېر څه موندلی شئ "

او لارا چي دې وخت يې شاته ورپسې را روانه وه ، وَ روني ته داسي په زوره ديکه ورکړه ، چي هغه اېله دَ بس په پوړيانو کي دَ کښېنتـه کېدلو په وخت وَ نه لوېدلو - او بيا يې ورته په ځواب کي وئيلو ..

" دا اېمسټرډم نه دی ، بلکې مقدسه ښار روم دی روم .. پوهی شوې "

*****

# دَ ګنډ کپانو په مقدسه ښار کي

" لکه ما چي جوړه دَ رومنو دَ تاريخ پلټلو دپاره په **753** ق م کي ګام اېښی وْ ، کله چي رومولس نامي سړي دَ روما ( Rome ) ښار لومړۍ خښته اېښي وه "

داسي ما هغه وخت وَ سنجولو ، چي څنګه مي دَ روم په هوټل پارک کي په خپل نامه ټاکل شوي خوني کي قدم کښېښولو - دا نه چي ګوندي په هغې خوني کي رومولس نيکه اوسېدلو او يا هوټل دَ هغې زمانې جوړ وْ - بلکې روم په زاړه او تاريخي ښار کي ماته دَ نوي زمانې هوټل هم زوړ ښکاره کېدلو او هر شي ته مي په وازو سترګو بيا بيا کتلو - لاکن چي څه ورسته مي دَ کړکۍ درنه پرده يوې خواته کښ کړه ، نو څه وينم ؟ چي دَ لمر په ورستنئيو وړانګو کي دَ دې ښار په لوړو او ژوَرو محّکو باندي جوړي ودانياني او ماڼياني دَ شنو غټو ونو په منځ کي دَ نن په زمانې کي زما دَ موجودګۍ دَحال وئيلو سره سره هر منظر دَ ښکلاګانو په ژبه له ما سره په پټه خله خبري هم کولې - نو ځکه ما هم سترګي وَ موړولې او په نرۍ موسکا له ځان سره داسي وَبُونړېدم -

" دا ښار خو دَ مئينانو ښار راته ښکاري - خود به دلته په خلګو کي دَ ميني کولو رُجحان هم زيات وي "

روم ، چي ورته ابدي ښار Eternal City هم وئيل کېږي ، دَ اټلي په منځنۍ برخه کي له مغربي سمندري څنډي سره جوخت دَ ټائيبر درياب په دواړو اړخونو اوو وړو غونډيانو باندي پروت تاريخي ښار دی - دَ اټلي دَ دارالحکومت پرته دَ وېټيکن ستي پوپ استوګن ځای هم دی - دا هغه ښار دی ، چي دَ بېلا بېلو عقائدو سره منسوب قامونو ، يرغل کونکو او آرټستانو خپل نقشونه په کي داسي پرېيښي دي - چي په ورانولو يې هم اثرات لا پاته دي - ولي چي هرڅه په ريکارډ باندي نوښته دي او دَ خلګو له فطرته ، بلکې څه چي له روئيو څخه يې هم دَ تاريخي رنګ سنجونه کېږي -

" که يوې خواته روم دَ نېرو په وخت( **545**ع -**68** ع ) کي دَ اورونو لمبې په خپله سينه زغملي دي، نو خوا څُوړو يې سردوباره جووړَونه دَ هغه وخت دَ تقاضو په سمه کړي هم وه - او دغه

رنګه وئیل کېږي، چي دا مُقدسه ښار په دریمي صدۍ کي دَ ډایو کلېټس باچا په دور کي په دوْ برخو که وېښل شوی دی- نو بیرته دَ ګریګري اول (**509**ع - **604**)دَ پاپائیت له زوره یو شوی هم دی "

دَ تاریخي حقائقو په رڼا کي دَ نن روم دَ سبا په ستي ټوْر کي دَ لیدلو سوچونه لا سم پاخه کړي نه وْ ، چي دَ ټېلي فون په زنګ مي دَ سوچ سلسله وَشلېدله - او داني غوښتلو ، چي زه هم له هغوئ سره دَ روم دَ شپې ژوند کتلو ته چمتو شم ، ولي چي دوه فلیپینو ملګري چي دلته یې روزګار کولو هم ورته راغلي وْ- نو ځکه موږ ټول ملګري په اتهه نیمي بجې له خپل هوټل پارک کوستانزا ، چي په Via Cristoforo Colombo کي وْ ځخه په ټېکسي کي تر نیږدې مېټرو ستېشن ، چي دَ لندن تر مېټرو نه یوازي ښائیسته ښکاره کېدلو ، بلکې رېل ګاډیاني یې هم ډېري ښې او آرام ده برېښېدلې ته ورسېدلو -

" خیال کوئ.. دلته ګنډکپان ډېر زیات دي "

دَ پاخه عمر یو سړي چي دا خبره وکړه ، نو احتیاط مي تر ویري پوري وَ رسېدلو ، ولي چي میرنا پرون دَ دې ښار دَ شُوکمارانو او دهوکه بازانو په باب له موږه دَ محتاط اوسېدلو خواستګره وه - هم ځکه مي هځه دا کوله ، چي له چا سره وَنښلم لا نه-

" دلته په اټلي کي خو په کار وْ، چي خلګ په خوی او بُود ډېر نوموړي وی "

ما به لا خبره مختته کښوله ، چي روني غاښونه سپین کړو او وار یې داسي لاس ته کړو -

" ستا مطلب دا دی ، چي ګوندي دا مقدسه ښار دی "

" مقدسه خو دی ، لاکن دَ نورو اروپائي هېوادونو په سر دلته Cheaters زیات دي "

داني هم دَ روني له خبري سره سم دَ خپلي رائې اظهارپه موسېدلي انداز چي وکړو ، نو ما داسي وَسنجوله ، لکه هغه چي واي..

"ګوا دلته هم شېطانان زيات دي "

او بيا وَ موسېدم ځکه ، چي داسي دليل خو هلته زموږ په خوا کي هم ځيني خلګ خپلي ګناګاني له خپله سره اړَولو دپاره کوي-

" رادې خواته شه ، دا ستا تر شا ولاړه انجلۍ راته ګنډکپه ښکاري "

داني دَ ځان په لور ورکښولو ورسته چي داسي وَوئيلو ، نو ما ورته دَ خندلو ورسته وئيلو -

" مطلب دا ، چي په دې ښار کي به تر سپيل کولو زيات ځانونه ژغورو له شُوکمارانو "

" ښېشکه .. دلته په قدم قدم چيټرانو وَ ټورسټانو ته تلکي لګولي دي او داسي هم وئيل کېږي ، چي که څوک له روم څخه بې دهوکې بيرته ولاړ شي ، هغه ډېر خوش بخته شمېرل کېږي "

روني چي دا خبره څنګه سرته وَرسوله ، نو ورڅرمه شوي ملګری فليپينو ورته واي..

" دومره ويره هم نه ده کول په کار ، دا موږ خو هم په کي اوسېږو "

" هو ، اوسېږئ خو ، لاکن دا حال راکړئ ، چي کله هم.. "

داني لا پوښتنه سمه ترسره نه ورسوله ، چي هغه فلپائيني ځوان په موسکا کي واي..

" بس يو وار زه هم چيټ شوی يم ، لاکن.. "

"لاکن موږ چيټ کېدل نه غواړو "

دَ هغه خبره پرې کولو ورسته چي داسي داني وَوئيلو، نو موږ هم په ډکه خله خندا په Equilins نامي مېټرو سټېشن کي له رېل ګاډي، ګوز شولو- بالا مځکي ته راتلو ورسته هغو ځوانانو موږ په بس کي کښېنولو او څو دقيقو ورسته په نېشنل روډ چي دلته ورته Via Nationale واي کي کښته شولو- که څه هم زياتره دوکانونه بند وو، خو ځيني غټ غټ شاپنګ مالونه او دَ رېسټورېنټونو په څپه ځيني بارونه هم خلاس وو- او دلته رش ګش زيات ښکاره کېدلو- ملګرو وئيلو، چي دا روډ دَ روم هغه بارونقه روډ دی، چي شپه او ورځ زږخوښياني په کي ليدل کېږي- يوه نيمه ښځه او سړی به يوې بلي خواته ځنګېدلو او هڅه به يې دا کوله ، چي له چا سره وَنښلي- دَ داسي خلګو په حقله هغو فليپينو ملګرو به هم دا خبره کوله ، چي دا رومن شُوکماران دي.. موقعه غواړي-

په دې روډ باندي رک تر هغه سره پوري لاړو، چرته چي په کي اوپېرا په يوه زاړه او غټ بلډنګ کي دَ Teatro di Opera په نامه سټېج شو کولو کي خپل روائتي شهرت لري- او دلته دَ روډ وَهغه بل فُټ پاتهـ ته ولانګلو په وخت مي فليپينو ملګرو ته وئيلو..

" تر اوسه پوري خو مي دلته داسي يو شی هم تر سترګو نه شو، چي زړه مي پرې خوشاله شوی وي "

زما دَ خبري په تصديق کي داني هم وئيلو..

" هو.. درځئ چي يو ځای ډوډی وَخورو "

او بيا په تېزو قدمونو مخته دَ رېسټورېنټ په لټون کي روان شولو - يو وخت چي زه له ملګرو شل يا پنځويښت ګامه مخته وتلی وم، نو يو سړی مو تر څنګه شو او واي..

" بخښنه غواړم، نن زه له جرمني راغلی يم او غواړم دلته امريکن بار ته ورشم - تاته که معلوم وي، نو يې راوَښئيه.. مهرباني وکړه "

ما چي ورته څنګه معذرت کولو، نو هغه واي..

"کېدلی شي چي هغو خلګو ته معلوم وي "

"هغه خو زما ملګري دي "

او دا چي مي ورته وئيلو ، نو زما ملګري هم راوَرسېدلو او داني راته واي..

"دا څوک دی ؟ "

"دای دَ امريکن بار پوښتنه کوي "

ما چي دا ورته وئيلو ، نو داني وئيلو ..

"په دې بار کي څه دي؟ اوس يو بل سړي هم له موږه پوښتنه وکړه "

روني واي..

"نو درځئ ، چي موږ هم ورشو ، وي به دلته نيږدې چرته "

او موږ ټول ، چي هغه جرمن ، چي نوم يې هانس ښئيلو هم راسره وْ، دَ امريکن بار په لټون کي ځنګ په ځنګ روان شولو او ښه ګرځېدلو ورسته مي دَ نېشنل روډ وَ شاته په يوه کوڅه کي مونده کړو او زه، روني او داني دَ هانس په ملګري کي ورننوتلو - هغه نور دوه فلپائيني ملګري رخصت شولو دَ سبا دَ ملاقات په وعده -

---

دا امريکن بارنه وْ او نه دَ شپې دَ ژوند دَ زړخوښيانو يو ځای - نو بيا څه وْ ؟ بس هم دا هغه سوال وْ، چي موږ يې حريان کړي وْ - دننه يو پُراسراره هال وْ، چي دې وخت زموږ په چپه

هيڅوک نه وْ - که وْ هم نو په دې ببخي لږه رڼا کي ښکاره کېدو نه - او دومره چُپه چپيا وه ، چي ما داسي کرار دَ روني په غوږ کي وَوَئيلو..

" ماته داسي محسوسېږي لکه مورِ چي ګېر شوي يُو "

داني وَ روني ته دا خبره وکړه او دواړه په خپله ژبه ګډ شولو- اوما به هم اوس ځان ورڅکولو ، چي زما وَ دې بل اړخ ته ناست هانس واي..

" فکر مه کوه - دلته هغه خوندونه دي ، چي بيا به يې په ژوند کي هېر نه کړې "

په زړه کي مي وئيلو..

" هو.. که ژوندی وم هله "

مخته هغه څه وئيلو ؟ غوږ مي نه وْ ورته نيولی - او لار مي دَ فرار غوښتله لګيا وْ او سوچ مي دا کولو ، چي ملګرو ته وايم ، چي ځو.. دلته خوند نه ، بلکې دَ خوند په نوم شُوکماري راته برېښي - اوس به لا نور نور سامېدمه ، چي هلته ليري مي څو ساې تر سترګو شوې ، چي څوکه څوکه زمورِ په خوا راروانې وې - او څنګه څنګه چي رانيږدې کېدي ، نو ښځو ته مونېدلې لګيا وې او دلته زما بدن هم له ويري زيږېدو لګيا وْ- وايم .. که اټکړ وم ، نو دا به يقيني خبره وه ، چي له خلې څخه به مي چيغه وتلي وی - ولي ما خو په نکلونو کي دا اورېدلي وْ، چي په داسي وران او ويجاړ ځايونو کي دَ شپې خواته سړي نه ، بلکې ډائينې ښځي ګرځي ، چي دَ خلګو زړونه باسي -

" هغه څوک دي چي زمورِ په خوا راواني دي؟ "

" زه خپله هم حريان يم ، چي دا له مورِ سره څه سلوک کېږي لګيا دی؟ "

" وبربرېئ مه .. دا هغه حُوري دي ، چي مورِ به بلي دُنيا ته وړي "

هانس چي دا وئيلو، نو ما لږ په لوړ ژغ ورته وئيلو..

"موږ خو دَ دې خدمت د پاره نه يُو راغلي"

"مخ مخ ته ګوره چي څه به کېږي؟"

"څه مطلب؟"

زما له ويري څخه هغه هانس فائده اخيستلو په نيت يوه کلکه کړيکه وَوهله او دَ خندا په ايکو کي يې شاته په ښېک ګراونډ کي نرى ميوزک هم شروع شو - او زه پوهـ شوم، چي موږ چرته راغلي وُ -

"زه خو ځم.. دا خو څه راته بل څه ښکاري"

"لاکن اوس خو تلی نه شې"

هانس وئيلو..

"دا دي دهمکۍ ګڼلی شم؟"

ما چي په زوره لاس ورڅخه راکښ کړو، نو هغه په خندا کي راته واي

"يُه دا په دوستۍ کي ستا دَ فائدې خبره ده، ولي چي دا هرڅه خو اوس..."

که څه هم دا خبري يې خوږې کولې، خو ان ډائرېکټ په کي راته دهمکۍ هم له غوږه تېره شوي وه - ما چي دَ ملګرو په خوا وکتلو، نو هغوئ هم راته کمزوره ښکاره شولو - ولي چي دې وخت هلته په کونجونو کي غټ غټ سرخريلي فلمي پالوانان هم ولاړ وُ او زموږ په لور يې په برګو برګو کتلو - او بل هغه سايو هم اوس دَ خُورو ښه اغوستي وه - چي وار په وار يې

زمورږ دَ زړونو ايستلو او خوړلو دپاره په شونډو باندي موسکاګاني خورَولې لګيا وې - او بلې خواته مورږ وُ، چي دَ تېښت لاره مو غوښتله ، چي چرته هم نه ښکاره کېدله - نو ځکه مي زړه وَکړو او داني ته مي وئيلو ..

" که همت راسره کوئ ، نو زه خو... "

" يَه يَه ، چي داسي نه وکړي ، دا خلګ ډېر ځناور دي - داسي نه چي .. "

داني چي دې وخت بيا دَځان په حال کي نه وْ واي..

" کښېنه کښېنه .. دغه خو ځای دی "

او په دې وخت يوه ډائينه ، چي جګه او ښېخي دَ ايمان دَ ختاکولو پلمه غوندي وه زما له څنګه چي کښېنستله ، نو ما ورته په کېښدلي رپېدلي ژغ وئيلو..

" څوک يې ؟ دلته څه غواړې ؟ "

" زه په سوشيالوجي کي ماسټر کوم لګيا يم "

" دلته ماسټر کوې؟ "

هغې وَخندلو او راته واي..

" دلته تش جاب کوم "

او دا چي يې وَوئيلو ، نو راوَهم څکېدله - لاکن زه ورڅخه ليري شوم - بيا نو څه وْ، ما ځان مرګ ته نه ورکولو او هغې ډائينې زما تر مرۍ بيا بيا لاس راغزَولو-

"اوس به مي غاړه مروړي ..اوس به مي غاړه مروړي "

په داسي ويري ويري کي مي ملګرو ته ځان ورنيزدې کړو او په غوږ کي مي ورته وئيلو..

" دا خو به موږ نن وَلوټي.. که دغه رنګه يې په مرضي چلېدو "

" هو .. درځئ چي ځو "

او درې سره ملګري چي په يوه صلا ولاړ شولو ، نو دا راڅرمه شوي ساې يو دم شاته شوې او هغه ساې چي سرونه يې ځرکېدلو رامخته شوې - او له دې سره سم يو درونډ پِل هم زموږ وَ مخته کښېښول شو- په کوم باندي چي زموږ دَ سرونه بيهـه ليک وه ، نو ځکه مي سرونه په اوږو نښتي دباندي راوړلو- که څه هم اوس دباندي يخه هوا ګُلېدله ، خو موږ په خولو کي ډوب مخته که څه هم چپ روان وْ، خو دننه دننه هر يوه له ځانه دا پوښتنه کوله -

" داسي خو ماشوم هم نه ختا کېږي لکه دا زه چي.. "

او بيا چي هوټل له مخه له ټېکسي کښته کېدلو ، نو داني واي..

" داسي څنګه وَشو ؟ "

" او زه بيا وايم، چي ولي وَشو؟ "

ما چي دَ هغه دَ سوال سره خپل سوال ورګنډي کړو ، نو روني په خندا واي.. چي

" داسي ځکه وَشو ، چي موږ ببو قوفان وْ او بس "

" هو ، په وينبه مي دَ خوب وَ ټاپوګانو ته وردانګل غوښتلو "

زما له دې خبرې ورسته داني هم واې..

"لاکن زه په دې حريان يم ، چې دلته به دا يو څو ورځې ښنګه تېرَوْ ؟ "

او بيا په ګُوزو سترګو او شنو زړونو وَ خپلو خپلو خونو ته ورچپ شولو- په هغو نه يم خبر ، خو ما تر ډېره دَ دې ښار په حقله دَ سوچ کولو ورسته دا نظم "دَ مقدسه ښار فرېبي ژوند " هم چرته نيمي شپې خواته چې ښنګه سرته وَ رسولو ، نو خوب هم په غېږ کې واخيستم-

---

سهار وختي اووه نيمي بجې خواته دَ پارک هوټل کوستانزا په رېستورېنټ کې دَ ناری کولو په نيت بيا له خپلو فليپينو ملګرو سره ناست وم- زه چې څومره بې خوبه وم ، نو هغومره دَ داني او روني طبيعتونه هم ختم راته برېښېدلو او درو واړو يو بل ته داسي په مړو مړو کتلو ، لکه هر يوه چې دَ روم دَ شُوکمارانو مخته ماته منلي وي- هو ، مونږ په خپل خپل سوچ له دې ښاره دَ فرار لاري غوښتلې- لاکن يو بل ته مو له خُلې هيڅ هم نه ايستلو- ولي چې هغوئ په خپل ځای فليپينو او زه بيا پښتون وم- بيا بيا مې خپلو ماتو حوصلو ته اوږې ورکولې اوغوښتلو مې چې په دې شُوکمارانو باندي برى وَمومم- هم ځکه خو مې يو وخت سترګې دَ ملګرو په لور اړَولو ورسته وَوَئيلو..

"سرونو ته دې خبر وي.. جېبونو ته پيسې ځي او راځي ، فکر نه دی کول په کار "

" Fuck Romens زما خو له دغو خلګو بد وَشو- دَ مېلمنو سره هم داسي څوک کوي ؟ لکه دوی چې له مونږ سره وکړو "

روني زما دَ خبرې په ځواب کې يو دم داسي ردعمل ښکاره کړو ، لکه هغه چې تر ما او داني زيات ژوبل شوی وي- او بيا يې سر يوې بلې خواته له افسوسه ښورَولو ورسته په زوره چې مېز په څوک وَوهلو ، نو راسره په دې بل مېز ناست ډېني هاوْپوښتنه وکړه..

" خبر خو دی ، چرته په خپلو کې خو دَ جنګ اراده مو نه ده کړې؟ "

" يَه داسي لږزموږ يار جذباتي غوندي شو "

ما دَ خندلو ورسته ورته چي دا وئيلو ، نو روني واي..

" زه خو دَ دې رومنو څه او څه کوم ، دا خو .. "

او بيا يې هغه خبري وکړې ، چي چا به هم تر اوسه دومره نه وي ورته کړي - نو ځکه خو ټېبل ګرل دَ کوفي ټړې په مېز ږدلو په وخت په خوږې موسکا کي واي..

" رومن دومره بد خو هم نه دي ، چي ته يې.. "

" بس دغه خندا خو دَ دې رومنو هغه اوزار دی ، چي سېلانيان پرې غولوي "

روني دَ هغې خبره پرې کولو سمدستي چي دا وَوئيلو ، نو خله يې خندا ته ويړه هم شوه - او بيا موږ ټولو دَ روني او هغې انجلۍ له خندا سره خنداګاني ورګډي کړې -

" دا لومړی سهار او داسي په کلکه خندا ؟ "

هلته له ليري ميرنا دَ سپينو غاښونو دَ ځرکولو سره زموږ په لور ګامونه داسي رااوچت کړو لکه دلته چي خوږې وېښل کېږي - او بيا چي تر موږ راورسېدله ، نو دَ روني په اوږو باندي خپله سينه ږدلو ورسته يې پوښتنه وکړه -

" داسي خوشاله په څه باندي ياست؟ ما ته خو وَوا ياست ملګرو "

داسي يې څه وئيلو ، چي روني په خپله ژبه کي داني ته يو څه وَوئيلو او داوړو وَخندل - لاکن داني له هوشيارۍ کار اخيستلو ورسته واي..

" هو روني هم واي ، چي هغه ځکه خوشاله دی ، چي دې رومنو يې ډېره ښه مېلمستيا کړې ده "

هغه به لا خبره مخته وړله ، چي ميرنا واي..

" هو ، رومن ډېر ښه خلګ دي ، لاکن.. "

او دا لاکن څه وْ ، چي هر يو په خندا سر شو ، ولي چي دَ هغې مطلب هم دَ رومنو ستائينه نه ، بلکې دَ هغوئ له شُوکماري څخه وْ - لا خو موږ خلې له خندا څخه راټولې کړې نه وې ، چي له هوټله دباندې ختلو په وخت ميرنا له موږ څخه دَ برايه شپې په باب پوښتنه وکړه او موږ ته يې بيرته هغه سينونه راياد کړو ، چي په کې لُوټ شوي وْ - هم ځکه خو په ختّه شوْ زړونو بس ته وختلو او درې سره دَ شا وَ اوږدې چوکۍ ته ورچپ ځکه شولو ، چي هغه يوه اوږده چوکۍ خو وه ، چي له روټيټنګ سيستم څخه خلاس وه - او هر چا کولی شو ، چي هلته ولاړ شي او ورباندې وَ غزېږي يا خپل يو نيم عمل تر سره کړي -

"ګوډ ايسټر مارننګ "

بس چي څنګه مخته روان شو ، نو ميرنا دا زېرى لا جلا راباندې څه وکړو ، چي موږ درې واړو يو بل ته داسې وکتلو ، لکه هر يو چي له بله دا پوښتنه کوي.. چي
" دلته خو دَ عيسائيت جنازه دغه رومن داسې په صفائي باسي ، چي ورته راغلو مېلمنو زړونه ورڅخه ماتېږي "

ما چي کله خپله ډائرۍ له بېګه را ايستله ، نو بس په Via C. Colombo باندې مخته رهي وْ او ګائيډ وئيلو ..

" شپه مو څنګه تېره کړه ، چيټ خو نه شولاست..؟ څوک چي نه هم دي چيټ شوي ، نو هغه دي خپل خپل جېبونه او پرسونه وګوري ، کېدلی شي ، چي په خوب خوب کي لُوټ شوي وي "

دا خبري چي يې کولې ، نو هلته کائيکو هم له خپلي چوکۍ را ولاړه شوي وه او زموږ په لور راچپېدله لګيا وه - که يې څه هم خندلو ، خو سامېدلي واهمېدلي ښکاره کېدله - بيا چي څنګه را وَرسېدله ، نو له ما سره په څنګه کي کښېنستلو ورسته واي..

" زما به څه کېږي ؟ زه خو به لتاسو ګرسره نه جلاکېږم - ولي چي دا رومن.. "

" هو ، دا رومن ډېر بد کوي له سپلانيانو سره او.. "

ما به لا نور څه وئيلو ، چي روني واي..

" زه خو دَ دې رومنو ميندي او خوندي ټولي څه او څه کوم "

او بيا يې مخته لاس له خلې داسي واخيستلو ، چي زده ټولي ښکنځاوْي يې دَ زړه له سوخته دَ رومنو په حق کي ګردان کړې - او بيا يو دم سنجيده شو او زما په خوا يې مخ راګرځولو ورسته وئيلو..

" شوقه ! که ستا پيسې په کار وي ، نو زه يې په پور درکولی شم "

چي بس له کولمبو روډ څخه دَ Via Ostiense په لور ګرځېدلو ، نو ميرنا وئيل..

" ملګرو.. روم دَ دُنيا هغه پخوانی ښار دی ، چي دوه زره کاله مخته جوړ شوی وْ او په هر دور کي له يوې نا يوې وجي دا ښار دَ دُنيا دَ خلګو دَ پام وړ مرکز پاته شوی دی - هم ځکه خو دلته په دې ښار کي قدم په قدم زاړه او تاريخي آثار پراته دي - خو نن ګوډ ايسټر دَ احترام په سمون به لومړی وَ Basilica Di St: Paolo نامي چرچ ته لاسونه پورته کړو ، کوم چي هغه دی زموږ مخامخ ولاړ ښکاري "

له بيا له دې چرچ څخه چې بس مخته کله منډه وهله ، نو ما او کائيکو دواړو دَ هغه چرچ عکسونه په کېمرو کې خوندي کولو ، خو بس مخ مخته چې څنګه لاره لنډوله ، نو له زړَو سره سره نوي مانيانې هم مخې ته راتلې او شاته پاته کېدلې هم - ښه ډېر مخته دَ سپنټ ماريه چرچ ورسته په غټو او وړو سړکونو باندې يو وخت ، چې موږ له هغو دنګو دنګو درې زړَو تاريخي کالمانو ( تمبو ) څخه تېرېدلو ، نو داني وئيلو ..

" دا خو اصل روم دی ، چې دَ کتلو وړ ښکارې.. "

روني بيا ور وَدانګلو او واې.

" لاکن رومن نه دي هغه رومن.. څنګه صحيح وايم ، که غلط ؟ "

کائيکو يو دم ځيني پوښتنه وکړه ،

" ولې؟ رومن څله هغه رومن نه دي ؟ اول څنګه وْاو اوس څنګه دي ؟ "

زما هم وار نه وَشو او ورته مې څوکه غوندې وَوئيلو..

" هغه ځکه چې اول رومن سړي وْ او اوس سړي وزمه "

کائيکو زما په لور راوکتلو او موسېدلو ورسته واې..

" شوقه ! ستا خبرې کله کله.. "

" ډېرې ښې وې ، څنګه دا وئيل غواړې ؟ "

داني چې يې خبره څنګه پرې کړې وه ، نو هغې هم هغسې ژر وار لاس ته کولو ورسته په خندا کې وئيلو..

"زما مطلب دا ، چي دَ ده خبري ډېري اِن ډائرېکټ وي"

"ښه ښه.. نو اوس داي لتا سره هم اِن ډائرېکټ خبري کوي ؟ "

روني هم دَ خپلي شوخۍ په سمه چي داسي وار کولو ، نو زموږ بس دَ يو غټ ، لاکن ښېخي زاړه ګيرډي بلډنګ مخي ته برېکونه وَنيولو - او ميرنا واي..

" دا هغه مشهوره تاريخي کولوسيوم سټېډيم دی ، چرته چي ډېر پخوا له سرونو سره لوبي په ډېر ويارٍ کېدلې - هو داسي لکه نن چي باکسنګ کېږي او شاوخواته ورته خلګ په تماشه وي - نو دلته به هم په دې سټېډيم کي خلګو دا لوبي په خپلو سترګو کتلې - خو په دې کتونکو کي به زياتره باچهان او شاهي کورنياني او درباريان ناست وُ ، چي په خپړو به يې هر هغه انسانان ستائيلو ، چي دَ ځناورو غوندي به يې دَ نورو انسانانو سرونه وهلو "

ګائيډ چي څنګه خبره سرته ورسوله ، نو دَ بس دروازه هم خلاسه شوه او موږ ټول ملګري لاندي ګُوز شولو -

دَ کولوسيوم ګيرډۍ مانۍ، چي يواړخ يې مکمل وران شوی وُ چي څومره له دباندي سترګي ګټلي.. هغومره يې دننه هم دَ رومنو او دَ روم دَ تاريخ که يوې خواته شان لوړَولو ، نو هم دَ دې سټېډيم وزمه کولوسيوم هره هره خښته او پوړۍ يې دَ بربريت نکل هم تېرَوي - ما خو داسي سنجَولو ، لکه زه چي په خپلي ماضي کي اوسم او دا يم هلته لاندي دوه انسان وزمه ځناور وينم - چي ټُوري يې په لاس کي دي او په يو بل باندي ګوزارونه داسي کوي ، چي شاوخواته ناست انسانان يې په رقم رقم نارو ستائي هم-

" داسي ښکاري ، لکه دا خلګ چي هغه وخت هم دَ ډېر ښه ذوق مالکان وُ "

دَ داني په دې خبره له خپل ژوَر سوچ څخه څه راستون شوم ، چي ورسره ولاړي کائيکو په کلکه وَخندلو او زه يې په څنګلي باندي ويښتلو ورسته وئيلو ..

"ويده خو نه وې ؟ "

"ويده نه وم، بلکې په وينښه مې خوب ليدلو لکه چي "

ما چي داسي وئيلو، نوميرنا په مورِ باندي ژغ وکړو،

"له مورِ سره دلته فقط پنځلس منټه دي - ولي چي نن ماښپښين ورته پوپ را روان دی "

او بيا له مورِ سره سره په کولوسيوم کي يوې بلي خواته ګرځېدلو ته له خپلو مستيانو او شوخيانو سره جوګه شوه -

دَ کولوسيوم له ګيرِدې مانۍ څخه چي څنګه مخته رهي شولو، نو مورِ دواړو اړخونو ته ماډرن بلډنګان برېښېدلو، چي مخته يې واړه او غټ چمنيان جوړ او سېوان وزمه ونې ولاړې وې - دَ نېشنل ميوزيم آف آرټ څخه تېرېدلو ورسته دَ يو پخواني چرچ سره په څنګ کي تېرېدلو په وخت مي دا خبره په زړه کي راغله، چي روم ته دَ چرچونو ښار وئيل هم بده خبره نه ده - ولي چي له سهاره دا څويم چرچ دی، چي شاته يې پرېږدو - او دَ خوند خبره دا هم وه، چي دا سوچ مي چي کله وهلو، نو مورِ يو چرچ شاته پرېښولو او هلته ليري دَ بل چرچ ميناري هم ښکاره کېدلې - کله کله په کي توپير کول هم ځکه ګران شي، چي زياتره چرچونه دَ غټ او عالي شانه چرچ سېنټ پيټر په سر که نه وي، خو ورته مونږي -

ټائيبر درياب، چي رومن ورته په خپله ژبه کي Fiume Tevere هم واي، دَ روم ښار په منځ کي يوې بلي خواته داسي غزېدلی برېښي - چي کله سړی دَ روم سېل کوي، نو دا درياب بيا بيا مخي ته راځي -

" دَ چرچونو په اړه دَ عيسائيت په حق کي چي رومن څومره مذهب پرسته مونږي، نوهغومره په تاريخي ودانيانو مورِ روم ښار وَ جديدو، بلکې دَ بې شرمۍ تر هانده مخته

وتو لارو چارو ته په غېږ هم ورځي - ځکه خو په روئيو باندي دا غاوره رومن که څه هم دَ سپلانيانو زړونه ماتَوي ، خو ځانته يې روژدَوي هم ډېر په موسېدلي انداز "

دا خبري چي مي په ډائرۍ اړَولې ، نو بس په ټائيبر درياب باندي جوړ په يو غټ پُل باندي تېرېدلو لګيا وْ- او دَ فليپينو ملګرو او کائيکو تر منځه دَ روم دَ ډرائيورانو دَ بېخي بې ډوله ډرائيونګ په باب خبري کېدلې - دلته ځای په ځای دَ امريکه په شان کي هم داسي " فک امريکا " يا " کرَش امريکا " غوندي ښکنځاګاني په دېوالونو داسي په تادۍ ليکلي برېښي، لکه په پاکستان کي چي يې مذهبي جنونيان ورپسې هر چرته ، که څه هغه دَ ماجت دېوال وي او که دَ ميلانو ځلي باندي نوښته کوي -

يو وخت چي مور خپل کينې لاس ته په ټائيبر درياب کي جوړ قدرتي واړه او ښائيسته ټاپو سره تېرېدلو ، نو ګائيډ وئيلو..

" هغه بلډنګ چي تر ټولو غټ دی، پنځلس سوه کاله پخوا جوړ دی ، او دا جذيره دَ دُنيا دَ آرټستانو دَ پام اړَولو پرته دَ عاشق مزاجه خلګو زړونه هم تخنوي، څنګه مسټر ابډرين؟ "

دَ ابډرين په ذکر لاراګوک ، مئی رېنالډ او خپله دَ ابډرين معشوقه وېلينا بس تر ډېره په سر اخيستی وْ او نارو سره سره يې خپړي هم ټکولې - خو دلته يوه کائيکو وه، چي نه يې له هغو انجونو سره خندا ګډوله او نه يې مور وَ خپل مجلس ته ابله کولو - ګوا دَ هغې په مزغو کي يوه سودا وه ، او هغه دا چي..

" رومن ستي خو ښه ښکاري ، لاکن دا رومن ځله بد شهرت لري ؟ او دغه رنګه نور نور سوالونه "

اوس زمور مخته دَ نونيا سکوائر بېخي زوړ بلډنګ وْ، چرته چي دَ زړَو مينارو پرته دَ سرېيانو لغړي مجسمې دَ کتلو وړ وې - مخته بيا کولونا سکوائر، چي دَ زړې ميناري په اړه ځانګړتياوي غوره کوي سره سره مور دَ فوټو سېشن په نيت دَ هغې تکي سپيني او بېخي غټي زړې مانۍ مخته وَدرېدلو ، چي په چهت باندي يې دَ مستو اسپو له مجسمو پرته دَ

عسکرانو بُتان هم ولاړ دي Monument of unknown soldiers نومېږي - او دلته دَ سپلانيانو شمېر هم زيات ليدل کېږي - ځکه خو ما هم دَ خپلي مطالعې په سمه ډېر کار ترسره کړو او خورا ډېري خبري مي لاس ته کړې -

دَ رومن فورم ورسته په پبلک پارک کي دَ څو دقيقو تېرولو ورسته دَ سېنټ اېنجلو په نامه مشهوره تېواري فاونټېن ( فواري) ته ورچپ شولو - چرته چي په تالاب کي دننه دَ هغه دَ لغړي مجسمې پرته ځيني نوري دَ آرټ نمونې هم ليدل کېږي او خلګ ورته له ليري ليري راځي - دَ کتلو ورسته هر يو په دې تالاب کي په پټو سترګو سيکې دَ يو زاړه روايت په سمه ځکه غورځوي ، چي وئيل کېږي ، په داسي کولو به هغه څوک بيا دلته راځي - نو په دې خو ما هم يوه سيکه په کي په دې نيت وَغورځوله، چي بيا بيا ورته راشم

" زه خو سيکه په دې تالاب کي نه غورځوم او ته..؟ "

راسره ولاړ روني دَ کائيکو په لور کتلو ورسته چي ورڅخه پوښتنه وکړه ، نو هغې هم ورسره سر په " هو " کي وَښورَولو او موږ بس په لور دَ روني او کائيکو له هغو رائيو سره روان شولو ، چي دواړو ځان ځانته بيانولې - ګوا روني خو دَ برابه شپې شُوکماری له سوبه داسي وئيلو - لاکن ګوره چي په دې کائيکو يې څه ټکه غورځولي وه ، چي دَ رومنو په باب يې کرکه انتها ته رسولي وه -

لندړه دا ، چي په يولس نيمي بجې غرمه چي څنګه دَ سېنټ پيټر دَ ببخي عالي شانه چرچ سره په څنګ کي په پراخ روډ باندي جوړ يونيورسل بار نامي رېستورېنټ مخته ګُوزېدلو ، نو باران هم نرى نرى شروع شوى وْ - خو دَ پروګرام په سمه دلته خپلي مخي ته دَ څو ګنټهو دپاره په دې ورستي نصيحت پرېښول شولو - ګوا..

" خيال کوئ له جېبونو او پرسونو سره "

او بيا ملګري يوې بلي خواته تيت او پرک شولو ،خو کائيکو او ونېسا هم هغه وخت راڅرمه شوې ، چي زه دَ فليپينو ملګرو په ضد له هغوئ سره دَ سېنټ پيټرچرچ کتلو ته روان وم-

په دې پيټر چرچ کي دَ چهت او دَ دېوالونو دَ ښائيست پرته دَ هيروګانو پراته پاخه قالبوتونو او دَ هغوئ جوړو بُتانو او دَ مسيحا عکسونو داسي ښکاره کولو ، لکه دا رومن کېتهولک هم ځوکه ځوکه دَ بُده متانو يا هندوانو په لاره مذهبي مزل لنډولو ته چمتو شوي دي - او دغه رنګه ما په يو نيم بل چرچ کي هم وليدلو -

له چرچ څخه نبغ وَ نيږدې رېستورېنټ ته وردننه شولو او دَ يوه غټ مېز شاوخواته کښېنستو - که څه هم دې وخت ونېسا زما وَ ښي اړخ ته ناسته وه ،خو خبري مي تر خپلو نه سره کولې - دَ خپلي خپلي خوښي شيان راغوښتلو ورسته داني پوښتنه وکړه

" زه داسي سنجوم لکه شوق او ونېسا چي تر خپلو خفه دي "

ما وئيلو ..

" يَه يَه داسي هيڅ کيسه نه ده ، زه اول هم دَ دي خوا څُوږى وم او اوس هم يم "

" هو شوق صحيح واي .. داى زما دوست دى "

ونېسا په دوست باندي داسي پسخوندي زور ورکړو ، لکه هغه چي دننه دننه راته له خشمه څُوځکېږي - او روني هم دَ هغې دَ روئې په سمه خله خندا ته جوړه کړه او واي ..

" دوست خو دوست وي ، لاکن دا دووو... ست بيا کمه رښته ده؟ "

" دا دَ زړه رښته ده "

کائيکو هم خله وکړه او دا توري چي يې له خلې څنګه وتلو ، نو ونېسا په زوره وَخندلو - او په خندا خندا کي يې په کائيکو دَ ناز واړه څوکونه ورسم کړل -

" دا کائیکو هم ربنتیا واي ، ځکه خو ونپسا په خپلي غلا کي نیول کېدو باندي داسي ردعمل ښکاره کوي "

داني چي په غوږ کي دا راته وئیلو ، نو ونپسا زموږ په لور راکتلو هم او بیا یې داسي ښوکه غوندي څه خو وَوئیلو ، چي موږ نه واورېدلو -

" دا په غوږو کي خبري به آخیر هم ښکاره کېږي "

" هو ، غلا نه پُټېږي "

روني یې خبره چي ځنګه سرته وَرسوله ، نو ما او ونپسا هم یو بل ته داسي وکتلو ، لکه هغوئ چي ربنتیا واي - لاکن لا هغه وه ، چي بیا یې له خلې دوه توري نه ختلو - که څه هم موږ دې وخت خورا په ښه موډ کي وْ -

له رېسټورېنټ ځخه وتلو ورسته چي په نیږدې روډ ورسمېدلو ، نو دَ ډېني هاوْ ملائیشین فېمیلي هم راځرمه شوه او موږ ټول په ټولۍ کي په فُټ پاتهونو باندي دَ وینډو شاپنګ په نیت ور رهي شولو - که څه هم زه له داني سره اوږه په اوږه تر ټولو دَ مخه روان وم ، خو څه مخته یوې ځواني ښځي ، چي خپل ماشوم یې بیا بیا زموږ وَ مخي ته دَ پیسو غوښتلو دپاره کچکول کولو ، زه په داسي سوچ کولو وَپاروَلم -

"رومن چي څومره غاوره دي ، هغومره دَ پیسو دپاره دَ بیزو بازۍ هم کوي - ګوا چي چرته ګورې ، نو دَ نرانو سره سره یې ښځو هم دَ سېلانیانو دَپاره په هر ګام تلکي لګولي وي - لکه دَ خواست دَ نابلدو چلونو پرته دا یو مشهوره عادت هم ، چي پېغلي دلته له سېلانیانو ځخه اکثره دَ سګرېټ یا لائټر غوښتلو په بهانه دَ هغو تر جېبونو ځانونه رسَوي - یا بیا یوه پېغله به یو دم مخي ته راشي او په بېخي ماته انګلسۍ کي به دَ یو ځای پوښتنه وکړي او بیا به سږي ته په خوږو خبرو او موسکاګانو باندي داسي ګرګه ورکړي - لکه برایه چي موږ په خپله سادګۍ کي له ښو ډېرو پیسو ځخه لاسونه پرېمنځلي وْ- "

ما لا داخبري په مزغو کي چسپَولې، چي تر شا را رواني دَ ډېني هاوْ خور ناري کړې..

"زما پرس.. زما پرس "

او بيا څه وْ؟ هغه ځوان شُوکمار له مخه او ډېني ورپسې تر ليري ليري پوري منډي وهلې - موږ به هم ګامونه ورپسې تېز کړي وی - که دې کائيکو زه او داني تر لاسو نه وی نيولي - او داسي راباندي غوړېدله ، لکه هغه چي به اوس دغه غله له موږه بوزي - او بلي خواته ونېسا وه ، چي ګرسره يې چُرت نه په کي وهلو او موسېدله - څه وخت ورسته بيا څه ګورو ، چي ډېني په خالي لاس را روان وْ - ګوا ځای په ځای هغه رومن شُوکمار دَ ډېني له قوله **310** امريکن ډالره او ځيني نور شيان هضم کړلو - اوس که څه هم موږ له يو بل سره څنګ په څنګ روان وْ، خو کائيکو په وار وار په هر يوه لکه ماشومه انجلۍ ورچخېدله لګيا وه - يوازي هغه نه ، بلکې اوس خو موږ ټول په دې خبره مجبوره شوي وْ، چي ژر له دې شُوکمارانو څخه دَ فرار لاري وَغواړو -

بيا چي کله موږ په بس کي مازيګر خواته دَ خپل هوټل په لور روان وْ، نو هغې کائيکوهم واړه واړه خندلو - خود په دې ، چي اوس يې ځان په امان ګڼلو - خو زما په دې خبره کي سوچ بند وْو، چي دلته څوک سړی دی او څوک ښځه ؟ دا هغه سوال وْ، چي زه يې دَ ځواب په لټولو ښه ډېر په ذهني طور ستړی کړی وم - نور نه يم خبر، خو يو وخت مي دا فېصله دَ ځواب په توګه رامخته کړه او سر مي ابله په دې خبره خلاس شو... چي

" دلته هر هغه سړی بلل کېږی ، چي سينه هواره لري او هم دغه رنګه ، هر هغه کس ښځه يادېږي ، چي په سينه باندي دوې غوټۍ ښښتي لري او بس دا هغه توپير وْ، چي ماته رابرسېره کړو "

---

سترګي مي دَ ټېلي فون په زنګ څه راخلاسي شولې، چي ګهړۍ ته مي دَ کتلو ورسته ابله چيغه له خلې نه وَوتله - ولي چي دې وخت په ګهړۍ کي ستني نهو بجو ته په رسېدو وې - ما وئيلو، چي آخير هم دا يم ، چي له خپله کاروانه بېل شوم او ټول ملګري په بله لکه چي

ولاړو- رسيور چي مي څنګه پورته کړو ، نو دا دَ داني ملګري ژغ وْ - شُکر مي وَايسستلو ، چي زه يوازي نه ، بلکې له ما سره سم فليپپينو ملګري هم پاته شوي وْ - نو ځکه مي ورته وئيلو ..

" داني تاسو هم له بس څخه پاته شوي ياست ، که څه کيسه ده ؟ "

لاکن حريان په دې شوم ، چي داني راباندي له خندا شين شو او واي.

" شوقه ! دا ته څه واې؟ او دَ کوم بس خبري کوې؟ "

" ولي مورږ به نن په اتهه نيمي بجې مختته نه تلو ؟ "

ما چي سوال دَ هغه دَ سوال په ځواب کي وربيا کړو ، نو هغه يو تېره کړيکه له خلې څخه څه وَايستله ، چي زما هم دَکهړکۍ له يوه کونجه دَ دباندي بلبانو وَ رڼا ته پام شو او په ځان مي داسي کرار په دې وَخندلو ، چي دا دَ سهار نه .. بلکې دَ ماخُستن نهه بجې وې - سرِه ساه مي واخيستله او بيا مي له داني څخه معذرت کولو ورسته پوښتنه دَ فون په باب وکړه ، نو هغه وئيلو..

" خبري پرېږده ، تيار شه چي ځو دباندي - ونېسا درته ډنر آفر کړی دی "

" زه خو نه درځم ، ولي چي ماته يې نه دي وئيلي "

ما به لا دا ورته وئيلو ، چي دروازه وَټکېدله - ما ورته وئيل،

" دروازه ټکېږي ، يو منټ "

" دابه خود هغه توشي وي لکه چي.. "

"ته څه پوهـ شوې ؟ "

داني وئيلو..

"هغې اوس دغسي وئيلو راته چي توشي به تا خبرَوي "

او وه هم دغسي خبره ، ګوا چي دروازه مي خلاسه کړه ، نو مي توشي مخته ولاړ وْ-

"راځه راځه.. ستا راتګ زما دپاره تر لوی زېري کم نه دی "

ما چي دومره ورته وئيلو ، نو هغه زما په سترګو کي سترګي اچولو ورسته په موسکا کي وَ وئيلو..

"هوهو.. نوْ يارانو په نوْ لارو يوړې داسي ښکاري "

"زه که ته؟ "

"زما په خيال چي دواړه "

او بيا يې لاس راکولو ورسته ځان داسي په صوفه اېله کړو ، لکه دَ مودو مودو ستړي چي وْ -ما لا يو ځل سوچ وکړو ، چي ورسره لاړ شم -بيا مي وئيلو ، چي ډوډۍ چا کړي ده او ستونه څوک کوي ؟ نو ځکه مي توشي ته غوټ يَه کړو-

"زه بخښنه غواړم ، نه شم درسره تلی -طبعيت مي صحيح نه دی "

او بيا چي توشي څومره ماته دَ تللو زاری کولې، دغوني مي پښتني ضد نور نور پخېدلو -او آخير چي هغه مايوسه شو او لاړو ، نو مي ځان يو فاتح عسکر وګڼلو او بيرته په پلنګ باندي په دې سوچ وَغزېدم -چي ځه ياره .. نن مي ټول ياران خفه کړلو-لاکن ياران وْ ، چي بيا

بيا يې په فون راته وئيلو - خو بل زه وم ، چې ما دَ هغه چا ست غوښتلو ، چا چې ډوډۍ کړې وه - او آخير هم ما برى وَموندلو - ګوا ونېسا خپله خوني ته راغله او زه يې تر لاس وَنيولم او له ملګرو سره يې ملګرى کړم -

مخته څه وْ، يو دروند ډنر وْاو دَ ملګرو تر منځه خوږه ګپه ، چې تر نيمې شپې پورې يې موږ ټوله په خپل خپل ځاى خوشاله کولو - نور نه يم خبر، خو بس چې کله به ونېسا په کلکه خندا کې وَ توشي ته ورغاړې وته ، نو به مې په سُرت اور بل شو - او داني ته به مې څوکه غوندې په غوږ کې وَوَئيلو چې ،

"دا دوئ څه کوي ؟ "

"دا بل هيڅ نه .. موږ ته دَ خپلې بې وفائي سبق راښئې لګيا ده "

که څه هم هغه وخت زما سر دَ داني په خبره نه خلاسېدلو ،خو چې کله نيمې شپې خواته مې پلنګ ته ځان سپارلو ،نو پوهـ شوم،چې دَ داني دَ وئيلو مقصد هغه ته نه،ماته زما دَ بې وفائي سبق راښول وْ - ولې چې په دې تېرو څو شپواو ورځو کې کائيکو له ما سره ليدل کېدله- او هغې ونېسا کېدلى شي چې دا درسته ډوډۍ زما دَ سبځلو په نيت پلان کړې وي-

اوس که داسي کيسه وه او که نه .. خو ما هم دَ ونېسا دَ سبځلو لاري سوچ کول شروع کړي وې لګيا وم - دغه خو وجه وه ، چې هغه شپه تر ډېره پورې ويښ پروت وم -

---

نن دَ کال 1996ع دَ اپرېل دَ مياشتې شپږمه نېټه وه ، چې موږ په کاسموس بس کې له هوټل پارک کوستانزا روم څخه مخته رهي شولو - داسي ښکاره کېدلو ، لکه نه يوازې کائيکو ، بلکې ټول ملګري چې له روم څخه په وتلو خوشاله وي - ځکه چې هر يو موسېدلو لګيا وْ - يو وخت ماته داسي محسوس شولو ، لکه ميرنا چې هم له دانيال سره په پښتو کې خبرې کوي - لاکن چې ورته مې غوږونه شک کړو ، نو پوهـ شوم ، چې هغوئ پښتو نه ، بلکې خپله

ژبه يې سره وئيله - څنګه څنګه چې دَ روم پلازې شاته پاته کېدلي ، نو دغومره په ما پښتون را ورېدلو لګيا وْ - او ما سوچ کولو ،

" دَ لوی خُدای قربان شم ، چې هر چرته دَ هغه ځای دَ خلګو دَ نيتونو په سمون مهربانه شوی دی - ګوا پښتون يې په توپک او مورچه کې په سکون کړی دی او دلته دا خلګ يې په شنبزو او اوبو ماړه کړي ځکه دي ، چې ورسره يې لګېږي هم - او دغه رنګه دَ هوارو دَ خلګو سره سره دَ ځنګلونو او ساحلونو خلګو ته يې خپل خپل نيت دَ قدرت او فطرت په سمون ورکړی دی "

اوس بيا مورِ وْ او هغه دَ اټلي ټاوْنونه ، چې په هوارو کم او دَ غرونو په سرونو زيات برېښېدلو - کله کله به سر راباندي وَهم ځنېدلو له خوبه ، خو ځان مي په آسانۍ نه ورکولو - لاکن خوب خو خوب وي .. يو وخت زه په ځان نه يم خبر شوی او ويده وم ، چې په بس کې نارې شوې -

" Well done..Well done "

هو دا هغه توري وْ ، چې په بس کې ناستو ټولو ملګرو په کورس کې وئيلو - سر مي راپورته کړو او شاوخواته مي سترګې وَځغلولې - لاکن په بس کې مي يو هم داسې شی نه وَليدلو ، چې دَ ستائينې وړ وْ - بيا چې مي سترګې وَ موړلې ، نو څه ګورم ، چې په بس کې ناست درست ملګري دَ بس تر شيشو دباندي خپل ښي لاس ته ګوري او له خلو څخه يې "وېل ډن.. وېل ډن" خېږي - نو ځکه ما هم چې سترګې خپل ښي لاس ته تر شيشو دباندي وَ ځغلولې ، نو څه وينم ؟ چې يو خرټ آس لالا په اسپې باندي داسې ور روړدېدلی وْ، لکه دا چې يې اوله او ورستيې تېروتنه وي - او زه بيا حريان په دې خبره شوم ، چې هغه منظر ته تر نرانو زيات ښځو ډېر په وچو سترګو داسې کتلو ، لکه هغوئ چې داسې کله ليدلي نه وي - که څه هم...

" مطلب دا ، چې دا خلګ نه دي ملامت ، ولي چې دا خاوره مستي زېږوي "

دومره ليکلو ورسته مي ډائرئ بنده کړه او ما هم له ملګرو سره اوس دَ بس دَ شا په شيشه کي هغه منظر ته تر هغه وخته پوري کتلو ، چي له سترګو پټ شوی نه وْ -

*****

# پیسا تاور هم زیاته په نړېدو دی

دَ لوي لاري په رېستورېنټ، چي په ستېي مارکېټ نامي غټېي پلازې کي جوړ وْ کي کوفي او چائی څیښلو ورسته چي موږ په خپل بس کي مخته رهي شولو، نو اسکارټ میرنا مائیک خلې ته وَنیولو او واي ،

" لکه څنګه چي تاسو خبر یاست ، چي موږ دې وخت دَ اټلي هېواد دَ ښېخي نوموړي او روماني ښار فلورېنس په لور روان یُو "

دومره وئیلو ورسته هغې دانیال اُستاذ ته ځان ورنیږدې کړو او ګوره چي څه یې ورته وَوئیلو ، چي هغه سر یوې بلې خواته داسي ښورَول شروع کړو ، لکه هغه چي دَ دې له خبري منلو انکار کوي یا بیا دَ هغې دَ یو سوال په ځواب کي ځان بې خبره ښکاره کوي - او ما هم ډائرې خلاسه کړه او دَ نن دَ پروګرام په اړه مي لا دوه توري لیکلي نه وْ ،چي هغه واي

" دَ فلورېنس ښار ښائیست په خپل ځای ، خو اهمیت یې په دې خبره هم زیات دی ، چي په دغه ښار کي یو خو شُوکماران کم دي او بل دَ دُنیا هغه نوموړی اتالوي مصور ، شاعر او بُت تراش ستر مائیکل اېنجلو (**1475**ع – **1564**ع) هم په خپل ابدي خوب ویده دی ، چا چي دَ پوپ جولیس دویم ، موسی او غلام دَ مجسمو پرته دَ روم دَ ګرجاګهر دَ ماڼۍ بام هم جوړولو له سوبه نوم دَ نړۍ په سینه دَ همېش دپاره رقم کړو "

" واه .. نو دَ دې مطلب دا شو ، چي دَ آرټ په حواله به دَ دې ښار خلګ باذوقه هم حتمًا وي "

لا به مي په دې باب نور سوچ وهلو ، چي دَ میرنا ژغ په بس کي خپور شو او واي..

" یوهو.. په فلورېنس کي دَ اېنجلو په چپه هم یو بل ستر شخصیت دَ سېنټ کروس په چرچ کي دَ مرګ په خوب ویده دی - خبر یاست ، چي هغه څوک دی؟ "

او بیا دَ ځواب په نیت په بس کي ناستو ملګرو په لور کتلو سره سره یې واړه واړه هم خندلو- خو چپ له روني چي لاس یې اوچت کړی وْ دَ ځواب وئیلو دَپاره ، نور ټولو سپلانیانو یو بل ته په سوالیه نظرونو کتلو - نو ځکه آخیر هم دَ ځواب دپاره چي روني ته وار ورغلو ،نو هغه وئیلو ..

" که زه غلط نه یم ، نو هغه دی ګلبلئیو "

او میرنا هم لاس پورته کولو ورسته په زوره وئیلو..

" شاباش روني ته صحیح واې ، هغه دی سر ګلبلئیو ، چي دَ خپلي مشهوري نظریي ګوا ( لمر نه ګرځي، بلکې مځکه دَ لمر شاوخوا ګرځي ) په ګناه باندي په خپل درست ژوند کي کلیسائي عدالت مجرم ګڼلو - او په خپل ژوند کي دروغجن ګلبلئیو دَ مرګ ورسته داسي ربښتونی شو ، چي اوس یې زیارت کولو ته له لیري لیري څخه خلګ سلام ته راځي "

هو دغسي کېږي ، ګوا دَ حق ملګري کول که څه هم دَ وخت دَ زامنو او لُوټو کار نه دی ، خو بل یې هم دَ حق په لاره په تللو نه خوښېږي - بلکې لاري یې هم تړل کېږي - او دا هغه موقعه وه ، چي زه یې دَ ګلبلئیو په حواله په نظم لیکلو پارَولم لګیا وم - کوم چي دغه ورځ ماښپښین خواته ما ډائرۍ ته دَ "دَ لمر سپوږمۍ مځکي مجرم ګلبلئیو " تر عنوان دلاندي سپارلی وْ -

" دَ اټلي زیاتره خلګ دَ آرټسټک ذوق په سمه دا هڅه هم کوي ، چي کورونه په داسي ځایونو کي جوړ کړي ، چرته چي پراخه فضا وي او یا یې کتونکي ستائي هم - نو ځکه خو تاسو ګورئ، چي په دې هېواد کي زیاتره ټاوْنونه دَ غرونو په سرونو رک دَ پاټونو په ځئیو باندي جوړ ښکاري "

میرنا چي دا وئیلو ، نو زموږ کېنْ لاس ته هلته لیري .. ښځي لیري دَ هسکو غرونو په سرونو باندي آباد کلي ډېر ښائیسته ښکاره کېدلو -

ځنګه چي دَ ګهړۍ ستني دولس بجو ته وَ رسېدي، نو موږ هم دَ تکو سرو بامونو وَ ښائيسته ښار فلورېنس ته پېښبه وکړه - چي په کال **1860**ع کي دَ اوو کالو دپاره دَ اټلي دارالحکومت هم پاته شوی دی - او اوس هم دَ صوبه ټاسکېسي صدرمقام دی -

" فلورېنس په درستي اروپا کي هغه ښار دی ، چي دَ مصورۍ، مجسمه سازۍ او ادب په اړه ډېر لوی نوم لري "

ميرنا چي دا خبره کوله ، نو هلته ليري ناستي ونېسا او لاراګوک څه ، چي دلته له ما سره ناستي کائيکو ، فليپينو ملګرو او کرسټينا هم داسي سترګي را واړَولي لکه زه چي مائيکل انجلو ته مونېږم ، يا ملګری دَ ګلېلئيو وم - ځکه خو ما هم دَ يو څو دقيقو دپاره ځانته پټه کښېښوله او په برېتونو مي داسي لاس وهل شروع کړو ، لکه ما چي جوړه توره وهلي وي - ما به لا خيالي الوت نور نور کولو ، چي کائيکو راته واي..

" ته شاعر هم يې شوقه؟ "

دا پوښتنه يې څه راځخه وکړه ؟ چي زه هم بېرته خپل حال ته په راګوزېدلو چمتو شوم - او په زړه زړه کي مي په ځان او په خپله سادګۍ باندي ځکه وَخندلو ، چي زه دَ يو څو لمحو دپاره غولېدلی وم - لاکن دا څه ؟ دا خو ميرنا هم په مائيک باندي زما له نامه سره داسي خبري ګنډلي لګيا وه -

" له دې ښار څخه مستر شوق پوره خوند په دې خبره اخيستلی شي، چي هغه خو هم اديب دی "

او بيا يې ماته ناره کولو ورسته وئيلو..

" وايه شوقه ! داسي دي که نه ؟ "

ما به اوس لا څه وئيلو په ځواب کي ورته ، چي زما په ځای باندي توشي له چوکۍ پورته شو او واي..

" شوق ډېر خوشبخته دی ، چي داسي شغل لري "

نورو ملګرو.. ګوره چي دَ هغه دا خبري څه ګڼلې، خو ماته يې دَ خوشبخته توري تر شا يو لغاز وَبرېښېدلو ، او زه هم پورته شوم -

" هو توشي هم کېدلی شي، چي تر ډېره هانده صحيح واي - لاکن زه به هم غلط نه يم ، که وَوايم ، چي هغه خپله هم ډېر فنکار ځوان دی "

دومره چي مي وئيلو ، نو لوري اوګرېک هم پورته شوه او واي..

" ماته خو دواړه فنکاران ځرګندېږي "

بس بيا نو څه وْ، چي وار اړام ډېني ته په لاس ورَغلو او هغه بس په خپلو خبرو باندي داسي په سر واخيستلو ، چي که څه هم دې وخت مورِ دَ فلورېنس په ښار کي په تنګو کوڅو کي ښه دننه ورننوتي وْ او مخ مخته دَ رهي وْ - څه مخته تللو ورسته له يوې ښائيسته هديرې سره په څنګ کي تېرېدلو ورسته زمورِ مخه دَ مائيکل اېنجلو سکوائر خوا وه او مورِ بالا واړه غره ته ختلو لګيا وْ ، چرته چي دَ هغه دَ خپل لاس يوه غټه لاکن الف لغړه مجسمه ولاړه وه او له ليري ليري ښځه خلګ، چي په کي دَ پېغلو شمېر کېدلی شي، چي په دې خبره زېات وْ ، چي اېنجلو ورته ذهني تفريح خو هم سپارله -

دلته دَ مائيکل اېنجلو له بُت سره شاوخوا ګرځېدلو او عکسونه اخيستلو ورسته په نيږدې سوينئير دوکانونو کي له ملګرو سره دَګرځېدلو په وخت دَ سبا دَ ايسټر دپاره يوه رنګېدلي اګۍ ځکه واخيستله ، چي دا دَ ميرنا هدايت وْ، چي هر ملګری به يوه نه يوه پيرزوئينه خپل دَ خوښي ملګري ته وړاندي کوي - هو ، که مي څه هم لا تر اوسه دَ پيرزئيني وړ ملګری نه وْ ټاکلی -

دلته ونېسا چي له توشي سره څنګ په څنګ روانه وه او دَ اېنجلو دَ بُت شاوخوا يې عکسونه ايستلو هم کله کله په کړو راته کتلو ، خو ما ځان خفه اچولی وْ - شاهد په دې چي دَ هغې دَ پيرزوئيني ورِ زه وګرځم - يا هغه زما دَ تحفې حق داره - لنډه دا ، چي دلته دَ شل منټه ستاپ کولو ورسته بس بيرته دَ فلورېنس دَ روماني ښار په خوا ورکښته کېدلو - او ډېر ژر بيا په تنګو روډونو باندي دَ سېنټ کروس دَ چرچ په لور دَ River Arno مخته تېر شولو - دلته دَ روډونو دواړو اړخونو ته ولاړي تراشل شوي وړې وني اصلي وني کمي،بلکې دَ آرټ نمونې زياتي ښکارېدلې -

دَ نورو ملګرو سره سره ما هم دَ فلورېنس په دې آرټسټک ښار خوند اخيستلو ، خو په مزغو کي مي دَ مائيکل اېنجلو لغړه مجسمه او دَ پېغلو ورته په ډېر شمېر ورتګ زه په سوچونو کي داسي ګېر کړی وم ، چي بس څنګه دَ سېنټ کروس چرچ ته رسېدلو ، نو ما هم يو تهيم په دَ اېنجلو په باب ډائری ته اړولی وْ، چي ورسته مي دَ "دَ مائيکل اېنجلو دَ لغړي مجسمې په وړاندي "تر عنوان دلاندي نظم کړو -

---

دَ سېنټ کروس چرچ څه وْ؟ دَ خپل ښائيست په چپه دَ خلګو دَ پام اړَولو او په کي دَ عبادت کولو په نيت دَ راغلو خلګو شمېر زيات راته تر سترګو شو - زموږ ځيني کرسچن ملګرو له سېل سره سم دلته خپل خپل عبادت هم وکړو - لاکن زه وم ، چي دَ کائيکو ، توشي، ويلئيم او سنګاپورين ملګرو سره په خپل خپل سوچ دلته مائيکل اېنجلو ، ګلېلئيو او ځيني نورو هيروګانو په تابوتونو داسي ورمات شوي ولو ، لکه هغوئ چي له پخوا راهسې زموږ په زړونو کي هم ځايونه جوړ کړي وْ - هو ، دلته دَ هغوئ په باب اهتمام خو هم دَ کتلو وړ خبره وه-

له چرچ څخه موږ ټول وَ نيږدې دوکانونو ته ور چپ شولو ، چرته چي دَ څرمني څخه دَ جوړشوْ شيانو پرته هم نور نور شيان خرڅېدلو په وړو او غټو دوکانو کي - او هر شی دومره ګران وْ، چي دَ اخيستلو وس نه ورته رسېدلو - او بيا دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو په نيت يوې بلې خواته ملګري چي څنګه وَ وېښل شولو - نو ما هم يوه لاره غزَول شروع کړه او يو وخت زه دَ دې ښار

په ورو بازارونو کي مخ مخته داسي روان وم ، لکه ما چي دا ښار مخکي هم ليدلى وْ - که څه هم داسي خبره نه وه ، خو ما دَ خپلي مطالعې په سمه داسي ځکه کولو ، چي زما مقصد کله کله په داسي کولو کي له ځان جهانه په دې خلکو کي له ورکېدو څخه هم وْ - ولي چي زه په دې خبره يقين لرم ، چي يو ريسرچر هغه وخت ډېره ښه مطالعه کولى شي دَ روئيو ، چي هغه ځان دَ هغې سيمي دَ خلکو په رنګ وَرنګوي - ګوا اوس زه هم دَ هغوئ په بڼه له هغوئ سره اوږه په اوږه که څه هم په نابلده لارو روان وم ، خو زما مرام هغه خلګ له نيږدې څخه له پېژندلو څخه وْاو بس -

يو وخت چي ښه ستړى شوم او وږى هم، نو دَ بېل ټاوْر سره نيږدې په يو رېسټورېنټ کي کښېښستم - که څه هم زما په چپه دلته زياتره خلګ جوړه جوړه ښکاره کېدلو ، خو زما دَ کتو دپاره هلته ډېر څه موجود وْ - نو ځکه مي يو بلي خواته کتلو او سترګي مي دَ خپل وس په سمون خوږَولې هم لګيا وم -

دَ ګهړى ستني چي څنګه څلورو بجو ته نيږدې کېدلې، نو زه په دې ښائيسته ښار کي ګوره چي چرته رسېدلى وم ؟ پوهـ وم ، چي بيا بې درکه شوى وم ، خو دا دَ نن ورکېدل زما په خپله خوښه شوي وْ - نور نه يم خبر، وايم چي کله به زه دَ آرنو درياب يوې او بلي ځئ ته په پُل باندي اوېښتم.. يا به ځاى په ځاى ورسره سره مخته روان وم ، نو ما به ځان ګوره چي څله په خلاګانو کي سنجولو ؟ او بيا چي به چرته په رش کي ورګډ شوم ، نو ځان به ټوْرسټ ټوْرسټ ځکه راته محسوسېدلو ، چي هرچا به راته داسي کتلو ، لکه زه چي بيزو وم او يا له مريخ څخه راغلى وم -

لنډه دا ، چي څنګه څنګه دَ مازيګر سايې خپرېدلې لګياوې، نو زما زړه هم څوکه څوکه دَ حلق ژبه ځکه ښکلوله، ولي چي اوس ماته هم دَ رابښول شوي کنټېکټ پوائينټ پوري رسېدل ضروري وْ - نو ځکه مي ګامونو بيرته په هغو لارو شاته اوچتول پئيل کړي وْ، چي ورباندي تر دې ځايه راغلى وم - او دا زما قسمت وْ، چي له ډېرو تېروتنو پرته هم په ټاکلي وخت کي دننه دننه تر بس پوري ورسېدم - او بيا بس په فلورېنس ښار کي دَ منځنۍ برخي په لور رهي شو ، چرته چي په هوټل اټهوپارک کي زموږ دَ استوګني دپاره اهتمام شوى وْ - دَ هوټل مخته چي ګوزېدلو ، نو ميرنا وئيلو ..

"له دې ځايه بس نمبر 22 ډاوْن ټاوْن ته ځي"

---

"تر دولس بجو پورې ژوک کښېنستی شي، زه خو ځم ويده ېږم"

په ټيشو پېپر باندې خله صفاکولو ورسته چې داني ژنګه ولاړېدو ته تيار شو، نو ورسره ناستې ونېسا تر لاس وَنيولو او ورته واي..

"کښېنه.. ولې ايسته نه لمانځې؟"

هغه وَخندل او واي..

"زه په داسې شيانو کې چُرت نه وهم"

"لاکن زمونږ دَ خوښې احترام خو وَکړه او تر دولس بجو پورې له مونږ سره کښېنه"

توشي، چې داسې وئيلو، نو ما هم ولاړېدو ته وزَر تللې وْ او چې ژنګه يې خبره سرته وَرسوله، نو زه هم پورته شوم - ما ته هيڅ ستا په دې خبره نه وَکړو، چې ما دَ تللو باقاعده اعلان نه وْ کړی - لاکن په خپلې خونې نمبر217 کې مې لاسمه تيارې دَ ويده ېدلو نه وه کړې، چې په فون باندې روني لاندې دَ ميرنا په خوښه وَغوښتم او زه هم بيرته لاندې دَ لابې وَ کېڼې ته راګوز شوم - او هلته له ملګرو سره کوفې ښېښلو ورسته مونږ دَ هوټل په ګاډۍ کې دَ فلورېنس وَ منځنې بازار ته ځانونه وَرسولو - چرته چې دَ ميرنا په قول نن شپه دَ نورو شپو په مقابله کې رش دَ ايسته شپه لمانځلو په وجه زيات دی - ګوا زياتره دوکانونه او کېڼې خلاسې وې او مونږ په کې ګرځېدو لګيا وْ - لاکن نن له کائيکو سره سره کېرولين کېنيډې نامې زړَه آسترېلين او چون چيا جانګ چې تائيوانۍ پېغله وه هم له مونږ سره په ژنګ ژنګ کې ځکه کېدلې، چې دَ هغوئ له قوله.. وېرېږې له دغو اتالويانو ژخه -

دَ ګرځېدلو ورسته ټول يو کلب ته ورچپ شولو ، چرته چي تر ايسټر له مخه لاايسټر جوړ وْ ، ګوا په درځنو جوړې دَ ناچونو پرته ځانونه غويان کولو هم لګيا وْ - که څه هم دلته زړخوښياني ډېري وي ، خو په زړه کي مي وئيلو..

" شوقه ! دا ځای ستا دَ خوښي په سمه ځکه نه دی، چي ته خو له هغو خلګو څخه يې چي ګلونه بُويوي.. شلوي نه - "

خو کولی مي بيا هم هيڅ نه شو ، چي اوس بيرته تللی هم نه شوم - نو ځکه مي دَ دې هال يو کونج ځانته وَټاکلو او تماشې کتلو ته چمتو شوم -

" څومره مستي ده په دې خلګو کي؟ دَ دې سوال هر ځواب که يوې خواته دَ حېرت ګوته په خله کولم، خو بلي خواته خپله هم دَ تصوراتو په سمه په وينبو سترګو ويده شوی وم - او اوس دا يم چي راويښ شوم.. ولي چي دَ ايسټر لومړی دقيقه ده او په هال کي که يو ناشوقه دی ، نو هغه زه يم ، چي دَ تماشې برخه نه ، بلکې تماشه بين ښکارم "

له دغو احساساتو سره چي مي چرته هم سترګي غړولې، نوهلته سايې په خپلو کي سره نيږدې کېدلې او ګډېدلې - هو ، ونبسا هم ګډېدله - خو له توشي سره او کائيکو له داني سره له خپله حاله دَ وتلو هڅي کولې - هم ځکه خو چي نيمي شپې خواته موږ په ګاډی کي دَ هوټل په خوا روان وْ، نو ملګرو خپل سپلاني حېثيتونو ته ورو ورو نوري حېواني ښې اغوندلې لګيا وْ - او په دې درست سېل کي دا لومړی پېښه وه ، چي ما په کي برخه ځکه نه واخيستله ، چي آزادی مي دومره هم تر چوکاټ اوينټي نه وه خوښه - ګني مابه هم نن دَ لارا کُوک ، چي ښېخي چاکلېټي انجلۍ وه کلک خواست ورسره دَ ډانس کولو کله هم نه وی رد کړی -

---

دَ ايسټر ، ګوا په اووم اپرېل **1996**ع سهار ناری کولو ورسته ملګري دَ کاسموس په بس کي دَ روټېټېنګ سيسټم له سوبه په خپلي خپلي الاټ شوي چوکۍ باندي ناست يوبل ته کېدلی شي، په دې نيت موسېدلو چي دَ تحفې حقدار يې وګرځي - ولي چي هر ملګري په لاس کي څه نا څه نيولي وْ - اوس که انتظار وْ ، نو دَ ميرنا دَ اعلان - ځکه چي هغې دا غوښتلو ، چي

نن دي په بس کي هر ملګری وَ هغه ملګري ته دَ ټولو له مخه پیرزوئینه وکړي، چي هغه یا دَ هغې له خیاله ورته تر ټولو نیږدې وي - او دَ زیاتو تحفو په شکل کي زیات ملګري هم ټاکل کېدلی شي -

نن زه په چوکۍ نمبر **18** باندي ناست وم او زما وَخواته کې - ابس – چان ناست وْ - که څه هم زما او دَ هغه چنداني نه وه سره جوړه، خو بیا هم دواړو له یو بل سره اتلي دَ سیمو په ښائیست او دَ دې ځای دَ خلګو په غلو او شُوکمارۍ روئیو باندي دَ څو دقیقو دپاره وَهم ژغېدلو - هغه هم داسي ښکاره کېدو ، لکه چي دَ چا له لاسه چرته لُوټ شوی وي - لاکن زمونږ تر منځه ګپه مخته ځکه نه لاړه ، چي هغه خپل ښي لاس ته په دې بل لاځن کي په خالي چوکۍ باندي کښېښستلو ، چرته چي دَ کهړکۍ وخواته یې پېغله مئی رېناله هم ناسته وه - او ما هم شکر وَایستلو او دَ هغه په ځای باندي مي چي څنګه بېګ کښېښولو ، نو یو خیال مي وجودي ښه وَ زېږولو او له څنګه په چوکۍ راسره کښېښستو او راته واي

" زه تش دا زېری درباندي کوم ، چي تاته به هم نن دوې تحفې څوک درکوي - نو ځکه له تا سره هم باید چي دَ هغو دپاره خو تحفې وي "

او بیا یې داسي وَخندلو ،لکه هغه چي ګپه کوي - خو دا عجبه ګپه وه ،چي تر پایه یې بیا بیا مزغو ته راستنېدو په وخت هم راته وئیلو چي

" هغه دوه کسان.. بې له داني او روني بل څوک کېدلی شي؟ "

دا هغه سوال وْ چي دَ ځواب دپاره که څه هم زما په مزغو کي په حتمي توګه " هو " راتلو ، خو بیا مي هم دې هیلي سر په زړه کي په وار ورا راپورته کولو او سوچونو به کله کله دَ هغو ملګرو په لور هم له ځان سره یُورم ، څوک چي به زما په ستائینې نه سترې کېدلو -

داسي مي سنجَولو ، لکه زمونږ بس چي په سړک مخته نه ، بلکې بالا بالا ختلو لګیا وْ - ولې چي دې وخت اوریځ په مځکي باندي خوره وه او دَ ډېر څُوپ له سوبه دَ ګاډیانو بتیانې بلې وې - میرنا او دانیال هم دَ موسم په حال له یو بل سره داسي مجلس تود کړی وْ ، چي مونږ یې

هېر کړي وْ- نو ځکه خو هر ملګري له ځان سره په څنګ کي ناست ملګري سره په خبرو کي بوخت وْ- لاکن څه مخته، چي کله هلته ليري دَ غره په سر لومړی ټاوْن لږ لږ وَبرېښېدو ، نو دَ هرملګري سترګي په هغه لور داسي ورکږې شولې، لکه دا چي په دې دُنيا کي يوازينی انساني کلی وي- نو ځکه خو ميرنا هم وئيلو ..

" دا نن دَ ايسټر له برکته موږ ته داسي ښکلی موسم راڅرمه شوی دی ، چي لومړی ننداره يې هغه دَ غره په سر باندي ښکاره کلی ښکاري- چي په اول نظر کي داسي څرګندېږي ، لکه په اوريځو کي چي جوړ دی - ولي چي دَ غره څوکه ، چي هغه کلی ورباندي آباد دی نه ښکاري "

او بيا يې دَ سرې ساه ايستلو ورسته دَ "يُوهو "کولوورسته په موږ باندي ژغ وکړو -ګوا

" اوس به په خپل خپل وار موږ په خپلو کي اشنايان هم ښکاره کړو- نو راشئ ، چي وګورو ، لومړنی تحفه څوک وَچاته ورکوي؟ "

داچي يې وئيلو ، نو هلته مخته ناست اېډوين پورته شو او دَ تحفې ډبه يې ټولو ته ښئيلو ورسته له يوې وړې مچي ورسته څنګ ته ناستي خپلي مائينې لوئيس ته وړاندي کړه -او په داد کي يې له "هاهوهي" رنګه نارو سره سره خپړي هم ټولي کړې - هغه چي لا کښېنستی نه وْ، چي سوزېن بارټ هم پورته شوه او دانيال ډرائيور ته يې تحفه ورکړه - دغسي روني وَ ميرنا او زينت وَ خپل پلار او ونېسا ته تحفې سپارلو ورسته چي کائيکو څنګه خپله تحفه زما په لور راوړله ، نو په بس کي نارې او رقم رقم القاباتو زه په دې مجبوره کړم ، چي سپين سترګی شم او ما هم خپله يوه تحفه هغې ته ورکړه - زه لا سم کښېنستی نه وم ، چي ونېسا وَ توشي ته تحفه څه ورکړه، چي اور راباندي بل شو- لاکن هغه وه ، چي ماته يې په وار وار کېدلی شي، چي په دې وجه کتلو- چي په خپلو کړو باندي ويارېدله لکه چي .. او په خندا خندا دَ شا په لور دَ داني او روني په لور ورچپه شوله-

لنډه دا ، چي ګربګ خپله تحفه خپل مېړه پام ته، پاټ لېن وَ شيلا ته ، کرسټائن وَ اېډنابريل ته، ډالمر وَ ډارلين بوائ سن ته او لاراګُوک يوه تحفه وَ وېلينا او بله وَ بلينډا ته ورکولو

ورسته چي داني خپله پيرزوئينه هلته مخته ناست وَ زاړه امريکن نئيل ويلئيم ته وړاندي کړه ، نو له ما سره کښېښستلو سره يې يو پېکټ ، چي په کي له شيشې جوړ چاکلېټ وْ راکولو سره سم واي..

"دا هغه ستا ملګري ونېسا راکړو، چي تاته يې ورسوم "

مخته که څه هم داني هيڅ نه وئيلو، خو زه پوهـ شوم.. چي دا هر څه يې زما دَ زړه ساتلو دپاره کولو او بس - نو ځکه ما هم له خپلي خوا دَ ماربل اګۍ دَ هغې په نوم ورکړه -

---

پاوْ بالا نهه بجې سهار مورِ دَ پروګرام په سمون پيسا ستې ته ورسېدلو، چي تر ليري ليري خپور ښار وْ - او اوس مورِ دَ هغه هسک ټاوْر په لور روان وْ، چي له ليري څخه ښکاره کېدلو سره سره داسي يو اړخ ته کوږ مونېدلو، چي دَ ګمان له لاري به زمورِ تر رسېدو له مخه وَنړېږي - نو ځکه هر يوه دَ هغه ټاوْر په لور ورکتلو او غوښتلو يې، چي ژر تر ژره ورته ورسېږي او ورستۍ عکس ورسره په څنګ کي واخلي -

نن دَ ايسټر له سوبه چي مورِ اوس کومي ګنتهياني په فضا کي خپرې اورېدلې، دا دَ هغو ګنتهيانو ژغ دی ، چي په هغه هسک او يو اړخ ته کاږه پيسا ټاوْر په سر کي لګېدلي برېښي - کوم چي دَ دُنيا په اوو غټو عجوبو کي يوه عجوبه بلل کېږي او له ليري ليري خلګ ورته دَ ليدلو دپاره راځي - نو ځکه خو دې وخت چي مورِ يې په خوا په پښو روان وْ ، دومره خلګ يې شاوخوته ښکاره کېدلو لکه هلته چي مېله لګېدلي وي - او يا ورته خلګ بيرته دَ سمولو په نيت کومک ته راټول شوي وي -

" شوقه ! ستا ډېره مننه، چي زه دي دَ تحفې وړ ملګري وګڼلم "

ونېسا زما په خوا قدمونه راپورته کولو ورسته چي داسي وَوئيلو ، نو ما يې هم په مننې کي په موسکا يو دوه توري چي څنګه وئيلو - نو هغې يو دم پوښتنه وکړه، چي

"دَ څه مننه ؟او کومه تحفه؟ "

پوهـ شوم او يو دم مي خبره په بله واړَوله ، ولې چې زما شک دې وخت په يقين کې بدل شوی وْ - او هغه تحفه چې داني دَ دې په نامه راکړې وه، هغه داني له خپلې خوا راکړې وه - خبر، خو اوس که څه هم هغې غوښتلو، چې له ما سره خبره خلاسه کړي - خو زه وم ، چې ليرې ليرې ورځخه په دې کېدلم ، چې ما ځان ډېر ووړ ووړ دَ هغې له مخې څه سنجَولو ، چې په ځان ځان کې هم غل غل هم کېدمه لګيا وم-

leaning Tower of Pisa مخې ته ولاړ هر سړی داسې سنجَوي ، چې دا به اوس اوس نړېږي - نو ځکه کم خلک هلته نيږدې ورځي او بل، دې وخت يې ببخ ته کار هم روان وْ - او غټ غټ بلاکونه يې په دې نيت ورته ښخولو ، چې چرته دا دَ پيسو راټولو ذريعه يې ورانه نه شي - چې دا ټاوْر نه وي ، نو هلته به خلک بيا دَ څه دپاره ورځي ؟

دا هسک او ګيږدی پيسا ټاوْر، چې زما دَ سوچ په سمه نړېدو ته تيار دی - او يوه ورځ به نه وي ، که هر څو يې دَ ژغورلو هڅې کېږي - هرڅه هرڅه، خو دغه پيسا ټاوْر خپله کيسه په خپله خله په يوه کارډ کې داسې کوي -

" زه په کال **1174**ع کې دَ Bonanno Pisano په لاس جوړَولو ته پيَيل شوم او **99** کاله ورسته دَ Giovani di simone په لاس سرته وَرسېدم - Tommaso di Andrea Pisano زما په سر اووه ګنتهيانې داسې راوَتړلې- چې هره يوه خپل خپل ژنګ او ژغ لرلو سره سره دَ ژغېدلو دپاره موقعې غوره کوي- هو ،زما Pasquereccisia نامې ژنګ به هغه وخت ژغېږي،چې کله زه په مځکې باندې تندی وَلګوم - زه **186** فټه هسک او اتهه باميزه يم او تر سره پورې **294** پوړيانې لرم - زه دَ مځکې په خوا **14.9** فټه کوږ ولاړ يم - او ماته ګورئ، زه هغه ټاوْر يم چې زما په سورې کې ګليلئيو Gravitation Theory دُنيا ته وړاندې کړه "

دا نکل، چې مې په يو کارډ باندې دَ پيساټاوْر له خپلې خلې ځنګه سرته رسولو ، نو زما په مزغو کې هم دَ "پيسا ټاوْر هم زياته په نړېدو دی" تر عنوان دلاندې تهيم ورو ورو نظم کېدلو لګيا وْ- دَ عکسونو اخيستلو او دلته له ټوْرستانو سره دَ خپلې مطالعې دپاره مواد

راټولولو ورسته چي له دې ټاوْر سره نيږدې سوينئير دوکانونو ته ورچپ شوم ، نو هلته مي له ونېسا سره سترګي ځلور شولې -

" شوقه ! ستا دَ تحفې په ځواب کي دا واخله پيرزوئينه "

او بيا يې پيرزوئينه راکولو ورسته زما له توقعاتو په چپه ضد وکړو ، چي په دې نيږدې رېسټورېنټ کي به کوفي هم ځيښو - او دواړه هلته په کوفي شاپ کي دَ کوفي ځيښولو سره تر ډېره داسي ژغېدلو ، لکه موږ چي کله هم نه وْ خفه شوي - لاکن عجبيه خبره بيا هغه وخت وَشوه - چي له دې ځايه موږ ځنګه بس ته ورسېدلو ، نو دَ توشي په ليدو هغه داسي هوا شوه ، لکه هغې چي زه کله پېژندمه نه - دا ملامته هم نه وه ، امريکنه وه او دا دَ امريکايانو تر ټولو لويه خامي بلل کېږي ، چي ځنګه يې کار سرته وَرسېږي ، نو سترګي واړَوي - ځکه خو ما هم له ځان سره کست وکړو ، چي بيا به کله هم دَ هغې په لور نه ورګورم -

---

دَ پيسا ښار ، چي په هوارو مځکو باندي جوړ ښار دی ځخه تېرېدلو ورسته چي لس نيمي بجې خواته موږ په ځنګلي سيمي کي مخته روان وْ ، نو ميرنا هم داسي خله کړي وه -

" په دې دنګو او سختو غرونو کي سپين ، تور ، خړ او کرارا نامي ماربل په ډېر مقدار خېږي - او بل دا ، چي مائيکل اېنجلو به هم دَ خپلو بُتانو جوړَولو دپاره بلاکونه له دې سيمي وړلو "

ميرنا چي دا خبره کوله ، نو موږ دَ کرارا نامي ټاوْن سره په څنګ کي تېرېدلو - او دا دَ غره په لمني کي ښائيسته ښار ، چي سرو بامونو يې سترګي ګټلې تر شا دَ غټ غره بېخي هسکي څوکو داسي ښکاره کولو ، لکه دلته چي پخوا آتش فشانونه چاوْدېدلو - دا هغه سيمه وه ، چي يو ځل مي بيا دَدې خلګو په قسمت رشک کولو - او دا خبري مي په زړه را ورېدلې ، چي دلته دا خلګ هرڅه او هر وخت دَ ذهني او روحاني تفريح په توګه ترلاسه کولی شي - نه چي لکه پښتانه ، چي په ژوند کي چپ له خپلي ښځې تنګولو او په هغې باندي پښتو ورچسپَولو په چپه بل کار او روزګار نه لري بدبخته -

يو ځل بيا دَ سرُنګونو څخه بس په تک تور او هوار سړک باندي مخته ډېر په سپيڼه رهي وْ ، چي يو وخت دَ لېګورين سمندر په ځئ مېښته دَ ښېخي هسکو پلازو جېنوا Genova ښار ، چي دَ اټلي تر ټولو لويه بندرګاه بللې شي سره په څنګ کي تېرېدلو په وخت ميرنا وئيلو..

" دا ښار دَ کرسټوفر کولمبس دَ زوکړي ښار جنېوا دی ، چي دَ ځانګړي طرز تعمير او ژوند په حقله ډېر شهرت لري "

دې ښار ته دَ سوداګرانو ښار هم ځکه وئيل کېږي ، چي دلته نه يوازي دَ دې هېواد سوداګران ، بلکې له دَنيا څخه راغلي سوداګران دَ اټلي په معيشت کي ډېر غټ رول لوبَوي - لنډه دا ، چي دَ ميرنا خوږو خبرو او دَ ملګرو په نېغه نېغه ورته کتلو زه هم دَ يو څو لمحو دپاره په دې جنېوا ښار کي ورکولو ته پارَولم لګياوم -

دَ اټلي دَ جېنوا ښار څخه مخته تللو ورسته بس په پلونو او غټو غټو سرُنګونو کي داسي رهي وْ، لکه مار چي يوې بلي خواته وَښېږي او غزېږي - او يو وخت ميرنا وئيلو..

" يوهو.. دې وخت موږ " دي ريور آف فلاور " يا " دَ پلازو ښار " جېنوا Genova ګورئ هلته لاندي دَ لېګورين سمندر په غاړه باندي شاته پرېږدو لګيا يُو "

او بيا يې وئيلو..

" يو اعلان واورئ .. هغه دا ، چي له دې ځايه رک دَ فرانس تر باډره پوري چي څومره سُرنګونه راځي ، که دَ هغو شمېر څوک هلته په باډر راوَښئيلو ، نو زه به هغه ته دَ کاسموس له خوا ډېره ښه تحفه ورکوم - "

دا اعلان څه وْ؟ چي موږ ټول په سُرنګونو شمېرلو کي بوخت شولو - سُرنګونه څه ، چي يو اوږده سلسه وه ، چي له ختمېدو وتلي وه - او دَ حېرانتيا خبره دا وه ، چي په دې ښېخي غټو

غرونو کي پلونه او سُرنګونه دَ دوارو خواوْ تربفک ته جوړ وْ - دَ رېل ګاډی دپاره لا جلا سُرنګونه او پلونه جوړ وْ -دا سُرنګونه او پلونه له عجوبې څخه کم نه وْ -

دَ لېګورين سمندر له څنډي سره سره موږ مخته روان وْ، لاکن کله کله به سمندر له موږه او يا به موږ له سمندر څخه پټ شولو - او دغه رنګه په دې پټ پټانو کي يو وخت چي دَ ګهړی ستني يوې بجې ته وَرسېدلې، نو دَ لوي لاري په يوه رېستورېنټ کي دَ غرمې ډوډی خوړلو په نيت کښته شولو -

"دا څه عجيبه ورور او خور دي.تا کله خيال ورته کړی دی؟ "

ما هغو چينائي Malay ملګرو ته کتلو ورسته له روني څخه دَ هغه دَ سوال په ځواب کي پوښتنه وکړه -

" څه مطلب ؟ پوهـ نه شوم "

" هغه ګوره..ډېر ي څنګه په خپلي خور لاسونه وهي لګيا دی؟ "

او رښتيا خبره هم وه، ولي چي دې وخت هلته له موږ څخه په څه فاصله ناست چائنيز ملي ملګري ډېر ي هاوْ دَ پېغلي خور په ادوم باندي لاس داسي په خوند خوند وهلو ، لکه هغه چي يې خور نه بلکي...

" ياره..څه وئيلی شم؟ خو زما هم له ډېرو ورځو په کي پام دی "

او بيا دَ هغو په لور ښه په غور کتلو ورسته يې وئيلو ..

" هو ، دا خو راته ورور او خور کم.. ملګري زيات برېښي ، ولي چي... "

روني به لا مخته څه وئيلو ، چي بلنډا په طوفاني دوره باندي رارسېدلو سره سم دَ لاراګُوک پوښتنه له روني څخه چي څنګه وکړه ، نو لارا هلته ليري له يو کونج څخه خپله ور ژغ کړو - نو ځکه روني هم په خندا کي ورته وئيلو..

" نور حکم کوه بلنډا ډئير... لارا خو مي هغه ده در مونده کړه "

او هغې هم په ځای دَ منني کولو په کلکه داسي وَخندلو ، لکه روني چي خبره نه وي ورته کړي ، بلکې تخنولي يې وي - نو ځکه خو چي تلله ، نو يې روني ته ديکه هم ورکړه او په وازَکي انداز کي واي..

" روني.. ته او ستا دا دوست دواړه ډېر وران ياست "

" زه بيا څله وران شوم ؟ "

ما چي ورڅخه پوښتنه وکړه ، نو هغې په تلو تلو کي وار داسي راباندي وکړو ، ګوا

" خپله سوچ وکړه "

او هغه چي څنګه هوا شوه ، نو بيا ما او روني دَ هغې په دې اشارې تر ډېره پوري مازغه ګرځولو ، خو تر مطلبه يې نه وَرسېدلو -

لنډه دا ، چي دلته ډوډۍ خوړلو ورسته يو ځل بيا موږ وْ او هغه سُرنګونه او پلونه ، چي شمېرلو مو- له ما حساب هغه وخت ګډ وډ شو ، چي روني زما په خواکي يو ځل بيا کښېنستو او زما ذهن يې له حسابه بلي خواته که څه هم اړَولی وْ - خو ما بيا هم له هغه سره دَ خبرو پرته هم سُرنګونه شمېرلو لګيا وم - ګوا موږ ورو ورو دَ فرانس په لور لاره لنډَوله- لګيا وْ -

کله چي دَ اټلي فرانس بارډر څخه دَ ضروري اِن آوټ کولو ورسته چي بس لا دَ فرانس دَخوا په سرنګونو کي مخته منډه وهله ، نو میرنا پوښتنه وکړه دَ خپل سوال دَ ځواب په حقله ، نو ټولو په پرچیانو باندي خپل خپل نوم او عدد وَلیکلو او میرنا ته یې وَسپارلو-

" دَ اټلي او فرانس تر باډر پوري دَ سُرنګونو شمېر 169 او نیم سُرنګ دی - ولي چي آخیري ټنل چي نیم په اټلي او نیم په فرانس کي دی - نو ځکه چپ له اېډرین او وېلینا څخه نور ټول غلط دي - او دا فېصله دَ اېډرین او دَ هغه دَ ملګري په حق کي راځي "

او بیا یو غټ شېمپېن بوتل دَ میرنا په لاس وَ هغو ملګرو ته په خپړو کي وَسپارل شو ، کوم چي اېډرین په هغه وخت په بس کي دَ ښورَولو ورسته خلاس کړو او په وېلینا ، لاراګُوک او بلینډا یې ور وَپاشلو -

*****

# ډي ګلوبلائزېشن

يوې خواته
دَ ګلوبل ويليج خبري دي
چي کېږي ،
بلي خواته
دَ قامونو تر منځ لاري
تړل کېږي
او
دَ پُولو دېوالونه
ورځ په ورځ دَ هېوادونو
دَ اسمان په لور غزېږي
او نړۍ هم
بيرته ورو ورو
دَ پخوا په لور ستنېږي
نوره نوره هم پراخېږي
او
انسان هم له انسانه
بېزارېږي
ليري کېږي

*****

# دَ مصنف چاپ ناچاپه کتابونه

1. شلېدلی امېل (دَ غزلو او نظمونو مجموعه ) چاپ ۱۹۸۷ – ۱۹۸۸ ع
2. اووه ګامه مزل (دَ اوؤ ایشیائي هېوادونو یُون لیک ) چاپ ۱۹۹۷ع
3. په لټون ستا دَ څېرې (دَ نظمونو او غزلونو مجموعه ) چاپ ۲۰۰۳ع
4. مزل په واؤرو باندي (دَ اروپا ئي هېوادونو یُون لیک ) چاپ ۲۰۰۴ع
5. دَ لمر دَ کلي په لور (دَ اروپا یُون لیک ) چاپ ته تیار
6. اروپا ئي ژوند (دَ اروپایانو په نظر کې ) چاپ ته تیار
7. انګرېزي په اروپا کې (عمراني سروې ) چاپ ته تیار
8. پروني مخونه (ناول ) چاپ ته تیار
9. علامتي افسانې.. ناچاپه

# دَ شاعر درک

کور ... ۹
نښتنل چمپئین سوسائټي
جوډیشل کالوني / ګلزارقائد
چکلاله .. راولپنډۍ / اسلام آباد

کور فون +92 - 51 - 5954687
موبایل 0300 5206095 / 0346 5455414
اي مېل afzalshauq@yahoo.com
afzalshauq@hotmail.com
ashauq@hotmail.com
ویبلاګ http://360.yahoo.com/afzalshauq